فتاویٰ رحیمیه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری

خطیب بڑی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبه فاروقیه محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob 0300-9007550

فتــــاوی رحیــمیه

(څلورم جلد)

کتـاب الطهارت، کتاب الصلوة

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحیم لاجپوري رحمة الله علیه
خطیب بړی جامع مســــجـد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :

حضرت مــــــولانا غلام ربي

مکتبہ فاروقیہ محلہ جنگی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

د کتاب پیژندنه :

د کتاب نوم	:	فتاوی رحیمیه
جلد	:	
ترجمه	:	مولانا غلام ربي
کمپوزر		بشارت الله
ناشر	:	مکتبه فاروقیه
دچاپ شمیر	:	۱۰۰۰ ټوکه

فهرست

ګڼه	عنوان	صفحه

کتاب الطهارت

باب الوضوء

په اودس کی د مسواک په ځای بل شی استعمالول :

(۱ سوال) د مسواک په ځای د پوډرو او د کریم استعمال څنګه دی ؟ او د برش استعمال څه حکم لري ؟

ځواب : د اودس کولو په وخت کی مسواک وهل سنت مؤکد دي "والسواك هو سنة مؤكدة ووقته عند المضمضة" (الجوهرة النيرة ج ۱ ص ٥ كتاب الطهارة سنن الوضوء) او مسواک د بانس ، انار او ریحان نه علاوه د کومی بلی ونی ښکار دی خاصکر د ترخی ونی ، زیات غوره د پیلو او بیا د زیتون د ونی دی ، "قال فی الحلية وذكر غير واحد من العلماء كراهية بقضيان الرمان والريحان آه وفی شرح الهداية للعينی روی الحارث فی مسنده عن خمير بن حبيب قال نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن السواك بعود الريحان وقال انه يحرك عرق الجذام وفی النهر ويستاك بكل عود الا الرمان والقصب وافضله الاراك ثم الزيتون" (شامی ج ۱ ص ۱۰۷ كتاب الطهارة وسنن الوضوء ، كبيری ص ۳۲) علامه طحطاوي د زيتون د ونی مسواک افضل ګنی "قلت والحديث يفيد افضلية الزيتون على الاراك" (طحطاوي على الدر المختار ج ۱ ص ۱۰۱) .

غرض دا چی د ونی مسواک ښکار او ضروری دی ، او کله چی د ونی مسواک پیدا نشي نو په ګوتی سره دی غاښونه صفا کړي او د خولی بوئ دی لری کړي پدی طریقه هم سنت ادا کیږي په هدایه کی دي : "والسواك لانه عليه السلام كان يواظب عليه وعند فقده يعالج بالاصابع لانه عليه السلام فعل ذلك" (ج ۱ ص ٦) او مسواک سنت دی څکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی همیشه والی کړی او که مسواک نه وي نو له ګتو نه دی د مسواک کار واخلي ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم کړیدي ، او همدارنګه د سردار دو جهان صلی الله علیه وسلم فرمان دی

"الاصابع تجری مجری السواك اذا لم یکن سواك" یعنی کله مسواک نه وي نو ګوتی دمسواک کار ورکوي (طبراني وغیره)[1]

لدینه ثابتیږي چی اصل سنت د ونی مسواک دی ، او که نه وي او غاښونه نه وي او یا د غاښونو او وریو د خرابي په وجه مسواک ورته تکلیف وي نو د ضرورت په وجه د لاس د ګوتو او یا پیږ کیږی ، یا پوډر او یا د غاښونو کریم او برش په استعمالولو سره د مسواک کار اخستلی شي مګر د مسواک د موجودګی په وخت کی دغه ذکر شوي شیانو سره د مسواک سنت نه ادا کیږي ، "ولا تقوم الاصابع مقام العود عند وجوده" یعنی د مسواک په موجود والي کی دغه شیان د مسواک قائمقام نشي جوړیدلی (کبیری ص ۳۲ ، صغیری ص ۱۴ ، البحر الرائق سنن الوضوء تحت قوله السواک ج ۱ ص ۲۱ ، فتاوی عالمګیري ج ۱ ص ۷ ، الفصل الثانی فی سنن الوضوء) .

کله چی د مسواک په موجودګی کی ګوتی (چی دی باره کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل او قول هم ثابت دی) د مسواک قائمقام نشي جوړیدلی نو برش وغیره به څنګه د مسواک قائمقام جوړ شي ؟

که چیرته برش د خنزیر له ویښتو نه جوړ وي نو د دی استعمال قطعي حرام دی او که اشتباه وي نو بیا هم مه استعمالوئ او که اشتباه نه وي نو استعمالولی شي مګر بغیر د عذر نه د مسواک قائمقام نشي جوړیدلی ځکه چی سنت د ونی مسواک دی (توضیح المسائل ص ۳۵) .

د مسواک لرګی ، او د قیلوله په وخت کی تیمم او په ښي اړخ باندی قبلی ته وده کیدل

(۲ سوال) په اودس کی مسواک لپاره کوم یو لرګی استعمال کړی شي ؟ د شپی په ویده کیدو او د قیلوله په وخت کی تیمم کول کافی دی او که نه ؟ او په کوم اړخ باندی وده کیدل سنت دي ؟

---

[1] دغه حدیث په طبرانی کی پدی الفاظو راغلی : حدیث اخر فی المعنی ، رواه الطبرانی فی معجمه الوسط حدثنا محمد بن الحسن بن قتیبة ثنا محمد ابو السری ثنا الولید بن مسلم ثنا عیسی بن عبد الله الانصاری عن عطاء بن ابی رباح عن عائشه رضی الله عنها قالت قلت رسول الله صلی الله علیه وسلم الرجل یذهب فوه یستاك ؟ قال نعم قلت کیف یصنع قال یدخل اصبعه فی فیه (نصب الرایه ج ۱ ص ۱۰) .

ځواب : په اودس کی مسواک چی د هر یو لرګـي وي جـائز دی مګـر هغـه لرګـی چـی تریخوالی او تلخي پکی وي هغه زیات مفید وي پدی وجه د هغه استعمال زیات مناسب دی[1] ، د پیلو د ونی مسواک د ټولو نه بهتر دی مګر نور لرګي هم جائز دي .
د شپې او د قیلولې لپاره اول کی نبي اړخ باندی مخ پـه قبلـه سملاسـتل پکـار دی بیا چی په هر اړخ باندی راوړي جایز دي (مکتوب شیخ الاسلام ۱ م ۲۹ ص ۸۳) .

په غابنونو د سرو او یا سپینو زرو پوخ او د اودس او غسل حکم :

(۳ سوال) غابنونه سوري کیږي او بیـا پکـی د خـوراک شـیان ننـوځي او بیـا د درد او تکلیف باعث ګرځي دی لپاره ډاکترانو علاج تجویز کړی چی د سرو او یا سـپینو زرو ، یـا اوسپنه او سیمنټ وغیره سره هغه سوری بندولی او ډکولی شي چی څه شی ورته داخل نشي نو اوس سوال دا دی چی د سورو په بندولو دا شبه وي چی د جنابت د غسـل پـه وخت د غړه غړه کولو کی اوبه ورته نه داخلیږي نو پدی سره په غسل کـی څـه نقصـان کیږي او یانه ؟ دغه وضاحت وکړئ جزاکم الله .

سائل . حافظ عبد السلام بخاری راندیری مقیم افغانستان

ځواب : څنګه چی دغابنونو سوری سرو او سپینو زرو یا اوسـپنی او سـیمنټ وغـیره سـره بندولی او ډکولی شي نو هغه څیز هم د بدن جزء او حصه ګرځي او پـه غسـل او اودس کی هغه څیز ته اوبه رسول کافي کیږي د هغه بیخ ته اوبه رسول ضروري نـدي ، او پـه حدیث او فقه کی د سرو او سپینو زرو په تارونو سره د مات غابنونو تړلـو او د سـرو سـپینو زرو د پوزی جوړولو اجازت شته دی ، او ظاهره ده چـی ددی لانـدی حصـی تـه اوبـه نشي رسیدلی

" بستن دندان شکسته به تار نقره جایز است نه به تار زر " " ونزد صاحبین " به تـار زر هـم جایز است (مالا بد منه ص ۱۱۰) .

"ولا یشد سنه المتحرك بذهب بل بفضة وجوزهما محمد " (درمختـــار ص ۳۱۷ ، ۳۱۸ ج ۵) (قوله وجوزهما محمد) ای جوز الذهب والفضة ای جوز الشـــدبهما واما ابویوسف رحمه الله فقیل معه وقیل مع الامام (شامی ج ۵ ص ۳۱۸) (ویتخذ انفا منه) لان الفضة تنتنه (درمختار ج ۵ ص ۳۱۸) (قوله لان الفضة تنتنه) الاولی

---

[1] ویستاك بكل عود الا الرمان والقصب وافضله الاراك ثم الزیتون (شامی ص ۱۱۵) .

تنتن بلا ضمیر (الی قوله) واصل ذلك ما روی الطحاوی باسناده الی عرفجة بن سعد اصیب انفه یوم الکلاب فی الجاهلیة فاتخذ ا نفاً من ورق فائن علیه فامره النبی صلی الله علیه وسلم ان یتخذ انفاً من ذهب ففعل............. ای وفی التاتر خانیة وعلی هذا الاختلاف اذا جدع من فضة فقط وعند محمد من الذهب (ایضا آه) (شامی ج ۵ ص ۳۱۸ الحظر والاباحة فصل فی ابلس)[۱]

د کامل او مکمل مسنون اودس ترتیب :

(۴ سوال) علماء کرام او مفتیان حضرات پدی مسئله کی څه فرمائي چی د اودس کولو دوران کی خولی ته اوبه اچول او پوزی ته اوبه اچول ، مخ وینځل ، لاسونه وینځل او د سر مسح کولو په وخت کی دعا ګانې ویل کیږي هغه مونږ ته یاد ندي مونږه یی زده کول غواړو ددی به څه طریقه وي ؟ تاسو ته تکلیف هم کیږي که راته ولیکئ نو ډیره مهرباني به مو وي ، او دعا به درته کوو .

ځواب : د حدیثونو او د فقه(شامي ج ۱ ص ۱۱۸ ، فتاوی عالمګیري ج ۱ ص ٦) کتابو کی د اودس دعاګانې موجود دي ، د حدیثونو او د فقه عبارتونو پیش کولو په ځای ستاسی د سهولت لپاره د اردو معتبر کتاب " ضمیمه جدیده حصه دوم عملیات مجربه خاندان عزیزیه " نه نقل کولی شي که چاته د دی دزده کولو مشکل وي نو تر یادیدو پوری یواځی درود شریف ویل هم کافي دي ، انشاء الله ، فتاوی عالمګیري کی دي چی "ویصلی علی النبی صلی الله علیه وسلم بعد غسل کل عضو" (فتاوی عالګیری الفصل الثالث فی المستحبات ج ۱) اوس د ضمیمه جدیده عبارت وګورئ :

د مسنون اودس ترکیب

لمونځ ګذار ته پکار دي چی کله اودس کوي نو مکمل باید وکړي یعنی کله چی استنجاء وغیره نه فارغ شي نو یو اوچت ځای باندی قبلی ته مخامخ کیني او مسواک

---

[۱] دغه حواله د سرو زرو پوخ جوړولو لپاره دی او دغسل صحیح کیدو لپاره دی دغه حواله ورکړی شي : ولا یمنع ما علی ظفر صباغ ولا طعام بین اسنانه اوفی سنه المجوف به یفتی درمختار علی هامش شامی ابحاث الغسل ج ۱ ص ۱۵٤

وکړي بيا دا دعا وکړي "اللهم اجعل تسويكي هذا تمحيصا لذنوبي ومرضاة لك يارب بيض به وجهي كما تبيض به اسناني" دا په فضائل مسواک کی د مسواک دعا ده ، په بنايه کی له درايه نه نقل کړي او ليکلي چی دمسواک په وخت دا دعا لوستل پکار دي : "اللهم طهّر فمي ونور قلبي وطهر بدني وحرم جسدي على النار" همدراز علامه نووي رحمه الله په شرح مهذب کی يوه بله دعا نقل کړی او ويلي دي چی دا دعا اګر که بی اصله ده ليکن ښه دعا ده لهذا د دی په ويلو کی څه حرج نشته هغه دعا دا ده : "اللهم بيض اسناني وشد به لساني وثبت به لهاتي وبارك لي فيه يا ارحم الراحمين" (فضائل مسواك ص ۲۷ ، ۷۳ د مولانا اطهر حسين) او بيا دی د اودس په نيت کولو سره دغه دعا ولولي : "بسم الله الرحمن الرحيم اللهم اني اعوذبك من همزات الشياطين واعوذ بك رب ان يحضرون" او بيا دی دواړه لاسونه تر مروندونو پوری ووينځي او دګوتو خلال وکړي او دا ولولي : "اللهم انی اسئلك اليمن والبركة واعوذبك من الشوم والهلكة" او بيا دی دری ځلی خوله کی اوبه واچوي يعنی مضمضه وکړي او دا دعا ولولي : "اللهم اعنی على ذكر وشكرك وتلاوة كتابك" او بيا به دری ځلی پوزی ته اوبه واچوي او د ګس لاس په وړی ګوتی سره د پوزی دننه صفا کړي او دا دعا ولولي : "اللهم ارحنی رائحة الجنة وانت راضٍ عنی" او بيا به دری ځلی مخ د ويښتو د شنه کيدو له ځای نه لاندی تر زنی پوری او يو غوږ نه تر بل غوږ پوری ووينځي او دا دعا ولولي : "اللهم بيض وجهي بنور وجهك يوم تبيض وجوه اولياءك" او يا "اللهم بيض وجهي بنور وجهك يوم تبيض وجوه وتسود وجوه" که ږيرته ګيره ګڼه وي نو په ګوتو سره دی خلال کړي يعنی ګوتې د زنی لاندی په ګيره کی دننه کړي او بره مخ طرف بوځي او بيا د ښي لاس څنګلو سره دری ځلی ووينځي او دا دعا ولولي : "اللهم اعطنی كتابي بيميني وحاسبنی حساباً يسيرا" او بيا دی ګس لاس دری پيری ووينځي او دا دعا ولولي : "اللهم انی اعوذبك ان تعطينی كتابي بشمالي او من وراء ظهري" که چيرته ګوتې يی په لاس وي نو په

خوځولو سره دی ورته اوبه ورسوي او بیا به دواړه لاسونه لمدولو سره د دواړو لاسونو دری دری ګوتې یعنی خنصر ، بنصر او وسطی یعنی شپږ ګوتې په تندی باندی کیږدي او دماغو د پاسه څټ طرفته یوسي او بیا د څټ طرف نه د دواړو لاسونو ورغومی د غوږونو د پاسه چی کوم سر پاتی وي تر تندي پوری کش کړي او پدی ترتیب سره د سر مسح وکړي او بیا دا دعا ولولي : "اللهم غشنی برحمتك وانزل علیّ من برکاتك واظلنی تحت عرشك یوم لاظل الا ظلك" او بیا به دواړو غوږو کی د مسواکه ګوتو سرونه دننه کړي او هر طرف ته وګرځوي چی غوږونه لوند شي او بیا به دا دعا ولولي : "اللهم اجعلنی من الذین یستمعون القول فیتبعون احسنه" او بیا به لاسونو شا په غاړه باندی ولګوي او دا دعا ولولي : "اللهم فك رقبتی من النار واعوذبك من السلاسل والاغلال" او بیا دی ښی پښه تر ګیټو پوری دری پیری ووینځي او د ګس په وړی ګوتی سره دواړه پښو د ګوتو خلال وکړي خو د ښی پښی د وړی ګوتی نه به شروع کړي او د ګس پښی په وړی ګوتی باندی به ختم کړي او کله چی ښی پښه ووینځي نو دا دعا به ولولي : "اللهم ثبت قدمی علی الصراط یوم تزول الاقدام فی النار" او کله چی ګسه پښه ووینځي دا دعا به ولولي : "اللهم انی اعوذبك ان تزل الاقدام المنافقین" (شامي ، عالمګیري ، طحطاوي علی مراقی الفلاح کی د دعا کلمات مختلف دي چی کوم یاد وي ودی لولي) او کله چی د اودس نه فارغ شي نو کلمه شهادت یعنی "اشهد ان لااله الا الله وحده لا شریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله" ووائي ، په حدیث کی شریف کی راځي ، څوک چی د اودس نه وروسته کلمه شهادت وائي هغه لپاره د جنت ته واړه دروازې پرانستلی چی په کومه دروازه کی غواړي جنت ته دی داخل شي ، او د شهادت نه وروسته به دا دعا لولي : "اللهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهرین واجعلنی من مبارك الصالحین الذین لاخوف علیهم ولاهم یحزنون" په نسائي شریف کی حدیث بیان شوی چی کوم سړی د اودس نه وروسته دا دعا لولي د هغه عمل نه ضائع کیږي ، او بیا به سورت قدر (انا انزلنا) ولولي او بیا دی

دوه رکعته نفل (تحیة الوضـــوء) وکړي (ضـميمه جدیـده حصـه دوم عملیـات مجربـه خاندان عزیزیه ص ۴، ۵، ۶).

داودس نه بعد کلمه شهادت ویلو وخت کی دشهادت گوته اوچتول

۵ـ سوال: داودس نه وروسته دشهادت کلمه ویلو وخت کی دشـهادت دګـوتی اوچتـول څنګه دي ؟

ځواب: ځینې فقهاو دا ذکر کړی دی او ځینو یواځې آسمان طرف ته کتل بیان کړیـدي، لهذا ددواړو ګنجائش شته دادی نه ضروري ګڼل کیږي اونه دی په کونکـو بانـذی انکـار کیږي دایواځی اداب دي په طحطاوي علی مراقي الفلاح کـی دي : (قوله ولاتیـــان بالشهادتین بعده) ذکر الغزنوي انه یشیر بسبابته حین النظر الی الســـماء . یعنـی داودس دادابو نه یو ادب دادی چی داودس نه وروسته شهادت کلمه ووایـي . غزنـوي رحمه الله بیان کړیدی چی دااسمان طرف ته کتلو په وخت کی دی دشهادت په ګـوتې سره اشاره وکړي .(طحطاي علی مراقي الفلاح ص۴۳ فصل في اداب الوضوء)

په شامي کی دي: وزاد في المنية ایضا وان یقول بعد فراغه سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك واشهد ان محمدا عبدك ورسولك ، ناظرا الی السماء.(شامي / ۱۱۹، اداب الوضوء) په حصن او حصین کـی دي : واذا فرغ من الوضوع رفع نظره الی السماء ولیقل اشهد ان لا اله الا الله .... الی قوله .... من توضا فقال سبحانك اللهم وبحمدك استغفرك واتوب الیك ، کتـــب له في رق ثم جعل في طابع فلم یکسر الی یوم القیامة .

یعنی داودس له فارغیدو سره اسـمان طـرف تـه وګـوري او درې ځلې دشـهادت کلمـه ووایي یعنې اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریك له واشـــهد ان محمــــد عبــده ورسوله . اوبیا دادعا ولـولي : "اللهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهـــرین ، سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیـــك" او بیا دا

ولولي : "سبحانك اللهم وبحمدك استغفرك واتوب اليك" کوم سړی چې د اودس نه وروسته دغه ذکر شوی دعاګانې ولولي هغه لپاره د مغفرت یوه پرچه لیکلې شي او مهر پرې لګولی شي او تر قیامته پورې دغه مهر نشي ماتولی (د مغفرت حکم برقرار وي) (حصن حصین عربي ص ٦٨ ، ٦٩ ، حصن حصین مترجم ص ١٠٠ از حضرت مولانا محمد ادریس صاحب) ښه دا ده چې مخ په قبله دعا ولولي .

په بدائع کې دي : "ثم يستقبل القبلة ويقول اشهد .... الخ" يعنې بيا دې مخ په قبله اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد عبده ورسوله ووائي (بدائع الضايع ج ١ ص ٢٣ اداب الوضوء) والله اعلم .

د تندي د پاسه چې ويښته نه وي نو په اودس کې مخ کوم ځاى پورې وينځل پکار دي ؟

(٦ سوال) د يو سړي د سر په مخکينې حصه کې بالکل ويښته نشته تقريباً له نيمائي سر نه بعد ويښته دي نو دا سړی په اودس کې خپل مخ کوم ځاى پورې ووينځي ، په عرف کې چې کوم ځاى ته تندی وائي تر دې ځايه پورې وينځل کافي دي او په کوم ځاى کې چې ويښته شنه شوي تر هغه پورې وينځل ضروري دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : عام طور سره چې کوم ځاى کې ويښته شنه کيږي او چې عرف کې ورته تندی ويل کيږي تر دې ځايه پورې وينځل فرض دي لدې نه پورته وينځل ضروري ندي ، په مراقی الفلاح کې دي : "(وحدّه) اى جملة الوجه (طولا من مبدأ سطح الجبهة) سواء كان به شعر ام لا" او په طحطاوي کې دي : "(قوله سواء كان به شعر ام لا) اشار به الى ان الاغم والاصلع والاقرع والانزع فرض غسل الوجه منهم ما ذكر" (مراقی الفلاح احكام الوضوء وطحطاوی ص ٣٢ ، درمختار مع شامی ج ١ ص ٨٩ ، ٩٠ ، اركان الوضوء اربعة) .

په عمدة الفقه کې دي : که چيرته د چا مخکې طرف ته تر نيمائي سر پورې ويښته شنه نشي نو په عرف کې چې تر کوم ځايه پورې تندی ويل کيږي د هغه نه پورته وينځل فرض ندي ، بلکې د تندي د عام طور سره د ويښتو کيدو تر ځايه پورې وينځل فرض

دي او پدی قول باندی فتوی ده ، الخ (عمدة الفقه ص ۹۳ حصه اول) فقط والله اعلم بالصواب .

کوم خضاب (رنګ) چې ویښتو ته اوبه نه پریږدي په هغه سره اودس او غسل نه کیږي

(۷ سوال) پدی لاندی مسئله کی ددین علماء او مفتیان صاحبان څه فرمائي : خضاب چې عام طور په بازار کی ملاویږي ویل کیږي چې پدیکی تیزاب او کیمیکل یوځای کیږي او په خضاب لګولو سره ویښتانو باندی د رنګ یو باریک پرده جوړیږي نو پداسی حالت کی اودس او غسل کیږي یا نه ؟

ځواب : په فتاوی رحیمیه اوم جلد ۱۴٦ صفحه کی پدی باره کی یوه فتوی ده چې هغې په آخر کی لیکي : " که چیرته یو چا دناجائز کیدو باوجود تور خضاب ولګول او هغه د اوبو پشان نرمی وی او د وچیدو نه وروسته ویښتو ته اوبه رسیږي نو پدی صورت کی اودس او غسل کیږي (مګر خضاب لګولو سره ګنهګاریږي) او که هغه ټینګ وي او ویښتو ته اوبه نه رسي نو بیا اودس او غسل نه صحیح کیږي (فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۱۴٦) په جدید ترتیب کی احکام غسل ج ۴ ص ۳۲ کی (ویښتانو باندی فیشني رنګ لګولی وي نو غسل کیږي یا نه) تر عنوان لاندی کتلی شئ (مرتب) او دی مذکوره مسئله کی که چیرته ستاسو تجربه وي چې واقعي ویښتو ته اوبه نه پریدي نو د ذکر شوي ځواب مطابق اودس او غسل نه صحیح کیږي ، فقط والله اعلم .

د اودس نه وړاندی پښی لمدول :

(۸ سوال) د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله مواعظ علم و عمل ۳۳۰ صفحه کی (ملتان پاکستان چاپ) زما له نظره تیر شو پدی کی لیکلي چې د اودس نه مخکی پښی لمدی کړی شي او په آخر کی بیا وومینځل شي دیته فقهاؤ مندوب ویلي ، پدی باندی عمل کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : بنه دی عمل پری کولی شي ، مقصد د پښو په وینځلو کی مبالغه ده او د مخکی لمدول دی سره مدد کوي ، مګر دا دی سنت نه ګڼل کیږي ، فقط والله اعلم ، ۲۹ شعبان المعظم ۱۴۰۱ھ .

د مذي وتل اودس ماتوي :

(۹ سوال) ما واده کړی دی د لوبو په وخت کی چی کوم مذي وځي او پته نه لګي البته د استنجاء په وخت کی پته لګي او چی د همبستری اراده نه وي بیا هم څو څو ځلی مذي وځي ایا دا پاک دی او که ناپاک ؟ پدی سره غسل ضروري وي او که نه ؟ اودس پری ماتیږي او که نه ؟ که بدن پوری ولګي پاکول یی پکار دي او که نه ؟ مذي لګیدلی بدن او یا کپړه کی لمونځ کیږي او که نه ؟

ځواب : مذي ناپاک دی بدن او یا کپړی سرْه لګیدو سره بدن او کپړه پلیتیږي او که مقدار یی کم وي نو وینځل یی واجب نه خو بهتر دي او که مقدار یی زیات وي بیا یی وینځل ضروري دي ، او پدی سره غسل نه فرض کیږي البته اودس پری ماتیږي[1]

د بولو له لاری چی سپینی اوبه راوځي دا ناپاک او اودس ماتوي :

(۱۰ سوال) د بولو له لاری له ځانه سپینی اوبه ووځي او جامو سره ولګي نو ناپاکیږي ؟ او پدی کپړو کی لمونځ کیږي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د بولو له لاری چی کومی سپینی اوبه اوځي دا پلیت او نجاست غلیظه او اودس پری ماتیږي ، د بدن او کپړی پوری چی ولګیږي پلیتیږي لیکن د یو درهم په مقدار (یعنی د لاس د ورغوي په برابر) معاف دی که چیرته دوینځلو وخت پیدا نکړي او لمونځ ورسره وکړي نو لمونځ یی کیږي خو وروسته یی وینځل پکار دي ، په درمختار کی دي : "(وعفی) الشارع (عن قدر درهم) وان کره تحریماً فیجب غسله وما دونه تنزیهاً فیسن وفوقه مبطل فیغرض .... (وهو مثقال فی نجس کثف) له جرم (عرض مقعد الکف) وهو داخل مفاصل اصابع الید (فی رقیق مغلظة الخ)" (درمختار مع الشامی باب الانجاس ج ۱ ص ۲۹۳ هدایه ج ۱ ص ۵۸ باب الانجاس ما لا بد منه ص ۱۹) فقط والله اعلم .

---

[1] ـ کل ما یخرج من بدن الانسان مما یوجب خروجه الوضوء او الغسل فهو مغلظ کالغائط والبول والمنی والمذی والودی الخ فتاوی عالمګیری الفصل الثانی فی الاعیان النجسة ج ۱ ص ٤٦ .

د ستن او پیچکاري په ذریعه وینه ویستلو سره اودس ماتیږي او که نه ؟

(۱۱ سوال) د انجکشن (پیچکاري) په ذریعه چې وینه وویستل شي اودس ماتیږي او که نه ؟

ځواب : که چیرته وتلی وینه د بهیدو په مقدار وي نو اودس پری ماتیږي ، په کبیری کی دي : "اذا فصد وخرج منه دم کثیراً ولم یتلطخ رأس الجرح فانه ینقض" (فصل فی نواقض الوضوء ص ۱۲۹) یعنی رګ یی ووهلو او ډیره وینه تری راووتله خو د زخم په ځای باندی وینه بالکل ونه لګیده پدی سره اودس ماتیږي پخوا زمانه کی به د رګ وهلو آله بنکرۀ اوس پدی نوي دور کی د انجکشن په ذریعه کیږي او د ژوری (چینجي) په ذریعه هم وینه ویستل کیږي د دی هم همدا حکم دی "(وکذا ینقضه علقة مصت عضوا وامتلأت من الدم .... الخ" (درمختار نواقض الوضوء ج ۱ ص ۱۲۹) او په کبیری کی دي : "اما العلق اذا مصت العضوء حتی امتلأت قلیلا بحیث لوسقطت وشقت لسال منها الدم انتقض الوضوء وان مصت قلیلاً بحیث لوشقت لم یسل لاینقض" (ص ۱۳٤) فقط والله اعلم .

د بیمار سړي د پردی ځای لیدل او یا ورته لاس لګول اودس ماتوي او که نه ؟

(۱۲ سوال) یو مسلمان ډاکټر که چیرته د بیمار د بدن پردی ځای وګوري او لاس ورته ولګوي نو اودس یی ماتیږي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : پدی ذکر شوی مسئله کی دپری والا ځای لیدلو او ورته لاس لګولو سره که چیرته مني ، مذي او یا ودي خارج شي نو اودس ماتیږي خو یواځی د شرمګاه په لیدلو او یا لاس لګولو سره اودس نه ماتیږي ، خو دوباره اودس کول بهتر دي ، (لاینقضه مس ذکر لکن یغسل یده ندباً (وامرأة مطلب نواقض الوضوء) وامرو لکن یندب

للخروج من الخلاف لاسیما للامام (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۱۳۶) فقط والله اعلم .

پر زخم پټی ولګول شي او دننه څخه وینه وتلو سره پټی پوری ولګي ، اودس یې ماتیږي او که نه ؟

(۱۳ سوال) یوه دانه ده چې وینې او زوی ترینه راوځي پدی وجه پټی پری تړل شوی ده خو دننه نه وینه راوځي خو د پټی په وجه باهر نشي راتلی پدی سره اودس ماتیږي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : که چیرته دومره وینه ووځي چې بندول یې مشکل وي او د زخمي ځای نه وراندی لاړ شي نو اودس ماتیږي ، په کبیري کی دي : "وان مسح الدم عن رأس الجرح بقطنة او غیرها ثم خرج ایضا فمسح ثم وثم او القی التراب او وضع القطن ونحوه علیه فخرج وسوی فیه ینظر فیه ان کان بحال لو ترکه ولم یمسحه ولم یضع علیه شیئاً لسال نقض والا فلا" (ص ۱۳۰ فصل فی نواقض الوضوء) .

(قوله ولو شد الخ) قال فی البدائع ولو القی علی الجرح الرماد او التراب فتشرب فیه او ربط علیه رباطاً فابتل الرباط ونفذ قالوا یکون حدثاً لانه سائل وکذا قالوا لو کان الرباط ذا طاقین فنفذ الی احدهما لما قلناه آه (شامی ج ۱ ص ۱۲۹ مطلب نواقض الوضوء تحت قوله ولو شد الخ) فقط والله اعلم .

د سترګو نه اوبه راوتلو سره اودس ماتیږي او که نه ؟

(۱۴ سوال) په تیز رڼا ، د لمر له ګرمی ، پیاز پریکولو ، لمانځه کی د ټوخي دفع کولو سره چې سترګو نه اوبه راشي نو پدیکی کومو کومو صورتونو سره اودس ماتیږي ؟ وضاحت وکړئ ؟

ځواب : پدی ذکر شوی صورتونو کی له سترګو نه اوبه راوتلو سره اودس نه ماتیږي ، او که سترګه درد کوي او پدی وخت کی صفا اوبه او یا پیپ (زوی) راوځي نو اودس ماتیږي او بغیر د درد او تکلیف نه اوبه راوتلو سره اودس نه ماتیږي ، "ولاینقض

لوخرج من اذنه او نحوها کعینه وثدیه قیح ونحوه کصدید وماء سرة وعی (لابوجع وان خرج به) ای بوجع (نقض) لانه دلیل الجرح ، فدمع من عینیه رمد و عمش ناقض الخ" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۱۳۷ مطلب نواقض الوضوء فی ندب مراعاة الخلاف اذا لم یرتکب مکروه مذهبه) فقط والله اعلم .

دغوږ او یا سترګی نه چی اوبه راوځي اودس ماتیږي او که نه

(۱۵ سوال) که چیرته غوږ او یا سترګه کی درد او تکلیف وي او ورنه اوبه وغیره باهر راوځي نو اودس ورسره ماتیږي او که نه ؟ او که پدی حالت کی لمونځ کړی وي څه حکم لري ؟

ځواب : که چیرته غوږ او یا سترګه کی څه درد او تکلیف وي او څه اوبه وغیره ترینه راوځي او داسی ځای ته ورسي چی دهغه وینځل په اودس او غسل کی ضروري وي نو پدی سره اودس ماتیږي او کوم لمونځ یی چی کړیدی د هغه دوباره کول ضروري دي ، او که کوم درد او تکلیف نه وي او اوبه راوځي نو پدی سره اودس نه ماتیږي ، په درمختار کی دي : "(لاینقض لو خرج من اذنه ونحوها کعینه وثدیه قیح ونحوه کصدید وماء سرة وعین (لابوجع وان خرج به) ای بوجع نقض لانه دلیل الجرح)" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۱۳۷ تیر شوی حواله) فقط والله اعلم .

دْ اودس ماتیدو او نه ماتیدو یوه نااشنا مسئله :

(۱٦ سوال) یوه ښځه چی کله لمونځ شروع کوي نو عام طور سره مخکینی لاری نه هوا خارجیږي نو د دی څه حکم دی ؟ ایا اودس یی ماتیږي او که نه او لمونځ په څه طریقه وکړي ؟

ځواب : په ذکر شوي سوال کی د صحیح قول مطابق اودس نه ماتیږي او په همدی حالت کی دی لمونځ پوره کړي ، په فتاوی عالمګیري کی دي : "والریح الخارجة من الذکر وفرج المرأة لاتنقض الوضوء علی الصحیح الا ان تکون المرأة مفضاة فانه یستحب لها الوضوء کذا فی الجوهرة النیرة" (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۹ نواقض الوضوء) .

په درمختار کی دي : "ولاخروج ريح من قبل غير مفضادة اما هي فيندب لها الوضوء وقيل يجب وقيل لو منتنة (قوله اما هی) الی المفضاة وهی التی اختلط سبيلاها ای مسلك البول والغائط فيندب لها الوضوء من الريح وعند محمد يجب احتياطاً وبه اخذ ا بوحفص ورجحه فی الفتح بان الغالب فی الريح كونها من الدبر الخ" (درمختار و رد المختار ج ۱ ص ۱۲٦ ، نواقض الوضوء) او په بهشتي زيور کی دي : مسئله : واړه او ډک بول او هوا چی د وروستی لاری نه راوځي پدی سره اودس ماتيږي البته که چيرته له مخکينی لاری نه هوا راوځي لکه څنګه چی کله د بيماری نه داسی کيږي نو پدی سره اودس نه ماتيږي (بهشتي زيور ص ۴۷ حصه اول)[1] .

د سترګو په بيماری کی له سترګو نه د وتلو اوبو حکم :

(۱۷ سوال) نن صبا د سترګو بيمارو کی چی دوه دری ورځی پی درپی ترينه اوبه راځي نو سوال دا دی چی دغه اوبه پاکی دي او که ناپاکی ؟ او پدی سره اودس ماتيږي او که نه ؟ ما د صبح صادق نه وروسته اودس وکړ د سحر لمونځ می ادا کړ سترګی روغی وی او د سحر لمونځ نه وروسته په ذکر او تلاوت کی لګيا وم چی سترګو می درد شروع کړ او اوبه ترينه روانی شوی اوس پدی اودس سره چی سحر لمونځ لپاره می کړی وُ د اشراق لمونځ کولی شم ؟ لدينه علاوه د اودس ماتيدو کوم څيز پيدا نشي نو دغه اودس به کوم وخت پوری باقي وي ؟ د دی لږ وضاحت وکړئ الله تعالی دی درته عظيم اجر درکړي .

ځواب : د سترګو د بيماري په حالت کی چی د سترګو نه کومی پاکی اوبه او يا پيپ اوځي پدی سره اودس ماتيږي او په کوم شي چی اودس ماتيږي هغه ناپاک وي او که په سترګو کی څه درد او تکليف نه وي او اوبه ترينه راوځي پدی سره اودس نه ماتيږي "لاينقض لو خرج من اذنه ونحوه كعينه وثديه قيح ونحوه كصديد وماء سرة وعين

---

[1] ـ او که چيرته دواړه لاری يو شوی وي نو احتياطاً اودس کول پکار دي په شرط د دی چی بدبوني او آواز نه وي او که نه اودس ماتيږي ، قوله وقيل لو فتنة ای لأن نتنها دليل انها من الدبر وعبارة الشيخ اسماعيل وقيل ان كان مسموعا او ظهر نتنه فهو حدث والا فلا (شامی مطلب نواقض الوضوء ج ۱ ص ۱۳٦) فقط والله اعلم .

(لابوجع وان خرج به) ای بوجع (نقض) لانه دلیل الجرح ، فدمع من بعینه رمد و عمش ناقض الخ"(درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۱۳۷ مطلب نواقض الوضوء).
که چیرته دغه اوبه داسی مسلسل بهیږي چې اودس کولو سره د لمونځ د ادا کولو وخت نه پیدا کیږي نو دغسی شخص شرعاً معذور وي ، او که د لمونځ ټول وخت نه رانیسي دومره وخت پیدا کیږي چې اودس کولو سره د طهارت په حالت کی لمونځ ادا کړي نو هغه شرعاً معذور ندی ده ته پکار دي چې د اوبو بندیدو انتظار وکړي او د وخت په پیدا کیدو سره اودس وکړي او خپل لمونځ ادا کړي ، او که شرعاً معذور وي نو هر یو لمونځ لپاره به تازه اودس کوي او د لمونځ د وخت په ختمیدو سره یی اودس ماتیږي ، "وتتوضاء المستحاضة ومن به عذر کسلسل البول واستطلاق البطن لوقت کل فرض ویصلون به ماشاؤوا من الفرائض والنوافل" (نور الایضاح مع مراقی الفلاح ص ۲۶ باب الحیض والنفاس والاستحاضة) .
د شرعي معذوره کیدو نه وروسته چې هر لمانځه کی دا عذر پیش شي نو هغه به معذور وي او که چیرته مکمل د یو لمونځ وخت داسی تیر شي چې یو ځل هم دغه عذر (اوبه راتلل) پیش نشي نو هغه شرط شرعي معذور نه پاتی کیږي ، "وشرط دوام العذر وجوده فی کل وقت بعد ذلك ولومرة وشرط انقطاعه وخروج صاحبه عن کونه معذوراً خلو وقت کامل عنه" (نور الایضاح ص ٥٤ باب الحیض والنفاس والاستحاضة) .

(۲) سحر لمونځ لپاره چې اودس کړی دی پدی سره د اشراق لمونځ کول صحیح ندي ، خکه چې د سحر وخت د لمر په راختو سره ختمیږي .[1]

(۳) شرعي معذور چې د لمر ختو نه وروسته اودس وکړي او بیا د اودس ماتیدو کوم سبب موجود نشي نو دغه اودس د ماسپښین وخت تر ختمیدو پوری باقي کیږي پدی د ماسپښین لمونځ ادا کولی شي .[1]

---

[1] ـ وقت الفجر من الصبح الصادق وهو البیاض المنتشر فی الافق الی طلوع الشمس الخ فتاوی عالمگیری کتاب الصلواة الباب الاول فی المواقیت ج ۱ ص ۵۱ .

د استنجاء نه وروسته ځو قدمه تللو سره څاڅکی راتلل :

(۱۸ سوال) د استنجاء نه وروسته چې يو ځو قدمه تللو سره د بولو څاڅکی راوځي او پرتوګپوری ولګي نو پداسې حالت کې لمونځ او تراويح ورکول جائز دي ؟

ځواب : د الله په فضل وکرم سره کله چې دڅاڅکي راتلو مرض دائمي نه وي بلکې عارضي طور وي د دې د ازالې طريقه دا ده چې د قضاء حاجت نه وروسته دخاورې او يا کچه خختې او لوټې سره يو ځو قدمه ووهي او بنې پښه په ګسه پښه باندې راواړوي او لږ زور ورکړي پدې سره چې کومې څاڅکي دننه پاتې وي هغه راوځي او کله چې مطمئن شي نو بيا اوبو سره استنجاء وکړي او اودس وکړي او خپل لمونځ پرې ادا کولې شي ، فقط والله اعلم .

که چيرته ذکر شوی تدبير سره هم د څاڅکو راتلو شکايت ختم نشي بلکې بيا هم څاڅي راځي او د لمونځ د وخت ختميدو خطره وي نو پداسې حالت کې هم خپل بدن پاک کړي او اودس کولو سره پاکې جامې واغوندي او بيا لمونځ وکړي او چې قضا نشي ليکن د امامت اجازت نشته ، هو خپل ځان غونډې د معذورينو يعنې دچا چې سلسل البول بيماري وي امامت کولې شي ،

"ولايصلى الطاهر خلف من هو فى معنى المستحاضة كمن به سلسل البول (الى قوله) ويجوز اقتداء معذور بمثله اذا اتحد عذرهما لا ان اختلف" (فتح القدير كتاب الصلواة باب الامامة ج ۱ ص ۲۵۹ ، ۲۶۰) که دغسې حالت هميشه وي نو دتفصيل معلومول ضروري دي ځکه چې د دې احکام جدا دي ، فقط والله اعلم .

هوا نه وي خارج شوی ليکن هسې د آواز وهم کيږي :

(۱۹ سوال) د وروستو نه دهوا په وتو سره خو اودس ماتيږي مګر يو سړی داسې دی چې هوا خو ترينه نه وي وتې البته د نرۍ نرۍ آواز وهم ورته کيږي پداسې وهم سره اودس ماتيږي يا نه ؟

---

[1] ـ حتى لو توضأ المعذور لصلواة العيد له ان يصلى الظهر به عند ابى حنيفة ومحمد وهو الصحيح لانها بمنزلة صلاة الضحى ، فتاوى عالمگيرى ومما يتصل بذلك احكام المعذور ج ۱ ص ۷۱ .

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً ! کله چی دهوا د وتو یقین نه وي نو یواځی په وهم کیدو سره اودس نه ماتیږي [1] د دی باید څه پروا ونه کړی شي البته د بادو باید علاج وکړئ او د ګیس پیدا کونکو شیانو نه پرهیز وکړئ ، فقط ، ۲۸ محرم الحرام ۱۳۸۱ھ .

(۲۰ سوال) زما د یو دوست موټي وهلو عادت دی او لدی کار نه وروستو بیا غسل نه کوي هغه لدی کار نه وروسته بولي کوي پدی وخت کی مني نه خارجیږي پدی بناء هغه وائي چی غسل نه واجبیږي ، تاسو لږ وضاحت وکړئ چی پدی سره غسل واجب ګرځي که نه ؟

ځواب : دشهوت پوره کولو لپاره موټی وهل حرام او د لعنت باعث دی ، په طحطاوي علی مراقی الفلاح کی دي : "(قوله لا لجلبها ای الشهوة) ای فیحرم لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم ناکح الید ملعون وقال ابن جریح سألت عنه عن عطاء فقال مکروه سمعت قوماً یحشرون وأیدیهم حبالی فاظنهم هؤلاء وقال سعید بن جبیر عذب الله امةً کانوا یعبثون بمذاکیرهم و ورد سبعة لاینظر الیهم منهم الناکح ید" (طحطاوی ص ٥٦ فصل ما یوجب الاغتسال) .

پدی عمل سره په شهوت مني خارجیږي پدی وجه غسل واجب ګرځي که د بولو نه بعد مني هم ونه څي ، په مراقی الفلاح کی دي : " یفترض الغسل بواحد من سبعة اشیاء اولها (خروج المنی الی ظاهر الجسد اذا انفصل عن مقره شهوة من غیر جماع) کاحتلام ولو باول مرة لبلوغ فی الاصح وفکر ونظر وعبث بذکره" (مراقی الفلاح مع حاشیة طحطاوی ص ٥٦ باب الاغتسال) فقط والله اعلم .

---

[1] ــ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا وجد احدکم فی بطنه شیئاً فاشکل علیه اخرج منه شیئ ام لا لا یخرجن من المسجد حتی سمع صوتا او یجد ریحاً رواه مسلم ، مشکواة باب ما یوجب الوضوء ص ٤٠ په حاشیه کی دي : قوله او یجد ریحاً ای یجد رائحة ریح خرجت منه وهذا مجاز عن تیقن الحدث ص ٤٠ .

د ښځې په شرمګاه کې لاس او یا د ګوتې داخلولو سره غسل واجبیږي یا نه ؟

۲۱۱ سوال) د ښځې فرج (شرمګاه) ته ښځه ډاکټره یا دایه د علاج او یا د حمل تحقیق په غرض لاس او یا ګوتې داخلې کړي او یا ښځه دوا لګولو لپاره پخپله خپلې ګوتې دننه کړي په ښځې باندې غسل لازمیږي او که نه ؟ او که خاوند یې دا کار وکړي ، څه حکم لري ؟ وضاحت وکړئ .

جواب : که چیرته دغه کار د علاج لپاره وي نو که ښځه ډاکټره وکړي او یا پخپله ښځه کړي خو په ښځه کې شهوت پیدا نشي نو یواځې لاس او یا ګوتې داخلولو سره غسل نه واجبیږي لیکن که چیرته ښځه دشهوت پوره کولو په اراده خپلې ګوتې دننه کړي او یا ښځه او خاوند دا کار وکړي (خاوند ګوتې دننه کړي) نو د ځینې فقهاؤ د قول مطابق غسل واجبیږي او دیته قول مختار هم ویل شویدي لهذا پدې صورت کې ښه دا ده چې ښځه غسل وکړي پدې کې احتیاط دی (او که چیرته د ښځې مني خارج شي نو بیا خو یقیناً غسل واجب ګرځي) په درمختار کې دي : "لایجب الغسل عند ادخال اصبع ونحوه كذكر غير ادمى وذكر خنثى وميت وصبى لايشتهى ومايصنع من نحو خشب" (فى الدبر او القبل) على المختار" (درمختار) .

شامي کې دي : "(قوله على المختار) قال فى التجنيس رجل ادخل اصبعه فى دبره وهو صايم اختلف فى وجوب الغسل والقضاء والمختار انه لايجب الغسل ولا القضاء لان الاصبع ليس الة للجماع فصار بمنزلة الخشبة ذكره فى الصوم و قيد بالدبر لان المختار وجوب الغسل فى القبل اذا قصدت الاستمتاع لان الشهوة فيهن غالبة فيقام السبب مقام المسبب ، دون الدبر لعدمها ، نوح افندى ، اقول اخر عبارة التجنيس عند قوله بمنزلة الخشبة وقدر اجعتها من فرأيتها كذلك فقوله وقيد الخ من كلام نوح افندى وقوله لان المختار وجوب الغسل الخ بحث منه سبقه اليه شارح المنية حيث قال و الاولى ان يجب فى القبل الخ وقد نبه فى الامداد

ایضاً علی انه بحث من شارح المنیة فافهم" (درمختار وشامی ص ۱۵۳ ، ۱۵۴ ج ۱ ، ابحاث الغسل) .

په طحطاوي علی الدر المختار کی دي : "(قوله ولا عند ادخال اصبع.......... علی المختار) یخالفه من جهة الترجیح فی القبل ما ذکره نوح افندی ونصه قال فی التجنیس رجل ادخل اصبعه فی دبره وهو صائم اختلفوا فی وجوب الغسل والقضاء والمختار انه لایجب الغسل ولا القضاء لان الاصبع لیس آلة الجماع فصار بمنزلة الخشبة وقید بالدبر لان المختار وجوب الغسل فی القبل اذا قصدت الاستمتاع لان الشهوة فیهن غالبة فیقام السبب مقام المسبب دون الدبر لعدمها فقد اختلف الترجیح فی القبل ابوالسعود" (طحطاوی علی الدر المختار ج ۱ ص ۱۳۹ ابحاث غسل) .

په غایة الاوطار کی دي : "ولاعند ادخال اصبع ونحوه .... فی الدبر او القبل علی المختار" (یعنی غسل واجب ندی د ګوتی وغیره داخلولو سره) .... الی قوله بناء په قول مختار باندی په دبر کی خو ترجیح متفق دی مګر په قبل کی ترجیح مختلف دی ځکه چی شیخ الاسلام ابوسعود له نوح افندی له کلام نه نقل کړیدي چی په قبل کی ادخال وجوب دغسل مختار دی کله چی ښځی د شهوت پوره کولو قصد کړی وي یعنی بغیر د انزال نه هم غسل واجب دی ځکه چی په ښځو کی شهوت غالب دی نو سبب دمسبب په ځای باندی ودرولی شو ، کذا فی الطحطاوی ملخصاً (غایة الاوطار ترجمه درمختار ج ۱ ص ۸۳ ا بحاث غسل) .

په مراقی الفلاح کی دي : "ومنها ادخال اصبع ونحوه کشبه ذکر مصنوع من نحو جلد (فی احد السبیلین) علی المختار لقصور الشهوة" طحطاوي کی دي : "(قوله علی المختار) ای فی الدبر ومقابله ضعیف ، واما فی القبل فذکر فی شرح التنویر ان المختار عدمه ایضاً وحکی العلامة نوح ان المختار فیه الوجوب اذا قصدت

الاستمتاع لان الشهوة فيهن غالبة فيقام السبب مقام المسبب فاختلف الترجيح بالنسبة لادخال الاصبع فى قبل المرأة افاده السيد رحمه الله" (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ٥٥ فصل عشرة اشياء لايغتسل منها).

په عمدة الفقه کی دي : که چيرته کومه ښځه په غلبې دشهوت سره خپل شرمګاه (يعني مخصوص اندام ته) دکوم بی شهوت سړي يا د ځناور کومه خاصه حصه يا د کوم لرګي وغيره او يا د خنثي او د مړي ذکر (آله تناسل) يا خپلی ګوتی دننه کړي بيا هم ورباندی غسل فرض کيږي که انزال يی وشي او که ونه شي مګر دا د شارح منيه رايه ده او په اصل مذهب کی بغير د انزال نه غسل واجب ندی نو د غسل حکم د احتياط لپاره دی او اصل مذهب عدم وجود غسل دی (عمدة الفقه ج ۱ ص ۱۱۲) فقط والله اعلم.

د ښځی په سوچ کی د مني وتل ، د مني ، مذي او ودي تعريف او د جريان د بيماري حکم :

(۲۲ سوال) يو سړي ته په ناسته ناسته کی د کومی جينی خيال راشي او يا کوم جينی او يا د ښځی تصوير وګوري او يا دناول په لوستلو سره ګنده خيالات او شهوت پيدا شي او بيا په خيالاتو کی ورک شي پدی وخت کی د شرمګاه نه رطوبت او نمي خارج شي پدی سره غسل واجبيږي او که نه ؟ او دی خارج شوي شي ته څه وويل شي ، مني يا مذي ، که چيرته د مني او مذي فرق او علامې بيان کړی نو ښه به وي.

(۲) او که چيرته مني بغير د کوم ګنده خيالاتو نه وځي لکه چی کله د جريان مرض وي نو د بولو نه وروسته راوځي نو پدی صورت کی غسل واجب ګرځي يا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب : که چيرته پدی تصور او خيال سره شهوت پيدا شي او آله ودريږي او بيا وروسته مني راوځي نو غسل واجبيږي او که مذي راوځي نوغسل نه واجبيږي ، صرف اودس کول ورته کافي دي (بدن يا جامی باندی چی مذي لګيدلی وي دهغه وينځل او صفا کول ضروري دي) خارج شوی شی مني دی او که مذي او يا ودي ددی پيژندو لپاره د دی دريو شيانو تعريف او فرق چی معلوم وي نو تعين يی کيدی شي او بيا د حکم تعيين هم آسانيږي ، فقهاؤ ، د هر يو تعريف داسی کړيدی : "اولها خروج المنى وهو ماء

ابیض ثخین ینکسر الذکر بخروجه یشبه رائحة الطلع ومن المرأة رقیق اصفر .... (الی ظاهر الجسد) لانه مالم یظهر لاحکم له (اذا انفصل عن مقره) وهو الصلب (بشهوة) وکان خروجه (من غیر جماع) کاحتلام ولو باول مرة لبلوغ فی الاصح وفکر و نظرو وعبث بذکره . الی قوله . فاذا لم توجد بشهوة لاغسل کما اذا حمل ثقیلاً او ضرب علی صلبه فنزل منیه ،بلا شهوة" (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ٥٥ فصل ما یوجب الاغتسال) .

مذي :

"مذی بفتح المیم وسکون الذال وکسرها وهو ماء ابیض یخرج عنه شهوة لابشهوة ولادفق ولایعقبه فتور وربما لایحس بخروجه وهو اغلب فی النساء من الرجال" .

ودي :

وهو ماء ابیض کدر ثخین لارائحة یعقب البول وقد یسبقه ، اجمع العلماء علی انه لا یجب الغسل بخروج المذی والودی" (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ٥٥ حواله مذکوره) .

سید الملت حضرت مولانا سید محمد سیان رحمه الله د نور الایضاح په شرح کی لیکي : مذي هغه نرمی او رطوبت او نمي ته ویل کیږي چی د شهوت په وخت کی خارجیږي او رنګ یی سپین وي دی او مني کی فرق دا دی : (الف) د مذي د وتلو په وخت کی کوم شهوت او خوند نه حاصلیږي او په مني کی حاصلیږي (ب) د مني وتل په قوت او توپ سره وي لدینه وروسته انتشار ختمیږي او په مذي کی دا تولی خبري نشته ، علاوه لدینه د مني رنګ زیات صفا دی او د کچه خرما پشان بوی کوي، او ودي خړ رنګ کی دی کوم چی د بولو نه وروسته او کله کله مخکی هم خارجیږي او د بولو نه تینګ وي (ایضاح الاصباح شرح نور الایضاح ص ۲۷ فصل ما یوجب الاغتسال) .

په عمدة الفقه کی دي : په مني ، مذي او ودي کی دا فرق دی چی د سړي مني تینګ او سپین رنګ کی وي او د ښځی مني نری او زیړ رنګ کی او ګول والا وي او د سړو په اوړد والي باندی خوریږي ، مني په ډیر خوند او شهوت سره توپ وهلو باندی اوخي او

د خرماؤ د غوبچې پشان بوی پکی وي او د دی په راوتلو سره اله سستيږي يعنی شهوت او جوش يی ختميږي ، او مذي نری او سپين والي ته مايل وي ، په لوبـو او ښكلولـو پـه وجه شهوت سره بغير د ټوپ او لذت نه خارجيږي او د دی په راوتو سره شهوت بيا هـم قائم وي او جوش نه وي کم شوی بلکی نور هم زياتيږي ، همدا څيز کله چي پـه ښځـو کی وي نو هغه ته قذي ويل کيږي ، ودي ټينګ بولي وي که د بولو نـه وروستـه بغير د شهوت نه راوځي او يا د جماع او يا غسل نه وروسته بغير د شهوت نـه راوځـي (عمـدة الفقه ص ۱۱۱ حصه اول موجبات غسل) .

پدی پورتني سوال کی د ذکر شوي وجوهاتو نه کوم يـوه وجـه سـره ګنـده خيـالات او شهوت او په آله کی انتشار پيدا شو او بيا وروسته رطوبـت او نمـي خـارج شـو ، پـورتني مني ، مذي ، او ودي ذکر شوي تعريفونو او علامـاتو مطـابق کـه دا فيصلـه وکـړي چـي خارج شوی شی مني دی نو غسل واجـب دی (لکـه چـی د مراقـی الفـلاح د عبـارت واضح کيږي) .

په بهشتي ګوهر کی دي :

مسئله : د حدث اکبر نه پاکيدو لپاره غسل فرض دی او د حدث اکبر د پيدا کيدو څلـور سببونه دي ، لومړی سبب د مني وتل يعنی د مني خپل ځای نه پـه شـهوت سـره جـدا کيدل او باهر وتل برابره خبره ده په خوب کی وي او که په ويښه بانـدی ، بـی هوشـی کی وي او که په هوش کی ، په جماع سره وي او يا بغير دجماع نـه پـه کـوم خيـال او تصور سره او يا د آلی په خوځولو سره او ياکوم بل طريقی سـرد وي (بهشـتي ګـوهر ص ۱۷ غسل کا بيان) .

(۲) که چيرته پدی وخت کی بالکل شهوت نه وي او نه ګنده خيالات وي او نـه پـه آلـه کی انتشار وي او د بولو نه وروسته دجريان د بيماری په وجه مني راخارج شي نو غسـل واجب ندی ، او که چيرته شهوت وي او آله هم منتشر وي نـو پـدی صـورت کـی غسـل واجب دی ، په درمختار کی دي : "وفي الخانية خرج مني بعد البول وذكره منتشـر لزمه الغسل ، قال في البحر ومحمله ان وجده الشهوة وهو تقييد قولهم بعدم الغسل بخروجه بعد البول" (درمختار) .

په شامي کې دي : "(قوله محمله) وعبارة المحيط كما فى الحلية رجل بال فخرج من ذكره منى ان كان منتشراً فعليه الغسل لان ذلك دلالة خروجه عن شهوة (قوله تقييد قولهم) اى فيقال ان عدم وجوب الغسل بخروجه بعد البول اتفاقاً اذا لم يكن ذكره منتشراً فلو منتشرا وجب لانه انزال جديد وجد مع الدفق والشهوة" (درمختار شامی ج ۱ ص ۱٤۹ ابحاث الغسل) .

په غاية الاوطار کې دي : "وفى الخانية .... بعد البول" او خانيه کې دي چې د بولو نه وروسته مني ووځي پداسې حال کې چې آله يې منتشر وي نو غسل کول وربانديٰ لازم دي .

او په بحر الرائق کې دي : دغه مسئله په هغه صورت حمل ده چې د انتشار سره شهوت هم موجود وي او انتشار سره د شهوت قيد لګول د فقهاؤ دا قول مقيد کوي چې د بولو نه وروسته مني وتلو سره غسل نه لازميږي ، د فقه په کتابونو کې تصريح شوی چې د خوب او يا دبولو نه وروسته که چيرته مني خارج شي نو غسل نه واجبيږي نو د عدم غسل اطلاق عدم انتشار او عدم شهوت سره دی الخ (غاية الاوطار ترجمه درمختار ابحاث غسل ج ۱ ص ۷۹) .

په عمدة الفقه کې دي : که چيرته يو چا بولې وکړی او مني ورنه خارج شو نو که چيرته د هغه په آله کې تندي (انتشار) وُ او يا هغه مني په شهوت او ټوپ سره راووت نو غسل واجب دی ، او که آله سست وه او شهوت نه بغير وتې وي نو بيا واجب نده ، (البته اودس يې ماتيږي) (عمدة الفقه ص ۱۱۱ حصه اول) .

په فتاوی دار العلوم کې دي : (سوال) که چيرته د چا دجريان مرض وي او اوبه وځي په هغه غسل واجب دی او که نه ؟

خواب : د جريان په وجه غسل واجب ندی ، فقط (فتاوی دار العلوم مکمل ج ۱ ص ۱۵۳ فقط) .

خضاب (رنګ) چی لګولی وي غسل او اودس یی صحیح کیږي یا نه ؟

(۲۳ سوال) یو سړي خپلو سپینو ویښتو ته تور خضاب لګولی ایا دا خضاب لګول صحیح دي ؟ او پدیکی اودس او د جنابت غسل صحیح کیږي یا نه ؟ او کوم یو خضاب لګول جایز دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : تور خضاب لګول سخته ګناه ده ، په حدیثو کی پدی باندی سخت وعید راغلی دی په یو حدیث کی دي : "عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لایجدون رائحة الجنة" .

ترجمه : عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روایت دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : په آخره زمانه کی به څه خلک داسی وي چی تور خضاب به لګوي لکه د کونترو سینې دغو خلکو ته به دجنت خوشبویي هم نه نصیب کیږي (ابوداؤد شریف ج ۲ ص ۲۲٦ کتاب الترجل باب ما جاء فی خضاب السواد ، مشکواة شریف ص ۳۸۳ باب الترجل) .

او مزید تفصیل فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۲۹۰ ، ۲۹۱ په جدید ترتیب کی الحظر والاباحه کی د ویښتو په احکام کی تور خضاب لګول عنوان لاندی وګورئ ، ج ۱۰ ص ۱۱۷ (مرتب) لهذا خاص تور خضاب باید ونه لګول شي ، لګول یی سخته ګناه ده ، د نکریزو سور رنګ دی ولګول شي ، او که چا د ناجائز کیدو باوجود خالص تور خضاب (وسمه) لګولی وي که چیرته هغه د اوبو پشان نری وي او د وچیدو نه وروسته ویښتو ته اوبه رسیدلی نو پدی صورت کی اودس او غسل کیږي[1] ، (مګر چی خضاب یی لګولی وي د دی مستقل ګناه ده) او که چیرته هغه ټینګ وي یعنی ویښتو ته اوبه نه رسي نو بیا اودس او غسل یی نه صحیح کیږي ، والله اعلم .

---

[1] ـ قوله : والاولی غسله الخ اعلم انه ذکر فی المنیة انه لو ادخل یده فی الدهن النجس او اختضب المرأة بالحناء والنجس او صبّغ الثوب بالصبغ النجس ثم غسل کل ثلاثاً لحمعر ، شامی باب الانجاس ج ۱ ص ۳۲۹ .

په ویښتو چې فیشني رنګ لګولی وي نو غسل یې کیږي یا نه ؟

(۲۴ سوال) دلته په ځوانو هلکانو او جینکو د ویښتانو رنګولو فیشن دی پدی سره د دوی فرض غسل صحیح کیږي او یا نه ؟ په خضاب باندی د دی قیاس کول صحیح دي ؟

ځواب : که د نکریزو پشان نری رنګ لګولی وي نو غسل یې صحیح کیږي مګر دغه فیشن پریښودل پکار دي (تیره شوی حواله) فقط والله اعلم .

له ویښیدو نه وروسته چې جامو باندی داغ وګوري غسل واجبیږي یا نه ؟

(۲۵ سوال) یو سړی راویښ شو او په جامو باندی یې داغ ولید ، داغ د منی دی او که د مذي پدیکی یې شک دی او خوب ورته بالکل یاد ندی نو پدی صورت کی غسل واجب دی یا نه ؟

ځواب : پدی ذکر شوی صورت غسل واجب دی او دامام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله قول دی او په همدی کی احتیاط دی ، په فتاوی عالمګیري کی دي: "وان رأی بللاً الا انه لم یتذکر الاحتلام فان تیقن انه ودی لایجب الغسل وان تیقن انه منی یجب الغسل ، وان تیقن انه مذی لا یجب الغسل وان شك انه منی او مذی قال ابویوسف رحمه الله لایجب الغسل حتی تیقن بالاحتلام وقالا یجب ، هذا ذکره شیخ الاسلام" (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۵ . الفصل الثالث فی المعانی الموجبة للغسل مع بزازیه) .

په مجمع الانهر کی دي : "وفرض (لرؤیة مستیقظ لم یتذکر الاحتلام بللاً ولومذیاً) عند الطرفین (خلافا له) ای لابی یوسف ، له ان الاصل برأة الذمة فلا یجب الا بیقین وهو القیاس ، ولهما ان النائم غافل والمنی قدیرق بالهواء ، فیصیر مثل المذی فیجب علیه احتیاطاً" (مجمع الانهر ص ۲۳ ج ۱) .

په کبیری کې دي : "(اما اذ لم یتذکر الاحتلام وتیقن انه مني او شك) هل هو مني او مذی (فکذلك) یجب علیه الغسل فی هاتین الحالتین ایضاً اجماعـــاً للاحتیـــاط" (کبیری شرح منیه ص ٤٢ مطلب یجب الغسل علی المفعول به فی الدبر) .

په بهشتي گوهر کې دي :

مسئله : که چیرته کوم سړی او ښځه دخوب نه راویښیدو نه وروسته پخپل بـدن یـا جامـه کې لوند والی وګوري نو پدی کې ډیر صورتونه دي خو په اتو (۸) صـورتونو کـې غسـل فرض دی (۱) یقین او غالب گمان دا وي چې مني دی او احتلام ورته یاد وي (۲) یقین یې وي چې دا مني دی خو احتلام یې یاد نه وي (۳) یقین یې راشي چې دا مـذي دی خو احتلام یې یاد وي (۴) شک یې وي چې دا مني دی او یا مذي خـو احـتلام یې یـاد وي (۵) شک یې وي چې دا مني دی او که ودی او احتلام یې یاد وي (٦) شـک یې وي چې دا مذي دی یا ودي او احتلام یې یاد وي (۷) شک یې وي چې دا منی دی او کـه مذی او ودي او احتلام یې یاد وي (۸) شـک یې وي چـې دا منـي دی او کـه مـذي او احتلام یې یاد نه وي .... شامي پدی صورت کې پـه عـدم وجـوب غسـل بانـدی اتفاق نقل کړی لیکن په کبیری کې په وجوب باندی اجمـاع نقـل کړیـدی لهـذا مونـږ احتیاط لپاره د کبیری قول اخستی دی ۱۲ محسی (بهشتي گوهر ص ۱۸ دغسـل بیـان) فقط والله اعلم .

(۸) نمبر صورت هغه دی چې په سوال کې ذکر شوی پدی نمبر باندی د بهشـتي گـوهر په حاشیه کې لیکلي دي .

انجکشن په ذریعه چې ښځې رحم ته مني ورسول شي نو ښځې باندی غسل واجب دی ؟

(٢٦ سوال) د انجکشن په ذریعه چې ښځې رحم ته مني ورسول شي نـو ایـا پـه ښځـې باندی پدی وجه غسل واجبیږي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : که چیرته پدی عمل سره په ښځه کې شهوت پیدا شي نو وجـوب غسـل راجـح دی او که مطلقاً شهوت پیدا شي نو غسل واجب ندی ، او په کولو کې احتیاط دی ، کـه دا عمل ډاکټر او یاخاوند وکړي نو د شهوت گمان زیات وي لهـذا پـدی صـورت کـې د وجوب غسل حکم راجح دی (مګر په ډاکټر باندی دا عمل تر سـره کـول قطعـاً حـرام

دی ، وګورئ فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۲۸۱ (جدید ترتیب کـی پـه حظـر والاباحـه کـی دانجکشن په ذریعه رحم ته مني رسول تر عنوان لاندی وګورئ ج ۱۰ ص ۱۷۹ (مرتب) دضرورت په وخت د خاوند نه پرته بل څوک دی دا کار نه کوي) "ومايصنع من نحـو خشب (فی الدبر او القبل علی المختار ، لان المختار وجوب الغسل فی القبـــل اذا قصدت الاستمتاع لان الشهوة فيهن غالبة فيقام السـبب مقـام المسـبب الخ" (درمختار ورد المختار ج ۱ ص ۱۵۳ ، ۱۵٤ ، ابحاث الغسل) (طحطاوی علـی الدر المختار ج ۱ ص ۱۳۹) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۵۵ عشرة اشياء لايغتسل منها) فقط والله اعلم .

د اوبو په اړه او احكام یی

د ناپاک کوهي پاکولو لپاره ضروري ندي چې په یوځل سره اوبه وویستل شي

(۲۷ سوال) په کلی کی یو کوهی دی چی یوه مسلمانه ښځه پکی غورځیدلی او مړه شوی وه هغه یی ورنه وویسته او دکوهی نیمائي اوبه وویستی او بیا وروسته اتو ورځو پوری ترینه څارویو ته اوبه ورکړی او تقریباً له شلو ورځو نه پدی اوبو سره جامې وینځل کیږي اوس د دغه اوبو څښکل جایز دي یا نه ؟ د کوهي په ماشین کی دومره طاقت نشته چی په یوځل سره ټولی اوبه ترینه راوباسي او پائپ (نل) هم دومره ندی چی ټولی اوبه وویستلی شي نو پداسی صورت کی ټول اوبه په یو ځل وویستل شي او که لږ لږ ؟ کوهی کله پاکیږي ؟ لدینه مخکی چی کپړی وینځلي او لمونځونه ادا کړي نو د هغو وینځل ضروري دي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : کوهی چی د شرعي حوض پشان لس په لسو کی نه وي نو د ښځی په مړه کیدو سره د هغه اوبه پلیتیږي او که لس په لسو کی وي نو بیا اوبه نه پلیتیږي[1] ، هان که چیرته وینه وغیره ناپاکی په وجه د اوبو رنګ یا بوی اویا خوند بدل شي نو کوهی پلیتیږي ، د پاکولو نه مخکی چی پدی اوبو سره اودس او لمونځ کړی وي دهغه دوباره کول ضروري دي ، او کومی کپړی چی د ښځی دمړ کیدو نه وروسته او ټولو اوبو راویستو نه مخکی وینځلي هغه ناپاکی او چی لمونځ ورباندی کړیدی د هغو لمونځونو راګرځول ضروري دي ، د ښځی د غورځیدو په وخت کی چی څومره اوبه وي د هغی په راویستو سره کوهی پاکیږي ، او په یوځل راویستل ضروري نه دي په لږ لږ اوبو راویستو سره کوهی پاکیږي[2]، فقط والله اعلم .

---

[1] ـ ان وقعت نجاسة فی بئر دون القدر الکثیر علی مامر ولاعبرة للعمق علی المعتمد قال فی الشامیة تحت قوله علی مامر ای من ان المعتبر فیه اکبر رأی المبتلی او ماکان عشرا فی عشر ، درمختار مع الشامی فصل فی البئر ج ۱ ص ۲۱۱

[2] ـ وان تعذر نزح کلها لکونها معیناً فبقدر ما فیها وقت ابتداء النــزح قاله الحلبی یؤخذ ذلك بقــول رجلــین عدلین لهما بصارة بالماء به یفتی وقیل بمائة الی ثلثمائة وهذ الیسر قال فی الشامیة تحت قوله وان تعذر کذا عــبر فی الهدایة وغیرها وقال فی الشرح المنیة ای بحیث لا یمکن الا بحرج عظیم آه فالمراد به التعسر وبه عــبر فی الــدر ،

په کوهی کی چی د بيت الخلاء ناپاک اوبه ګډی شي څه حکم لري ؟

(۲۸ سوال) خمونږ د محلی په جومات کی کوهی دی د اودسونو ځایونه او بيت الخلاء له کوهی نه څلور پنځه ګزه لری دي په باران سره بيت الخلاء ډکيږي او کوهی په تيټ ځای باندی دی نو پدی وجه باران سره د کوهي په غاړه ګنده اوبه جمع کيږي همدا اوس دری ورځی مخکی ډير تيز باران وشو او همدا صورت حال وشو او دکوهي د اوبو دری واړه صفتونه بدل شوي ، څلور لمونځونه د دی کوهي په اودس سره کړيدي که چيرته د کوهي اوبه ناپاک وګڼل شي نو د پاکولو لپاره څه طريقه اختيار کړی شي ، څو ورځی کوهی دغسی بند پريدو او يا خالي کړو او کوم لمونځونه مو چی کړيدي دهغو راګرځول ضروري دي يا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني (حيذر آباد) .

ځواب : کله چی واقعه دا ده چی ناپاک اوبه د کوهي اوبو سره ګډی شوي دي او يا د پليتی اثرات اوبو ته رسيدلي او دکوهی د اوبو دری واړه صفتونه بدل شوي نو يقيناً کوهی ناپاک شوی دی[1] ، پدی اوبو سره چی کوم اودسونه او لمونځونه کړي هغه دوباره کول پکار دي[2] او بغير د تاخير نه د کوهي ټولی اوبه ويستل پکار او ضروري دي[3] ، فقط والله اعلم .

درمختار مع الشامی فصل فی البئر ج ۱ ص ۲۱٤ ، که چيرته معلوم نه وي چی نجاست پريوتو وخت کی څومره اوبه وي او يا يی تجربه نه وه.نو پداسی صورت کی دری سوه بوقی (ډولچی) اوبه راويستو سره کوهی پاکيږي .

[1] ــ وبتغير احد او صافه من لون او طعم او ريح ينجس الكثير ولو جاريا اجماعاً اما القليل فينجس وان لم يتغير خلافا لمالك درمختار على هامش شامى باب المياه ج ۱ ص ۱۸٥ .

[2] ــ په کوم ورځ او وخت چی باران شروع شوی و هغی ورځی نه چی کوم لمونځونه کړي يا کپړی او لوخي وينځلي ، لمونځونه بايد دوباره او کپړی او لوخي هم ووينځل شي ويحكم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع ان علم قال فى الشامية تحت قوله ان علم اى بان لم يعلم او لم يغلب على الظن ، درمختار مع الشامى فصل فى البئر ج ۱ ص ۲۱۸ .

[3] ــ واذا وقعت فى البئر نجاسة نزحت وكان نزح ما فيها من الماء طهارة لها باجماع السلف ، هداية فصل فى البئر ج ۱ ص ٤۱ .

په بیت الخلاء کی اوسیدونکي څناور چی اوبو کی مړ پیدا شي څه حکم لري ؟

۲۹ سوال) په ډیکی کی کله لال بیګ (یو څناور دی چی عام طور بیت الخلاء کی وسیږي او سور رنګ لري) مړ پیدا کیږي نو پدی سره اوبه پلیتیږي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

جواب : پدی څناور کی چونکه دم مسفوح (بهیدونکي وینه) نشته لهذا د دی په مړ کیدو سره اوبه نه پلیتیږي ، البته که د دی په بدن باندی نجاست لګیدلی وي او پدی حالت کی اوبه موندل شوی وي نو بیا اوبه پلیت دي .

په مراقی الفلاح کی دي : "(ولا) يجنس الماء ولا المائعات على الاصح (بموت مــا) يعنى حيوان (لادم له) سواء البرى والبحرى (فيه) اى المائع ، او المائع .... الخ (مراقى الفلاح مع طحطاوى ص ۲۳ فصل فى مسائل الآبار) فقط والله اعلم .

بیت الخلاء د جومات له کوهي نه څومره لری پکار ده ؟

۳۰ سوال) د جومات نه باهر دیو بیت الخلاء ویستلو خیال دی نو د جومات له کوهي نه څومره لری بیت الخلاء جوړیدلی شي ؟

ځواب : فقهاء کرامو د کوهي او بیت الخلاء تر منځ پنځه او اوه ګزه وغیره فاصله د خپلی ځمکی په اعتبار سره بیان کړی اصل خبره دا ده چی دومره فاصله باید وي چی د وړو او لویو بولو اثر یعنی رنګ او یا بوی او مزه دکوهي اوبو ته ونه رسي ، "البعد بين البئر والبالوعة بقدر ما لايظهر للنجس اثر" (درمختار) دی لپاره کوم خاص اندازه او فاصله متعین نده ، د هر ځای د ځمکی نرمی او سختی په تفاوت سره په فاصله کی هم تفاوت راځي ، شامي کی دي : "والحاصل انــه يختلــف بحســب رخــاوة الارض وصلابتها" (ج ۱ ص ۲۰٤ ، فصل فى البئر مطلب فى الفرق بين الروث والخثــى والبعر والجزء والنجو والعذرة)لهذا تاسو باید د خپلی ځمکی له ماهرینو نه تحقیق وکړئ چی څومره فاصله پکار ده ، فقط والله اعلم .

شرعي حوض :

(۳۱ سوال) دلته په یو جومات کی حوض (تالاب) جوړیږي د شرعي حوض په باره کی د فقه په کتابو کی عشرة اذرع فی عشرة اذرع لفظ راځي چې د دی تعبیر په اردو کی څمونږ علماء کرام دس هاتهہ در دس هاتهہ (ده در ده) کوي اوس تپوس دا دی چی د ذراع او هاتهہ نه څه مراد دی ؟ ما نه هم د دغه جومات خلکو تپوس وکړ نو ما هم لس لاسه په لسو لاسو کی ورته وویل او دوه دری نورو ځایونه هم فتوی غوښتی وه هغوی هم همدا ځواب ورکړی وُ چی لس لاسه په لس لاسو کی دی حوض جوړ کړی شي ، اوس دی خلکو د یو لاس یو نیم فټ ناپ تعیین کړ پدی حساب سره پنځلس فټه په پنځلس فټو کی جوړیږي یعنی (۲۲۵) مربعه فټه جوړیږي او پدی حساب سره هغوی د تالاب تعمیر شروع کړیدی ، ما چی د ذراع او لاس په باره کی تحقیق وکړ نو د حضرت مفتي کفایت الله رحمه الله کتاب په تعلیم الاسلام کی ذراع یعنی شرعي ګری ښودلی او ګره (۲۵) انچ کیږي د دی مطلب دا شو چی لاس (۲۵) انچه ومنل شي او حال دا چی عام طور سره لاس (۱۸) اتلس انچه کیږي که چیرته دنه ګره والا حساب وکړی شي نو ټول (۲۷۵) مربع فټ جوړیږي ، لهذا تپوس دا دی چی د ذراع او لاس نه څه مراد دی ؟ یعنی د دی ناپ څه دی یو نیم فټ یا (۲۵) انچ ، امید دی چی د دی وضاحت راته وکړئ ، (مولانا قمر الدین محمد غفر له ، مغلواړه ، بروډا) .

ځواب : د شرعي ذراع په مقدار کی اختلاف دی اکثر فقهاء کرامو " ست قبضات " (۲۴) ګوتي بعدد حروف لا اله الا الله محمد رسول الله اختیار کړی دی چی یو نیم فټ ورنه جوړیږي ، "والمعتبر ذراع الکرباس کذا فی الظهیریة وعلیه الفتوی کذا فی الهدایة ، وهو ذراع العامة ست قبضات اربع وعشرون اصبعا کذا فی التبیین" (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۱ الفصل الثالث فی المیان الثانی الماء الراکد) .

لهذا ستاسو دغه حوض شرعي حوض دی ، او که چیرته ځای لوی وي نو د تعلیم الاسلام د حساب مطابق جوړول زیات مناسب او احوط دي ترڅو چاته دچون وچرا ګنجائش پاتی نشي د حوض (تالاب) په معامله کی احتیاط کول ښه دي چی ځای وي لږ یی نور هم لوی کړئ ، فقط والله اعلم .

که چیرته پنځه لاسه پلن او شل لاسه اوږد وي نو هغه لس په لسو کی دی

(۳۲ سوال) ځمونږ د جومات حوض لس په لسو کی دی یعنی لس لاسه پلن او لس لاسه اوږد دی لیکن د کمیتی اراده ده چی د دی په طول کی اضافه او عرض (پلنوالي) کی کمی یا په عرض کی اضافه او په اوږدوالي کی کمی وکړي ، پدی کی څه پرواه نشته ، لږ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : دحوض طول او عرض یوشان کیدل ضروري ندي دکمي او زیاتي ګنجائش شته لکه څنګه چی لس لاسه اوږد اولس لاسه پلن شرعي حوض دی همدا راز پنځه لاسه پلن او شل لاسه اوږد اویاخلور لاسه پلن او پنځه ویشت (۲۵) لاسه اوږد ، اویا دوه لاسه پلن او پنځوس لاسه اوږد هم شرعي حوض دی ، او که حوض مدور یعنې ګول وي نو دهغه دایره باید (۳٦) ګزه وي ، او ژور والي کم نه کم دومره ضروري وي چی په لپه اوبه راواخلي نوځمکه ښکاره نشي ، واما اذاكان عشرا فى عشر بحوض مربع او ستة وثلاثين فى مدور وعمقه ان يكون بحال لاتنكشف ارضه بالغرف منه على الصحيح (مراقي الفلاح) (قوله او ستة وثلاثين فى مدور) هذا القدر اذا ربع يكون عشرا فى عشر وفى المثلث كل جانب منه يكون ذرعه خمسى عشر ذراعا وربعا وخمساً(طحطاوي على المراقى ص۱۷ باب المياه (شامي ۱/ ۱۷۸ كتاب الطهارت) فقط والله اعلم .

دګنډګي کوهی داوبوله کوهي نه څومره لرې پکار دی؟

۳۳ سوال : پدی لاندی مسئله کی علماء کرام څه فرمايي : زمونږ پدی علاقه کی تقریباً دوه سوه کالونه یو جومات جوړشوی پدی کی یو حوض دی او ددی دمستعمل اوبولپاره دکوهي پشان یوه کنده کښنتل شوی او همداشان دمسجد دغسلخانو اودبولودخایونو ناپاک او نجس اوبودغورځیدو لپاره یو بیل کنده دکوهي پشان کنستې ده اوس جومات لپاره داوبو یو کوهی کني :

(۱) دحوض دمستعمل اوبو لپاره چی کوم کوهي کسنتل شوی (چی تقریباً شپږ فټه ژور دی . اولاندی حصه یې خام دی) هغه داوبو دکـوهي نـه شـل فټـه لـرې دی ، پـدی حوض والا کنده کی نور نجاستونه هم پریوځي.

(۲) دبولو او دغسلخانو وغیره ناپاکو اوبو لپاره چی کومه کنده ده هغه تقریباً شل فټـه ژور دی او ددی هم لاندنی حصه کچه او خامه ده او داوبـو دکـوهي نـه (۹۵) فټـه لـرې اوس سوال دادی چی لدی کندو نه داوبو کوهي څومره لرې پکار دی ؟ زمونـږ دښار ددوه څلورو جوماتو واقعه داسـ ده چی داوبو په کوهي کی دداسې نجسـو کوهیـو اوبه څمکه کی دننه ورګډ یدلې او داپته هغه وخت ولګیده چی کله داوبو کـوهي پـاکولو او اوبه یې بالکل راویستلې وې چی دیوه سورې نه بوی دارې اوبه راتلل معلوم شـوی په تحقیق سره پته ولګیده چی لدی سوري نه اوبه نه بلکی بولې هـم راتلـی، کـوهي څو لس په لسو کی نه دی پدی لدی ناپاکو اوبو سره کوهي ناپاک شو ددی په معلومولوسره دهغو تولو جوماتو ناپاک کوهیانې (کنـدی) بالکـل بنـدی کـړی شـوی اوس کـه ددی کوهي هم همدا حال جوړ شي نو علاج یـې څـه دی ؟ لـدی ګنـده کوهیـو نـه داوبو کوهي څومره لرې پکار دی ؟ دکوهي کنستلو نه وړاندی دګنده کوهو بنـدول ضـروري دي ؟ او که چیرته بند نه کړي اوددی کوهي دپـاکولو ضـرورت پیداشـي اوبیـا دناپـاکو اوبو کوم سوری پکې معلوم شي او دکوهي اوبه په لیبـاټري پـه تحقیـق سـره ناپـاکوالی معلوم شي نو دڅومره زمانې وړاندی نه به دا اوبه ناپاک ګڼلی شي اودڅه وخت نـه بـه پدی اوبو سره کړی لمونځونه دوباره راګرځولی شي ؟

دلته مونږ ته دنل پاک او صفا اوبه ملاویږي دغه اوبه استعمالولو بهتـر دی او کـه کـوهي کنستل پداسې حال کی چی په کوهي کی دغه ټولو خرابیو پیداکیدو خطره ده ؟ ددی لږ وضاحت وکړئ مهرباني . (ازګودهرا ضلع پنج محل ګجرات)

خواب: کله چی پاکو اوبو کی دناپاکو اوبو اودنجاست اثر ښکاره شي یعنې داوبـو رنګ ، بولی او یاخوند بدل شي نو دکوهي اوبه پلیت او ناپاک ګڼلې شـي ، دپـاکو او ناپـاکو کوهیو ترمنځ فاصله کمه وي او که زیاته فاصلې لـره اعتبارنشـته بلکـی داوبـو پـه صفت باندی دپاک او ناپاک حکم کولې شي،البعدین البر والبالوعة بقدر مالا یظهر للـنجس اثر(قوله البعد الخ) اختلف فی مقدار البعد المانع من وصول النجاسة البالوعة الی البئر فی روایة خمسة اذرع وفی روایة سبعة وقال الحلوانی المعتبر الطعم او اللون او

الريح فان لم يتغير جاز والا لا ولوكان عشرة اذرع وفى الخلاصة والخانية والتعويل عليه وصححه فى الميحط بحر والحاصل انه يختلف بحسب رخاوة الارض وصلابتها ومن قدره اعتبرحال ارضه (درمختارمع شامي فصل فى البر مطلب فى الفرق بين الروث والختى والبصرالخ ۱/ ۲۰٤).

دکوم وخت نه چې دکوهي ناپاکوالې معلوم شي دهغه وخت نه به اوبه ناپاک ګڼل کيږي .[1]

او احتياط پديکې دی چې ديوې ورځې لمونځونه راوګرځول شي او که همت وي ددرې ورځولمونځونه دی راوګرځوي پديکې زيات احتياط دی ، دکوهي په اوبو چې مطمئن نه وي نو دنل اوبه استعمالول زيات بهتر دی ، فقط او مزيد تفصيل او اطمنان لپاره فتاوی رحيميه ۴جلد اردو ۴۲ صفحه وګورئ.

دجومات له کوهي نه بيت الخلاء څومره لرې پکار ده؟

۳۴_ سوال : دجومات نه باهر ديو بيت الخلاء جوړولو خيال دی نو دجومات له کوهي نه بيت الخلاء څومره لرې پکاره ده ؟

ځواب: فقهاء کرام دکوهي اوبيت الخلاء ترمنځ دخپلې زمکې په اعتبار سره پنځه او اوه ګزه فاصله ذکر کوي خو اصل خبره داده چې دومره فاصله وي چې دوړو اولويو وغيره اثر دکوهي اوبو ته ونه رسيږي يعنې داوبو په رنګ ، بوی او خوند کی فرق او تغيير رانشي ، البعدين البئر والبالوعة بقدر مالايظهر للنجس اثر(درمختار) دی لپاره کوم خاص مقدار او فاصله متعين نده دهرې زمکې دنرمي او سختي دتفاوت په اعتبارسره فاصله کی تفاوت راځي، په" شامي " کی دي "والحاصل انه يختلف بحسب رخاوة الارض وصلابتها" (۱/ ۲۰٤ ، فصل فى البئر مطلب فى الفرق بين الروث والختى والبعر الخ) .لهذا تاسې بايد دخپلې علاقې دځمکې له ماهرينو څخه تحقيق وکړي چې څومره فاصله پکار ده ، فقط والله اعلم .۱۴ جماعدي الاولیٰ ۱۳۹ هـ.

---

[1] _ ويحكم بنجاستها مغلظة من وقت الوقوع ان علم والا فمذيوم وليلة ان لم ينتفخ ولم ينفسخ ، درمختار على هامش شامي فصل فى البير ۱/ ۲۱۸.

په سوال کی ذکر شوی حوض ، شرعي حوض دی یانه؟

۳۵_ سوال: زمونږ په علاقه کی نوی جومات جوړیږي دده داودسونو دتالاب نقشه داسې ده:

دنقشې مطابق څلور حوضونه دي دهریو طول (اوږدوالی) ۳۰ فټه او عرض (پلنوالی) دوه نیم فټه دی او یوبل سره دپائپ په ذریعه یوځای شویدی پدی طریقه ددی څلورو حوضونو کولاو حصه طول او عرض په ضرب کولو سره د(۳۰۰) درې سوه مربع فټ جوړیږي مګر پدی باندی دا اشکال کیږي چې ددغو حوضونو یوبل سره یوځای کونکی پائپ چې دی داداوبو نه ډک دی نودغه پائپ دحوضونو وصل کولو لپاره کافي ندی او هریو حوض لس په لسو کی نه پاتې کیږي ایادغه اشکال صحیح دی؟ پدغه پورتنې نقشې باندی جوړشوی حوض لس په لسو کی شمیرلې شي؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: ستاسو اشکال درست دی داشرعي حوض (ده درده) ندی دنقشې نه معلومیږي چې دغه حوض څلورو وړو حوضونو (څلور ټوټو) باندی مشتمل دی او هره یوه ټوټه له بلې نه جدا ده دڅلورو واړو یوځای کولو لپاره پائپ اینودل شوی خوداکافي ندی ، اوکه چیرته په حوض کی له یوطرف نه اوبه داخلیږي اوبل طرف ته اوځي نوبیا کافي کیږي.

کحوض صغیر یدخل فیه الماء من جانب ویخرج من آخر یجوز التوضؤمن کل الجانب مطلقاً وبه یفتی (درمختار باب المیاه مطلب لوادخل المآء من اعلی الحوض فخرج من اسفله فلیس بجار).

دحوض سطح (پورتنې حصه) کوم ځای نه چې اودس کولی شي هغه معتبر دی ، که چیرته پورتنې حصه دلس په لسو برابر وي نو هغه شرعي حوض دی (لان العبرة لوجه الماء) . اګرکه لاندنی حصه کمه وي ، او که چیرته لاندنې حصه لس په لسو برابر وي لیکن پورتنې حصه یې کمه وي نو هغه شرعي حوض ندی په لږ غوندی پلیتې پریوتو سره پلیتیږي ، ولو اعلاه عشرا واسفله اقل جاز حتی یبلغ الاقل ولو بعکسه لا

(ای اسفله عشراً واعلاه اقل فوقع فیه نجس) لم یجز حتی یبلغ الشعر(درمختار مع الشامي۱/ ۱۷۹ باب المیاه).
فقهاو داهم لیکلي دي چې شرعي حوض دبره نه بند کړی دی او هغه بنده حصه اوبو سره یوځای شوی دی او کولاو حصه لس په لسونه کم وي نوداهم شرعي حوض نشي کیدې ، ولو جمدماؤه فثقب ان کان الماء منفصلاً عن الجمد جاز لأنه کالمسقف وان کان متصلا لا(درمختار مع الشامی۱/ ۱۷۹ ایضاً) وعلی هذا التفصیل اذاکان الحوض مستقفا وفی السقف کوة فان کان الماء متصلاً بالسقف والکوة دون عشر فی عشر یفسد الماء بوقوع المفسد وان کان متصلاً لایفسد الخ (کبیري ص۹۸ باب احکام الحیاض) فقط والله اعلم ، ۲۶/ صفر ۱٤۰۰ ه.

حوض کله پلیتیږي ؟ دناپاک حوض په اوبو سره استنجاء کولو سره چې لمونځ وکړي نو لمونځ یې صحیح کیږي یا نه؟

۳٦_ سوال : دمسجد دحوض اوبه دکوم خناور په مرکیدو او خرابیدو په وجه پلیت شوی و اودماسپښین نه وړاندی عام خلکو ته داپته ولګیده ، امام صاحب دماسپښین نه مخکی پدی اوبو سره استنجاء کړی اوبیایې پاکو اوبوسره اودس کولو سره لمونځ ورکړی دلمونځ نه وروسته یو سړي امام صاحب نه پدی باره کې تپوس وکړ هغه هم پدی اوبو سره داستنجاء کولو اعتراف وکړ دالمونځ صحیح شو او که دوباره کول لازم دي؟ امام صاحب په لاعلمي کی داکار کړی وي او که دیده دانسته یې پدی اوبو سره استنجاء کړی وي په دواړو صورتونو کی دلمونځ کیدو اونه کیدو په باره کی وضاحت وکړئ. مهرباني.
خواب: په حوض کی چی کوم خناور مړشي او خراب شي که چېرته پدی سره داوبو رنګ یابوی اویاخوندبدل شوی وی نو اوبه پلیتیږي اوکه چېرته داوبو درې واړه صفتونه یو هم بدل او تغیر شوی نه وي نو چونکې دحوض اوبه ماء کثیر (زیات اوبه) دي پدی

وجه هغه نه پلیتږي. او کله چې رنګ ، بوئي او یاخوند بدل شي نو بیا پلیتیږي [1] پـدی سره اودس ، غسل او یا استنجاء کول صحیح ندی که وکړی شي طهارت نه حاصلیږي لهذاکچېرته پدی اوبو سره استنجاء نه وروسته (که واقفیت سره کړی وي یا عدم واقفیت سره) اود کولو سره لمونځ ورکړی وي دهغه لمونځ دوباره کول لازم دي. مقتدیان به هم راګرځوي ، فقط والله اعلم.

حوض چې ژور وي مګر لس په لسو کې نه وي هغه شرعي حوض ندی ؟

۳۷_ سوال: زمونږ دجومات چې کوم حوض دی ددی طول (۱۴) فټ او عرض یې (۸) فته او ژور والې (۴ ۱\۲) فته دی پدی کې تقریباً څوارلس زره لیترونه زیات داوبو ګنجائش دی ، زما په خیال دومره اوبه په کوم لوی کوهي کې هم موجد نه وي نودا دماء کثیر په حکم کې دی او که نه ؟ که پدیکې نجاست پریوځي نو څه به کیږي؟ دفقه په کتابو کې چې دآب کثیرمتعلق ده درده تشریح راغلې دادحدودو په اعتبار دی او که دمقدار په اعتبار هم دی ؟ یعنې که چېرته په طول او عرض کې مذکور مقدار کې کمې وي مګر ژور والې زیات وي نو زیا مقدار کی اوبه پکې وي نو دطول اودعرض دکمي تلافي پدی سره کیږي چې شرعي حوض ورته وویل شي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

څواب: دغه حوض شرعي حوض ندی دژور والي په زیاتیدو سره دطول او عرض دکمي تلافي نشي کیدې ، اودس وغیره لپاره دغه استعمالیدی شي لیکن که لږ غوندی نجاست پکی پریوځي نودحوض ټولو اوبه پلیتږي،لهذا که کیدی شي نو باید چې ده درده جوړ کړئ [2] اوکه دانشي کیدی نو دحوض په ځای مسقف ډیګئ جوړ کړئ ، فقط والله اعلم.

---

[1]_ وكذا براكد كثير كذلك اى وقع فيه نجس لم ير اثره ولوفى موضوع وقوع المرئية به يفتى بحر قال فى الشامية تحت قوله لم ير اثره اى من طعم اولون اوريح وهذ القيد لابدمنه ، درمختار مع الشامي باب المياه مطلب لو ادخل المآء من اعلى الحوض الخ.

[2]_ قال ابو سليمان الجوز جانى ان كان عشرا فى عشر فهو جمالاينجس وبه أخذ عامة المشايخ رحمهم الله هكذا فى المحيط، فتاوى عالمگيري الباب الثالث فى المياه.

دکافر په داخلیدو سره دحوض اوبه پلیتیږي اوکه نه؟

۳۸ـ سوال: زمونږ په جامع جومات کی دهندو نجار سامان په حوض کی پریوت نو هغه پخپله حوض ته کوز شو نودغه اوبه پاکې دي او که ناپاکی ؟ حوض داوبو نه ډک دی.
ځواب: کوم حوض چی لس په لسو کی وي دهغه اوبه دروانو اوبو حکم لري پدی وجه ځوپورې چی اوبو کی دناپاکي اثر ښکاره نشي هغه اوبه پاکی دي او که دنجاست پریوتو سره داوبو رنګ ، بوئي او یا خوند کی فرق رانشي نو بیا هم هغه اوبوته ناپاک نشي ویل کیدی لهذا په ذکر شوي مسئله کی دحوض اوبه پاکې دي دشک ضرورت نشته.[1]

تالاب نیمایي ډک دی اوپدیکې خوشایي وغیره هم یوځای شوي نودغه اوبه پاکي دي؟

۳۹ـ سوال: زمونږ دعلاقې تالاب پدی طریقه نیم ډک شوی چی دکلي خوشیاي او دبولو اوبه هم تالاب ته راغلي دي دپټو اوبه هم ورته راغلي اوبوځای شوي پدی طریقه تقریباً له نیمایي نه هم زیات ډک شوی خوپوره او مکمل ډک شوی ندئ چی اوبه ترینه باهرته ووځي اګرچی خومره پکې دي هغه صفا معلومیږي اودتالاب له ډکیدونه وروسته چی ځنګه رنګ وي اوس هم همغسې رنګ لري نوداقسم اوبه پاکې دي او که ناپاکې ؟ پدی اوبو سره کپړی وینځل کیږي یانه ؟
ځواب: پدی تالاب کی چی دکومو لارو نه اوبه راځي که دالارې ناپاکې وي نواوبه هم ناپک ګڼل کیږي او که چیرته تالاب ته داوبو یوه لاره هم پاک وي اولدی لارې نه (۱۰ ×۱۰) یعنی لس په لسو مقدار کی اوبه جمع شوی وي اویا(۱۰ ×۱۰) مقدار کی پاکې اوبه جمع کیدو سره خواکی دبل تالاب ناپاکو اوبوسره یوځای شوی وي نو دغه تالاب

[1] ـ که چیرته حوض لس په لسو کی وي همداحکم یې دی البته داحتیاط تقاضا داده چی اوبه ورنه وویستل شي ، نقل فی الذخیرة عن کتاب الصلوٰة للحسن ان الکافر اذا وقع فی البئر وهو حی نزح الماء وفی البدائع انه روایة عن الامام لانه لایخلو من نجاسة حقیقیة او حکمیة حتی لو اغتسل فوقع فیها من ساعته لاینزح منها شیئ اقول ولعل نزحهاللاحتیاط تامل، شامي فصل فی البئر ص۲۱٤.

پاک حسابیږي ، او که چېرته دناپاکي په وجه داوبو رنګ ، بویي او خوند کې فرق راغلې وي نو بیا دتالاب اوبه ناپاک ګڼل کیږي، غدیر عظیم یبس فی الصیف وراثت الدواب فیه ثم دخل فیه الماء وامتلاء ینظر ان کانت النجاسة فی موضـــوع دخـــول المـــاء (ص٤) ... الی قوله.کا لغدیر الیابس اذاکان فیه نجاسات وصوضع دخول المـــاء طاهرفاجتمع الماءفی مکان طاهر هو عشر فی عشر ثم تعدی بعد ذلك الی موضـــع النجاسة (فتاوی قاضي خان ۱/ ۵کتاب الطهارة فصل فی الطهارة بالماء (غدیر) .
او کله چې دتالاب اوبه پاکې دي او دناپاکي اثر نشته نوبیا پاک ګڼل کیږي ، داوبـو پـه باره کې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دمشکلاتو اودتکلیفونـو لحـاظ کړیـدی او آسـان صورتونه یې ښودلي دي ، او فقهاء کرامو هم عام طور سره دعموم بلـوی لحـاظ سـاتلی دی ،لهذا دشک اوشبهې کولو ضرورت نشته دی ، فقط .

په حــوض کــی چـــی بـني آدم پریـوځـي اومړشـي څه حکم لـري؟

۴۰_ سوال: دجومات په حوض کې یو لمونځ ګذار پریوت او مړشو اوپه سر کې دزخمـي کیدو په وجه وینه هم راوتله شاید چې واړه او غټ بولې هم شوې وي مګر په اوبـو کـې کوم اثر نه معلومیده نودغه حوض پاک دی او که ناپاک ؟ ځینې خلک وایـي چـې سړې په حوض کې مړشوی نو اوبه ناپاکې دي اوتولوې اوبه راویستل پکار دي .
ځواب: په اوبو کې دبني آدم په مړکیدو سره چې اوبه پلیتیږي داد هغـې کـوهي حکـم دی چې (۱۰ x ۱۰) کې نه وي او دجاري اوبو حکم نه لري پداسې حـوض کـې دبنـي آدم په مړکیدو سره اوبه نه پلیتیږي .[1] په حدیث کې دي : "ان الماء طهـــور لاینجســـه شئ" یعنی اوبه پاکې دي اوپه هیڅ یوشئ سره نه پلیتیږي ، (څو پورې چې ددی دریـو صفتونوڅخه (رنګ ، بوئي ، خوند) کوم یو وصف بدل نشي .) (بـــاب احکـــام المیـــاه

---

[1] _واما اذاکان عشرا فی عشر بحوض مربع...... فلا ینجس الا بظهور وصف للنجاسة منه .... وبه أخذ مشائع بلخ توسعة علی الناس والتقدیر بعشر فی عشر هو المفتی به ، مراقي الفلاح علی هامش طحطاوي کتاب الطهـــارة ص١٦ .

الفصل الثاني عن ابي سعيد الخدري)(مشکواة شريف ص۵۱) (ترمذي ، ابو داود ، نسائي) اوپه درمالابد منه کې دي : آب جاري وآب کثير از افتادن نجاست درآن نجس نشود مگر وقتيکه ازنجاست رنگ يابو ويامزه درآن ظاهر شود.
ترجمه : رواني او زياتي اوبه دنجاست په پريوتو سره نه پليتيږي څو پورې چې ددی دريو صفتونو څخه يو صفت کی دنجاست اثر ظاهر شوی نه وي . (ص۲۱)
خلاصه دا ، څوپورې چې اوبو کی دپليتي اثر ښکاره شوی نه وي ، رنګ ، بويي او ياخوند کې فرق راغلې نه وي نو دشک او شبهې هيڅ ضرورت نشته څلور واړه مذاهب ، حنفي، شافعي ، مالکي او حنبلي پدې متفق دي چې ذکر شوی حوض پاک دی دناپاکي هيڅوک قابل ندی .
(رحمة الامة فی اختلاف الائمةص٦) لهذا دی حوض ته ناپاک ويل غلط ، اوبې دليله دي . فقط.

په کوهي کی چې مږک پريوځي

۴۱_ سوال: ديو کوهي نه تازه مړه شوی مږک راووت يوساعت مخکې ورنه يوسړي اوبه ويستلي وې مږک نه وه خوساعت وروسته ورنه مړ مږک راووت نوشرعاً دغه کوهي څه حکم لري؟ تقريباً (۲۵) يا(۳۰) ډولچې اوبو ويستو سره داکوهی پاکيږي؟ داوبو په رنګ او مزه کی کوم فرق ندې راغلې پدی اوبو سره چې پاخه شوي څيز خوړل شوی اوپډيکې اودس کولو سره لمونځونه اداشوي نودغه لمونځونه صحيح دي او يادوباره راوګرځول شي ؟
ځواب: کله چې رژيدلې نه وي نودهغی په لرې کولوسره (۲۰) شل ډولچې اوبه ويستلو سره کوهې پاکيږي . خو(۳۰) ډولچې ويستل غوره دی تاسو چې (۲۵) نه تر (۳۰) پورې ويستلي دي دامو ښه کړي اوس کوهې بالکل پاک دی اودغه اوبه خوراک ، ځښکاک اواودس اودغسل وغيره لپاره بغير دتکلف نه استعمالولې شئ. "وان ماتت فارة نزح منها عشرون دلوا الی ثلثين " يعنې که چېرته په کوهي کی مږک مړه شي نو د(۲۰) نه تر (۳۰) بوقو پورې به ورته اوبه ويستلې کيږي . (هداية ۱/ ۲٦ باب الماء الذی يجوز به الوضوء ومالايجوز به فصل فی البئر) فقط والله اعلم.

شرعي حوض کله پلیتیږي؟

۴۲_سوال: زمونږ پدې علاقه کی(۱۰ x ۱۰) یعنې لس په لسو کې حوض دی او دیته اوبه له کوهې نه راځي اوس پدې کوهي مږ او رژیدلې مږک پیداشو، نو دکوهې اوبه خو له دریو ورځو پلیت ګڼل کیږي لیکن دحوض او داوبو په باره کې اختلاف دی یو مفتي صاحب دشامي دغه عبارت "وکذا یجوز براکد کثیر (کذلك) ای وقع فیه نجس لم یرأثره ولو فی موضع وقوع المرئیة به یفتی، بحر. (درمختار) (قوله ای وقع فیه نجس الخ) شمل مالوکان النجس غالباً ولذا قال فی الخلاصة. الماء النجس اذا دخل الحوض الکبیر لاینجس الحوض وان کان الماء النجس غالباً علی ماء الحوض لانه کلما اتصل الماء بالحوض صار ماء الحوض غالباً آه. (شامي ۱/ ۱۷۶ باب المیاه)

او همداراز دفتاوی دار العلوم دغه عبارت:

سوال: (۱۰ x ۱۰) یعنې ده دردہ حوض کی چې یو لاس اویا لدینه زیات اوبه وي که چیرته پداسې حالت کی دناپاکی کوهي نه اوبه راوویستل شي او حوض پرې ډک کړی شي نوداپاک دی او که ناپاک.

خواب: پاک دی اوپه فتاوی رحیمیه کی هم دغسې حوض (تالاب) په باره کی مسئله شته، عرض داچی ذکر شوی عبارتونو په وجه یو مفتي صاحب دحوض دپاکوالي قائل دی اوبل مفتي صاحب دناپاکي قائل دی، نو ستاسو له محترم حضورنه دا درخواست دی چی جواب راکړئ او وضاحت وکړئ. مهرباني.

خواب: په حوض کی چې اوبه نه وي اویاوی خوشرعي مقدار نه کمې وي دناپاک کوهي داو بو په شاملیدو سره حوض پلیت شمیرلې شي، او که چیرته ده دردہ حوض کې دشرعي مقدار برابر اوبه وي اوبیا پدیکې ناپاکې اوبه ګډی شي خو پدی ګډیدو سره داوبو درې صفتونه (رنګ، بوی، او خوند) کوم یو صفت نه یوم بدل نشي نو بیا هم هغه حوض پاک دی او بغیر دشک نه اودس کول صحیح دی.[1]

---

[1] _په سوال کی چې کومه حواله سوال کونکی ورکړی دغه حواله په جواب کی هم چلیږي، پدی شرط چی دحوض په اوبو باندی ناپاک اوبه په غالب کیدو سره داوبو صفتونه بدل نکړي، قوله ثم یرأثره ای من طعم اولون اوریح وهذا القید لابدمنه، وان لم یذکر فی کثیر من المسائل الاتیة فلا تغفل عنه، شامي باب المیاه مطلب لو ادخل الماء من اعلی الحوض وخرج من اسفله فلیس بجار، ۱/ ۱۹۱.

دحیض او نفاس متعلق

دڅلویښتو ورځو پوره کیدونه وړاندی نفاس بندېدل

۴۳ـ سوال: یوه ښځه چی لوړی ځل حامله شوی وي ، ددی چی دڅلویښتو ورځو نه وړاندی دنفاس وینه بنده شي ایا دغه ښځه په غسل کولو سره لمونځ اداکولی شي؟ اوکه څلویښت ورځې پوره کول لازمي دي ؟

خواب: څلویښت ورځې پوره کول لازمي ندي ، چی کله وینه بنده شي نفاس یې ختمیږي او غسل کولو سره به خپل لمونځ اداکوي اوکه ادایې نکړي گنهګاریږي، داعقیده غلطه ده چی(۴۰) ورځو پوره کولو نه بغیر به غسل نه کوي ، (۴۰) ورځې دنفاس هغه آخري او نهایي موده ده او(۴۰) ورځو نه مخکې چی کله هم وینه بنده شي نو نفاس یې ختمیږي درسول الله صلی‌الله علیه وسلم له ارشاداتو نه همداثابتیږي ، "وروی الدارقطني وابن ماجه عن انس رضی‌الله عنه انه صلی‌الله علیه وسلم وقت للنفساء اربعین یوماً الا ان تری الظهر قبل ذلك وروی هذا من عدة طرق لم یخل عن لطعن لکنه یرتفع بکثرتها الی الحسن " (شامي۱/ ۲۷۷ باب الحیض تحت قوله کذا رواه الترمذي وغیره عن ابی الدرداء وابی هریرة رضی‌الله عنه قالا قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم تنظر النفساء اربعین یوماً الا ان تری ا لطهر قیل ذلك فان بلغت اربعین یوما ولم تر الطهر فلتغتسل وهی بمترلة المستحاضة ، رواه ابن عدی وابن عساکر، "زجاجة المصاربه ص۱۵۵،۱۵٤ باب الحیض"

دڅلویښتو ورځو نه په کمه موده کی دنفاس وینه بندیدل

۴۴ـ سوال : پدی مسئله کی دیني عالمان څه فرمایي چی یوه ښځه بچی راوړي اوپه یوه میاشت کی دنفاس نه پاکه شي اوس دغه ښځه لمونځ کولې شي یانه ؟ اوخپل خاوند سره همبستري کولې شي اوکه نه ؟ وضاحت را ته وکړئ مهرباني.

خواب: دنفاس کمه موده متعین نده او انتهایي موده یې څلویښت ورځې ده په فتاوی عالمکیري کی دي : "اقل النفاس مایوجد ولوساعة وعلیه الفتوی واکثره اربعون

كذا فى السراجية" (ص۳۷ ج ۱ ، الباب السادس فى الدماء المختصة بالنساء الفصل الثانى فى النفاس) .

لهذا چې يوه مياشت کې له نفاس نه پاکه شويده نو غسل دی وکړي او خپل لمونځ دی کوي او که دروژی زمانه وي نو روژه دی ونيسي ، او چې دايې اول بچې وي نو بيا همبستري هم جائز دی ، او که چېرته مخکيني عادت لـه يـوه مياشـت نـه زيـات واو اوس دعادت نه وړاندی وينه بنده شوی نو بيا دهمبستري اجازت نشته ، ولو انقطع دمها دون عادتها يكره قربانها حتى ليمضى عادتها وعليها ان تصلى وتصوم للاحتياط هكذا فى التبيين ، (فتاوی عالمگيري ۱/ ۳۹ الفصل الرابع فى احكام الحيض والنفاس والاستحاضة) فقط والله اعلم .

دحيض وينه بنديدونه وروسته بياليدل

۴۵ـ سوال : بيماري (حيض) هر درې ورځې وروسته بنديږي ، دپاکيدو او۳/ ۴/ ۵ وخته لمونځ کولو نه وروسته بيا لږ غوندی وينه ليدل کيږي او نور کله به نه ليدل کيده اوس داکوم لمونځونه يې چې کړيدي دهغودوباره کول لازم دي ؟ اويا چې غسل وروسته وکړی شي نو بيا لمونځونه قضاء کيږي دهغو قضائې راگرځول شته ؟

خواب: کله چې هميشه درې ورځې عادت وي په درې ورځو کی وينه بنديږي نـو وينـه بنديدو سره فوراً غسل کول اوچی دلمانځه وخت وی نـو لمونځ کـول ضـروري دي .[1]

اوکه ونه کړی نو قضايې راگرځول پری لازم دي ، مگر احتياط پـديکې دی چـې څـو پورې دوينې رتلو اهتمال وي نو خاوند سره به همبستري نه کوي ، فقط والله اعلم .

---

[1] ـوان انقطع لدون اقله تتوختو وتصلى فى اخر الوقت وان لاقله فان كان لدون عادتها لم يحل وتغتسل وتصلى وتصوم احتياطاً وان لعادتها، درمختار على هامش شامي باب الحيض.

زچګي نه وروسته څه وخت غسل پکار دی اولدې غسل نه مخکې ځان باندی تیل یابل څه لګول څنګه دي؟

۴٦_ سوال : دزچګي نه یوه میاشت وروسته اوبیا خلویښت ورځو نه وروسته دغسل کولو رواج دی ایا داصحیح دی ؟ او همداراز دغسل نه دوه ورځې وړاندی سحر او ماښام ټول بدن باندی درې ځلي دغنمو اوړه او کور کمان لګول څنګه دي ؟ نفاس والا ښځه کله او څنګه غسل وکړي ؟ اسلامي طریقه راته واضحه کړئ . مهرباني.

ځواب: دنفاس وینه بندیدوسره غسل واجب دی اودنفاس په حالت کی هسې دصفایي او صحت لپاره روزانه هم غسل کول منع ندي ، لیکن یوه میاشت پوره کیدو سره غسل کولو ته مسنون او شرعي طریقه وېل غلط دی ، د(۴۰) ورځو نه وړاندی چی کله هم وینه ودریږي نودپاکي په نیت سره غسل کول او لمونځ شروع کول ضروري دي او که چېرته تر(۴۰) ورځو پورې وینه جاري وي چی دایې اخري موده ده نو د(۴۰) ورځو پوره کیدو سره فوراً غسل کول او لمونځ شروع کول پکار دي .[1]

اوددی غسل څه ځانله طریقه نشته اوبدن باندی اوړه پورې کول سنت او ضروري ګڼل غلط اوبی دلیله دي ، دبدن دصفایي لپاره خاوره یاصابون وغیره هرپاک څیز استعمالولې شي . فقط والله اعلم .

دحیض کمه موده درې ورځې ده لدینه چی مخکی وینه راشي هغه استحاضه ده

۴۷_ سوال : یوې ښځې ته په هرو دریو میاشتو کی وینه راځي اول یې دپنځو ورځوعادت و لیکن اوس یوه شپه وینه راشي او بیا بندیږي، بهشتي زیور کې مسئله ده چی درې ورځو اوشپونه چی وینه کمه وي هغه حیض نه بلکې دبیماري وینه ده ، ذکر

---

[1]_ قوله ، ولاحد لاقله..........وذكر شيخ الاسلام فى مبسوطه اتفق اصحابنا على ان اقل النفاس مايوجد فانها كما ولدت اذارأت الدم ساعة ثم انقطع الدم عنها فانها تصوم وتصلى وكان مارأت نفاساً لاخلاف فى هذا بين اصحابنا...... واكثره اربعون يوماً...... فكان اكثر مدة النفاس اربعين يوماً (بحر الرائق باب الحيض ١/ ٢١٩، ٢٢٠)

شوي ښځې ته چې کومه وینه راځي دیته څه وویل شي حیض یا استحاض؟ دښځې عمر(۳۵) کاله دی او لمونځ او تلاوت لپاره څه وکړي؟ وضاحت وکړئ . مهرباني.
ځواب: له درې ورځو اوشپو نه چې کمه وینه راشي هغه حیض ندی ، په هدایه کی دي : "اقل الحیض ثلاثة ایام ومانقص من ذلك فهو استحاضة"(۱/ ٥٤ باب الحیض والاستحاضة)

څو ورځې دنفاس وینه راغله اوبیا بنده شوه اوبیاڅو ورځې راغله اوبنده شوه نو څو ورځې به یې نفاس شمیرلې شي؟

۴۸ ـ سوال: دیوې ښځې نفاس پدې طریقه راځي چې څلور ورځې راشي او بندشي او بیا څلور ورځې راشي او بند شي همدغسې جاري وي تردی چې (۴۰) ورځې پوره شي ، نو کومو ورځو کې چې وینه نده راغلې ایا هغه طهارت اوپاکي شمیرلې شي او که نفاس کی ؟ وضاحت وکړئ . مهرباني.
ځواب: پدی مسئله کی پوره (۴۰) ورځې نفاس کی حسابیږي یعنې درمیاني زمانه طهارت کی نشي شمیرلې پدی چې(۴۰) ورځې یې عادت شویدی .[1] فقط

دنفاس وینه چې (۱۰) (۲۰) ورځې وروسته بنده شي څه حکم لري؟

۴۹ـ سوال : دیوې ښځې بچی پیداکیدو نه وروسته لس ، شل ورځې دنفاس وینه راغله اوبنده شوه ایا دغه ښځه غسل کولو سره خپل خاوند سره همبستري کولې شي؟
ځواب: دنفاس موده زیات نه زیات(۴۰) ورځې ده که چیرته لدینه مخکې وینه بنده شي اودایې اولنې بچی وي اویایې مخکې نوربچی هم شوی خو اوس چې څو ورځې وینه

---

[1] ـلان من اصله ان الدم اذاكان فی اربعین فالطهرالمتخلل فیه لایفصل طال الطهر أوقصر حق لو رات ساعة دما واربعین الاساعتین طهرا ثم ساعة وماكان الاربعون كله نفاساً ، بحر الرائق تحت قوله ولا حد لاقله باب الحیض ص۲۱۹.

راغله لدینه زیاته مخکې نه وي راغلې نو پدی صورت کی غسل کولو سره دی لمونځ شروع کړي او همبستري کول هم درست دی [1]. فقط والله اعلم . .

دنفاس والا ښځې چی عادت يې مختلف وي څه حکم لري؟

۵۰ـسوال: دکومی ښځې چی اول ځل (۳۵) ورځې دويم ځل (۳۲) ورځې اودريم ځل (۳۰) ورځې دنفاس وينه راشي نو دريم ځل باندی هغه ښځه له څه وخت پاکه ده او خاوند ورسره څه وخت يو ځای کيدې شي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: پدی صورت کی (۳۰) ورځو نه وروسته غسل وکړي او لمونځ شروع کړي او که روژه وي نو روژه ونيسي ليکن همبستري کول مکروه دي البته (۳۲) ورځو نه وروسته (کوم چی ددی عادت و) همبستري کول صحيح دی، په عالمګيري کی دي : ولو انقطع دمها دون عادتها يکره قربانها حتى يمضى عادتها وعليها ان تصلى وتصوم للاحتياط هكذا فى التبيين ۱/ ۳۹ . الفصل الرابع فى احكام الحيض والنفاس والاستحاضة ، فقط والله اعلم.

دحائضه ، مستحاضه ، جنب او دنفاسه ښځې احکام

حائضه ښځې سره صحبت (يوځای کيدل) څه حکم لري؟

۵۱ـ سوال : يو حديث له نظر نه تير شوي چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : څوک چی حائضه ښځې سره همبستري وکړي نو نيم دينار دی صدقه کړي (مشکواة) لدی حديث نه داڅابتيږي چی که دحيض په حالت کی څوک همبستري

---

[1] ـ ولاحد لاقله اى النفاس ...... وذكر شيخ الاسلام فى مبسوطه . اتفق اصحابنا على ان اقل النفاس مايوجد فانها كما ولدت اذا رأت الدم ساعة ثم انقطع الدم عنها فانها تصوم وتصلى وكان مارأت نفاساً لاخلاف فى هذابين اصحابنا، بحر الرائق باب الحيض ۱/ ۲۱۹.

کول غواړي نو دنیم دینار په صدقه کولو سره دی وکړي،لهذا ددی وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: تاسي چی دحدیث نه کوم مطلب آخستي چی دحیض په حالت کی نیم دینار په صدقه کولو سره همبستري کولې شي دابالکل غلط دی ، نیم دینار صدقه کول دفیس په طور ندی بلکه دابطور سزا او جرمانه ده او دالله تعالی دغضب نه بچ کیدو لپاره دی، دفقه په کتابونو کې لیکي چی څوک درمضان دروژې حالت کې همبستري وکړي نو کفاره لازمیږي ، اوس ددی دامطلب ندی چی څوک دروژې په حالت کې همبستري کول غواړي نو کفاره ورکولو سره کولې شي، ټولوته پته ده چی دحیض په حالت کی همبستري کول حرام دي ، داګندګي او پلیتي ده اوډیره سخته ګناه ده ددی حرمت قران نه ثابت دی الله تعالی فرمایي : (یسئلونك عن المحیض قل هو اذی فاعتزلو النساء فی المحیض ولا تقربو هن حتی یطهرن) یعنی ای نبی صلی‌الله علیه وسلم داخلك تانه دحیض دحکم تپوس کوي تاسو ورته ووایئ چی داګنده خیز دی او تاسو دحیض په حالت کی له ښځو نه لرې ووسئ او څو پورې چی پاکې شوی نه وي نو محبت او همبستري ورسره مه کوئ (سوره بقره) اوپه حدیث کی هم سخت ممانعت راغلې ، په مشکوات شریف کی دي ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلي : څوک چی حائضه ښځې سره همبستري وکړي اویا ورته شاه طرف ته (دبر) کی راتګ وکړي اویاکاهن ته لاړشي نو هغه محمدصلی‌الله علیه وسلم له دین نه منکر دی ، (باب الحیض الفصل الثانی عن ابی هریرة رضی‌الله عنه ص۵٦) .

اودفقه په کتابو کی هم صریح حرمت راغلې په "مالابدمنه" کی لیکي : "وجماع وحیض ونفاس حرام است" یعنې دحیض او نفاس حالت کی همبستري کول حرام دی .(ص۱۷، بلکې له نامه نه تر ځنګنو پورې دهغه بدن ته کتل او لاس لګول هم درست ندی ، او فقهاو دا هم ویلي دي چی په حلال ګڼلو سره همبستري کول کفر دی ،(فتح القدیر ۱/ ۱۵) [1] .

[1] _قوله ولا یاتیها زوجها ولو اتاها مستحلا کفر او عالما بالحرمة أتی کبیرة ووجبت التوبة ویتصدق بدینار او بنصفه استحباباً الخ باب الحیض والاستحاضة.

او که چېرته دکوم بدبخت نه دغه کبیره ګناه وشي نو دالله تعالی په دربار کې دی دزړه په صداقت سره په ډیر عجز او زاري سره توبه او استغفار وکوي او علاوه لدینه دخپل حیثیت مطابق صدقه او خیرات هم وکړي ځکه چې قانون ماتولو او دکبیره ګناه کولو سره دالله تعالی قهر او غضب په جوش راځي او په صدقه او خیرات سره بندولې شي، په یو حدیث کې دي : (عن ابن عباس رضی‌الله عنه عن النبی صلی‌الله علیه وسلم قال اذاکان دما احمر فدینار وانکان دما احضر فنصف دینار).
یعنی کله چې سره وینه یعنې په ابتداء کې داغلط کار وشي نو یوه دینار صدقه کړي او که زیړه وینه کې وشي نو بیا نیم دینار صدقه کړي . (ترمذي شریف ۱/ ۲۰ باب ماجاء فی الکفارة فی ذلك) .
نوټ : یو دینارڅلور نیم ماشه کیږي . فقط والله اعلم .

بنځه دحیض په حالت وضائف او اوراد لوستلې شي؟

۵۲_ سوال : بنځې لپاره دحیض په حالت کې دلمونځ او تلاوت ګنجائش نشته مګر نور وظائف لوستلې شي یانه ؟
ځواب: دحیض په حالت کې دلمونځ او تلاوت نه علاوه نور ذکر واذکار ، درود او وظائفِ کولې شي ددی ممانعت نشته بلکې دی لپاره مستحب دی چې دهر لمانځه په وخت کې اودس کولو سره په مصلې (جای نماز) باندی کینې او دلمونځ کولو په مقدار سحبانك استغفرالله الذي لا اله الا هو الحی القیوم ، ولولې دده په عملنانه کی زر کعته لیکلې شي او یازره ګناهونه معاف کیږي او درجات یې اوچتیږي او داستغفار په هرلفظ سره نور (رڼا) ملاویږي او دجسم هریو رګ په عوض کې حج او عمره لیکلې شي، (مجالس الابرارعربي ص۵۶۷.)[1]

---

[1]_په عملنامه کی داویازره الخ کومه خبره چې مفتي صاحب دمجالس الابرار په حواله لیکلې داماته نده معلومه اوپالې شوه دتسبیح او تهلیل متنسحب کیدو مسئله نو مولانامحمد یوسف بنوري رحمه الله په معارف السنن کی دعمدة القاري په حواله پدی باندی رد کړی‌یدی وکذلك مذهب الجمهور العلماء من السلف والخلف انه لیس علی الحائض وضوء ولا تسبیح ولا ذکر في اوقات الصلواة ولا في غیرها وممن

غیر مقلدینو په نزد ناپاک سړی بغیر دغسل نه قران شریف نیولې شي ؟

۵۳ـ سوال : ایا دغیر مقلدینو په نزد ناپاک سړی بغیر دغسل نه قران شریف نیولې شي؟
خواب:هو ، ددوی مذهبي پیشوا مولانا نواب صدیق حسن خان صاحب او مولانانور الحسن صاحب په کتاب عرف الجادي کی دي ، اګر چی محدث رامس مصحف جائز باشد (ص۱۵).(دلیل الالب علی الرجع المطالب ص۲۵۲)

جینی دحفظ په دوران کی بالغه شي دی لپاره چی حفظ شوي آیتونه په یاد پاتې شي څه صورت شته ؟

۵۴ـ سوال: یوه جینې دقران کریم حفظ کوي هغه بالغه شي او ماهواري یې شروع شي اوس پدې وجه هره میاشت اته ورځې قضاء کیږي او نورو ورځو کې خو قران لوستلې شي مګر پریشاني داده چی دحفظ پوره کولو لپاره ډیر وخت لګیږي او چی منځ کی دومره ورځې پاتې شي نو یادکړې ورنه هم هیر شي اوبیابه دوباره زده کول وي نوداسې کوم صورت شته چی دحیض په دوران کی هم تلاوت وکړې شي ترڅویاد کړی ؟ لږ وضاحت وکړئ مهرباني.
خواب: دماهواري په زمانه کی دمذکوره عذر په وجه دقران شریف تلاوت نشي کولې اوچی یاد کړی شوی ورنه هیر نشي ددی دوه طریقې دي :

قال هذا الاوزاعي والثورة وابو حنيفه واصحابه والشافعي كماني شرح المهذب(۲/ ۳۵۳) غير ان الحنفية قالاستحباب الوضو لوقت كل صلواة والقعود عى مصلا مسجة و مهللة صحيح فى الظهيرية انها تجلس مقدار اداء فرض الصلوة كيلاتنسى العادة كماف البحر الرائق ۱/ ۱۹۳ وانكان لا اصل له على هذا الوجه المخصوص قاله فى شرح المهذب(۲/ ۳۵٤) قال الراقم وفيما قالوا نظر اخر وهو ان الحديث انس اذاحاضت لم تصل ولم تصم يدل على انه ليس للمراة امر تكافئ هذا النقص فلو كان هناك شيئ يجبر الوهن لما لطف ذلك التعبير، وانظر العمدة (۲/ ۱۳۲) معارف السنن باب ماجاء في الحايض انها لاتقضى الصلاة ۱/ ٤٤١.

(۱) په کپړه وغیره سره دی قران شریف کولاو کړي او په قلم وغیره سره پاڼې واړوي اوپه قران شریف کی کتو سره په زړه کی ولولي اوژبه ونه خوځوي.[1]
(۲) کوم بل څوک چی تلاوت کوي هغه سره کیني او ورنه واوري په اوریدلو سره هم یادیږي دادواړه طریقې جائز دی اوانشاء الله دیادکړي آیتونود محفوظ کولو لپاره کافي دی . فقط والله اعلم۹ شوال المکرم ۱۴۰۱ ه.

دجنابت په حالت کی ویده کیدل

۵۵_ سوال: د یو سړي هلکان او جینکی هوښیاران شوي او کور یی ډیر وړوکی دی تول یوځای اوسیږي کله چی د ښځی سره یوځای کیږي نو د بچو د بیداریدو په ویره شرم او حیا ورځي نو د شپی غسل نشي کولی او یواځی تیمم باندی اکتفاء کوي او بیا سحر وختي غسل کوي نو دا کار شرعاً څنګه دی ؟ دا هم باید واضحه وي چی داسی ونکړي نو د همبستری بله کومه لاره او طریقه نشته ، امید دی چی ځواب راکړئ ، مهرباني .
ځواب : دشپی دهمبستری نه وروسته د ظاهري نجاست په ْ وینځلو سره ویده شئ[2] ، مګر د سحر لمونځ نه وړاندی غسل کول او لمونځ ادا کول ضروري دي ، لمونځ قضاء کول جائز ندي ، داسی شرم او حیاء هم جائز ندي چی ورسره لمونځ قضاء کړی شي د شپی په وخت کی دی غسل وکړی شي او یا د ورځی کوم وخت کی چی بچی نه وي د همبستری لپاره وخت ولګول شي ، فقط والله اعلم بالصواب ، یکم محرم الحرام ۱۳۹۷ھ .

د نجاست او د دی د احکامو متعلق

(سوال) جنب سړی چی پخپل لاس سره یو څیز جیب کی کیدي د هغه وینځل ضروري دی ؟

---

[1] ــ ولایکره النظر الیه الی القران لجنب وحائض ونفساء لان الجنابة لاتحل العین ، (درمختار علی هامش شامی۱/ ۱۷٤) .

[2] ــ عن عائشة رضی الله عنها عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان یتوضأ قبل ان ینام ، وعن ابن عمر رضی الله عنهما انه سئل النبی صلی الله علیه وسلم ا ینام احدنا وهو جنب قال نعم اذا توضأ ، (ترمذی باب فی الجنب ینام قبل ان یغتسل ج ۱ ص ۳۲) . .

ځواب : د جنابت په حالت کی جیب کی د اینبودلی شوي څیز وینځل ضروري ندي[1] .

(سوال) بنځه رینبمی قمیص ، پرتوګ، څادر او سربند وغیره کی ئمونځ کولی شي ؟

ځواب : هوکولی شي منع ندي[2] .

د غیر مسلم په کور کی په خوشایي باندی لیو شوی ځای کی لمونځ کول

(۵٦ سوال) زه یو سرکاري ملازم یم کلي په کلي ګرځم خینی ځایو کی جومات اویا د ملسمانانو کور په خوشائي باندی لیو شوی وي نو پداسی حال کی مصلی په غوړولو سره لمونځ کیدلی شي یا نه ؟

ځواب : په خوشائي سره لیو شوی وچ ځای باندی پاکه کپړه هوارولو سره لمونځ کولو کی هیڅ حرج نشته جایز دي او لمونځ هم کیږي ، "وکذا الثوب اذا فرش علی النجاسة الیابسة فانکان رقیقا یشف ما تحته او توجد منه رائحة النجاسة علی تقدیر ان لها رائحة لاتجوز الصلوٰة علیه وان کان غلیظا بحیث لایکون کذلك جازت" (شامی ج ۱ ص ۵۱٦ . باب ما یفسد الصلوٰة وما یکره فیها تحت قوله مبسوط علی نجس الخ) .

د سطرنجي یوه کنج ناپاک کیدل :

(۵۷ سوال) د کور د ناستی په کوټه کی فرش (سطرنجي) غوړیدلی دی د دی په یو کنج کی ماشوم متیازی کړی وکړی نو په بل کنج کی د څادر په غوړلو سره لمونځ کیږي یا نه ؟

---

[1] ـ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال لقینی رسول الله صلی الله علیه وسلم وانا جنب فاخذ بیدی فمشیت معه حتی قعد فانسللت فأتیت الرجل فاغتسلت ثم جئت وهو قاعد فقال این کنت یا اباهریرة فقلت له فقال سبحان الله ان المؤمن لاینجس (مشکواة باب مخالطة الجنب ومایباح له ص ٤٩) .

[2] ـ حرم للرجل لا للمرأة لبس الحریر الا قدر اربع اصابع یعنی یحرم علی الرجل لا علی المراة لبس الحریر ، بحرالرائق کتاب الکراهیة فصل فی اللبس ج ۸ ص ۱۸۹ .

ځواب : پدی مسئله کی د فرش په بل کنج څادر وغوړلی شي او یا نه بغیر د شک نه لمونځ صحیح دی ، "(قوله ومکانه) فلا تمنع النجاسة فی طرف البساط ولو صغیرا فی الاصح" (شامی ج ۱ ص ۳۷٤ باب شروط الصلواة) فقط والله اعلم .

د حلال شوی چرګی نه څرمن ویستو لپاره ګرمو اوبو کی اچول څنګه دي ؟

(۵۸ سوال) یو مسلمان چرګه حلاله کړه او خراب خیزونه یی ورنه لری کړل او بیا یی جوشو اوبو کی واچوله او بیا یی ورنه بڼکی وویستی او صفا یی کړه نو د دی خوړل حلال دي او یا حرام ؟ نوټ : د حلالولو نه وروسته څرمنی ویستلو کی وخت لګي او په ګرمو اوبو کی اچولو سره فوراً وځي .

ځواب : هو ، چرګه چي حلاله کړی شي او پلیتي ورنه لری کړی شي او بیا ګرمو اوبو کی واچول شي نو د دی په خوراک کی هیڅ حرج او شک نشته ، البته د نجاست لری کولو نه بغیر چي جوشو اوبو کی واچول شي او څه وخت پری تیر شي نو بیا چرګه پلیتیږي او د مفتی به قول مطابق په وینځلو سره هم نه پاکیږي ، په طحطاوي کی دي : "وکذا دجاجة ملقاه حالة غلی للنتف قبل شقها (قوله کذا دجاجة الخ) قال فی الفتح ولو القیت دجاجة حال الغلیان فی الماء قبل ان یشق بطنها لنتف او کرش قبل الغسل لایطهر ابداً الخ" (طحطاوی ج ۱ ص ۲٤۹ باب الانجاس) .

په پلیت شی کی جوش شوی شی :

(۵۹ سوال) د هلدي (کورکمان) ټکړی د غوا میښی په متیازو او یا خوشایي کی اچولو سره جوش کړی شي او بیا په خاورو سره پاک کړی شي او لمر ته وچ کړی شي دا پاک دي او که ناپاک ؟

ځواب : په خوشائي وغیره کی جوش شوی د کورکمان ټوټی په وینځلو او لمر ته وچولو سره نه پاکیږي ، "حنطة طبخت فی خمر لا تطهر أبدا وبه یفتی" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۳۰۹ ، باب الانجاس) .

په کاغذ باندی واړه او غټ بولی کول څنګه دي ؟

(٦٠ سوال) په بمبئ کی عام رواج دی چی مور واړه بچو لپاره کاغذ غوړوي او بیا یی وربانډی واړه او لویو بولو لپاره کینوي نو پدی باندی واړه او غټ بولی کول جائز دي یا نه ؟ او په ساده کاغذ باندی بولی کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : دغه رواج غلط دی او د دی پریښودل ضروري دي ، په کاغذ باندی لیکل شوي وي او یا خالي وي په هر صورت پدی باندی متیازی وغیره کول منع دي ، کاغذ د علم حاصلولو ذریعه ده پدی وجه قابل داحترام دی ، "وكذا ورق الكتابة لصقالته وتقومه وله احترام ايضا لكونه آلة لكتابة العلم وكذا ذكر فى التتار خانيـــة بـــأن تعظيمه من ادب الدين الخ" .

ترجمه : یعنی کوم حال چی د وِنو د پاڼو دی دغه حال د کاغذ د پاڼو هم دی ، یعنی کاغذ هم د پاڼو پشان خویه دی (نجاست نه لري بلکی نور هم خوروي) او قیمتي هم دی او په شریعت کی د دی حرمت هم شته ځکه چی دا د علم آله او وسله دی (شامي ج ۱ ص ۳۱۵ فصل فی الاستنجاء) فقط والله اعلم .

خوشاي چی په وچولو سره وسوځولی شي او ایره شي هغه ایره پاکه ده او که ناپاک ؟

(٦١ سوال) ځمونږ پدی علاقه کی خوشایي وچوي او بیا یی سوځوي کله چی هغه ایره شي نو دغه ایره پاکه ده او ناپاک ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : خوشایي چی وسوځي او ایره شي نو ددی حقیقت ، ماهیت ، نوم او صفت وغیره ټول بدل شي ، لهذا ایره به پاک ګڼل کیږي ، "لايكون نجساً رمـــاد قـــذر" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۳۰۱ باب الانجاس) فقط والله اعلم بالصواب .

خوشایي د ضرورت په وجه په خټه کی یوځای کول جایز دي یا نه ؟

(٦٢ سوال) په کلو کی عام طور سره غریب خلک اوسیږي د کور فرش خام او کچه وي د کاني لګولو وس یی نه وی پدی وجه په خټه کی ګډوي او بیا لیو کوي او که

خوشايي ورسره ګډ نشي نو بيا فرش چودونه کوي ، پدی وجه خوشايي ګډولی شي يا نه ؟

ځواب : پدی صورت کی خوشايي ګډولی شي ځکه چی مجبوري ده ، "وفی البحر نقلاً عن التجنيس اذا نزح الماء النجس من البئر يكره ان يبل به الطين ويطين المسجد او ارضه بخلاف السرکين اذا جعل فی الطين لان فی ذلك ضرورةً لانه لايتهيأ الا بذلك" انتهى ، (فتاوی خيريه ج ۱ ص ۳ کتاب الطهارة) فقط والله اعلم .

په صابون کی چی د خنزير چربي وي هغه صابون پاک دی او که ناپاک ؟

(٦٣ سوال) په صابون کی چی د خنزير وازده ګډ وي اياد هغه استعمال جايز دی ؟

ځواب : په صابون کی چی دخنزير وازده ګډه شي نو د هغه حقيقت او ذات بدل شي او پديکی عموم بلوي هم دی پدی وجه استعمال جايز دی ويطهر زيت نجس بجعله(صابوناً) به يفتی للبلوی الخ" (درمختار) وعبارة المجتبی جعل الدهن النجس فی صابون يفتی بطهارته لانه تغير والتغيير يطهر عند محمد رحمه الله ويفتی به للبلوی آه (الی قوله) ثم رأيت فی شرح المنية مايؤيد الاول حيث قال وعليه يتفرع مالو وقع انسان او كلب فی قدر الصابون فصار صابوناً يكون طاهراً لتبدل الحقيقة آه ثم اعلم ان العلمة عند محمد صلی الله عليه وسلم هی التغيير وانقلاب الحقيقة وانه يفتی به للبلوی كما علم ما مر" (درمختار وشامی ج ۱ ص ۲۹۱ باب الانجاس) .

(لا) يكون نجساً (رما د قر) (ولا ملح كان حمارا) او خنزيراً ولا قذر وقع فی بئر فصار حمأة لانقلاب العين به يفتی" (درمختار مع شامی ج ۱ ص ۳۰۱ كتاب الطهارة باب الانجاس) .

فقط والله اعلم بالصواب

د مقتدي په قی (التہی) سره دامام کپړی خرابی شي څه حکم لري ؟

(٦۴ سوال) پرون د ماښام لمانځه کی یو مقتدي چی بالکل د امام شاته ولاړ ؤ په ډکه خولی سره ډیری تیزی قی وکړی او د لمانځه په حالت کی دامام په قمیص ، پښو او مصلی وغیره باندی پریوت په کپړو باندی پریوتی قی د درهم له مقدار نه زیاتی وی نو اوس دغه لمونځ وشو او که دوباره ګرځول یی ضروري دي ؟ وضاحت وکړئ ۲۹/٦/٩٦ء

ځواب : قی چی په ډکه خولی سره وي هغه نجاست غلیظه دی ، په مراقی الفلاح کی دي : "والقی ملء الفم ونجاستها غلیظة بالاتفاق آه" ص ٨٩ باب الانجاس والطهارة عنها ، د درهم په اندازه معاف دي او چی درهم نه زیات وي نو بیا لمونځ نه کیږي نو د نجاست په لری کولو سره دوباره لمونځ کول پکار دي ، په جوسه داره نجاست کی د وزن اعتبار دی او چی نری وي بیا د مساحت اعتبار دی یعنی د لاس د ورغوي په اندازه معاف دی ، لدینه زیات معاف ندی ، په هدایه کی دي : "وقدر الدرهم ومادونه من النجس المغلظ . الی قوله . جازت الصلواة معه وان زاد لم تجز" (ج ۱ ص ۵٨ فصل در نجاسات) او د لاس د تلي پیژندلو طریقه دا ده چی په لاس کی اوبه واخستل شي او بیا کولاو کړی شي په تلي (ورغوي) کی چی څومره اوبه پاتی شوی هغه ځای د لاس د تلي مقدار دی ، "(قوله وهو داخل مفاصل الاصابع الید) قال مثلاً مسکین وطریق معرفته ان تغرف الماء بالید ثم تسبط فما بقی من الماء فهو مقدار الکف" (شامی ج ۱ ص ۲۹۳ باب الانجاس) فقط والله اعلم .

کوم کاغذ چی استنجاء کولو لپاره تیاریږي پدی استنجاء کول جائز دي یا نه ؟

(٦٥ سوال) په کاغذ باندی استنجاء کول جائز دي او که نه ؟ ځمونږ پدی ملک کی استنجاء لپاره یو خاص قسم کاغذ تیارولی شي د هغه استعمال صحیح دی او که نه ؟ لږ غوندی وضاحت وکړئ مهرباني ، کنیدا .

ځواب : په کاغذ باندی استنجاء کول جائز ندي ، او کوم کاغذ چی خاص د استنجاء لپاره تیار کړی شوی ددی د استعمال هم عام اجازت نشته بلکی د مجبوریت په وخت کی ده مثلاً طیاره کی اوبه نه وي نو هلته انسان پدی باندی استنجاء کولو ته مجبوریږي نو پداسی حالت کی د استعمالولو ګنجائش شته ، زیات تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۱۳ اردو وګورئ[1] ، فقط والله اعلم .

د نجاست غلیظه د عفو مقدار او د معافی مطلب :

(٦٦ سوال) سناسو کتاب فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ٢٦٣ ، ٢٦۴ باندی د مذي مسئله ده[2] ، د دی په ځواب کی تاسو لیکلي دي : که چیرته مذي په کم مقدار کی وي نو وینځل یی واجب ندي بهتر دي او که زیات مقدار کی وي نو بیا یی وینځل ضروري دي ، نو زه پدی نه پوهیږم چی د زیات او د کم مقدار اندازه به څنګه وکړی شي ؟ د دی وضاحت راته وکړئ ، ډیره مهرباني .

ځواب : مذي داسی یو غلیظه نجاست دی چی بهیدونکی دی او هغه غلیظه نجاست چی بهیدونکی وي هغه د لاس د ورغوي (تلي) برابر (د یوی روپی د سکی برابر) معاف دی لهذا مذي چی کله د لاس د تلي برابر او یا لدینه کم وي نو دیته کم مقدار ویل کیږي او کله چی د ورغوي (تلي) د مساحت نه زیات وي نو دیته زیات مقدار ویل

---

[1] ـ په جدید ترتیب کی په همدی باب د " کاغذ باندی اودس ماتول څنګه دي ؟ " عنوان لاندی ص ۵۲ کی وګورئ ، (مرتب) پاتی شو هغه کاغذ چی استنجاء لپار تیار شوی ، پدی باندی بغیر د څه کراهت نه هر خای کی استنجاء کولی شي څکه چی دا لیکلو لپاره ندی او نه ورباندی لیکل کیږي ، په عرف عام ورته ټشو پیپر ویل کیږي ، واذا كانت العلة فى الابيض كونه آلة للكتابة كما ذكرنا يؤخذ منها عدم الكراهية فيما لايصح لها اذا كان قالعاً للنجاسة غير متقوم كما قدمناه من جوازه بالخرق البوالى (شامى فصل فى الاستنجاء ج ۱ ص ٣٤٠) .

[2] ـ په نوي ترتیب کی باب نواقض الوضوء (د مذي وتل اودس ماتوي) عنوان لاندی وګورئ ص ۲۳ مصحح .

کیږي ، پدی وجه که چیرته مذي په کپړو باندی لګیدلی وي او دومره خور شوی وي چی د ورغوي له مساحت نه کم وي او په څه وجه سره پدیکی لمونځ وشي نو لمونځ یی کیږي د دوباره راګرځولو ضرورت نشته دی ، په مراقی الفلاح کی دي : "وعفی قدر الدرهم وزنا فی المتجسدة وهو عشرون قیراطاً ومساحة فی المائعة وهو قدر مقعر الکف فذلك عفو من النجاسة المغلظة" (مراقی الفلاح مع طحطاوی باب الانجاس والطهارة عنها ص ۸٤) .

او د معافي مطلب دا دی چی که پدیکی لمونځ وکړي او بیا وروسته د دی کم نجاست پته ولګي نو د لمونځ دوباره کول ضروري ندي ، او یا د جماعت سره لمونځ کوي او د لمونځ په دوران کی د دی نجاست پته ولګي نو که چیرته لمونځ ماتولو کی د جماعت فوت کیدو ویره وي نو لمونځ دی نه ماتوي او که چیرته د جماعت فوت کیدو ویره نه وي او یا یواځی لمونځ کوي او د قضاء کیدو خطره هم نه وي نو بیا غوره دا ده چی لمونځ مات کړي او د نجاست په لری کولو سره لمونځ وکړي او چی د قضاء کیدو ویره وي بیا دی لمونځ نه ماتوي ، د معافي مطلب دا ندی چی وینځل یی ضروري ونه ګڼي بلکی په اول فرصت کی د دی وینځل پکار دي .

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کی دي : "(قوله وعفی قدر الدرهم) ای عفا الشارع عن ذلك والمراد عفا عن الفساد به والافکراهة التحریم باقیة اجماعاً ان بلغت الدرهم وتنزیهاً ان لم تبلغ وفرعوا علی ذلك ما لو علم قلیل نجاسة علیه وهو فی الصلواة ففی الدرهم یجب قطع الصلواة وغسلها ولو خاف فوت الجماعة وفی الثانی یکون ذلك افضل ما لم یخف فوت الجماعة بان لایدرك جماعة اخری والا مضی علی صلواته لان الجماعة کما یمضی فی المسئلتین اذا خاف فوت الوقت لان التقویت حرام ولامهرب من الکراهة الی الحرام افاده الحلبی وغیره" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۸٤ ، پورتنی حواله) فقط والله اعلم .

د ماشوم بچي د قی حکم

(٦٧ سوال) د تي خور ماشوم قی پاک دی او که ناپاک ؟ که چیرته ناپاک وي نو غلیظه دی او که خفیفه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : وړوکې تي خور ماشوم او یا لوی سړی که چیرته په ډکه خوله قی وکړي نو هغه ناپاک دی او نجاست غلیظه دی که چیرته بدن او یا کپړی پوری ولګي نو وینځل یې ضروري دي ، او که چیرته په ډکه خوله نه وي لږ غوندی وي نو پدی اودس نه ماتیږي ، په مراقی الفلاح کی دي : "(وماينقض الوضوء بخروجه من بدن الانسان) كالدم السائل والمنى والمذى والودى والاستحاضة والقى ملء الفم ونجاستها غليظة بالاتفاق لعدم معارض دليل نجاستها عنده" (مراقی الفلاح ص ۸۳ باب الانجاس) واما ما لا ينقض كالقى الذى لم يملأ الفم ومايسل من نحو الدم فطاهر على الصحيح (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۸۳) .

په بهشتي زیور کی دي : مسئله : د ماشوم بچي چی تي خور یی د هغه هم دا حکم دی چی که چیرته په ډکه خوله نه وي نه هغه نجس ندی او که په ډکه خوله وي نو نجس دی که بغیر د وینځلو نه لمونځ وشي نو نه کیږي ، په حاشیه کی دي : "وينقضه قى ملأ فاه من مرة او طعام او ماء اذا وصل الى معدته وان لم يستقر وهو نجس ومغلظ ولو من صبى ساعة ارضاعة وهو الصحيح" در بحذف ج ۱ ص ۱۴۳ (بهشتی زیور ص ۵۱ حصه اول د اودس ماتونکو څیزونو بیان) فقط والله اعلم .

د تي خوړونکو ماشومانو د متیازو حکم او د متیازو نه په نه بچ کیدو وعید

(٦٨ سوال) څمونږ د علاقی په ښځو کی دا خبره مشهوره ده چی وړوکی ماشوم چی بواخی تی خوري ، او د روټی خوراک یی لا نه وي شروع کړی که هغه جینی وي او که هلک دهغه متیازی پلیت ندي نو پدی وجه که چیرته واړه بچي په کپړو کی متیازی وکړي نو د هغه مور او یا خور وغیره دهغه وینځل ضروري نه ګڼي ایا دا خبره صحیح ده؟ په دلیل سره تفصیلي وضاحت وکړئ تر څو د دی خای خلک پوه شي ، مهرباني .

ځواب: دا خیال بالکل غلط دی د تی خور ماشوم (هلک وي یا جینی) متیازی پلیت دي او فقهاؤ دا په نجاست غلیظه کی شمار کړیدي ، لهذا که چیرته ماشوم په جامو کی متیازی وکړي نو وینځل یی ضروري دي او که بدن پوری ولګي نـو د هغـه پـاکول هم ضروري دي او چی د کپړی او بدن پاکولو نه بغیر لمونځ وکړی شي نو نه صحیح کیږي او دوبـاره کـول یی لازم دي ، پـه درمختـار کـی دي : "وعفـــی الشـــارع ....(وعرض مقعر الکف .... فی دقیق من المغلظة) (وبول غـیر ماکول ولو من صغیر لم یطعم) (قوله لم یطعم) بفتح الیاء ای لم یأکل فلا بد مـن غسله" (درمختار و شامي ج ۱ ص ۲۹۳ ، ۲۹۴ باب الانجاس) یعنی هغه نجاست غلیظه چی بهیدونکی وي د ورغوي په مقدار (د روپی د سکی په مقدار) معاف دی لکه .... او د غیر ماکول اللحم حیـوان متیـازی اګـر کـه د داسـی وړوکـی ماشـوم متیازی وي چی خوراک یی نه وي شروع کړی .... (درمختار و شامي) .

په مراقی الفلاح کـی دي : "(فالغلیظة) .... (وبول مالایو کـل) لحمـه کالآدمی ولو رضیعاً (قوله ولو رضیعاً) لم یطعم سواء کان ذکرا او انثی" (مراقی الفلاح علی هامش طحطاوی باب الانجاس والطهارة عنها ص ۸۲) یعنی نجاسـت غلیظه لکه شراب .... او د هغو حیواناتو متیازی چی غوښه یی نـه خـوړل کیږي لکه د بني آدم متیازی اګر که د تي خور ماشوم وي کوم چی خوراک نه کوي هلک وي او یا جینی وي (مراقی الفلاح مع طحطاوي ص ۸۳ باب الانجاس والطهاة عنها)

په عالمګیري کـی دي : "وکذلك ومن النجاسة المغلظة) بول الصغیر والصغیرة اکلا او لا کذا فی الاختیار شرح المختار" یعنی د وړوکـي جینـی او د هلـک متیـازی چـی خوراک یی شروع کړی وي او یا نه وي کړی نجاسـت غلیظـه دی (عـالمګیري ج ۱ ص ۲۸ الباب السابع فی النجاسات واحکامها الفصل الثاني) .

او اوله هدایه کـی دي : "وقدر الدرهم ومادونه من النجس المغلظ کالدم والبـــول والخمر" په حاشیه کـی دي "قوله والبول ولو من صغیر لم یأکل ، ملتقی الابحـر" یعنی نجاست غلیظه (چی بهیدونکی وي) د یو درهم پـه مقدار یـا لدینـه کـم وي نـو

معاف دی لکه وینه ، متیازی او شراب ، په حاشیه کی دي : د ملتقی الابحر په حواله دي : متیازی اگر که د داسی ماشوم وي چی خوراک نه کوي (هدایه اولین باب النجاست وتطهيرها ج ١ ص ٥٨ حاشیه نمبر ١٣) .

په مجمع الانهر کی دي : "والبول من حيوان لايؤكل ، او انسان (ولو من صغير لم يأكل) (قوله والبول ولو من صغير لم يأكل) لاطلاق قوله صلى الله عليه وسلم "استنزهوا عن البول" الحديث" یعنی د غیر ماکول اللحم حیوان او یا د انسان متیازی (نجاست غلیظه دی او وینځل یی ضروري دي) اگر که د داسی ماشوم وي چی خوراک نه کوي ځکه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد "استنزهوا عن البول" یعنی متیازو نه ځان ساتئ ، مطلق دی د هر چا متیازو ته شامل دی ، (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر ج ١ ص ٦٢ باب الانجاس) .

په بهشتي زیور کی دي : مسئله : د وړوکي تي خور ماشوم متیازی هم نجاست غلیظه دی (بهشتي زیور ص ١ حصه دوم) .

د متیازو نه د ځان ساتلو ډیر اهتمام کول پکار دي په حدیثونو کی د دی ډیر زیات تاکید راغلی دی او فرمایلي دي چی عذاب قبر زیاتره د متیازو نه د ځان نه بچ کولو په وجه سره وي ، په یو حدیث کی دي : "عن ابن عباس رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم عامة عذاب القبر فى البول فاستنزهوا من البول" رواه البزار والطبرانى فى الكبير .

ترجمه : دحضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلي دي : د قبر عام عذاب د متیازو په وجه وي لهذا د متیازو ځان ساتئ (مجمع الزوائد ج ١ ص ٨٣ باب الاستنزاه من البول والاحتراز منه لما فيه من العذاب) .

په حدیث کی دي : "عن معاذ بن جبل عن النبى صلى الله عليه وسلم انه كان يستنزه من البول ويأمر اصحابه بذلك قال معاذ ان عامة عذاب القبر من البول" روا الطبرانى فى الكبير .

ترجمه : د حضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د متیازو نه ځان ساتلو او خپلو اصحابانو رضی الله عنهم ته به یې هم د دې حکم کولو ، حضرت معاذ رضی الله عنه فرمائي : د قبر عام عذاب د متیازو په وجه وي (مجمع الزوائد ج ۱ ص ۸۵) .

په بل حدیث کې دي : "عن ابی امامة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اتقوا البول فانه اول ما یحاسب به العبد فی القبر" رواه الطبرانی فی الکبیر .

ترجمه : حضرت ابوامامه رضی الله عنه له نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې حضرت فرمایلي دي : د متیازو نه ځان وساتئ په قبر کې له بنده نه اول دی باره کې تپوس کیږي (مجمع الزوائد ص ۸۵ ج ۱) .

په بل حدیث کې دي : "عن میمونة بنت سعد رضی الله عنها انها قالت یارسول الله افتنا مم عذاب القبر قال من اثر البول" رواه الطبرانی فی الکبیر .

ترجمه : حضرت میمونه بنت سعد رضی الله عنها عرض وکړ یارسول الله مونږ ته اوښایه چې د قبر عذاب په څه وجه وي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : د متیازو په جه (څاڅکو) (مجمع الزوائد ج ۱ ص ۸۵) .

په ترمذي شریف کې دي : "عن ابن عباس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم مرّ علی قبرین فقال انهما یعذبان وما یعذبان فی کبیر اما هذا فکان لایستنــز من بوله واما هذا فکان یمشی بالنمیمة" .

یعنی حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوه قبرونو باندی تیر شو نو وی فرمایل چې دغو دواړو ته عذاب ورکول کیږي او دوی ته په کوم ډیر لوی شی باره کې عذاب نه ورکول کیږي ، پدوی کې دا یو خو به د متیازو نه ځان نه ساتلو او دی بل به چغل خوري او شیطاني کوله (ترمذي شریف ج ۱ص ۱۱ التشدید فی البول) (مشکواة ص ۴۲ باب آداب الخلاء) .

قوله وما یعذبان فی کبیر : یعنی دوی ته د لوی شي په باره کې عذاب نه ورکول کیږي د دی مطلب دا دی چې دا دواړه څیزونه داسی ندي چې بچ کیدل ترینه زیات مشکل وي بلکې په آسانی ورنه بچ کیدلی شي ، د دی مطلب چیری هم دا ندی چې

په دین کی د متیازو او د چغل خوری نه د بچ کیدو څه اهمیت نشته او دا لویه ګناه نده ، په التعلیق الصبیح کی دي : "قوله وما يعذبان فى كبير اى امر شاق عليهما قال الله تعالى وانها لكبيرة الا على الخاشعين اى شاقة ، والمعنى انهما يعذبان فيما لم يكبر عليهما تركه ولايجوز ان يحمل على ان الامر فى النميمة وترك التنزه عن البول ليس بكبير فى حق الدين كذا فى شرح المصابيح للتور پشتى" (التعليق الصبيح ص ١٩٢ ، ١٩٣ ج ١) (مرقاة ج ١ ص ٣٤٩ ملتانى) .

د متیازو او چغل خوری په وجه په قبر کی عذاب ورکولو سره څه مناسبت دی ؟

پدی باره کی په التعلیق الصبیح کی د بخاری شرح فتح الباری په حواله ډیره بهترینه خبره کړیده (لطیفه) "ابدى بعضهم للجمع بين هاتين الخصلتين مناسبة وهى ان البرزخ مقدمة للآخرة واول ما يقضى به يوم القيامة من حقوق الله تعالى الصلواة ومن حقوق العباد الدماء ومفتاح الصلواة التطهير من الحدث والخبث ومفتاح الدماء الغيبة والسعى بين الناس بالنميمة ينشر الفتن التى يسفك بسببها الدماء كذا فتح البارى فى باب النميمة من الكبائر من ابواب الادب" .

د دغه عبارت خلاصه او مطلب دا دی چی عالَم برزخ د عالَم آخرت مقدمه (اولنی منزل دی) او د قیامت په ورځ په حقوق الله کی د ټولو نه مخکی او په حقوق العباد كي د وینی (په ناحقه د چا وینه تویولو) حساب او فیصله کیږي او د لمونځ کنجي (چابي) د ناپاکی (نجاست حقیقي او حکمي نه) پاکي حاصلول دي (د پاکی نه بغیر لمونځ نه کیږي نو پاکوالی د لمونځ مقدمه شوه) او د ناحق وینی تویولو عمومي سبب غیبت او د خلکو تر منځ چغل خوري کول دي (نو غیبت او چغل خوري کول د ناحق وینی تویولو مقدمه شوه) پدی مناسبت سره په قبر (عالَم برزخ) کی د دی دواړو خیزونو څخه په ځان نه ساتلو باندی عذاب ورکول کیږي (التعليق الصبيح شرح مشكواة المصابيح ج ١ ص ١٩٣) .

په مجمع الزوائد کی یو بل حدیث وګورئ : "عنى شفى بن مـاتع الاصـباحى عـن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه قال اربعة يوذون اهل النار على ماهم من

الاذی یسعون بین الحمیم والجحیم یدعون بالویل والثبور یقول اهل النار بعضهم لبعض ما بال هؤلاء قد آذونا علی مابنا من الاذی قال فرجل معلق علیه تـابوت من جمر ورجل یجرا معاءه ورجل یسیل فوه قیحاً ودماً ورجل یأکل لحمه قال فیقال لصاحب التابوت ما بال الابعد قد آذانا علی ما بنا من الاذی قال فیقول ان الابعد مات وفی عنقه اموال الناس ما یجد لها قضا او وفاء ثم قال للذی یجر امعاءه ما بال الابعد قد آذانا علی ما بنا من الاذی فقال ا ن الابعد کان لا یبالی این اصابه البول منه لایغسله ثم قال للذی یسیل فوه قیحاً ودماً ما بال الابعد قد آذانا علی ما بنـا من الاذی فیقول ان الابعد کان یأکل لحم الناس" رواه الطبرانی .

د دی حدیث خلاصه دا ده : حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ارشـاد فرمـایي چـی پـه جهنم کې څلور قسمه داسی خلک دي چی نور جهنمیان به ورنه پریشانه وي او یـو بـل ته وائي چی مونږ خپله په تکلیف کی یو دوی خپل ژړا فریاد سـره ځمونـږ تکلیـف نـور اضافه کړ ، پدوی کی یو سړی د سکروټو کی بند وي ا و بل سړی خپلی کولمی راکاږي او روان وي او د بل سړي د خولی نه وینه او پیـپ روان وي او بـل سـړی خپلـه غوښـه خوري ، کوم سړی چی د سکروټو په تابوت کی بند وي د ده د عذاب وجه دا ده چـی د ده په ذمه باندی د خلکو مالونه وي (په همدی حالت کی مړ شـوی وي) او وروسـته څه مال نه وي پاتی چی د خلکـو مـال ادا کـړی شـي ، او کـوم چـی خپلـی کـولمی راکاږي د ده وجه دا ده چی ده به متیازو نه ځان نه بچ کولو چی کوم ځای به متیـازی پریوتی نه به یی وینځلی او د چا د خولی نه چی وینه او پیپ جـاري وي د ده وجـه دا ده چی ده به د خلکو غوښی خوړلی (باب الاستنزاء من البول والاحتـراز منـه لمـا فیـه من العذاب ، مجمع الزوائد ج ۱ ص ۸۴ ، ۸۵) .

دغو ټولو حدیثونو ته وکتلی شي او د پاکی پوره اهتمـام وکـړی شـي پـه بـدن او کپړو باندی متیازی پریوتل او دا معمولي ګڼل او د وینځلو اهتمام نه کول ډیـره سـخته ګنـاه ده استنجاء هم باید په احتیاط سره وکړی شي چی په بـدن او جـامو بانـدی څـاڅکي پری نه اوځي او د څاڅکو بندولو چی کـومی طریقـي دي لکـه مـثلاً څـو قدمـه تلـل ، ټوخی او غاړه تازه کول ، لوټه وغیره استعمالول او په تجربه سـره چـی کـوم شـی مفیـد

معلوم شي هغه اختیارول تر څو زړه بالكل مطمئن شي ، غرض دا چي پدی باره کی ډير زيات اهتمام او توجه پكار ده دا معمولي ګنل ندي پكار ، فقط والله اعلم .

د خوشايي او لويو بولو ګيس پاک دی يا ناپاک ؟ او پدی باندی پخلی څنګه دی ؟

(٦٩ سوال) د خوشايي او لويو بولو ګيس باندی خوراک پخول څنګه دي ؟ او دغه ګيس پاک دی او که ناپاک او استعمال يی څنګه دی ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : په ګيس جوړيدو سره ماهيت بدليږي او کله چي په نغري باندی پخپله خوشايي باندی خوراک او طعام پخولی شي نو په (ګيس) کی د نادرست کيدو څه وجه کيدی شي ؟ او فقهاوٗ د انسان له ګيډی نه خارج شوی هوا (ګيس) ته پاک ويل د دی ګيس د پاکوالي واضح دليل دی ، په مراقی الفلاح کی دي : "وانما قيدناه من (نجس) لان الريح طاهر على الصحيح والاستنجاء منه بدعة" (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۵ فصل فی الاستنجاء) فقط والله اعلم .

حلاله کړی شوی چرګه څومره وخت په جوشو اوبو کی اچولو سره پليتيږي ؟

(۷۰ سوال) محترم مفتي صاحبي د سلام مسنون نه وروسته ! تاسو د فتاوی رحيميه اردو څلورم جلد ۵۳ صفحه کی ليکلي : د چرګی په حلالولو سره چی نجاست لری کولو نه بغير څه وخت پوری جوشو اوبو کی پريښودل شي نو چرګه پليتيږي او د مفتي به قول مطابق په وينځلو سره هم نه پاکيږي ؟ نو د څه وخت نه څومره مراد دی ؟ لږ وضاحت وکړئ ، مهرباني .

ځواب : دچرګی په حالاتو سره چی بغير دنجاست لرې کولو دومره وخت په ګرمو اوبو کی پريښودل شي چی غوښه ګرمي اوبه راجذب کړي اوداوبو دګرمي اثر دغوښې اندروني حصې ته ورسيږي . (چی په غوښه کی دنجاست اثر وشي) نو هغه چرګه بالكل پليتيږي او ددی دپاکيدو هيڅ صورت نشته ددی خوراک هم جائز ندی ، اوکه چېرته په ګرمو اوبو کی غورځولو سره فوراً وويستل شي اودګرمي اثر يواځی په پوستکي وشي (يعنی اثر يې يواځی دومره دی چی بنکی په آساني سره ووځي) اويا اوبه جوشي نه وي نو پدی صورت کی درې پيرې وينځلو سره چرګه پاکيږي.

په مراقي الفلاح کی دي: (وعلى هذا الدجاج المغلي قبل اخـــراج امعاهــــا وامـــا وضعها بقدر انحلال المسام لنتف ريشها فتطهر بالغسل) په طحطـاوي کــی دی: (قوله وعلى هذا الدجاج الخ) يعنى لوالقيت دجاجة حال غليان الماء قبل ان يشـــق بطنها لتنتف او كرش قبل ان يغسل ان وصل الماء الى حد الغليان ومكثت بعــد ذلك زماناً لايقع فى مثله التشرب والدخول فى باطن اللحم لاتطهر ابداً الا عنــد ابى يوسف كما مرفى اللحم وان لم يصل الماء الى حدالغليان اولم تترك فيه الا مقدار ما تصل الحرارة الى سطح الجند لانحلال مسام السطح عن الريش والصوف تطهر بالغسل ثلاثاً كما حققه الكمال آه . (مراقع الفلاح وطحطـــاوي ص٨٦ بـــاب الانجاس والطهارة عنها).

په عمدة الفقه کی دي : چرګه اوياکوم بل مرغـي چــی دګيـډی خيرلـو او نجاســت او ګندګي کولو نه مخکی په اوبو کی جوش کړې شـي نـو هغـه پـه هـيڅ شـکل سـره نـه پاکيږي . (دامام ابو حنيفه مذهب دی) په حاشيه کی دي .[1] په همـدی بانـدی فتـوی ده احتياط لپاره بايد دنجاست لری کولو اودويني وينځلو نه وروسته په ګرمـو اوبـو کــی واچول شي (عمدة الفقه ١/ ١٨٢ باب نجاسات اوددی داحکامو بيان) نو احتيـاط پـه دی کی دی چی نجاست او ګندګي او وينې وينځلو نه وروسته ګرمو اوبـو کــی واچـول شي پدی صورت کی کوم شک اوشبهه نه پاتې کيږي او نور صورتونه دشـبهې نـه خـالي ندی ، ددی بقين کول مشکل دی چی داوبو اثر کوم ځای پـورې رسـيدلې دی . فقـط والله اعلم .

[1]ــ دنوی ترتيب مطابق په همدی باب کی (چرګه حلالوي او څرمن ويستولپاره ګرمو اوبو کی اچول څنګه دی ؟ عنوان لاندی وګورې.)

په موزو باندی دمسح کولو بیان

دیلون اوپلاستک موزو باندی مسح کول جائز دی یانه؟

۷۱ـ سوال : زمونږ پدی علاقه کی دعزبي ملکونو څخه راغلي دکالج او دیو نیورستي طلباء دیلون په موزو باندی مسح کوي ماورته وویل چی دیلون په موزو باندی مسح کول درست ندي نو هغوی نه مني او وايي چی زمونږ بوټونه پاک دي مونږ قالینې باندی ګرځو نو بیا داودس کولو په وخت کی بیا بیا موزی ولې وباسو ماهغوی ډیر پوهه کړل خو نه یې مني نو ایا د لیلون په موزو باندی مسح کول درست دي ؟

ځواب : په حدیث کی دي : (۱) "عن المغيرة بن شعبة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مسح علی الخفين فقلت يارسول الله انسيت قال بل انت نسيت بهذا امرنی ربی عزوجل" (ابوداؤد شریف ج ۱ ص ۲۳ باب المسح علی الخفين) .

(۲) عن المغيرة بن شعبة رضی الله عنه قال رأيت النبی صلی الله عليه وسلم يمسح علی الخفين علی ظاهرهما" (ترمذی شریف ج ۲ ص ۱۵ باب المسح علی الخفين) .

(۳) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال اشهد ان النبی صلی الله عليه وسلم مسح علی الخفين" رواه البزار ، زجاجة المصابيح ج ۱ ص ۱۴۲ باب المسح علی الخفين .

پدی حدیثونو کی دا ذکر شویدي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم موزو باندی مسح کړی او (خفين) د محدثینو او فقهاؤ په نزد باندی د څرمنی موزو ته ویل کیږي ، "كما لايخفى على من ينظر كلام الفقهاء والمحدثين" یعنی هغه څوک پدی پوهیږي چی د محدثینو او د فقهاؤ کلام وګوری ، لهذا که چیرته د څرمنی موزی وي ، نو پدی باندی بغیر داختلاف نه مسح کول جایز دي ، او که دڅرمنی نه وي بلکی د وړیو یا د سوت وي نو فقهاؤ پداسی موزو باندی د مسح جایز کیدو لپاره دا شرطونه لګولی دي

چې هغه به داسې ډېل ، کلک او مضبوطی وي چې یواځې پډیکې درې میله مزل کیدلې شي او دویم داچې بغیر دتړلو نه (یعنې دډېل والي په وجه) ودریدلې شي، او دریم داچې هغه اوبه نه راجزبوي چې پښو ته ورسیږي که دسوت یا دوړیو داسې موزې وي نو مسح کول وراندې جائز دي ، ځکه چې دغسې موزې دڅرمنې دموزو په حکم کی دي، دلیلون موزې اول خو ډېلې نه وې بلکې بالکل باریک او نرې وی پدی کی درې میله ګرځیدل مشکل دی دشلیدو خطره وي او که ونه شلیږي بیا هم پډیکې داکمي ده چې اوبه جذبوي او پښو ته اوبه رسیږي پدی وجه دلیلون داسې باریکو موزو باندی مسح کول دچاپه نزد هم جائز ندی ، په فتاوی قاضي خان کی دي : (وان كانا رقيقين غيرِ منعلين لايجوز المسح عليها) (قاضي خان ۱/ ۲۵ فصل فی المسح على الخفين) په شرع نفایه کی دي : واجمعوا على انه لو كان منعلاً او مبطنا يجوز المسح عليه ولو كان من الكرباس لايجوز المسح عليه وان كان من الشعر فالصحيح ان كان صلباً مستمسكا يمشى معه فرسخاً او فراسخ يجوز (شرح نقايه ۱/ ۲۹ فصل فی المسیح على الخفين والجبيرة وغيرهما).

یواځې دموزو اوبوتونو پاکوالې دمسح دجواز دلیل نشي کیدلې ، دموزو پاکوالې خو په هر حالت کی ضروري دی ، لکه څنګه چې دکپړو پاکوالې ضروري دي .... مګر دمسح دجائزکیدو لپاره دپاکوالي سره سره داسې موزې کیدل ضروري دي چې هغو باندی شرعاً مسح جائز وي او هغه یادڅرمنې موزې دي او یا داسې دوړیو او دتاري موزې دي چې هغو کی پورتني شرطونه موجود وي او دلیلون په موزو کی چونکې دغه شرطونه موجود نه دي نو پدی باندی مسح کول جائز ندی که مسح وکړی شي نو هغه اعتبار نلري ، فقط والله اعلم ۲۹ ربع الاول ۱۴۰۲ هـ.

دتـــیمم بـــــاب

څوک چې په يخو اوبو باندی دغسل کولو طاقت نلري په تيمم سره دی لمونځ اداکړي

۷۲ـ سوال : سخته يخني ده ګرمو اوبو نه بغير غسل نشـي کيـدې دطاقـت نـه وتلـې او دبيماريدو خطره ده که دګرمو اوبو انتظام نشي کيدې نو په تيمم سـره لمـونځ اداکـړي او يالمر ختو پورې انتظار کولو نه پس غسل وکـړي او قضـاء لمـونځ وکـړي؟ وضـاحت وکړئ مهرباني .

ځواب: پدی صورت کی دی تيمم سره خپل لمونځ اداکـړي او قضا کيـدو تـه دی نـه پريږدي ليکن کله چې عذر ختم شي نـو بيـا دی غسـل وکـړي او دلمـونځ دراګرځولـو حاجت نشته : ومن الاعذار(برد يخـاف منـه) بغلبــة الظـــن (التلــف) لــبعض الاعضاء(اوالمرض)....الى قوله واذا عدم الماء المسخن او مايسخن به فى المصر فهى كالبرية وماجعل عليكم فى الدين من حــرج .(مراقــىالفلاح مــع طحطــاوي ص٦٦باب التيمم ، فقط والله اعلم بالصواب).

په بهشتي ثمر او زيورکی د يوې مسئلې باندی ديو عالِم اشکال اودهغه ځواب

۷۳ـ سوال : مسئله نمبر ۱ که چيرته اوبه يو ميل شرعي نه لری نه وي ليکن وخـت ډيـر کم وي که داوبو راوړو لپاره ځي نو وخت تيريږي بيا هم تيمم صحيح نـدی ، اوبـه دی راوړي او قضائي دی وکړي ، لدينه وروسته دبوی مسئلې پـه پرينــودو ســره دی : مسئله نمبر۲ که چيرته وړاندی تللو سره داوبو ملاويدو اميد دی نو بهتر دادی چې اول وخـت کی لمونځ ونکړي بلکی داوبو انتظار دی وکړي ليکن دومره وخت بـه نـه لګـوي چـې مکروه وخت داخل شي او که چيرته داوبـو انتظـار ونکـړي او اول وخـت کـی لمـونځ وکړي بيا هم درست دی ، پدی دواړو کی څه تضاد غوندی معلوميږي پـه اولـه مسئله

کی دقضاء کولو حکم اوپه دویمه کی په تیمم سره اداکول ، پدی باندی زما ذهن ونه رسید براه کرم لږ وضاحت وکړئ.

خواب: پدی دواړو مسئلو کی څه تضاد نشته ، اول صورت کی دشرعي ميل په داخل کی داوبو پيداکيدل يقيني دي نو دتيمم دجواز شرط موجود ندی پدې وجه پدی صورت کی تیمم کول جائز ندی ، صاحب دهدايه ليکلي دي : "والمعتبر المسافة دون خوف الفوت" يعنې دتيمم دجواز لپاره دی خبرې ته اعتبار دی چی اوبه له يو ميل نه لرې وي دلمونځ دقضاء کيدو علت ندی .(ص۳۲ هدايه باب التيمم).

اوپه دويم صورت کی يواځې اميد دی ، فافترقا ـ يعنی دواړه مسئلې سره جداشولې .

په درمختار کی دي : (ويجب) ای يفترض(طلبه) ولو برسوله...... الی قوله.......(ان ظن) ظناً قوياً(قربه) دون ميل بامارة او اخبار عدل (والا) يغلب علی ظنه قربه(لا)يجب بل نيدب ان رجا والا لا (درمختار مع الشامي ۱/ ۲۲۷، ۲۲۸ باب التيمم).

په غاية الاوطار ترجمه درمختار کی دي او واجب دی يعنې فرض دی داوبو تلاش کول اګر که څوک وليږي ـالی قوله ـ که چيرته داوبو دنږدی والو قوي ګمان وي ديو ميل نه کم په څه علامی سره اويادیو عادل سړي په خبر ورکولو سره ، او که داوبو دنږدی والي غالب ګمان نه وي يعنې شک وي او ياغير قوي ګمان وي نوبيا تلاش واجب ندی بلکې مستحب دی که دنږدی والي اميد وي اوکه اميد هم نه وي نوبيا تلاش مستحب هم ندی ، لدی عبارت نه واضح کيږي چی دبهشتي ثمر مسئلی صحيح دي . دزيات وضاحت لپاره دهدايه عبارت وګورئ. وکذا(ای لايتيمم)اذاخاف فوت الوقت لوتوضا لم يتيمم ويتوضأويقضی مافاته لان الفوت الی خلف وهو القضاء (۱/ ۳۸) ويستحب لعدم الماء وهو يرجوه ان يؤخر الصلوة الی آخر الوقت فان وجد الماء يتوضاوالا يتيمم الخ باب التيمم۱/ ۳۶) فقط والله اعلم بالصواب .

که بل سړی ورته تیمم وکړي درست دی یانه ؟ او نیت به څوک کوي

۷۴ـ سوال : دسخت بیماري یا یولاس اویادوه لاسه دشل (فلج) کیدو په وجه پخپله تیمم نشي کولې نو که دویم سړی ورته تیمم وکوي درست دی یانه او نیت به څوک کوي؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: دذکر شوي مجبوري او ضرورت په وجه چې دویم کس تیمم وکوي نو درست او صحح دی مګر نیت به پخپله معذور کوي دتیمم ورکونکی نیت ته اعتبار نشته [1] فقط.

دمعذورانو احکام

۷۵ ـ سوال: یو سړی په ډیر تکلیف کې دی په استنجاء کولو کې هم ډیر تکلیف دی سپین ګیرې دی او دغوړخیدو په وجه زخمي شوی دی، طهارت لپاره پوره پوره اطمنان نه کیږي، په استنجاء کې زنګنو باندی اوبه پریوځي اوله بره نه اودس هم نه کیږي که څوک ورسره کومک وکړي خو کیږي، پنځه وخته دچاپیداکیدل هم مشکل دی ځکه چې غریبي ده لهذا په اودس کولوک ډیر تکلیف وي نو دغه سړی لمونځ وکړي او که نه ؟ اوپه اودس سره وکړي اویاتیمم سره کولې شي؟

ځواب: پدی مسئله کې لمونځ به ضرور کوي، لمونځ نه معاف کیږي که اودس کونکی څوک موجود نه وي نوپه تیمم سره دې لمونځ کوي [2] او که اودس کوونکي موجود وي اویاپخپله کولې شي نو اودس سره به لمونځ کوي. فقط والله اعلم.

---

[1]ـ مریض تیممه غیره فالنیة علی المریض دون التیمم کذا فی القنیه، فتاوی عالمگیری الباب الرابع فی التیمم ۱/ ۲۶.

[2]ـ وشرطه سنة.....فقد الماء قال فی الشافیة تحت قوله وفقد الماء ای ولو حکماً یشمل نحو المرض فافهم

که چېرته څوک معذور په څه تدبیر او علاج سره عذر قطع کړي نو هغه معذور پاتې کیږي یانه؟

۷۶_ سوال: دکومې ښځې چی دمتیازو اویاداستحاض دوینې څاڅکي راتللې هغه په څه تدبیر سره وتلو ته پرې نږدي اواودس کولوسره لمونځ وکړي نودهغې اودس او لمونځ صحیح کیږي ؟ اودغه تدبیر په حیض کی هم کار کوي؟. وضاحت وکړئ.
ځواب: اودس او لمونځ یې صحیح کیږي لیکن دغه تدبیر په حیض کی نه کامیابیږي او لمونځ کول به درست نه وي، په فتاوی خیریه کی دي: سئل فی الحمصی التی توضع علی الکی ثم تربط بما یمنع السیلان هل یکون صاحبها صاحب عذر ام لا ؟ (اجاب) لایکون صاحب عذرٍ کما هو صریح کلام الخلاصة وغیره وصاحب الجرح لو منع الجرح من السیلان یخرج من ان یکون صاحب الجرح السائل فافاد ان کل صاحب عذرٍاذا منع نزوله بدواء او غیره خرج عن کونه صاحب عذرٍ بخلاف الحائض (فتاوی خیریه ۱/ ۵ کتاب الطهارة ومطالبة ، مطلب فی المحصة علی الکی الخ) خلاصه داکه چیرته څوک معذور په څه تدبیر او علاج سره عذر قطع کړي نو هغه معذور نه پاتې کیږي. فقط .

دمعذور شرعي حکم

۷۷_ سوال: یو سړی خپلې ښځې ته دلمونځ کولو حکم کوي لیکن هغه لمونځ نه کوي او وایې چی زما هر وخت دمتیازو څاڅکي ځي نو پدی ویرې سره چی دثواب په ځای دعذاب سبب ونه ګرځي زه پدی حالت کی لمونځ نه کوم، خاوند یې فکر مند دی نو له تاسو نه داتپوس دی چی دغې ښځې لپاره شرعاً څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.
ځواب: کله چی دښځې هروخت دمتیازو څاڅکي ځي نو هغه شرعاً معذوره ده ده ته لمونځ معاف ندی بلکې هر مانځه ته به نوې اودس کوي او کپړی به بدلوي او بیا چی فرض، واجب سنت او نفل لمونځ څومره چی غواړي وکړي اګرکه دلمانځه په حالت

کی دمتیازو څاڅکي راشي اوپه کپړو کی ولګيږي دمعذور کیدو په وجه شرعاً معاف دی. لهذا دلمونځ نه کولو بهانه غلطه ده لمونځ نه معاف کیږي . وتتوضأبه ماشـــاء وا مــن الفرائض والنوافل (نور الايضاح مع شرحه مراقي الفلاح ص۲۹ بـــاب الحـيض والنفاس والاستحاضة)فقط والله اعلم .

انسان کله معذور ګرځي او کله نه ، اوددی شرعي احکام څه دی ؟

۷۸ـ سوال: یو سړی دی چی دمتیازو څاڅکي ترینه ځي علاج يې هم ډير کړيـدی خـو بی فایدی . پدی وجه هغه زيات پريشان وي په استنجاء کې هم ډير وخت لګيـږي ددی باوجود هم شک کوي دلمانځه په دوران کـې هـم دڅـاڅکو راتلـو وسوسه پيـداکیږي اداسې سړی معذور دی او که نه ؟ او دی لپاره په شریعت کی دطهارت په باره کی څـه رخصت شته یانه . وضاحت وکړئ مهرباني .(دبمبئ نه)

ځواب: مسئله داده چی یو څاته لږ ډير دمتیازو څاڅکي راځي مګر دلمانځه پوره وخـت نه رانيسي دومره وخت ورته پيداکيږي چی دطهارت په حالت کـی لمـونځ اداکـړي نـو هغه معذور نه دی ده ته پکار دي چی دڅاڅکو ودریدو انتظار وکړي او بیا اودس کولـو سره لمونځ وکړي که چېرته دلمانځه په حالت کی دڅـاڅکو دراتلـو شـبهه پیدا‌ـي نـو لمونځ دی مات کړي او هغه ځای وګوري که واقعي څاڅکي وي نو خپـل شـرمګاه دی اوبو سره ووينځي او اودس دی وکړي او کپړی بـدلولو سـره دی لمـونځ وکـړي او کـه چېرته څاڅکي نه وي راغلي او هسې شک ورته پيداشوی و نو آينـده دی دداسـې قسم شک اوشبهې پروا نه کوي بلکی داودس کولو نه وروسته دی په خڅک او پرتوګ باندی اوبه وشيندي دشک او شبهې نه بچ کیدو لپـاره دا هـم يـو تـدبير او عـلاج دی ، او کـه هروخت څاڅکي راځي دومره وخت هم نه پیداکيږي چی طهـارت سـره دهغـه وخـت لمونځ اداکړي نو هغه معذور دی ، ولا يصير معذوراً حتى يستوعبه العذر وقتاً كاملاً ليس فيه انقطاع بقدر الوضوء والصلواة وهذا شرط ثبوته (نور الايضاح ص۵۳ باب الحيض والنفاس والاستحاضة) داسې معذور دهـر لمانځـه لپاره اودس كـوي او

کېږی بدلوي اوبيا فرض ، واجب ، سنت او نفل چی څه غواي کولې شـي ترڅـو پـورې چی ددغه لمونځ وخـت بـاقي وي دڅـاڅکو پـه راتلـو سـره اودس نـه ماتيـږي (البتـه دڅاڅکو نه علاوه په بل څه اودس ماتونکی څيـز سـره ماتيـږي) وتتوضاالمتسجاضـة ومن به عذر كسلسل البول واستطلاق البطن لوقت كل فـرض ويصـلون بـه ماشاءوا من الفرائض والنوافل ، (نور الايضاح ايضا) يو وخت مكمل داسې تيريـدو نه بعد چی په طهارت سره لمونځ کولو موقع پيدانشي او دمعذور حکـم وربانـدی وشـي لدينه وروسته دنورو لمونځو په وختونو کی پوره وخت څاڅکي راتلل شرط نه دی ، کله کله څاڅکي راتل هم معذور جوړيو لپاره کافي دی ، البته که چېرتـه يـو مکمـل وخـت داسې تيرشي چی يو ځل هم پکې څـاڅکي رانشـي نـو اوس معـذور نـه پـاتې کيـږي ، وشرط دوام العذر وجوده فى كل وقت بعد ذلك ولو مـرة وشـرط انقطاعـه وخروج صاحبه عن كونه معذوراً خلو وخت كامل عنه (نور الايضـاح ص٥٤ ايضاً) فقط والله اعلم ٢٠ محرم الحرام١٣٩٩ ھ.

شرعي معذور چاته ويل کيږي ؟

۷۹ _ سوال : لمانځه په باره کی شرعي معذور چاته ويل کيږي ؟

ځواب: دپوزی نه وينه راتلـل ، دمتيـازو څـاڅکي راتلـل ، بادوتـل ، دسـتونه ، دښځـې استحاض ، وينه راتلل، ناسور (يعنی هغه زخم چی نـه ښـه کيـږي) او داسـې نـور چـی مريض ته داسې وخت پيدانشي چی اودس کولو سره لمونځ وکړي نو دعـذر ترختميـدو پورې معذور شميرل کيږي ددی حکم دادی چی دهروخت لمانځـه لپـاره نـوی اودس وکړي څو پورې چی هغه وخـت بـاقي وي پـدې اودس سـره چـی څـومره لمونځونـه غواړي کولې شي ، البته په کوم مرض کی چی مبتلاء دی لدينه علاوه که چېرته پـه بـل کوم شی سره اودس مات نشي ، او چی کله دلمونځ وخت ختم شي نـو اودس يـې هـم ختميږي لکه مازديګر لمانځه لپاره چی کوم اودس کړی وي نو دلمر پريوتـو سـره هغـه ختميـږي . ومن به عذر كسلسل البول اواستطلاق بطن او انفلات ريح او رعاف دائم وجرح لا يرقأ فهذا يتوضؤن لوقت كل فرض ويصلون به اى بوضـوهم فى

الوقت ماشاءوا من الفرائض والنوافل ويبطل وضوء المعذورين اذالم يطرأ ناقض غير العذر (فان طرأولو كان نظيره عذره نقضه) بخروج الوقت كطلوع الشمس فى الفجر (مراقي الفلاح على هامش الطحطاوي ملخصاً ايضا ص۸۰).
که ددی بيماري په وجه کپړه ناپاک شوی وي که چېرته داسې وي چې دلمانځه ختمولو نه مخکې دپليتي لګيدو ګمان نه وي نو دهغه وينځل واجب دي او که چېرته دپليتي لګيدو ګمان وي نو وينځل يې واجب ندي ، فى البدائع يجب غسل الزائد عن الدرهم ان كان مفيدا بان لايصيبه مرة بعد اخرى حتى لو لم يغسل وصلى لايجزيه وان لم يكن مفيدا لايجب مادام العذر قائماً وهو اختيار مشايخنا آه (طحطاوي ص۸۱).

دمتيازو نه وروسته چې دڅاڅکو راتلو يقين وي نو لوټه باندې استنجاء ضروري ده

۸۰ـ سوال دمتيازو نه وروسته چې استنجاء لپاره لوټې وانخستل شي نو کپړې پاک پاتې کيږي ياناپاک ؟ او همداراز دهغه لمونځ او اودس صحيح کيږي يانه ؟
ځواب: دمتيازو نه وروسته دڅاڅکو راتللو ديقين باوجود چې لوټې استعمال نه کړي نو پداسې صورت کې دلمونځ کولو اجازت نشته .[1] په لوټو وغيره سره استنجاء کولو سره اطمئان حاصليدو نه وروسته اودس وکړي او بيا دې لمونځ وکړي.فقط والله اعلم.

---

[1] واذا قال الشر نبلالى يلزم لرجل الاستبرآء حتى يزول أثر البول ويطمئن قلبه وقال عبرت باللزوم لكونه اقوى من الواجب لان هذا يفيد الجواز لقوله فلا يصح له الشروع فى الوضوء حتى يطمئن بزوال الرشح (شامي فصل فى الاستنجاء مطلب فى الفرق بين الاستبراء والاستنقاء والاستنجاء ۱/ ۳۴۴).

دعذر په حالت کی ښي لاس باندی استنجاء کول بلا کراهت جائز دی

۸۱_ سوال : دیوې ښځې ګس لاس په پنجه کی مات شوی او ترلې دی پدی وجه د استنجاء لپارد په ګس لاس سره اوبه نشي اچولې پدی صورت کی خاوند یا لور اوبه واچوي او ښځه خپل ښي لاس سره استنجاء وکړي اویا خاوند اولور پخپل لاس ورته استنجاء وکړي ، پدی دوارو صورتونو کی کوم یو صورت اختیار کړی شي؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: بهتره داده چی ښځه خپله ښي لاس سره استنجاء وکړي دخاوند او دلور په لاس سره دی نه کوي . فان کان بیده الیسری عذر یمنع من الاستنجاء بها جاز الاستنجاء بالیمنی من غیر کراهة (فتاوی خیریه ص۵ کتاب الطهارة ومطالبه مطلب فی کیفیة الاستجار والتجمیر) فقط والله اعلم.

کتاب الصلواة

بیلماځي ډیره لویه ګناه ده

۸۲ _ سوال: په اسلام کی دلمانځه څه حکم دی ؟ نن صبا (۷۵) فیصده مسلمانان لمونځ نه کوي ، بی پروایي کوي ، اوداسې مسلمانانو لپاره دشریعت څه حکم دی ؟

ځواب: لمونځ داسلام یو عظیم الشان رکن اوپه عبادتونو کی مهتم بالشان عبادت دی کوم چی دایمان نه بعد ټولو فرائضو باندی مقدم دی ، داسلام شعار دی دایمان له علامو نه عظیم الشان علامت دی ، دبنده او دده دمالک ترمنځ داسې واسطه او وسیله دی چی سړی دجهنم اسفل السافلین ته درسیدو نه ساتي (حجة الله البالغة)

لمونځ داسې یو قائم اودائم عبادت دی چی لدینه دهیڅ یو رسول شریعت خالي نـدی پاتی شوی، ولم تخل عنها شریعة مرسل (درمختار مع الشامي ۱/ ۳۲۵ کتاب الصلوة) په قران او حدیث کی ځای په ځای دلمانځه سخت تاکید او په نه کولو باندی سخت وعیدونه راغلي دي ، په قران مجید کی دي، (حافظوا علی الصلوات والصلواة الوسطی وقوموا لله قانتین) یعنی دټولو لمونځونو پوره حفاظت کوئ خصوصاً دمنځني لمونځ اودالله تعالی په وړاندی په ادب سره ودریږئ . (سورت بقره) بل ځای ارشاد دی: (واقیمو الصلواة ولاتکونوا من المشرکین) (او لمونځ کوئ او له مشرکانو نه مه کیږئ) سورت روم . په قران پاک کی راغلي چی جنتیان به له دوزخیانو نه تپوس وکړي (ماسلککم فی سقر؟) (یعني کوم یو څیز دوزخ ته راورسولئ ؟) ولی دوزخیان شولئ ؟ (دوزخیان به جواب ورکړي) (لم نك من المصلین) یعنی له لمونځ ګذارو څخه نه وو (لمونځ مو نه کولو) سورت مدثر.

درسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمان دی: (بین الرجل وبین الشرك والکفر ترك الصلواة) دسړي او دکفر او شرک ترمنځ فرق لمونځ پریښودل دي یعنې دلمونځ پریښودل سړی کفر او شرک سره یو ځای کوي او فرق نه پاتې کیږي .(مسلم شریف مشکواة کتاب الصلواة الفصل الاول).

په یو حدیث کې دي : (لکل شئ علم وعلم الایمان الصلواة) (منیة المصلی ص۳ کتاب الصلواة).
دهر یو شئ یوه علامه وي (چې پدې سره هغه پیژندلې شي) او دایمان علامه لمونځ کول دي . په یوبل حدیث کې دي : "لاتترکوا الصلواة متعمداً فمن ترکها فقد خرج من الملة" (خبردار کله هم قصداً لمونځ مه پریږدئ چاچې قصداً لمونځ پریښود هغه له ملت (دین) نه ووت) (طبراني) اوپه بل حدیث کې دي : "ان اول مایحاسب به العبد یوم القیامة من عمله صلواته" ترجمه : دقیامت په ورځ دسړي په عملونو کې تولو نه اول دلمانځه حساب کتاب کیږي ، که لمونځ یې صحیح و نو کامیاب به شي او که نه نو ناکام به وي.(ترمذي شریف)
په بل حدیث کې دي : "الصلاة عمادالدین فمن اقامها فقداقام الدین ومن ترکها فقد هدم الدین" ترجمه : لمونځ ددین ستنه ده نو چاچې لمونځ قائم کړ هغه دین قائم کړ او چاچې لمونځ پریښود هغه دین وران کړ ،(مجالس الابرار ص۳۰۳)
په بل حدیث کې دي : څوک چې لمونځ ګذا نه وي دهغه په اسلام کې څه حصه نشته ده (بزاراو حاکم) رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یو سړی بې طریقې لمونځ کونکې ولید نو وې فرمایل : که داسړی پدې حالت باندی مړشي نو دمحمدصلی‌الله علیه وسلم په ملت باندی نه مړکیږي ، وقد روی انه علیه السلام رای رجلا یصلی وهو لایتم رکوعه وینقر فی سجوده فقال لومات هذا علی حالته هذا مات علی غیر ملة محمدصلی‌الله علیه وسلم (مجالس الابرارص۳۰٤).
او همداراز درسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمان دی : "من حافظ علیها کانت له نوراً وبرهاناً ونجاة یوم القیامة ومن لم یحافظ علیها لم تکن له نوراً ولا برهاناً ولانجاة وکان یوم القیامة مع قارون وفرعون وهامان وابی بن خلف"(رواه احمد والدارمي والبیهقي . مشکواة شریف ص۵۸، ۵۹ کتاب الصلواة)
ترجمه:کوم سړی چې لمونځ په ښه طریقه او پوره پابندي سره کوي نو هغه لمونځ دی لپاره دقیامت په ورځ رڼا (دحساب په وخت) حجت او دلیل او دنجات ذریعه جوړیږي

او څوک چی ددی پابندي نه کوي نو هغه سره به نه رڼا وي او نه کوم حجت او دلیل او دقیامت په روځ به دهغه حشر له قارون ، فرعون ، هامان او ابی بن خلف (رئیس المنافقین) سره کیږي .(مشکواة)

له قراني آیتونو او حدیثونو نه ثابتیږي چی لمونځ نه کول مشرکانه عمل اودکافرو علامه ده لکه څنګه چی دصحابه کرامو اوامامانو او مجتهدینو دیو جماعت قول دادی چی قصداً یو لمونځ پریښودل کفر دی پدې جماعت کی سیدنا حضرت عمر، ابن مسعود، ابن عباس ، معاذ بن جبل ، جابر بن عبدالله ، ابو الدرداء، ابو هریره ، او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم . پشان صحابه کرام او امام احمد بن حنبل ، اسحاق بن راهویه ، عبدالله بن مبارک، امام نخعي ، حکم بن عتبه ، ابو ایوب سختیانی ، ابو داود طیالسي ، ابو بکر بن شیب رحمهم الله پشان ائمه مجتهدین شامل دي لدینه علاوه حضرت حماد بن زید ، مکحول ، امام شافعي، امام مالک رحمهم الله په نزد دیو لمونځ پریښودوکی واجب القتل دی او امام ابو حنیفه رحمه الله اګرکه دقتل فتوی نه ورکوله ډیر اسان سزا مقرر کوله مګر هغه سزاهم داده چی ښه ووهلې شي اوبیا دی جیل خانه کې واچول شي تردی چی توبه وکړي اویا پدی حالت کی مړشي ، (تفسیر مظهري ، مجالس الابراروغیره).

حضرات صحابه کرام او ائمه مجتهدین (رضوان الله علیهم اجمعین) لکه څنګه چی لمونځ پریښودل دغسې لویه ګناه ګڼي چی ددې سزا قتل پورې ده ددوی په نزد پخپل وخت باندی لمونځ کول هم همدومره ضروري دی ، قصداً لمونځ قضاء کولو هم ددوی په نزد هیڅ ګنجائش نشته ، منتهی دا چی فقه حنفي کی دامسئله لیکلې ده : که چېرته دیوې ښځې بچی پیداکیږي که چېرته دبچی سر راوتلې وي اودلته دلمونځ وخت ختمیږي نو پدی حالت کې هم ښځې باندی لمونځ کول لازم دی که اودس نشي کولې نو تیمم به وهي، که رکوع اوسجده اداکولې شي نو اوچت ځای باندی به کیني او یالاس او کوم بل شی دبچی دسرلاندی کیدي چی محفوظ وي اوپه ناست ناسته په اشاره باندی دی خپل لمونځ وکړي خو قضاء کوي دی نه ، لکه چی په "نفع المفتی" کی دي : الاستفسار: إمرأة خرج راس ولدها حافت فوت الوقت ولا تقدر علی ان تصلی قائماً او قاعداً کیف تصلی؟ "الاستبشار" تصلی قاعدة ان قدرت

علی ذلك وجعلت رأس ولدها فی خرقه او حضرة فان لم یستطع تومی ایمـاء ولا یباح لها التاخیر ،(نفع المفتی ص۹وغیره .)

همداراز که په سمندر کې مثلاً جهاز مات شي اویا په څه صورت دریاب ته وغورځیږي اوپه کومه تخته باندی برابر شي چی دمرګ نه بچ شي اوس پاځیدلې او کیناستې نشي او لمونځ وکړي خو مګر قضاء کوي دی نه ، (جامع الرموز وغیره) وکذا من وقع فی البحرعلی اللوح وخاف خروج لوقت الصلوة یدخل اعضاء الوضوء فی الماء بنیة الوضوء ثم یصلی بالایماء ولایترك الصلواة.

همداراز که چیرته الله مه کړه دچادواړه لاسونه شل شي اوبل څوک داسې هـم ورسره نشته چی اودس اویاتیمم ورته وکړي نو څنګه چی کیدې شي خپل مخ اولاسونه دتیمم په نیت دیوال سره ولګوي او لمونځ دی وکړي خودلمونځ پریښودل اویا خپل وخت نه وروسته کول ورته جائز ندي ، وکذا من ثلث یداه ولم یکن معه احـد یوضـیه او یتیممه یمسح وجهه وذراعیه علی الحائط بنیة التیمم ویصلی ولایجوز لـه تـرك الصلواة ولا تاخیر ها عن وقتها ،(مجالس الابرارص۲۰۲) .

خومره دافسوس خبره ده چی ښه تندرست مسلمان اذان آوري او بـی پـرواه جومات مخې ته تیریږي ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : داظلم ، سراسر ظلـم ، کفر او نفاق دی چی دموذن آواز واوري او قبول یې نکړي (یعنـی لمانځـه لپاره ورتـه حاضر نشي) (احمد طبراني وغیره .)

حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمـایي : "اذاتوانیتم فی الصلواة تقطعـت صلاتکم بالحق عزوجل"(الفتح الربانی) . یعنی کله چی په لمانځه کی سست شولې نو دالله تعالی سره چی ستاسو کوم رشته او تعلق دی هغه هم پرې کیږي .

بیشکه لمونځ نه کول بی حدیه لویه ګناه ده په زواجر مکـی کـی دي : دبنـی اسـرائیلو یوه ښځه دحضرت موسی علیه السلام په خدمت کی حاضره شوه او عـرض یـې وکـړ ای دالله نبي! مانه کبیره (لویه) ګناه شوی ده ماتوبه کړی ده نوتاسو مالپاره دعـاوکړئ چـی زما مغفرت وشي ، موسی علیه السلام وفرمایل کومه ګناه دی کړی ؟ ښځې وویل زنا رانـه شوی او بیا ورنه حمل وشو او بیا بچی وشو او هغه مـی مـړ کـړ ، ددی پـه آوریـدو سـره

موسی علیه السلام ډېر غصه شو او وی فرمایل لدی خایه ژر لاړشه چېرته ستا دنحوست په وجه له آسمان نه اور رانشي او مونږ پکې سوځیدو سره ایره نشو ، ښځې له هغه ځایه په ناامیدي سره روانه شوه حضرت جبیرل علیه السلام تشریف راوړ او وی فرمایل : ای موسی علیه السلام الله رب العالمین سوال کوي چی ستاپه نزد باندی لدی بدکارې ښځې نه ډېر بد اولدی ګناه نه بله لویه ګناه نشته ؟ وی فرمایل چې لدینه بدبه بل کوم کار کوي ؟ ارشاد وشو څوک چی قصداً لمونځ پرېږدي هغه لدینه هم زیات منحوس او ګنهګار دی .(زواجز مکی۱/ ۱۰۸).

بیلمازه وروڼه او خویندې دی لږ غور وکړي چی دوی څومره لوی منحوس ، ګنهګار یا دالله له رحمت نه لری او مبغوض دي، مسلمانانو باندی فرض دي چې پاک باز او لمونځ ګذار جوړ شي او او خپل اهل وعیال هم پوه کړي په ترغیب او ترهیب په هره طریقه چی کیږي دلمونځ ګذار او دیندار جوړېدو کوشش وکړي او دبیلمارزه کیدو له نحوست نه خپل ځان او نور بچ کړي .

الهي فرمان دی : (یا ایهاالذین امنوا قوا انفسکم واهلیکم ناراً) ای مومنانو ځان او کورنی دجهنم له اورنه وساتئ ، (سورت تحریم) الله تعالی دی مونږه ټول تر عمره پورې دلمونځ پابند لري او زمونږ لمونځونه دی قبول کړي ، آمین ثم آمین.

دفتاوی رحیمیه اردو۴/ ٦۸ مسئلی باندی دیوې مشهورې مدرسې دشیخ الحدیث او مفتي صاحب اشکال او دهغه ځواب اول اشکال

۸۳ـ سوال : دفتاوی رحیمیه ۴جلد ٦۸ صفحه باندی مسئله ده : هغه داچی فقه حنفي کی دامسئله لیکلې ده : که چېرته دیوې ښځې بچی کیږي که چېرته دبچی سر راوتلي وي او دیخوا دلمونځ وخت ختمیږي نو پدې حالت کی هم ښځې باندی لمونځ کول لازم دی ، که اودس نشي کولې نو تیمم دی ووهي او که رکوع نشي کولې نو دبچی په حفاظت کولو سره دی په ناسته ناسته اشاره باندی لمونځ وکړي خو قضاء کوي دی نه الخ .

داټوله مسئله مو ولوستله لیکن پدی باندی دا اشکال دی چی دبچي سر سره خو وینه (دم نفاس) به هم وي نو پدی ناپاک حالت کی لمونځ کول څنګه درست کیدی شي؟ وضاحت وکړئ.

ځواب: وبالله التوفیق: دادنفاس وینه نده دنفاس حکم هلته کیږي چی بچی نیم او یاله نیم نه زیات راوتلې وي لدینه وړاندی چی کومه وینه ده داستحاض وینه ده داچی ترینه دلمانځه وخت ختمیږي نو پدې حالت کی دلمونځ کولو حکم دی دقضاء کولو اجازت نشته دی، او ښځه دمعذور په حکم کی ده نو لدې وینې سره سره که چیرته دبچې دضائع کیدو خطره نه وي نو لمونځ کول ضروري دي. والنفاس هو الدم الخارج الولادة او خروج اکثر الولد. (مراقي الفلاح مع طحطاوي ص۸۰ باب الحیض والنفاس والاستحاضة) په عالمګیرۍ کې دي: "لوخرج اکثر الولد تکون نفساء والا لا، ۱/ ۳۷" فقط والله اعلم.

دویم اشکال:

۸۴_ سوال: داخو صحیح ده چی اوسه پورې دنفاس حکم ندی لګیدلې یا داوینه داستحاض ده مګر اشکال دادی چی داښځه دمعذور په حکم کې څنګه شوه؟ دمعذورۍ حکم خو هغه وخت لګیږي چی دلمانځه پوره وخت داسې تیرشي چی وینه جاري وي. او دومره وخت هم ورته پیدانشي چی په طهارت سره لمونځ وکړې شي نو دلته داخبره نشته، داخو ښکاره ده چی دلمونځ ابتدائي وخت که معذوره نه وه (بلکې ابتدائي وخت کې پاکه وه) او عذر وروسته پیش شوه اوپدی عذر سره پوره وخت ندی راګیر کړی نو پدی حالت کی دپاک کیدو نه بغیر لمونځ څنګه کولې شي؟ لږ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: وبالله التوفیق: په موجوده حالت کی ښځه دی خپل ځان معذور وګڼي او لمونځ دی وکړي خو دقضاء کولو اجازت به نه وي. دابیله مسئله ده چی په وروستي وخت کی وینه جاري نه ده پاتې نو معذوره نه ګرځي او دلمونځ اعاده به نه کوي، لکه چی شامي کی دي: ولو عرض بعد دخول وقت فرض انتظر الی آخره فان لم ینقطع یتوضا ویصلی ثم ان انقطع فی اثناء الوقت الثانی یعید تلك الصلاة وان استوعب الوقت الثاني لایعید لثبوت لعذر حینئذ من وقت العروض آه.

دمعذور احکام بیانوي او فرمایي : که چیرته عذر دفرض لمونځ وخت داخلیدو نه وروسته پیداشوه نو آخري وخت پورې به انتظار کوي بیا که چیرته عذر منقطع نشي نو اودس کولو سره دی لمونځ وکړي اوبیا وروسته که چیرته دویم وخت کی قطع شي نو دهغه لمونځ به دوباره راوګرځوي او که عذر پوره دویم وخت کی هم باقي پاتې وي نو هغه لمونځ دی نه راګرځوي ځکه چی هغه عذر ثابت دی .(شامي ۱ ۲۸۱ مطلب فی احکام المعذور).

دحامله ښځې صورت هم داسې دی‌لهذا استحاضه دلمونځ نه مانع ندی ، د استحاض وینه ګویا دمستحاضې په حق کی پاک دی ددی باوجود هم لمونځ کولې شي دانه چی حقیقتاً پاک دی اویامعاف ندی ، فقط والله اعلم .

نوټ : لدینه وروسته به دحضرت مفتي صاحب الحمد لله تسلي شوی وي او کوم اشکال به نه وي پاتې .

بیمار ته له آپریشن نه وروسته طهارت کی شک کیږي نو لمونځ وکړي یانه ؟

۸۵ـ سوال : دزید متیازې بندی شوې نو ډاکټر دنامه نه پورته آپریشن کولو سره دربړ پایپ ولګولو پدی پایپ کی متیازې کوي اوپاڼې هیشه ورته لګیدلی وي او دمتیازو نه ډک وي او خوله یې په تار سره بندولې شي او چی کله متیازې کوي نو خوله یې ورته کولاولی شي اوبیا یې بندولې شي نو پداسې حالت کی داسړې لمونځ کولې شي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب: پدی حالت کی هم لمونځ معاف ندی بلکې کول یې ضروري دی که شک ورته پیدا کیږي نو بیا وروسته دی دوباره وکړي، که په ناسته نشي کولې نو په ملاسته دی په اشاره وکړي لیکن پریدي به یې نه [1] فقط والله اعلم .

---

[1] مریض تحته ثیاب نجس وکلما بسط شیئاً تنجس من ساعته صلی علی حلاله وکذا لولم تنجس الا انه یلحقه مشقه بتحریکه (درمختار علی هامش شامي آخر صلواة المریض ۲/ ۱۰۳).

په هوايي جهاز کی لمونځ کول

۸٦_ سوال په هوايي جهاز کی لمونځ کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.
ځواب : په فتاوی رحیمیه کی دي : په هوائي جهاز کی چی د لمانځه وخت راشي نو لمونځ نه قضاء کوي بلکی ادا دی کړي او بیا دی وروسته دوباره وکړي (ص ۲۹ ج ۵) دوباره راګرځول بهتر دي ضروري ندي ، البته کوم خلک چی په هوائي جهاز کی زیات سفرونه کوي او یا پدیکی ملازمان دي نو د لوی حرج په وجه دوی لپاره د دوباره کولو حکم نشته دی ، فقط .

د ناپوهی په وجه چی لمونځ ګذار اودس ماتیدو نه وروسته هم لمونځ جاري وساتي نو څه حکم دی ؟

(۸۷ سوال) د لمانځه په دوران کی د یو سړي اودس مات شو هغه ته دومره خو پته وه چی دباد په وتو سره اودس ماتیږي مګر په لمانځه کی د باد په وتو سره د لمونځ ماتول او اودس کولو سره لمونځ کول ورته معلوم نه وُ بلکی د هغه دا خیال وُ چی د لمونځ غوندی اهم عبادت ماتول ندي پکار پدی وجه پدی حالت کی یی لمونځ پوره کړ او بیا وروسته اودس کولو سره دوباره لمونځ وکړ ، اوس تپوس دا دی چی پدی صورت کی د دی سړي په ایمان او نکاح کی څه خلل راځي ؟ لږ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب : د لمانځه په حالت کی اودس ماتیدو سره لمونځ ماتیږي پداسی حالت کی لمونځ جاري ساتل سخته ګناه ده ، چی د ناپوهی په وجه سره داسی کړیدی نو پدی وجه (تجدید نکاح او تجدید ایمان) احکام نه جاري کیږي مګر توبه او استغفار به زیات زیات کوي ، فقط .

د قبر د صحن په چت باندی لمونځ کول :

(۸۸ سوال) څمونږ د جومات سره متصل صحن دی د صحن په یو کنج کی دوه قبرونه دي او پوره صحن باندی چت جوړ شویدی ، د دی صحن لاندی هغه دوه قبرونه هم راځي اوس سوال دا دی چی پدی چت باندی کله لمونځ ګذاران زیات وي پدی باندی لمونځ کولی شي یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب : پدی صورت کی په چت باندی لمونځ کولی شي ، فقط والله اعلم .

د لمانځه وختونه

د ګرمی په موسم کی ماسپښین لمونځ وروسته کول :

(۸۹ سوال) لږ وخت کیږي چې بعضی ځایو کی ماسپښین لمونځ په اوړي کی د ګرمی په بهانه د دائمي وخت نه نیم ساعت او دری پاوه وخت وروسته کولو رواج شویدی مخکی به که ګرمي وه او که یخني د ماسپښین وخت به تل یو وُ ایا هغه وخت کی ګرمي نه وه او یا هغه وخت کی خلک په ګرمي نه پوهیدل ؟ نن صبا خو جوماتو کی د بجلئ پکي هم لګیدلي دي بیا هم د ګرمی عذر پیش کولو سره ماسپښین لمونځ وروسته کولی شي عجیبه خو دا ده چې په جمع کی د ګرمی عذر نه وي ، د جمعی لمونځ پخپل وخت باندی کولی شي د دی څه وجه ده ؟ تفصیلي ځواب راکړئ ، مهرباني .

ځواب : ځمونږه حنفي مذهب کی د ماسپښین لمونځ په اوړي کی لږ وروسته ادا کول مستحب دي ، په درمختار کی دي : "والمستحب تأخير ظهر الصيف بحيث يمشى فى الظل" یعنی په اوړي کی ماسپښین لمونځ وروسته کول مستحب دي ، دی لپاره چې د دیوال سوری کی لاړ شي ، شامي وغیره کی د تاخیر حد یو مثل پوری دی یعنی سوری یو مثل کیدو نه وړاندی ماسپښین لمونځ وکړئ لدینه زیات باید وروسته نکړی شي "(قوله بحيث يمشى فى الظل) عبارة البحر والنهر وغيرهما وحده ان يصلى قبل المثل وهى أولى ج ١ ٣٤٠ كتاب الصلواة" .

د دی دلیل د حضرت ابوهریره رضی الله عنه مشهور روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : "اذا اشتد الحر فابردوا بالصلواة فان شدة الحر من فيح جهنم" (بخاری شریف ج ۱ ص ۷٦ باب ا لابراد بالظهر فى شدة الحر) .

ترجمه : کله چې ګرمي سخته شي نو لمونځ لږ په یخ وخت کی کوئ بیشکه د ګرمي تیز والی د جهنم د بړاس اثر وي .

(۲) حضرت ابوسعید رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : "ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فيح جهنم" ماسپښین لمونځ په یخ وخت کی کوئ بیشکه د ګرمی سختي د جهنم د بړاس اثر وي (بخاري شريف ج ۱ ص ۷۷ ایضاً) .

(۳) حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه فرمايي چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې وو مؤذن چې د ماسپښین آذان کول وغوښتل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : "ابرد" لږ صبر وکړه چې یخ شي چې لږ وخت وروسته یې بیا اذان کول وغوښتل رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا همدا وفرمایل چې : "ابرد" یعنی وخت یخیدو ته پریده ، تر دی پورې چې مونږ د غونډکیو سوري ولید (کوم چې خامخا یو مثل کیدو ته اویا تقریباً یو مثل کیده) لدینه وروسته د دی حکمت دا وښود چې : "ان شدة الحر من فيح جهنم فاذا اشتد الحر فابردوا بالصلواة" (بخاری ص ۷۷) د ګرمی تیز والی د جهنم د بړاس اثر وي نو چې کله ګرمي سخته وي نو یخني کیدو نه وروسته لمونځ کوئ . د حضرت ابوذر رضی الله عنه د روایت په بنا اګرچه دا واقعه د سفر ده مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د ماسپښین د وروسته کولو کوم حکمت چې بیان کړي هغه سفر او غیر سفر دواړو کې یوشان وي . لدی حدیثونو نه معلومه شوه چې په اوړي کې د ماسپښین لمونځ وروسته ادا کول افضل دی په روایتونو کې دا هم راغلي چې حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم به د دیوالونو په سیورو کې ماسپښین لمونځ ته تلل (په هغه زمانه کې دیوالونه واړه او ټیټ وي)

پاتې شوه د جمعې د لمونځ مسئله : نو ځینی فقهاؤ په ماسپښین باندی قیاس کولو سره د جمعې لمونځ لپاره هم اوړي کې د وروسته کولو قائل دی ، مګر په حدیث کې لفظ د ظهر دی د جمعه ندی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده د صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل هم د دی تائید نه کوي ، او بل د جمعې لمونځ کې خلک ډیر زیات وي او د صحابه کرامو رضی الله عنهم عادت دا وُ چې جمعې لمانځه لپاره به سحر وختي روانیدل اوس هم همداسی وي چې خلک جمعې لمانځه لپاره سحر وختي تیاري کوي او ځي جومات کې کیني ، په خطبه او لمونځ کې هم زیات وخت لګي پدی وجه تاخیر کې لوی تکلیف وي ، لهذا عام فقهاؤ د ماسپښین غوندی د جمعې دتاخیر قائل ندی . "وجمعة كظهر اصلاً واستحباباً فى الزمانين (درمختار) (قوله واستحباباً فى الزمانين) اى الشتاء والصيف ح لكن جزم فى الاشباه من فن الاحكام انه لايسن لها الابراد فى جامع الفتاوى لقارى الهداية قيل انه مشروع لانها تؤدى في وقت الظهر وتقوم مقامه ، وقال الجمهور ليس بمشروع لانها تقام

بجمع عظيم فتأخيرها مقض الى الحرج ولاكذلك الظهر وموافقة الخلف لاصله من كل وجهٍ ليس بشرطٍ آه" (شامى فى كتاب الصلواة ج ۱ ص ۳٤۰ ، ۳٤۱) .

اصل دا دی چی په لمانځه کی تلوار وکړی شي د الله تعالى فرمان دی : "فاستبقوا الخيرات" يعني د نيکی په کارو کی تلوار کوئ ، مګر په کوم ځای کی چی شارع عليه السلام د تاخير حکم ورکړی دی هلته به تاخير کيږي (مرقاة شرح مشکواة ج۱ ص ۳۹۷ کتاب الصلواة باب المواقيت) فقط والله اعلم .

په رمضان المبارک کی د سحر لمونځ مخکی کول :

(۹۰ سوال) په رمضان المبارک کی خلکو شپی خوب نه پوره کيږي ، پدی وجه د پیشمني نه وروسته تر سحره پوری ویښ اوسیدل دوی ته تکلیف وي ، ځینی خو په کور کی لمونځ کوي او ویده کيږي او ځینی د لمونځ په وخت کی د راويښيدو په اراده بغير لمونځ کولو نه ویده کيږي او په معین وخت باندی نه راويښيدو په وجه د جماعت له ثواب نه محروم پاتی کيږي او د ځینو نه خو لمونځ هم قضاء کيږي ، نو که چيرته صبح صادق نه وروسته زر جماعت وکړی شي نو ټول په جماعت کی شريکيدلی شي ، پداسی کولو کی څه حرج شته ؟

ځواب : په رمضان کی د ذکر شوي علت په وجه د سحر لمونځ همیشه لپاره وختي وکړی شي نو هيڅ حرج پکی نشته بلکی غوره ده ټول خلک پکی شريک شي او جماعت به لوی وي د دی تائيد دی لاندیني حديث نه هم کيږي .

حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه فرمائي : مونږه رسول الله صلی الله عليه وسلم پیشمنی وکړ او بيا سحر لمانځه لپاره پاځيدو ، راوي تپوس وکړ چی د پیشمني او لمانځه تر منځ څومره فاصله وه ؟ وی فرمایل څومره وخت کی چی پنځوس آيتونه ولوستل شي، "عن ثابت رضى الله عنه قال تسحرنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم قمنا الى الصلواة قال قلت كم كان قدر ذلك قال قدر خمسين آية" (ترمذى شريف ج ۱ ص ۸۸ ابواب الصوم باب ما جاء فى تأخير السحور) .

پنځوس آيتونه خو يوه اندازه دى د پيشمني د وخت ختميدو نه وروسته يعنى صبح صادق نه بعد پاو شل منټه وروسته دى لمونځ وكړى شي نو بهتر دي ، دومره فاصله استنجاء او اودس نه د فراغت لپاره كافي دى ، فقط والله اعلم .

كوم ځاى كى چى د ماسختن لمونځ وخت نه وي نو لمونځ وكړي يا نه ؟

(۹۱ سوال) په لندن كى (۲۲) مئ نه تر (۲۱) جولائي پورى (پدى دوه مياشتو) كى شپه يواځى خلور نيم ساعته وي ، پدى ورځو غروب شفق نه كيږي اوس پدى حالت كى د ماسختن لمونځ څه حكم دى ؟ پدى چى د ماسختن وخت غروب شفق نه وروسته دى ، لهذا د دغو لاندينو خبرو وضاحت وكړئ : (۱) كوم ځاى كى چى د ماسختن وخت نه وي هلته د ماسختن لمونځ فرض دى ؟ (۲) كه فرض وي نو كله به يى كوي ؟ (۳) كه قضاء وي نو لمر ختو نه وروسته قضاء راوګرځوي او آذان او جماعت خان خانله ؟

ځواب: پداسې ځاى كى چى له غروب شفق نه مخكې اويا له غروب نه فوراًبعد سحر كيږي دهغه ځاى په اوسيدونكو باندى ماسختن لمونځ فرض دى يانه ؟ پديكې اختلاف دى ځينې فقهاء وايي چى هغوى باندى ماسختن لمونځ فرض ندى پدى دليل چى كله سبب يې دفرضيت موجود ندى نو ماسختن لمونځ هم پرې فرض ندى پدى موسم كى هغه خلك په څلورو لمونځونو باندى مكلف دى لكه څنګه لاس پرې كړي سړي باندى په اودس كى درى فرضه دي مګر نور فقهاء كرام فرمايي چى هغوى باندى دماسختن لمونځ فرض دى، قول راجح او واجب العمل همدادى او دليل دادى چى الله تعالى په ټولو خلكو باندى پنځه لمونځونه فرض كړيدي درسول الله صلى‌الله عليه وسلم شريعت عام دى هيڅوك ورنه مستثنى ندى ، داودس داندامونو كيدل او دلمانځه په سبب كى فرق دى، چى په غور كولو سره پته لګيږي ، دلمونځ فرضيت په اصل كى په سبب خفي سره ثابت دى وخت خو دى لپاره ظاهري سبب دى او دهغه سبب خفي لپاره په طور دعلامى دى ديته اصل او حقيقي سبب ويل صحيح نه دى ،لهذا دظاهري سبب په عدم موجود ګي كى حقيقي او اصلي سبب (كوم چى نفس الامرى دى) نه ختميږي ، اوددى په وجوب باندى نور دلايل هم شته په حديث د معراج كى راځي چى اول پنځوس لمونځونه فرض شول بيا پكې كمى كيدو كيدو چى پنځه لمونځونه

باتې شول پديکې داندی شوی چې داحکم فلانی ملک لپاره دی او فلاني ملک لپاره ندی او الله تعالی ته په کائنات کی دټولو شيانو علم شته ،لهذا لـدی حکم نـه هیڅ يوځای مستثنی ندی اوددجال والا حديث کی دي چې يوه ورځ دکال برابر اوبله ورځ دمياشت برابر اوبله ورځ دهفتی برابر لوی وي صحابه کرامو عرض وکړ چې پدی ورځو کی به هم پنځه لمونځونه کافي وي ؟ رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمايل نـه پنځـه لمونځونه کفايت نه کوي پدی ورځو کی به دکـال ، مياشـتې او دهفـتې لمونځونو به اندازه کولو سره کوي يعنې (۲۴) ساعتونو کی به پنځه لمونځونه به څه فاصله سره کوئ لدینه واضح معلوميږي چې ظاهر سبب قابل تسليم ندی حقيقي سـبب قابـل اعتبـار دی (فتح القدير ۱/ ۱۹۷، ۱۹۸ ، کتاب الصلوة باب المواقيت (فضـــل)) (رســـائل الارکان ص۵۷، ۵۸).

ددار العلوم سابق مفتي اعظم حضرت مولانا عزيز الرحمن صاحب فرمـايي چـی دځینـو فقهاو خو همدا مذهب دی چې هلته دماسختن لمـونځ فـرض نـدی ځکـه چـی هلتـه دماسختن وخت نه وي ، لکه څنګه چې په (فتاوی محمديـه) کـی مولـوی سـيد احضـر حسين صاحب ليکلي دي ، مګر محققين فقهاء لکه ابن همام وغيره فرمايي چې اګـر کـه هلته دماسختن وخت نشته ليکن بيا هم هلته دماسختن لمـونځ فـرض دی او دليـل يـې دادی چې الله تعالی په ټولو خلکو باندی پنځـه وختـه لمـونځ فـرض کړيـدی دوی بـه هروخت اوپه هرځای کی لکه چې په حديث ددجال کی راغلي دي چې يـوه ورځ بـه دکال برابر دی صحابه کرامو عـرض وکـړ چـی دلمونځونـو بـه څنګـم وي ؟ رسـول الله صلی‌الله عليه وسلم وفرمايل : پدی ورځ به د ټول لمونځونـه پنځـه وختـه انـدازه کولـو سره کوي يعنې هرو (۲۴) ساعتو کی به پنځه لمونځونه کوي .

(فتاوی دار العلوم مکمل ومدلل ۲/ ٦١) (۲) کله چې به دماسختن وخت ملاويـده او لمونځ يې به کولو ، دمابنام نه دومره وخت بعد دی ماسختن لمـونځ هـم کـوي اويـا دشاوخوا نزدی علاقه کی چې کوم وخت دماسختن لمونځ کولې شـي پـه هغـه وخـت کی دی دوی هم کوي او يو صـورت داهـم دی چې دصبح صـادق نـه وروسـته دی ماسختن او وتر اداکړي اويـا دی دسـحر پـه وخـت کـی دسـحر لمـونځ اداکـړی ، پـه درمختار کی دي چاته چې دماسختن وخت پيدانشي هغه هم په ماسختن او وتر باندی مکلف دی او کول يې وربانډی فرض دي دغه دواړه لمونځونه به په اندازه کولـو سـره

یعني په کوم موسم کې چې دماښام نه څومره وخت بعد ماسختن کیده په هماغه اندازې سره دی کوي اوبادی دشاوخوا علاقې مطابق عمل کوي اوپه ماسختن او وترو کې نیت دی دقضاء نیت نه کوي ، قضاء لمونځ هغه دی چې وخت یې پیداشي او بیافوت شي دلته خونماسختن وخت نشته دی نو قضاء به څنګه شي .(درمختار کتاب الصلوٰة فی فاقد وقت العشاء کاهل بلغار مع الشامی ۱/ ۳۳۵، ۳۳۶) .

د لمر ختو نه وروسته سحر لمانځه نه وړاندی د ماسختن لمونځ اذان او جماعت سره دی وکړي (جوهره ج ۱ ص ۴۴ کتاب الصلوٰة) د جماعت سره وتر یواځې په رمضان کې ادا کولی شي او بس ، فقط والله اعلم .

د ماسپښین او دمازدیګر وخت :

(۹۲ سوال) په جومات کې دوه ټائم ټیبلونه دي په یو کې د مازدیګر د جماعت وخت څلور نیمي (۴:۳۰) بجې دی او په بل کې (۲۵) منټه د پاسه څلور بجې ، اوس اذان څه وخت وکړي شي د دی په نشته ، دلته څلور نیمي بجې باندی جماعت کیږي او اذان پاؤ باندی څلور بجې کیږي نو صحیح وخت کوم یو دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب په کوم ټائم ټیبل کې چې څلور نیمي بجې ښودلی دي دا د مفتی به قول مطابق دی د احنافو مسلک همدا دی او پدی فتوی هم ده چې اصلي سوری (کوم چې عین د استواء په وخت کې وي) ددینه علاوه کله چې د هر شي سوری دوچند (مثلین) شي . لدینه وروسته دمازدیګر وخت شروع کیږي او لدینه مخکې یعنې دوه چنده کیدو پوری د ماسپښین وخت وي ، په " مالا بد منه " کې دي : " وروایت مفتی به از امام اعظم آن ست که وقت ظهر باقی ماند تا آنکه سائهٔ چیز دو چندي آن شود سواء سایه اصلي و بعد از گذشتن وقت ظهر بردو قول وقت عصر است " (ص ۲۵ کتاب الصلوٰة) .

مفتي اعظم حضرت مولانا کفایت الله صاحب په تعلیم الاسلام کې لیکلي دي : کله چې د هر شي سوری د اصلي سوري نه علاوه دوچند شي نو د ماسپښین وخت ختم او د مازدیګر وخت شروع کیږي (تعلیم الاسلام ج ۲ ص ۴۵) د دسمبر په میاشت کې اصلي سوری یو مثل ته قریب وي لهذا د دینه علاوه چې سوری دوچند شي نو د مازدیګر اذان پکار دی او فی الحال څلور نیمي بجې وخت دی او په همدی کې احتیاط دی

، په راندیر کی په همدی باندی عمل کوي یعنی د دسمبر په میاشت کی څلور نیمي بجی اذان او پاو کم پنځه بجی جماعت ودریږي . فقط والله اعلم

د مثلینو نه مخکی د مازدیګر لمونځ کیږي ؟

(۹۳ سوال) د کلي امام د مازدیګر لمونځ دمثلینو نه مخکی او د ماسختن لمونځ د شفق ابیض له غائبیدو نه مخکی ادا کوي نو زه څه وکړم ؛ وضاحت وکړئ مهرباني

څواب په بل جومات کی کوم یو کی صحیح وخت باندی کوي هلته کول پکار دي که چیرته دا شي کیدی او یا تکلیف وي نو امام سره یی وکړئ او د وخت په داخلیدو سره بیا څانله راوګرځوه . "ثم رأیت فی اخر شرح المنیة ناقلاً عن بعض الفتاوی انه لوکان امام محلة یصلی العشاء قبل غیاب الشفق الابیض فالافضل ان یصلیها وحده بعد البیاض آه" (ج ۱ ص ۳۷۲) (اعلاء السنن ج ۲ ص ۷ کتاب الصلواة باب المواقیت) والاولی ما قلنا انه یصلی مع الامام ثم یعیدها ولاتکره اعادة العصر فی هذه الصورة لان الاولی لم تصح عند الامام فیکون الفرض هی الثانیة لم اره صریحاً ولکنه مقتضی القواعد ، فقط والله اعلم (اعلاء السنن ج ٤ ص ۳۷٦ باب ما یفعل المأموم اذا اخر الامام الصلواة) .

د مازدیګر د وخت تفصیل :

(۹۴ سوال) څمونږ په جومات کی دوه ټائم ټیبلونه دي په یو کی د مازدیګر وخت څلور نیمي بجی دی او په بل کی څلور بجی او (۲۵) منټه نو اذان کله وکړی شي ، دلته څلور نیمی بجی جماعت ودریږي او آذان پاو باندی څلور بجی او یا (۲۰) منټه د پاسه ، نو صحیح وخت کوم یو دی ؟

څواب : په کوم ټائم ټیبل کی چی څلور نیمي بجی وخت دی دا د مفتی به قول مطابق دي حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مفتی به قول دا دی چی د ماسپښین وخت د هر شي سوری د اصلي سوري نه علاوه دوچند کیدو پوری پاتی وي او دوچند نه وروسته د مازدیګر وخت شروع کیږي په " ما لا بد منه " کی دي " وروایت مفتی به از امام اعظم آن ست که وقت ظهر باقی ماند تا آنکه سائهٔ هرچیز دو چندي آن شود سواء سایه اصلي و بعد از ګذشتن وقت ظهر بردو قول وقت عصر است " (۲۵) .

مفتي اعظم مولانا كفايت الله رحمه الله هم په تعليم الاسلام كى همدغسى ليكلي دي كله چى د هر شي سورى د اصلي سوري نه علاوه دوچند شي نو د ظهر وخت ختم او د عصر وخت شروع كيږي (تعليم الاسلام ج ۲ ص ۴۵) .

د ماسختن د وخت تفصيل :

(۹۵ سوال) پدى موسم (جون مياشت) كى په اوه بجى او (۱۹) منته د پاسه لمر پريوځي او د شفق فاصله يو ساعت او (۳۴) منته وي نو د ماسختن اذان كله پكار دى ؟ خمونږ امام صاحب اته بجى او (۴۵) منته يعنى پاؤ كم نهه بجى باندى اذان كوي او نهه بجى جماعت ودريږي نو ايا دغه اذان په صحيح وخت باندى كيږي ؟ مونږه خو وايو چى لمونځ په صحيح وخت دى او اذان د وخت نه مخكى آذان (۸:۵۳) اته بجى او (۵۳) منته باندى پكار ده ايا خمونږ وينا غلطه ده ؟ .

ځواب : ستاسو خبره صحيح ده د ماسختن وخت غروب شفق نه بعد شروع كيږي د شفق نه كوم يو مراد دى احمر يا ابيض پديكى اختلاف دى د عربي لغت كى سرخي او (د سرخي نه وروسته) سپين والى دواړو ته شفق وائي ، علامه ابن الرشيد ليكي : "وسبب ا ختلافهم فى هذه المسئلة اشتراك اسم الشفق فى لسان العرب بانه كما ان الفجر بلسانهم فجر ان كذلك الشفق شفقان احمر وابيض الخ" (بداية المجتهد ج ۱ ص ۹۲) .

امام اعظم رحمه الله د ماسختن وخت په باره د شفق نه سپينوالى مراد دى كوم چى د سرخى د غائب كيدو نه وروسته لږ وخت پاتى كيږي او همدا راجح او قابل عمل دى ، په " كتاب الاختيار " كى دي : "الشفق البياض الذى بعد الحمرة" يعنى شفق هغه سپينوالى دى چى د سرخى نه وروسته وي (ج ۱ ص ۳۹ كتاب الصلوات) په حديث كى دي چى حضرت انس رضى الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس وكړ چى زه د ماسختن لمونځ څه وخت وكړم ؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : "حين اسود الافق" يعنى كله چى د آسمان كنارى تياره شي ، او په مرفوع روايت كى دي : "يصلى العشاء حين يسود الافق" يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم به ماسختن لمونځه هغه وخت كى ادا كولو چى د آسمان په كنارو باندى به تياره راغله (ابوداؤد ج ۱ ص ٦۳) (زجاجة المصابيح ج ۱ ص ۱٦۷ باب المواقيت) .

پدی وجه امام اعظم رحمه الله د شفق نه شفق ابیض مراد کړیدی او د آسمان په کنارو باندی تیاره د سپینوالي نه وروسته خوریږي نه د سرخي نه وروسته ، لهذا د ماسختن اذان هم د شفق (سپینوالي) له غائب کیدو نه وروسته پکار دی ستاسو د امام صاحب که پدی اطمنان نه حاصلیږي نو په تعلیم الاسلام کی دی د مولانا کفایت الله صاحب فتوی وګوري ، په تعلیم الاسلام کی دي :

(سوال) د ماسختن د لمانځه وخت کوم دی ؟

(خواب) د سپین شفق پریوتو نه وروسته د ماسختن وخت شروع کیږي (حصه سوم) .

د ماسختن وخت لمر پریوتو نه وروسته څه وخت شروع کیږي ؟

(۹٦ سوال) د لمر پریوتو نه وروسته شفق ابیض څه وخت پوری باقي وي ؟ او دڅه وخت نه د ماسخوتن د لمونځ وخت شروع کیږي ؟

خواب : دا فاصله همیشه لپاره یوشان نه وي میاشت په میاشت او یا څو ورځي بعد بدلیږي او کمیږي لیکن دغه فاصله له یوه ساعت او (۳۸) منټونه زیاتیږي او له یوه ساعت او (۲۱) منټو نه کمیږي نه د جون په میاشت کی دغه فاصله (۱:۳۸) یو ساعت او (۳۸) منټه وي او په ستمبر کی د ټولو نه کم یعنی یوه ساعت او (۲۱) منټه (۱:۲۱) وي ، دغه لاندینی نقشي ته وګورئ د دی مطابق د ماسخوتن لمونځ کی تغیر و تبدیل کوئ (محمد کفایت الله دهلي) .

نقشــــه

میاشت او تاریخ	ساعت	منټ	میاشت او تاریخ	ساعت	منټ
اول د جنوري	۱	۲۷	اول جولائي	۱	۳۴
اول د فروري	۱	۲۴	اول اګست	۱	۳۰
اول د مارچ	۱	۲۲	اول د ستمبر	۱	۲۵
اول د اپریل	۱	۲۳	۲۱ د ستمبر	۱	۲۱
اول د مئ	۱	۲۷	اول د اکتوبر	۱	۲۲
اول د جون	۱	۳۴	اول د نومبر	۱	۲۳
۲۳ د جون	۱	۳۸	او د دسمبر	۱	۲۷
۲۵ د جون	۱	۳۷	۲۱ د دسمبر	۱	۲۸

نوټ د کومې میاشتې په کوم تاریخ کې چې په غروب آفتاب او غروب شفق کې څومره فاصله وي تقریبًا همدومره فاصله په صبح صادق او لمرختو کې هم وي په "شامي" کې دي: (فائده) "ذکر العلامة المرحوم الشيخ خليل الكاملي في حاشية على رسالة الاسطر لاب لشيخ مشائخنا العلامة المحقق علي افندي الداغستاني ان التفاوت بين الفجرين وكذا بين الشفقين الاحمر والابيض انما هو بثلث درج" (ج ۱ ص ۳۳۲ کتاب الصلواة) په بل ځای کې لیکي: "(تنبیه) قدمنا قريبا ان التفاوت بين الشفقين بثلاث درج كما بين الفجرين فليحفظ" (شامي ج ۱ ص ۳۳۵) فقط والله اعلم.

د سهار جماعت په رڼائی کې بهتر ده:

(۹۷ سوال) د سحر لمانځه ته خلک کم راځي او کوم جومات کې چې د سحر لمونځ لږ وختي کېږي هلته خو خلک جماعت پرېدي او ځان ځانله لمونځ کوي او د جماعت له ثواب نه محروم پاتې کېږي، که چیرته د ملازم او تجارت پیشه خلکو لحاظ کولو سره اخري وخت کې جماعت وکړی شي نو بهتر دی یا نه؟ لږ وضاحت وکړئ مهرباني.

خواب: د سحر لمونځ په غلس (تیاره) او اسفار (رڼایی) کې کول په حدیث سره ثابت دي د اسلام په ابتدائي دور کې صحابه کرام رضی الله عنهم چې نوي او تازه مسلمانان شوي وو نو د جماعت سره یې ډیره زیاته مینه او شوق وُ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به اکثر جومات کې پاتې کیدل عبادت به یې زده کول او نوافلو او تهجد کې به مشغولیدل نو دوی لپاره په غلس (تیاره) کې لمونځ کول آسان وُ (لکه چې مونږ لپاره رمضان المبارک کې د سحر لمونځ وختي کول اسان وي) د چا د جماعت فوت کېدو خطره نه وه بیا چې کله مسلمانان زیات شول او دوی لپاره د سحر لمونځ وروسته او په رڼایی کې کولو کې سهولت پیدا شو او پدې وخت کې خلکو ته په جماعت کې شریک کیدل آسان شو چې له دوی نه جماعت فوت نشي پدې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم په اسفار (رڼائی) کې لمونځ کول شروع کړ او دی سره یې د دی فضیلت هم بیان کړ چې: "اصبحوا بالصبح فان اعظم للاجر" یعني سحر لمونځ بنه په رڼاکی کوئ پدیکې زیات اجر دی (ابوداوٗد ج ۱ ص

۶۷ باب المواقیت باب وقت الصبح) او دا هم په حدیث کی دي : "اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر" یعني دسهار لمونځ په رڼایی کی کوئ پدیکی زیات اجر دی (ترمذي شریف ص ۴۰ باب ما جاء فی الاسفار بالفجر) د حدیثو په نورو کتابونو کی هم قریب قریب دغه الفاظ راغلي دي لکه مثلاً مسلم شریف ج ۱ ص ۲۲۳ ، نساني شریف ج ۱ ص ۵۰ ، ابن ماجه ج ۱ ص ۴۹ .... (مجمع الزوائد ج ۱ ص ۱۳۲) (مصنف ابن ابی شیبه ج ۱ ص ۳۲۱) (طحطاوي شریف ج ۱ ص ۱۰۶) وغیره کی وګورئ .

پدی وجه فقهاء کرام لیکي چی د سحر لمونځ په رڼایی کی وکړی شي یعنی له لمر ختو نه دومره قدری مخکی شروع کړی شي چی د سنت مطابق (کم از کم ۴۰ یا ۵۰) آیتونه لوستلو سره لمونځ پوره کړي او که چیرته لمونځ فاسد او خراب شي نو مسنون قرائت سره دوباره راوګرځول شي (دی لپاره (۲۵ یا ۳۰) منټه کافي دي) یعنی د لمر ختو نه ۲۵ ، ۳۰ منټه مخکی د اولني جماعت وخت مقرر کړی شي نو مستحب دي ، دا ځکه چی د سحر وخت د ویده کیدو او د غفلت وخت دی په غلس (تیاره) کی جماعت کولو سره اکثرو خلکو نه جماعت فوت کیږي پدی وجه تاخیر افضل دی خو مګر دومره تاخیر نه چی د سلام ګرځولو نه وروسته د دوباره کولو وخت پاتی نشي ، په "مالا بد منه" کی دي : " ودر روشنی روز خواندن صبح بحد یکه به قرائت مسنونه نماز ادا کند و اګر فساد ظاهر شود باز به قرائت مسنونه ادا کند مستحب است " یعنی د سحر لمونځ باید دومره په رڼایی کی وشي مستحب دی چی د قرائت مسنونه نه وروسته دومره وخت پاتی شي چی که لمونځ فاسد شي نو دوباره مسنون قرائت سره ادا کړی شي (مالا بد منه ص ۲۵) فقط والله اعلم .

د تهجدو وخت :

(۹۸ سوال) د تهجدو وخت څه وخت شروع کیږي ؟

ځواب : مختار مذهب دا دی چی د تهجدو وخت له نیمی شپی نه وروسته شروع کیږي که لدینه مخکی ویده شوی وُ او که نه وي (ویده کیدل شرط ندي) البته له ویده کیدو نه وروسته پاځیدل بهتر دي ، په فتاوئِ عزیزي کی دي : اول وقت آن بعد از نصف شب است ، سواء سبقه النوم ام لا (ص ۵ کتاب الصلواة) فقط .

د ځابښت لمونځونه او رکعتونه یې :

(۹۹ سوال) د ځابښت د لمونځ وخت کوم دی او څو رکعتونه یې دي ؟
ځواب : د ځابښت د لمانځه وخت له لمر ختو نه تر زواله پوری دی لیکن افضل او غوره دا ده چې د ورځې څلورمې برخې تیریدو نه وروسته وکړی شي مثلاً نن صبا په شپږ بجې او (۳۵) منټه باندی لمر خیژي او په (۶:۵۲) باندی پریوځي نو له (۹:۴۰) نه تر زواله پوری د ځابښت لمونځ ، د دی څلور رکعتونه دي ، دوه رکعته هم کولی شي او که زیات کول غواړي نو (۱۲) رکعتونه هم کولی شي ، په درمختار کې دي : "وندب اربع فصاعداً فی الضحی من بعد الطلوع الی الزوال ووقتها المختار بعد ربع النهار وفی المنیة اقلها اربع رکعة واکثرها اثنا عشر ووسطها ثمان وهو افضلها کما فی الذخائر الثبوته بفعله الخ" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۶۳۹ مطلب بسنة الضحی) فقط والله اعلم بالصواب .... ۲ جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ مطابق ۲۸ مارچ ۱۹۸۲ء .

د اشراق د لمونځ وخت :

(۱۰۰ سوال) د اشراق د لمانځه وخت کوم یودی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب : د اشراق د لمانځه وخت لمر ختو نه وروسته (۱۲ ، ۱۵) منټه وروسته شروع کیږي ، "اولها (عند طلوع الشمس الی ان ترتفع الشمس وتبیض قدر رمح او رمحین)" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۰۶ فصل فی الاوقات المکروهة) فقط ، ۳ جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ .

په مجبوری سره په جماعت باندی د یو مثل کیدو سره د مازدیګر لمونځ کول صحیح دي ؟

(۱۰۱ سوال) محترم مفتي صاحب د سلام مسنون نه بعد امید دی چې طبیعت مو به وي اِو د لاندني سوال ځواب راکړئ ډیره مهرباني
مونږ د سعودي عربستان په جده کی ملازمت په طور اوسیږو په یوه کمپنی کی کار کوو چې پدیکی ډیر خلک هندوستاني حنفي دي او ډیر یمني خلک هم شته په کمپنی کی

یو جومات هم جوړ شوی چی پدی جوماعت کی یمني حضرات په ضد سره د مازدیگر لمونځ یو مثل کیدو باندی جماعت سره کوي مونږه هغوی ډیر پوه کړل چی خمونږ په حساب د مازدیگر وخت نه وي داخل شوی مګر هغوی نه مني او په یو مثل باندی جماعت سره لمونځ کوي که پداسی حالت کی که چیرته حنفیان دوی سره جماعت کی شریک شي او لمونځ وکړي نو څه حکم یې دی ؟ لمونځ کیږي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : د ماردیګر وخت د سوري د یو مثل نه شروع کیږي او که ددوه مثلو نه پدیکی اختلاف دی خو احتیاط پدیکی دی چی د ماسپښین لمونځ یو مثل کی دننه ادا کړي او د مازدیګر لمونځ مثلینو نه وروسته ادا کړی شي ، د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د حدیث نه د دی تائید کیږي :

"عن عبد الله بن رافع مولى ام سلمة زوج النبى صلى الله عليه وسلم انه سئل اباهريرة رضى الله عنه عن وقت الصلواة فقال ابوهريرة رضى الله عنه انا اخبرك صل الظهر اذا كان ظلك مثلك والعصر اذا كان ظلك مثليك" .

ترجمه : عبد الله بن رافع مولی د ام سلمه رضی الله عنها نه روات دی چی دوی ابوهریره رضی الله عنه د لمانځه د وختونو په باره کی سوال وکړ نو ابوهریره رضی الله عنه وفرمایل زه تا ته بنایم ماسپښین لمونځ داسی وخت کی کوه چی ستا سوری ستا برابر شي او د مازدیګر لمونځ په داسی وخت کی کوه چی ستا سوری ستا په دوچند شي (مؤطا امام مالك ص ۳ كتاب الصلواة) .

که چیرته دمازدیګر لمونځ دمثلینو نه مخکی وکړی شي (لکه چی ستاسو څای کی کیږي) نو لمونځ کی شک پیدا کیږي او د مثلینو نه وروستو ادا کولو کی شک نه پاتی کیږي بلکی اتفاقي ادا کیږي او په عبادت کی احتیاط پکار دی که دوی د مثلینو نه وړاندی کولو باندی ضد کوي نو کوم بل جوماعت کی (چی په احتیاط باندی عمل کوي) ادا کول پکار دي که دانشي کیدی او یا زیات تکلیف وي نو مجبوراً جماعت سره لمونځ ادا کړئ او بیا مثلینو نه بعد دوباره خانله را(ګرځوئ ، " والاولى ما قلنا انه يصلى مع الامام ثم يعيدها ولاتكره اعادة العصر فى هذه الصورة لان الاولى لم تصح عند الامام فيكون الفرض هى الثانية لم اره صريحاً ولكنه مقتضى القواعد ،

فقط والله اعلم" (اعلاء السنن ج ٤ ص ٣٧٦ باب ما يفعل المأموم اذا اخر الامام الصلواة) فقط والله اعلم .

د مجبوری په وخت کی د سوري يو مثل نه بعد د مازديګر لمونځ کول :

(١٠٢ سوال) د بس وخت داسی دی که چیرته حنفي مذهب مطابق د مازديګر لمونځ ادا کړی شي نو بس رانه ځي او که ادا نکړی شي نو بيا په منځ کـی دومره وخت نه پيدا کيږي چی لمونځ وکړی شي پداسی پريشانی وخت کی د امام شافعي رحمه الله مسلک مطابق يو مثل کيدو نه وروسته د مازديګر لمونځ کول صحيح دي يا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : که په بس کی سفر کولو کی دغه مذکوره پريشاني وي نو په ريل کی دی سفر وکړی شي او که په ريل کی هم دغه پريشاني وي نو د مجبوريت په وجه يو مثل سوری کيدو نه وروسته لمونځ کولی شي او دا د صاحبينو رحمهما الله قول هم دی ، (پورتنی حواله) فقط والله اعلم .

د سحر لمانځه کی اسفار (رڼائي) :

(١٠٣ سوال) د سحر لمانځه لپاره افضل وخت کوم دی په رڼائی کی افضل دی او که تياره کی ؟ خمونږ پدی خای سحر لمونځ نبه په رڼايی کی کيږي بعضی د لمر ختو نه (٢٥ ، ٣٠) منټه وړاندی لمونځ شروع کړي مګر يو ملګری وايي چی د سحر لمونځ په رڼايی کول د حديث نه ثابت ندي نو ايا په رڼايی کی د سهار لمونځ کول خلاف سنت دي؟ د حديثو په رڼا کی خواب راکړئ مهرباني .

خواب . د صبح صادق نه د سحر لمونځ وخت شروع کيږي او د لمر ختو نه لږ مخکی پوری باقي وي پدی دوران کی په هر وخت کی لمونځ کول درست دي مګر اسفار يعنی نبه په رڼايی کول افضل او مستحب دي او زيات ثواب لري او دا د ډيرو حديثونو نه ثابت دي څوک چی د حديث نه دعدم ثبوت قايل دي هغه د حديثونو نه ناواقف دی .

په حدیث د جبریل کی دي چی بل ځای جبریل علیه السلام د سحر لمونځ په رڼایی کی وکړ "وصلی بی الفجر فاسفر" (مشکواة ص ۵۹ بـاب المواقیت الفصل الاول عن بریده).

له احادیثو نه د سحر لمونځ په تیاره کی او رڼایی کی کول هم ثابت دي ، څرنګه چی د نبوت په ابتدایي دور کی لمونځ څه ناڅه تیاره کی کیدو ځکه چی هغه زمانه د شدت عمل وه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی نوي مسلمانیدو په وجه د حاضر باشي او د شب بیداري شوق او جذبه وه د شپی زیاتره حصه به په جومات کی تیریده هغوی لپاره خو په تیاره کی لمونځ کول آسان وُ لکه څنګه چی رمضان میاشت کی دتهجد او پیشمني کولو نه وروسته صبح صادق کیدو نه فوراً بعد د سحر لمونځ کول آسان وي ، او په هغه وخت کی اکثر ښځی به هم جومات ته راتللی د دوی په حق کی د پردی په لحاظ هم د دی تقاضا کوله چی سحر لمونځ په تیاره کی وکړی شي او بیا چی کله اسلام زیات خور شو او د مسلمانانو تعداد زیات شو نو عام خلکو ته سهولت پدیکی وُ چی د سحر لمونځ په اسفار (رڼایی) کی وشي تر څو د جماعت له ثواب نه خوک محروم پاتی نشي ، پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی "اصبحوا بالصبح فان اعظم للاجر" یعنی د سحر لمونځ په رڼایی کی کوئ پدی کی درته ډیر اجر دی (ابوداوٗد باب وقت الصبح عن رافع بن خدیج ج ۱ ص ٦۱ ،نسائي ج ۱ ص ۹۴ ، ابن ماجه ص ۴۹ طحاوي ج ۱ ص ۱۰٦) او د ترمذي شریف الفاظ دا دي : "اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر" (ترمذی باب ماجاء فی الاسفار بالفجر ج ۱ ص ۲۲ ، مسند امام اعظم ج ۱ ص ۳۰٤ ، مجمع الزوائد ج ۱ ص ۳۱۵ ، مصنف ابن ابی شیبه ج ۱ ص ۳۲۱) .

امام ترمذي د دی حدیث نقل کولو نه وروسته فرمایي : "حدیث رافع بن خدیج حسن صحیح" یعنی د رافع بن خدیج دا حدیث حسن او صحیح دی ، او په مسلم شریف کی "فنور بالصبح" الفاظ راغلي دي (مسلم باب اوقات الصلوات الخمس ج ۱ ص ۲۲۳) او په بل حدیث کی دي : "عن عبد الله رضی الله عنه قال ما رأیت النبی صلی الله علیه وسلم صلی صلواة لغیر میقاتها الا صلواتین جمع بین المغرب والعشاء وصلی

الفجر قبل میقاتها" (بخاری باب متی یصلی الفجر ، مجمع ج ۱ ص ۲۲۸ ، مسلم ج ۱ ص ٤۱۷) ترجمه : حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي : ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوه لمونځونو نه علاوه هر لمونځ لره پخپل مقرر وخت باندی کولو کی لیدلی دی او هغه دوه لمونځونه دا دي (۱) په مزدلفه کی ماښام او ماسخوتن یی یوځای وکړل (۲) او سحر لمونځ یی د عام معمول په خلاف تیاره کی وکړ

دا ذکر شوي ټول احادیث په رڼایی کی د لمونځ کولو تائید کوي لدینه علاوه نور هم ډیر داسی حدیثونه شته چی په رڼایی کی د سحر لمونځ کول ترینه ثابتیږي ، پدی وجه احناف فقهاء فرمائي : "ویستحب الاسفار بالفجر لقوله علیه السلام اسفرو بالفجر فانه اعظم للاجر" (هدایه فصل الاوقات المستحبة ج ۱ ص ٦٦) .

لهذا ستاسو حضراتو په رڼایی لمونځ کول د حدیث او سنت موافق دي ، د حدیث خلاف یا بدعت ندي او همداراز فقهاء لیکي چی د سحر لمونځ په رڼایی کی وکړئ یعنی د لمر ختو نه دومره وړاندی شروع کړئ چی مسنون قرائت (چی مقدار یی کم نه کم (۴۰_۴۵) آیتونه دي ولوستل شي) او که چیرته په څه وجه سره لمونځ فاسد شي نو دوباره مسنون قرائت سره ادا کړی شي پدی لحاظ سره نیمه ګهنټه مخکی کافي ده ، نو د لمر ختو نه نیم ساعت وړاندی جماعت ودریدل مستحب دي چونکی د سحر وخت دخوب او غفلت وخت دی وختي لمونځ کولو سره د ډیرو خلکو نه جماعت پاتی کیدو خطره وي لهذا تاخیر بهتر دی مګر دومره تاخیر ونشي چی د سلام ګرځولو نه وروسته د دوباره لمونځ کولو وخت پاتی نشي ، په " مالا بد منه " کی دي : " ودر روشنی روز خواندن صبح بحد یکه به قرائت مسنونه نماز ادا کند و اګر فساد ظاهر شود باز به قرائت مسنونه ادا کند مستحب است " ترجمه : یعنی د سحر لمونځ دومره رڼایی کی کول مستحب دي که لمونځ په مسنون قرائت سره ادا کولو نه وروسته دومره وخت پاتی وي که چیرته په څه وجه سره لمونځ فاسد شي نو دوباره مسنون قرائت سره ادا کړی شي ، لهذا ستاسو عمل حدیث او سنت سره موافق دی بدعت او خلاف سنت ندی ، فقط والله اعلم .

ممنوعه او مكروه وختونه

د مازديګر نه وروسته تحية الوضوء يا كوم بل لمونځ :

(۱۰۴ سوال) د مازديګر او ماښام تر منځ تحية الوضوء كيږي يا نه ؟

ځواب نشي كيدلى ، د مازديګر او ماښام ترمنځ نفل لمونځل كول مكروه او منع دى[1] ، فقط .

(۱۰۵ سوال) د مازديګر او ماښام تر منځ كوم يو لمونځ كول صحيح دى ؟

ځواب : د لمر زيړيدو نه وړاندى يعنى چى د لمر تيزوالى باقي وي تر دى پورى فرض . واجب قضاء كولى شي (ليكن ځانله يى وكړي دخلكو په وړاندى يى مه كوئ) د جنازى لمونځ او سجده د تلاوت هم جائز دي ،او د لمر تيزوالى ختميدو نه وروسته يعنى د زيړيدو نه وروسته اجازت نشته ، البته كه چيرته پدى وخت كى جنازه راشي او يا سجده د تلاوت واجب شي نو سره د كراهت نه جائز دي . كه چيرته پدى ورځ د مازديګر لمونځ نه وي كړى نو په همدى حالت كى دى وكړي ، (اګر كه دومره وروسته كول مكروه تحريمي دي) خو قضاء كيدو ته دى نه پريدي ځكه چى د قضاء ګناه ډيره لويه ده[2] ، فقط والله اعلم .

صبح صادق او د لمر ختو تر منځ نفل لمونځ :

(۱۰٦ سوال) د صبح صادق نه تر لمر ختو پورى نفل كول صحيح دي ؟

---

[1] ـ وكره نفل قصداً ولو تحية مسجد .... بعد صلواة فجر وصلاة عصر ولو المجموعة بعرفة (درمختار على هامش شامى ج ۱ ص ۳۷۵) .

[2] ـ وكره تحريماً صلواة مطلقاً ولو قضاء او واجباً او نفلاً او على جنازة وسجدة تلاوة وسهو مع الشروق واستواء وغروب الاعصر يومه وينعقد نفل بشروع فيها .... وسجدة تلاوة وصلواة جنازة تليت الاية فى كامل و حضرت الجنازة لوجوبه كاملاً فلا يتادى ناقصاً . درمختار على هامش شامى ج ۱ ص ۳۷۰ ، ۳۷٤ .

حواب بدي صحیح ، پدی وخت کی نفل لمونځ مکروه او ممنوع دی . لمر ختو نه وروسته څو پوری چی لمر یو نیزه نه وي اوچت شوي نو په لمونځ تلوار مه کوئ پدی وخت کی دهیڅ یو اجازه نشته دی[1]

د سحر لمونځ چی قضاء شي نو اول فرض وکړي یا سنت ؟

(۱۰۷ سوال) د سحر جماعت چی پاتی شي نو اول سنت وکړي یا فرض وکړي او یا فقط فرض وکړي او سنت لمر ختو نه بعد وکړي ؟ که چیرته لمر ختو نه بعد د فرض قضاء راګرځوي نو سنت ورسره وکړي یا نه ؟ وضاحت وکړئ .

خواب که چیرته وخت لږ وي نو یواځی فرض وکړي د سنتو قضاء نه وي که چیرته غواړي نو د نفلو په طور لمر ختو نه وروسته وکړي کله چی د اشراق وخت شروع شي ، که چیرته د سحر لمونځ قضاء شوی وي او په هماغه ورځ د زوال نه وړاندی قضاء راګرځوي نو اول سنت وکړي او بیا فرض ، او که د زوال نه بعد قضاء راوړي نو یواځی فرض وکړي[2] . فقط والله اعلم .

د صبح صادق نه وروسته نفلونه کول :

(۱۰۸ سوال) څمونږ د جومات څینی لمونځ ګذاران د سحر د فرض او سنتو نه وړاندی تحیة المسجد او تحیة الوضوء کوي نو ددوی دا کار د شریعت له مخی څنګه دی ؟ د دوی په منع کولو کی څینی حضرات دا وائي چی مونږ خپل قضاء راګرځوو نو ایا د قضاء کولو اجازت شته ؟

خواب : په مذهب حنفي کی صبح صادق نه وروسته تر لمر ختو پوری د سحر د فرض او سنتو نه علاوه تحیة المسجد ، تحیة الوضوء وغیره نفل کول جائز ندي ، لهذا دغه خلک که چیرته قضاء لمونځ کول غواړي نو په کور کی دی وکړي جومات کی د خلکو په وړاندی دی نه کوي ، په درمختار کی دي : "وکذا الحکم من کراهة نفل و واجب

---

[1] _ تسعة اوقات یکره فیها النفل ومافی معناه لا الفرائض ..... ومنها ما بعد صلوٰة الفجر ، قبل طلوع الشمس . فتاوی عالمگیری الفصل الثالث فی بیان الاوقات التی لاتجوز فیها الصلوٰة ج ۱ ص ٥٤ .

[2] _ والسنن اذا فاتت عن وقتها لم یقضها الا رکعتی الفجر اذا فاتتا مع الفرض یقضیهما بعد طلوع الشمس الی وقت الزوال ثم یسقط هکذا فی المحیط السرخسی وهو الصحیح هکذا فی البحر الرائق ، فتاوی عالمگیری الباب التاسع فی النوافل ج ۱ ص ۱۱۲ .

لعینه (بعد طلوع الفجر سنته لشغل الوقت به تقدیرا الخ" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۳٤۹ کتاب الصلواة) فقط والله اعلم

د زوال نه څومره وخت وړاندې لمونځ بندول پکار دي؟

(۱۰۹ سوال) خمونږه کلي ته نزدې یو کلی دی د هغه جومات په بورډ (تخته) باندې لیکل شوي دي چې نصف النهار نه زوال پورې یعنې زوال نه (۳۰) منټ وړاندې هیڅ یو لمونځ نشي کیدلی دا د (۴۰) منټو خبره څومره پورې صحیح ده؟ همداراز د جمعې په ورځ هم نصف النهار نه زوال پورې هیڅ یو لمونځ نشي کیدلی. تاسو د دی لره وضاحت وکړئ چې څو منټو پورې لمونځ کول صحیح ندي، مهرباني.

ځواب: قلم او یا لرګی په ودرولو سره د زوال وخت معلومولی شي. د زوال د وخت نه اته. لس منټه مخکې لمونځ بند کړئ او اته، لس منټه پورې يې بند وساتئ. د وریځو په زمانه کې د زوال وخت معلومول مشکل وي، پدې وجه د جنتري (کلینډر) په حساب سره لس، دولس منټه مخکې لمونځ بند کړئ او لس، دولس منټه پورې يې بند وساتئ پدې کې احتیاط دی او دا قول چې د شرعي نصف النهار نه تر زوال پورې لمونځ ونه کړی شي دا په زیات احتیاط باندې بناء دی. په شامي کې دي: "وفی شرح النقاية للبرجندی قد وقع فی عبارا الفقهاء ان الوقت المكروه هو عند انتصاف النهار الى ان تزول الشمس ولايخفى ان زوال الشمس انما هو عقيب انتصاف النهار بلافصل وفى هذا القدر من الزمان لايمكن اداة صلاة فيه فلعل المراد انه لاتجوز الصلواة بحيث يقع منها فى هذا الزمان او المراد بالنهار هو النهار الشرعى وهو من اول طلوع الصبح الى غروب الشمس وعلى هذا يكون نصف النهار قبل الزوال بزمان يعتد به آه" (شامی ج ۱ ص ۳٤٤، ۳٤٥ کتاب الصلواة تحت قوله واستواء) والثانی (عند استوائها) وعلامته ان يمتنع الظل عن القصر ولا يأخذ فى الطول واذا صادف انه شرع فى ذلك الوقت بفرض قضاء او قبله وقارن هذا الجزء اللطيف شيئاً من الصلواة قبل القعود قدر التشهد فسدت"

(طحطاوی عی مراقی الفلاح ص ۱۰۷ فصل فی الاوقات المکروهة) فقــط والله اعلم ، ۵ ذی قعدة ۱٤۰۱ﻫ .

د سحر لمونځ نه وړاندی او د خطبی په وخت کی تحیة المسجد کول څنګه دي ؟

(۱۱۰ سوال) د سحر د سنت مؤکد او د جمعی وړمبني سنت چی کور کی ادا کړي او بیا جومات ته لاړ شي نو تحیة المسجد کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د صبح صادق نه وروسته یواځی د سحر دوه رکعته سنت مؤکد کولی شي د سحر د لمونځ نه وړاندی او وروسته نفل لمونځ مکروه دی ، په مراقی الفلاح کی دي "(ویکره التنفل بعد طلوع الفجر باکثر من سنته) قبل اداء الفرض لقوله صلی الله علیه وسلم لیبلغ شاهدکم غائبکم الا لاصلواة بعد الصبح الا رکعتین ولیکــون جمیع الوقت مشغولا بالفرض حکما ولذ تخفف قراءة سنة الفجر ویکره ا لتنفــل (بعد صلواته) ای فرض الصبح" (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۱۰۱ فصل فی الاوقات المکروهة) لهذا که چیرته د سحر سنت په کور کی کړی وي نو په جومات کی رسیدو سره ځانته تحیة المسجد نه کوي فرض لمونځ کول د دی قائمقام جوړیـږي ، په مراقی الفلاح کی دي : "سنن تحیة المسجد رکعتین یصلیها فی غیر وقــت مکــروه بینهما" (مراقی الفلاح) په طحطاوي علی مراقی الفلاح کـی دي : "(قوله فلذا خیره القدوری) ای لاختلاف الآثار خیره القدوری وکذا خیره محمد بن الحسن بین ان یصلی رکعتین او اربعاً کما فی الفتح" (طحطاوی علی مراقی الفلاح فصل فی تحیة المسجد وصلواة الضحی واحیاء اللیالی ص ۲۱۳) فقط والله اعلم .

(۱) د سحر لمونځ نه وروسته د سحر سنت كول :
(۲) دسحر نه مخكې او وروسته او همدارنګه مازديګر نه وروسته قضاء او نفل كول

(۱۱۱ سوال) يو سړى د سحر لمونځ لپاره جومات ته لاړ چې جماعت ودريدلى وه چې اودس نه فارغ شو نو امام صاحب په قعده كې ؤ هغه سړى امام سره شريک شو او د سنتو لپاره وخت پيدا نشو نو دجماعت نه وروسته د سحر سنت كولى شي يا نه ؟ كه د سحر نه وروسته نشي كولى نو لمر ختو نه وروسته كول څنګه دي ؟ همداراز د سحر او مازديګر نه وروسته د نفلونو او قضائي كولو حكم څه دى ؟ حواله او عبارت نقل كولو سره ځواب راكړئ نو ډيره مهرباني به مو وي .

ځواب : د سحر سنت د فرضو نه وروسته كول سخت مكروه دي ، په مراقي الفلاح كې دي : "ويكره التنفل (بعد صلواته) اى فرض الصبح (و) يكره التنفل (بعد الصلواة) فرض (العصر) وان لم تتغير الشمس لقوله عليه السلام لاصلواة بعد صلواة العصر حتى تغرب الشمس ولاصلواة بعد صلواة الفجر حتى تطلع الشمس" رواه الشيخان ، او په طحطاوي كې دي : "(قوله بعد صلواته) اى فرض الصبح ولو سنة سواة تركها بعذر او بدونه" (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۱۰۱ فصل فى الاوقات المكروهة) د دى عبارت خلاصه دا ده چې د سحر لمونځ نه وروسته نفل لمونځ مكروه دى اګر كه د سحر سنت وي او د مازديګر لمانځه نه وروسته هم نفل لمونځ مكروه دى اګر كه لمر تغير شوى نه وي ، په حديث كې دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي : د مازديګر لمانځه نه وروسته تر لمر پريوتو پورى هيڅ قسم لمونځ نشته او دسحر لمانځه نه وروسته تر لمر ختو پورى هم هيڅ لمونځ نشته ، (بخاري او مسلم ددى روايت كړيدى (مراقى الفلاح و طحطاوى) .

د لمر ختو نه وروسته تر زوال پورى د سحر د سنتو قضاء راوړل امام محمد رحمه الله په نزد افضل او بهتر دي ، او كه چيرته د سحر فرض او سنت دواړه قضاء شوى وي او په همدى ورځ د زوال نه مخكې قضاء راګرځوي نو دفرض او د سنت دواړه قضاء راوګرځوي او كه د زوال نه وروسته قضاء راوړي نو يواځې د فرضو قضاء به راوړي ، په

درمختار کې دي "(ولايقضيها الا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لابعده) في لاصح لورود الخبر بقضائها في الوقت المهمل بخلاف القياس فغيره عليه لايقاس" په شامي کې دي : "(قوله ولايقضيها الا بطريق التبعية الخ) اى لايقضي سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفجر فيقضيها تبعا لقضائه لو قبل الزوال واما اذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح ، واما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد رحمه الله احب الى ان يقضيها الى الزوال كما في الدرر قيل هذا قريب من الاتفاق لان قوله احب الى دليل على انه لو لم يفعل لا لوم عليه وقالا لايقضي وان قضى فلابأس به كذا في الخبازيه (قوله لو رود الخبر) وهو ماروى انه صلى الله عليه وسلم قضاها مع الفرض غداة ليلة التعريس بعد ارتفاع الشمس كما رواه مسلم في حديث طويل" (شامى ص ۲٤٦ ج ۱ باب ادراك الفريضة) (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۲٤٦ باب ادراك الفريضة) .

په ترمذي شريف کې د ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضى الله عنها نه روايت نقل دى : "ان النبى صلى الله عليه وسلم ما دخل عليها بعد العصر الا صلى ركعتين" .
ترجمه : يعنى د رسول الله صلى الله عليه وسلم هميشه دا معمول وُ چې کله به مازديګر نه وروسته کور ته تشريف راوړ نو دوه رکعته لمونځ به يې کولو (ترمذي شريف ج ۱ ص ۲۶ باب ما جاء في الصلوٰة بعد العصر) کيدى شي پدى حديث سره چاته دا اشکال پيدا شي چې پدې سره د مازديګر نه وروسته د نفل کولو جواز ثابتيږي او حال دا چې تاسو ورته مکروه وايئ ، د دې ځواب دا دى چې د ام المؤمنين پدى حديث باندى هغو حديثونو ته ترجيح ورکول کيږي چې کومو کې نهي راغلې ځکه چې هغه قولي حديثونه دي او دا فعلي حديث دى او قولي حديثونو لره په فعلي حديثونو باندى ترجيح وي ، او بل ځواب حضرت شيخ الهند رحمه الله ورکړيدى هغه دا : فالاولى ان يقال ان صلى الله عليه وسلم كان من خصوصياته الصلوٰة بعد العصر ولاتجوز

لغير من الناس والبداهة تدل على انه من خصوصياته صلى الله عليه وسلم لانها لو لم تكن من خصوصياته لما زجر عمر رضى الله عنه الناس على الصلواة بعد العصر وقد نقل عنه انه كان يضرب بالدرة على الصلواة بعد العصر"

يعنى غوره دا ده چى دا وويل شي مازديګر نه وروسته لمونځ كول د رسول الله صلى الله عليه وسلم سر خاص ؤ نورو خلكو (يعنى امت) لپاره جائز ندي او ظاهره هم همدا معلوميږي چى كه چيرته دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم خصوصيت نه واى نو عمر رضى الله عنه به مازديګر نه وروسته نفل كونكو باندى رد نه كولو او رټل به يى نه ، د عمر رضى الله عنه نه خو تر دى پورى نقل شوي چى مازديګر نه وروسته نفل كونكي به يى په دره باندى وهل (تقرير ترمذي ص ۹ مطبوعه كتب خانه رشيديه دهلي ، دا رساله ترمذي شريف سره چاپ شويده) .

قضاء لمونځ د فرائضو په حكم كى دى لهذا د سحر لمانځه نه وړاندى او وروسته او همدارنګه دمازديګر نه وروسته قضائي لمونځ كول جائزدي خو ليكن د خلكو په وړاندى به يى نه كوي ځكه چى دا پخپل ګناه باندى دخلكو خبرول دي او يا دوى لره په بدګمانى او غلط فهمى كى مبتلا كول دي ، په كبيرى شرح منيه كى دي :

"(واما الوقتان) الآخران من الخمسة (فانه يكره فيهما لتطوع) فقط (ولايكره فيهما الفرض) اى اللازم عملاً . الى قوله . يعنى الفوائت وصلواة الجنازة وسجدة التلاوة...... (هما) اى الوقتان المذكوران (مابعد طلوع الفجر الى ان ترتفع الشمس) فانه يكره فى هذا الوقت فانه يكره فى هذا الوقت النوافل كلها (الاسنة الفجر) لما روى مسلم عن حفصة قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا طلع الفجر لايصلى الا ركعتين خفيفتين وفى ابى داؤد والترمذى واللفظ عن ابن عمر رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم "لاصلواة بعد الفجر الا سجدتين" (وما بعد صلواة العصر الى غروب الشمس الخ)" (كبيرى شرح منية ص ۲۳۸ ، الشط الخامس) .

په الاختيار لتعليل المختار کی دي : "ويجوز ان يصلى فى هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة ولايصلى ركعتى الطواف ، لان النهى لمعنى فى غيره وهو شغل جميع الوقت بالفرض ، اذ ثواب الفرض اعظم فلا يظهر النهى فى حق فرض مثله وظهر فى ركعتى الطواف لانه دونه" (الاختيار المختار اوقات الصلوٰة ج ۱ ص ۴۱ ، هدايه اولين ص ۷۰ ، (درمختار مع رد المختار ج ۱ ص ۳۴۹۰) فقط والله اعلم .

دلمر په راختو او پريوتو وخت کی د قرآن مجيد د تلاوت حکم:

(۱۱۲ سوال) څمونږه امام صاحب وائي : لکه څنګه چی د لمر پر ختو او پريوتو وخت کی لمونځ منع دی دغسی د قرآن مجيد تلاوت کول هم منع دي ايا دا خبره صحيح ده ؟

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً ! د لمر ختو او پريوتو او استواء په وخت کی د قرآن کريم تلاوت مکروه او ممنوع ندی يعنی بلاکراهت جائز دی البته پدی مکروه وختو کی دقرآن شريف د تلاوت په ځای درود شريف ، تسبيح وغيره د الله تعالی ذکر کی مشغوليدل افضل او بهتر دي ، "الصلوٰة على النبى صلى الله عليه وسلم فيها افضل من قرأة القرآن وكانه لانها من اركان الصلوٰة فالاولى ترك ما كان ركناها (درمختار) (قوله فالاولى) اى فالافضل ليوافق كلام البغية فان مفاده انه لاكراهة اصلاً وان ترك الفاضل لاكراهة فيه" .

(شامی ج ۱ ص ۳۴۷ كتاب الصلوٰة) فقط والله اعلم .

کتاب الاذان والاقامـــة

مؤذن څنګه سړی پکار دی ؟

۱۱۳ سوال) جاهل ، بونډی ګیره او فاسق سړی مؤذن جوړولو کی څه حرج شته ؟

ځواب : " فتاوی عالمګیري " کـی دي : "وینبغی ان یکونا لمؤذن رجلا عاقلا صـــالحاً تقیاً عالماً بالسنة" یعنی مؤذن باید عاقل (هوښیار) نیک ، پرهیـز ګـار او د سـنتو بانـدی عالِم سړی وي ، او بیا وړاندی فرمائي : "ویکره اذان الفاسق" یعنی د فاسق سړي اذان مکروه دی (ج ۱ ص ۵۳ الباب الثانی فی الاذان الفصل فی صفة المؤذن) .

لهذا جاهل ، بونډی ګیره او فاسق فاجر سړی باید مؤذن جوړ نکړی شـي ، د لمـونځ او روژی دارومدار په آذان دی لهذا مؤذن داسی ځوک پکـار دی چـی د لمانځـه وختونـه وپیژني او عام طور سره آذان لپاره لوړ ځای ته تلل پکار دي او له هغه ځایه ځینی پـرده داری ښځی هم ښکاري لهذا ضروري ده چی مؤذن محتاط ، متدین او پرهیزګـار سـړی وي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "لیؤذن لکم خیـــارکم" یعنـی پـه تاسو کی بهترین سړی دی آذان کـوي (ابوداؤد شریف ج ۱ ص ۹٤ باب من احق بالامامة عن ابن عباس رضی الله عنه) .

(۱۱۴ سوال) (۱) د جومات مؤذن څنګه پکار دی ؟

(۱۱۵ سوال) (۲) په یو جومات کی له ډیر پخوا نه یو مؤذن دی مګر ځینی عادتونه یی د شریعت خلاف دي هغه قمار باز (جوار ګر) دی ، شراب جوړوي او کلـه کلـه سـینما تـه ځي فلم ګوري نو دداسی سړي مؤذن جوړول صحیح دي یا نه ؟ دی باره کـی شـرعي حکم څه دی ؟

(۱۱٦ سوال) (۳) که دویم نمبر ښودلي شوي شیان د جومات متولي ته هـم معلـوم وي او بیا هم دغه مؤذن لري نکړي نو دی باره کی شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : (۱) د جوماتو مؤذن، تعليم والا، لمونځ او آذان متعلق مسئلو نه واقف، ديندار، متقي او اوچت آواز واله سړى پکار دى[1]

(۲) دغه ذکر شوي صفتونو والا سړى فاسق دى او د فاسق مؤذن جوړول منع دي "ويکره اذان الفاسق" يعنى د فاسق اذان مکروه دى (فتاوى عالمګيري ج ۱ ص ۳۵ الباب الثانى الفصل الاول فى صفة المؤذن).

(۳) دغه مؤذن که په صداقت سره توبه وباسي او خراب عادتونه په پريښودو سره لمونځ ګذارانو ته اطمئنان ورکړي نو ډير ښه او که نه لرى کول يې ضروري دي که نه متولي به ګنهګار وي، فقط والله اعلم.

په جومات کې موجود خلکو باندى د آذان ځواب ولې واجب ندى ؟

(۱۱۷ سوال) د اذان او اقامت ځواب په آوريدونکي باندى واجب دى مګر کوم سړى چې جومات کې حاضر وي په ده باندى د اذان ځواب ورکول واجب ندي د دى څه وجه ده ؟

ځواب : د اذان او اقامت ځواب مستحب دى او ځينى علماء داذان ځواب ته واجب وائي، مګر زيات معتمد همدا دى چې فعلي اجابت (يعنى اذان په اوريدو سره جومات ته تلل) واجب دي او قولي اجابت (په خوله ځواب ورکول) مستحب دي، اوجومات کې حاضرو خلکو لره يو صورت دى چې په خوله ځواب ورکړي او دا مستحب دي، فقط والله اعلم.

(۱۱۸ سوال) کور کې چې يواځې لمونځ کوي نو اقامت وکړي يا نه ؟

ځواب : کور کې يواځې لمونځ کونکي لپاره د محلې اقامت کافي دى او که وکړي نو بهتر دى[2]، البته ښځو لپاره اقامت مکروه دى (ص ٦١ باب الاذان) فقط والله اعلم.

---

[1]ـ يستحب ان يكون المؤذن صالحاً اى متقيا، اميناً فى الدين عالماً بالسنة فى الآذان وعالماً بدخول اوقات الصلواة لتصحيح العبادة، باب الآذان مراقى الفلاح على هامش طحطاوى ص ١٠٦.

[2]ـ ولايكره تركهما لم يصلى فى المصر اذا وجد فى المحلة ولا فرق بين الواحد والجماعة، فتاوى عالمگيرى الباب الثانى الفصل الاول فى صفة المؤذن.

ایا دویم سړی اقامت (تکبیر) کولی شي ؟

ما بوه استفتا ، او د هغه خواب ولید چې په لاندی ډول دی ، مهرباني وکړئ پدی باره کی خپله فیصله وکړئ

(۱۱۹ سوال) یواخی د ماښام اذان او اقامت بـه خـوک کـوي ؟ د دی خـواب دا دی چی خوک اذان وکړي هغه به اقامت هم کوي ، اوس خبـره دا ده چـی د ماښـام اذان موذن صاحب بره چت باندی کوي بیا هغه لا لاندی نه وي کوز شـوی چـی دلتـه بـل کس تکبیر یعنی اقامت وائي او هره ورخ داسی کیږي دا کار شرعاً صحیح دی او که نـه؟ پورتنی ذکر شوی فتوی له مخی د مغرب اقامت به هغه خوک کوي چی چـا اذان کـړی وي ، پدی بنا ما له موذن صاحب نه احتراماً هیله وکړ چی ته پخپله راځه او اقاست کـوه خو مګر هغه نه مني او ضد کوي او وائي چی ته دی جومات ته مه راځه ما ورتـه وویـل ولی؟ ویل یی چی دا می د پلار جومات دی ، دغسی وینا ښکه ده ؟ موذن صاحب کلـه هم اقامت نه کوي دوی ته دا هم ویل شوي چی بل کس پریده چی اذان وکړي لدینه هم انکار کوي ، دغه موذن صاحب په لوډ سپیکر بانـدی پـه زوره اذان کـوي او حـرف مده وي او یا غیر مده ، اته لس منته پوری په زوره اوړدوي د ده آواز د نورو جوماتونو د لمانځه تر ختمیدو پوری اوریدل کیږي چی پدی سره د امامانو قرائت هـم نـه اوریـدل کیږي دغسی اوږد آذان کول ښکه دي ؟

خواب : بیشکه افضل همدا دي چی خوک اذان وکړي نو هغه بـه اقامـت هـم کـوي د اقامت حق د موذن دی البته د موذن په غیر موجودګی او یا د ده په اجـازت سـره بـل کس اقامت وکړي نـو بغیر د حـرج او بلاکراهـت جـائز دي او پـدیکی د ماښـام کـوم خصوصیت نشته ، په حدیث شریف کی دي ، رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم د صداء دقبیلی یو تن چی زیاد بن حارث نومیده د سحر وخت اذان کولـو حکم ورتـه وکـړ او حضرت زیاد اذان وکړ او کله چی اقامـت وخـت شـو حضرت بـلال رضـی الله عنـه د اقامت کولو اراده وکړه ، رسول الله صلی الله علیه وسـلم وفرمایـل : صـدائي (حضـرت زیاد رضی الله عنه) اذان کړی ، خوک چی اذان وکـړي هماغـه بـه اقامـت هـم کـوي (ترمذی شریف ج ۱ ص ۲۸ باب ما جاء ان من اذن فهو یقیم) لـدی حـدیث نـه معلومیږي چی اذان کونکی د اقامت حقدار هم دی لیکن دغـه حـق لازمـي دی او یـا استحبابي او اختیاري ، ددی وضاحت له نورو حدیثو نه کیږي ، مـثلاً یـو روایـت دی د

رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم سره حضرت بلال رضی الله عنه اذان وکړ حضرت عبد الله ابن زید رضی الله عنه اقامت وکړ (شرح معنی الآثار ج ۱ ص ۰، باب الرجلین یؤذن احدهما ویقیم الاخر).

او په بل روایت کی دي: ډیر ځلی داسی شویدي چی حضرت عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه اذان کړی دی او حضرت بلال رضی الله عنه اقامت کړیدی یا حضرت بلال رضی الله عنه اذان کړی او عبدالله بن ام مکتوم اقامت کړی دی (مرقاة شرح مشکواة ص ۴۱۹ باب الآذان) پدی وجه د حنفي علماؤ او فقهاؤ اجماع ده چی که مؤذن د بل کس په اقامت باندی خفه نه وي نو بلاکراهت جواز لري په فتاوی عالمگیري کی دي: بهتره دا ده چی څوک اذان وکړي هغه به امامت هم کوي. او کله چی یو کس اذان کړی وي او اقامت بل څوک وکړي که مؤذن حاضر نه وي نو بلاکراهت جائز دي او که حاضر وُ او د بل په اقامت باندی خفه کیږي هم نو مکروه دي او که راضي وُ نو څمونږ په نزد مکروه ندي (فتاوی عالمگیري ج۱ ص ۵۴، الباب الثانی الفصل الاول فی صفة المؤذن واحوال المؤذن).

البته بلاعذره دا معمول جوړول ندي پکار، د ماښام وخت تنګ وي د دې د آذان او اقامت تر منځ صرف دومره فاصله پکار ده چی څومره وخت کی دری واړه آیتونه او یا اوږد آیت لوستل کیږي (نور الایضاح وغیره) باقي د کوم په باره کی چی تا تپوس کړیدی د معتبرو ذریعو نه معلوم شوي چی مؤذن صاحب فی سبیل الله اذان کوي تنخواه نه اخلي داوچت او خوش آوازی باوجود آذان ډیر ښه کوي مګر بدن یی لږ دروند دی او پښو باندی معذوره دی چی پدی وجه چت نه زر لاندی نشي رسیدلی نو پدی غرض ماښام کی بل کس ته د اقامت کولو اجازت کړیدی چی اقامت کی تاخیر ونشي که حقیقت همدا وي نو ورسره جګړه کول غلط کار دی، په مؤذن باندی لازم ګرځول چی اقامت به هم ته کوی دا یو قسم زیاتي دی د هغه عذر هم منل پکار دي که عذر نه هم وي بیا هم په اذان او اقامت او لمانځه کی څه کراهت نه راځي نو بیا دجګړی او د سختیی څه ضرورت دی؟ تاسو باندی صرف د مسئلي بیانول دي او زوره ورباندی منل او عملي کول ستاسو په ذمه باندی ندي او خاص طور چی د فتنی خطره وي نو بیا چوبتیا بهتره ده که مؤذن دا ویلي وي جومات ته مه راځه دا می د پلار

جومات دی نو خو یی غلطي کړیده پکار ده چی معذرت او معافي وغواړي او الله تعالی ته توبه وکړي . لیکن مؤذن صاحب ستاسو په باره کی لیکلي دي چی لوډ سپیکر باندی اذان کیږي هغه پدی خفه کیږي او شور جوړ کړی یو طوفان او فتنه جوړوي او په غصی سره ماته وایي چی اذان دی وکړ نو اقامت هم کوه ، ما ورته وویل چی زه اقامت نه کوم نو ما ته یی وویل ولی ستا د پلار جومات دی ؟ داسی سوال یی وکړ ما هم په غصه کی ځواب ورکړ چی آو ځما دپلار جومات دی ، بس دومره خبری اتری شویدي . که دا خبره رشتیا وي نو تا هم غلطي کړیده ، تا ته هم معافي غوښتل پکار دي او توبه کول هم ،په حدیث شریف کی راځي چی ددوه کسانو کنځل کونکو کی ګناه په هغه چا ده چی کوم یو اول شروع کړی وي پدی شرط چی دویم ورنه زیاتي ونکړي (ترمذي شریف ج ۲ ص ۱۹ ابواب البر والصلة باب ما جاء فی الشتم) او په بل حدیث کی راځي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : مور پلار ته کنځل کول کبیره ګناه ده ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ یارسول الله ! ایا څوک خپل مور پلار ته هم کنځل کوي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : یو سړی د بل چا مور پلار ته کنځل کوي چی دی یی سبب جوړ شو (ترمذی شریف ج ۲ ص ۱۲ ابواب البر والصلة باب ما جاء فی عقوق الوالدین) همدغه شان پدی مسئله کی د بدرد او کنځلو سبب تاسو یئ لهذا تاسو ته معافي غوښتل پکار دي او هم توبه کول زمانه ډیره نازکه ده په معمولي خبرو باندی جنګ جګړی ښه نده ، الله تعالی دی تاسو کی اتفاق او اتحاد پیدا کړي او یو بل لره د خوار او ذلیله کولو نازیبا حرکت نه د منع کیدو توفیق نصیب کړي ، آمین ، د لوډ سپیکر په اذان چی جوماتو کی لمونځ ګذارانو ته څه تکلیف وي نو د هغوی متولي او امام دی سره کیني او مسئله حل و فصل کړي ، په فتوی بازي سره مسئله نوره هم اوږدیږي ، فقط والله اعلم .

د ماښام د آذان او اقامت تر منځ وقفه شته یا نه ؟

(۱۲۰ سوال) مؤذن د ماښام اذان په چت باندی کوي او بیا فوراً راکوزیږي او اقامت شروع کوي پدیکی څه حرج شته ؟ د آذان او اقامت تر منځ وقفه کولو حکم شته ؟

ځواب : د ماښام اذان نه وروسته دومره وقفه پکار ده لکه څومره وخت کی چی دری لنډ آیتونه ولوستل شي (لکه چی د دو خطبو ترمنځ وقفه کوي) د چت نه راکوزیدو کی دومره وخت لګي لهذا هیڅ پروا نشته ، لږ وقفه کولو سره اقامت وشي نو بهتر دی

"وفي المغرب سكتة قدر قرأة ثلث آيات قصار او ثلث خطوة" يعنى د ماښام اذان او اقامت تر منځ دومره وقفه ده چې درې واړه آيتونه ولوستل شي او يا درې قدم د شي (نور الايضاح ص ٦٢ كتاب الصلواة باب الاذان) والله اعلم .

اقامت په وخت کې لاسونه تړل ثابت ندي :

(۱۲۱ سوال) پدې مسئله کې د دين عالمان څه فرمائي : کله چې اقامت کيږي نو ځينې لمونځ ګذاران لاسونه وتړي او ودريږي او دا ورته ښه کار ښکاري او په همدې حالت کې تکبير تحريمه وائي او لاسونه تړي نو پداسې حالت کې د جماعت په صف کې ودريدل سنت دي يا مستحب ؟ که دا سنت او مستحب نه وي نو پدې باندې عمل نه کونکو ته جاهل او بې وقوف ويل څنګه دي ؟ او مستحب او مستحسن طريقه کومه ده ؟

ځواب : د لمونځ شروع کيدو نه وړاندې د قيام په حالت کې چې صفونه برابرولی شي پدې وخت کې لاسونه تړل نه سنت دي او نه مستحب ، لهذا پدې وخت کې لاسونه تړل سنت ګڼل او نه تړونکو ته جاهل او بې وقوف ويل غلط دي ، والله اعلم .

د وخت نه مخکې د اذان او د وخت نه وروسته د لمونځ کولو حکم

(۱۲۲ سوال) چې د وخت نه مخکې آذان وکړی شي او بيا په وخت کې دننه لمونځ وکړی شي نو د آذان او د لمونځ څه حکم دی ؟

ځواب : لمونځ چې پخپل وخت کې کړی شوی دی نو دا صحيح دي د راګرځولو ضرورت نشته ، صرف دومره فرق دی چې بغير د اذان نه لمونځ وشو نو پدې سره د لمونځ په صحت کې څه فرق نه پريوځي البته د وخت نه مخکې اذان کول درست ندي د وخت په داخليدو بايد دوباره وکړی شي ،اذان سنت مؤکد او د دين شعار دی او د دی پريښودل جائز ندي (ص ٦١ ج ٢) او " فتح القدير " کې دي : "لان الاذان من اعلام الدين" يعنى اذان د دين علامت دی (ج ٢ ص ٩٣ باب الاذان تحت قوله الاذان سنة) فقط والله اعلم .

که ږیر خریيلی اذان او اقامت وکړي څه حکم لري ؟

(۱۲۳ سوال) ګیر خریيلی اذان او اقامت کولی شي یا نه ؟

ځواب ګیر خریيلی ښکاره فاسق دی ، په " مالا بد منه " کی دي " تراشیدن ریش پیش از قبضه حرام است " یعنی مخکی لدی چی ګیره یوه موټي پوره شي ګیره خریيل حرام دي (ص ۱۳۰) د دیندار سړي په موجودګی کی د فاسق اذان او اقامت مکروه دی ، په نور الایضاح کی دي : "ویکره اقامة الفاسق واذانه" یعنی د فاسق اذان او اقامت مکروه دی (ص ٦٢ کتاب الصلواة باب الاذان) لهذا ګیر خریيلي ته د اذان او اقامت کولو عهده او منصب ورکول جایز ندي بلکی مکروه تحریمي دی ، په "جوهرة نیره" کی دي : "ویکره ان یکون المؤذن فاسقاً" یعنی د فاسق مؤذن جوړول مکروه دي (ج ۱ ص ۴۴ باب الآذان) والله اعلم .

یو مؤذن په دوه جوماتو کی اذان کولی شي ؟

(۱۲۴ سوال) ځمونږ پدی علاقه کی دوه جوماتونه دي او بیل بیل مؤذن لري مګر کله د یو جومات مؤذن پنځلس (۱۵) ورځې په رخصتي (چوټي) وي نو دویم مؤذن اول خپل جومات کی اذان وکړي بیا په دویم جومات کی هم اذان کوي ، ځینی خلک وربانډی اعتراض کوي ایا د هغوی اعتراض صحیح دی ؟

ځواب : یو مؤذن چی په دوه جوماتو کی آذان کوي نو مکروه دي لهذا د دویم سړي انتظام کول پکار دي ، "ویکره ان یؤذن فی مسجدین لانه یکون داعیـــاً الی مـــا لا یفعل" (غنیة المصلی ج ۱ ص ۳٦۱ باب الآذان) فقط والله اعلم بالصواب .

د جومات دترمیم په وخت کی اذان کوم ځای کی وکړی شي؟

(۱۲۵ سوال) ځمونږ په محله کی یو جومات دی اوچت یی غورځول شویدی پدی کی اذان او لمونځ نه کیږي دغه جومات په لوی لوی سیلاب په وخت کی هم نه بندیدو اوس یواځی د چت په ماتولو سره امام صاحب اذان او اقامت منع کوي . جومات ته نزدی دومره ځای شته چی لمونځ پکی وشي ، په ۱۷ اپریل ۱۹۷۱ء نیټه باندی د ماسخوتن لمانځه نه وروسته امام صاحب اعلان کړی وُ چی صبا نه به دلته نه

جمعې او نه نور لمونځونه کيږي او جومات کې بوري (تخته) يې هم لګولې دی. نو تاسو پدی باره کې لږ وضاحت وکړئ.

ځواب پدی مسئله کې جومات ته نزدی لمانځه لپاره ځای وي نو هلته دی جماعت سره لمونځ وکړی شي او آذان دی هم خپل وخت باندی وکړی شي ترڅو معذور (څوک چې جومات ته نه شي راتلی لکه مریض او ښځې) په خپل کور کې اذان آوریدو سره لمونځ وکړئ او چې څوک معذور نه وي هغه جماعت سره لمونځ وکړي البته که دجمعې لمانځه لپاره ځای کافي نه وي نو دادی بل جومات کې وکړې شي فقط والله اعلم.

په کور کی ځانله لمونځ کونکی اقامت وکړي يانه؟

۱۲۶ـ سوال : په کور کې ځانله لمونځ کونکی اقامت وکړي او یانه ؟ وضاحت وکړئ.

ځواب: په کور کې ځانله لمونځ کوونکی لپاره دمحلي اقامت کافي دی لیکن کول یې بهتر دي ، خو ښځو لپاره اقامت کول مکروه دی، په "نـور الايضـاح" کـې دي "وكره للنساء"یعنی ښځو لپاره اقامت مکروه دی ، (باب الاذان ص۶۱) فقط والله اعلم.

دوباره لمونځ کولولپاره اقامت وکړی شي يانه ؟

۱۲۷ـ سوال : دماسختون لمانځه کې دامام دسلام ګرځولو نه وروسته پته ولګیده چې د رې رکعته شویدي یو رکعت پاتې دی نو اوس دوباره لمونځ کولـو لپـاره اقامـت وکړی شي یا نه ؟

ځواب: پدی مسئله کې چې فوراً لمونځ شروع شـي نـو داقامـت ضرورت نشته اولنې اقامت ورته کافي دی اوکه څه وخت پکې تیر شو نو بیا دی دوبـاره اقامـت وکـړي، پـه "شامي" کـې دي : لان تكرارها غير مشروع اذالم يقطعها قاطع من كلام كـثير او عمل كثير، (۱/ ۳۷۲ کتاب الصلواة باب الآذان) والله اعلم.

داذان په وخت کې اودس کول څنګه دی؟

۱۲۸ـ سوال کله چې اذان شروع وي پدی دوران کې اودس کول څنګه دی ؟ خینې خلک وايي چې چپ کینه چې آذان وشي بیا اودس کوه او همداراز چې دقران پاک تلاوت کوي او آذان واوري نو دتلاوت بندول او دآذان اوریدل ضروري دي یاتلاوت جاري ساتل ؟

(۲) امام سره لمونځ کولو په دوران کې چې دمقتدي نه څه غلطي وشي نو ایا دامام سلام ګرځولو په وخت کې مقتدي لپاره سجده کول ضروري دي یانه ؟

ځواب : که وخت وي نو اول دآذان جواب ورکړی اوبیا دی اودس کې لګیاشئ او که حبرته وخت نه وي نو بیا دآذان په دوران کې اودس کولوکې څه پرواه نشته ، که په کور کې تلاوت کوي نو مستحب دادی چې آذان آوریدو سره تلاوت بند کړی، او چې جومات کې تلاوت کوی نوبیا اختیار لرې که تلاوت بندوی او که یې جاري ساتی .[1]

(۲) پدی صورت کې مقتدي به سجده سهوه نه کوي .[2] البته که چیرته مسبوق مقتدي (پاتی شوی لمونځ په پوره کولو کې) څه غلطي وکړي چې سجده سهوه پرې واجب نو بیا سجده سهوه لازم دی ، فقط والله اعلم .

په کور کې لمونځ کونکی اقامت وکړي یانه؟

۱۲۹ـ سوال : په کور کې چې څوک لمونځ کوي نو اقامت وکړي او که نه ؟

ځواب: په کور کې لمونځ کونکي لپاره دجومات اذان او اقامت کافي دی ، خو اقامت کول بهتر دي . قال (فان صلی رجل فی بیته فاکتفی باذان الناس واقامتهم اجزاه) لماروی ان ابن مسعود رضی‌الله عنه صلی بعلقمة والأسود فی بیت فقیل له الا تؤذن فقال اذان الحی یکفینا بخلاف المسافر فانه یکره له ترکهما وان کان وحده

---

[1] ـ ولا ینبغی ان یتکلم السامع فی خلال الاذان والاقامة ولایشتغل بقرأة القران ـ ولا بشئ من الأعمال سوی الاجابة ولوکانه فی القرأة ینبغی ان یقطع ویشتغل بالاستماع والاجابة کذا فی البدائع . (عالمگیري الفصل الثاني فی کلمات الاذان والاقامة وکیفیتها ۱/ ۵۷).

[2] ـ سهو المؤتم لایوجب السجدة ،(فتاوی عالمگیري الباب الثاني عشر فی سجدة السهو ۲/ ۱۲۸ .)

لان المكان الذى هو فيه لم يوذن فيه لتلك الصلواة فاما هذا الموضع الذى فيه المقيم وقد اذن واقيم فيه .... لهذه الصلواة فله ان يتركها قال (وان اذن واقـام فهـو حسن) لان المنفرد مندوب الى أن يؤدى الصلواة على هيئة الصلواة بالجماعة ولهذا كان الافضل ان يجهر بالقراءة فى صلواة الجهر وكذلك ان اقام ولم يـوذن فهـو حسن لان الاذان لاعلام الناس حتى يجتمعوا وذلك غير موجود ههنـا والاقامـة لاقامة الصلواة وهو يقيمها .(مبسوط سرخسى ۱/ ۱۳۲) فقط باب الاذان .

موذن خنګه سړی پکار دی ؟

۱۳۰ـ سوال : موذن خنګه سړی پکار دی داسې سړی چـې دشـريعت پابنـد نـه وي ، صحيح تلفظ نشي کولې داسې سړی موذن جوړيدلې شـي او کـه نـه ؟ وضـاحت وکـړئ مهرباني.

خواب: موذن ديندار او نيک صالح شخص پکار دی او کوم سړی چې دشريعت پابند نـه وي فاسق وي دهغه موذن جوړول درست نه دی ، دالله تعالى دکور موذن بايد دينـدار ، تعليم يافته ددينې احکامو ، خاص طـور داذان او دلمانځـه دمسئلو او وختـو ، دصبح صادق او كاذب ، زوال ، اصلي سورى ، يو مثل ، مثلين ، شفق ابيض وغـيره بانـدى پـوه وي ، او چت او خوش آواز او صحيح اداکونکی پکار دی ، په حديث شريف کی دي : "ليؤذن لكم خياركم "يعنى په تاسو کی نيک او صـالح سـړی دی آذان کـوي ، (ابـو داود ۱/ ۹٤ باب من احق بالإمامة عن ابن عباس) او په فتاوى عالګيري کې دي : (وينبغى ان يكون المؤذن رجلاً عاقلا صالحاً تقياً عالما بالسنة) يعنى موذن هوښيـار ، نيک متقي او دسنتو نه واق سړی پکـار دی ، (۱/ ٥٣ الباب الثاني فى الاذان الفصل الاول فى صفته واحوال الموذن) اوپه کبيري کی دي : وافاد هذا ان الاولى ان يتولى العلماء الاذان لانه من باب الجماعة و الدعاء اليها فلا يفوض الى غير هم علـى

مامو وفی الخلاصة عن واقعات الاوز جندی ، المؤذن آه ان لم یکن عالما بالاوقات لایستحق ثواب الموذنین انتهی . (۳۹۲ باب الاذان ، نو رالایضاح ص۴۵ ایضا.)
زمونږ پدی زمانه کی په اذان کوونکی دغه صفات نشته . کم نه کم تنخوا والا موذن کتلی شي ، اگر که اذان صحیح نشي کولې داذان کلمې څه اوږده او څه لنډولو سره داذان هم روح بالکل ختم کړي چی اعاده کول یي ضروري شي مثلاً داشهد په ځای ارشد ، او حی علی الصلواه په ځای حی للصلواه او حـی علـی الفـلاح پـه ځـای حـی للفلاح او دالله په ځای آلله اوداکبر په ځای آکبر او آکبار اودح په ځای هـ ویـل کیـږي اوداسې نور هم ډیرې غلطی کوي، امام وغیره پوهیدونکې حضرت هم اصلاح نه کـوي ، پـه امامـانو دی ددی لویـه ذمـه واري ده ، اذان یـواځی داعـلان نـوم نـدی بلکـی داعبادت هم دی اویو اهم اسلامي شعار هم دابايد په ډير ښه شان سره اداکـړی شـي چی داسلام شان معلوم شي ، اوریدونکی پرې متاثر شي او توجه وکړي او ددی برکتونه ظاهر شي "ان الاذان شعار الاسلام"(فتح الباری۱/ ۶۱ کتاب الاذان) او پـه فـتح القدر کی دي : "لان الاذان عن اعلام الدین ، بــاب الاذان تحــت قولــه الاذان سنة۲/ ۹۳" اذان ددین له علائمو څخه ده الله تعالی دی متولیانو ته توفیـق ورکـړي چی ددی اهمیت وپیژني ، فقط والله اعلم .

په ولاړه ولاړه داقامت انتظار کول

۱۳۰_ سوال : لمونځ گذاران چی جومات تـه راشـي کینـي نـه بلکـې پـه ولاړه ولاړه داقامت انتظار کوي اویوبل سره خبرې بند کړي ددی څه حکم دی ؟

خواب: جومات دالله تعالي دربـار دی ددنیـا بادشـاهانو دربـار دالله تعـالی ددربـار پـه وړاندی هیڅ حقیقت نه لري ، دالله تعالی مقرب بنده گان چی څنگه جومات کـی قـدم کیږدي نو ویریږي اوگبراویږي لیکن اوس داحال دی چی جومات باندی دبـازار خیـال کوي په ولاړه ولاړه داقامت انتظار کوي او گپ شپ لگوي دثواب او دملایکو ددعاگانو په ځای گناه او بددعایي اخلي، په حدیث کی دي ملایکې چی جومات کـی خلـک پـه خبرو ووینـي نو وایي ، اسکت یاولی الله ای دالله ولي چوپ شه ، کـه بیـا هـم خبـرې

جاري وساتي نو بیاوایي، "اسکت لعنة الله علیك"په تاسو دی دالله لعنت وي چپ شه . (کتاب الانتظار قائماً ولکن یقعد ثم یقوم اذا بلغ المؤذن قوله حی علی الفلاح) یعنی که داقاست په وخت کی ځوک جومات ته راشي نو په ولاړه بانـدی داقامت او دامام انتظار کول مکروه دی که امام دمحراب په خواکی وي نودجی علی الفلاح په وخت ؟ ودریدل متسحب دی او که دمحراب نه لرې وي او دصفونو له شانه مصلی ته روان وي نو چی دکوم صف خواته ورسیږي په هغه دی ودریږي او که امام مخکی طرف نه راځي نو چی امام ووینی بیا به ودریږي ، او امام شاته په پرینبودو سره ودریدل غلطه طریقه ده ، (۱/ ۳۵، الباب الثاني فی الاذان الفصل الثانی فی کلمات الاذان والاقامة وکیفیتها) (شامي ۱/ ٤٤٧) .

لنډه داچی کله جومات ته راشي نو که چېرته مکروه وخت نه وي نو تحیة المسجد او تحیة الوضوء وکړي او که دسنتو وخت وي سنت وکړي او دجماعت په انتظار کی دی کیني او دالله ذکر دی کوي چی پدی سره په لمانځه کی خشوع او خضوع هم نصیب کیږي او که نه دنیاوي فکرونه او سوچونو کی به اخته وي ، لکه یو شاعر چی وایي:

هاتھ باندھے کھڑے ھین صف پر
سب اپنے اپنے خیال مین ھین
امام مسجدسے کوئی پوچھے
نماز کس کوپڑھارھاھے

یعنی لاس تړلی په صف کی ولاړ دی خو ټول پخپل پخپل خیال او فکر کی دي ، دجومات امام نه څوک تپوس وکړي چی لمونځ چاته ورکوي. فقط والله اعلم.

دتلاوت په دوران کی چی آذان شروع شي څه حکم لري؟

۱۳۲ـ سوال : دقران کریم تلاوت شروع وي او پدی دوران کی اذان شروع شي نو خپل تلاوت جاري وساتي او که دآذان خواب ورکړئ ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

خواب که په جومات کی وي نو دتلاوت جاري ساتلو اجازت شته اوکه په کور کی وي نو تلاوت به بندوي او دآذان ځواب به ورکوي ، البته که دبلی محلې دجومات آذان وي نو بیا په کور کی هم دتلاوت جاري ساتلو کی څه پروانشته ، (واذاسمع المسنون منه) ای الاذان وهو مالالحن فیه ولا تلحین (امسك) حتی عن التلاوة لیجیب المؤذن ولو فی المسجد وهولاء فضل وفی الفوائدیمضی علی قرآءته ان کان فی المسجد وان کان فی بیته فکذلك ان لم یکن اذان مسجده(قوله ان لم یکن اذان مسجده) ای فتندب اجابته (طحطاوي علی مراقي الفلاح ص۱۱٦، ۱۱۷، باب الاذان) ذکراوتسبیح په هرحال کی باید بند کړی شي او دآذان ځواب ورکړی شي په جومات کی وي او که په کور کی وي ، فقط والله اعلم .

که په څو جوماتوکی اذان کیږي نو دکوم یو جواب ورکړي؟

۱۳۳ـ سوال : زمونږ په راندیر کی متعدد جوماتونه دي یوبل پسې آذان کوي نو دکوم یو آذان جواب ورکړی شي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: داول اذان ځواب ورکول ضروري دي اودنورو ځواب ورکول افضل دی که دمحلی جومات وي او که دنورو. واذا تعدد الاذان یجیب الاول . (مراقي الفلاح ص۳۹ باب الاذان) مطلقا سواء کان اوان مسجده ام لا لانه حیث سمع الاذان فندبت له الاجابة ثم لایتکرر علیه فی الاصح ذکره الشهاب فی شرح الشفاء وطحطاوي علی مراقي الفلاح ص۱۱۷ باب الاذان) فقط والله اعلم .

اقامت نه مخکې درود شریف لوستل

۱۳۴ـ سوال اقامت نه مخکې درود شریف لوستل په حدیث سره ثابت دی یانه ؟

ځواب: اقامت نه وړاندی په پټه درود شریف لوستلو اجازت شته ، په شامي کی ورته مستحب لیکلي دی ، البته په جهر سره دویلو التزام مکروه دی ، وعن المکروهات

الصلواة على النبى صلى الله عليه وسلم فى ابتداء الاقامة لانه بدعة (طحطاوي على مراقي الفلاح ص۱۱۵. باب الاذان) ونص العلماء على استحبابها (اى استحباب الصلواة على النبى صلى الله عليه وسلم فى مواضع يوم الجمعة وليلتـــها ..... الى قوله وعند الاقامة ، شامى ۱/ ۴۸۳ ، ۴۸۴) فقط والله اعلم .

دمنځني صف نه چې اقامت ووايي څه حکم لري؟

۱۳۵_ سوال: که لمونځ ګذار زيات وي نو اقامت کوم ځاى کې وويـل شـي اول صـف کې اوکه منځني صف کې ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: که لمونځ ګذاران کم وي او داول صـف اقامـت ټـول آوري او اول صـف کـې اقامت کول بهتر دى البته که ټولوته آواز نه رسيږي او په منځ کې کوم صـف نـه اقامـت وويل شي چې مخکې وروسته ټول يې واوري نو پدې کې هـم څـه پـرواه نشـته . فقـط والله اعلم .

داقامت په وخت دامام خبرولو لپاره دموذن مرى تازه کول څنګه دى؟

۱۳۵_ سوال: امام صاحب اول صف کې ناست دى دجماعت د اودريدو وخـت وي نـو موذن صاحب مرى تازه کوي نو بيا امام په مصلى ودريږي او بيـا مـوذن اقامـت کـوي نوداطريقه څنګه ده ؟

ځواب: کله چې امام اول صف کې ناست وي نو بيا غاړه تازه کول فضـول او لغـوه کـار دى او که چېرته په کمره کې وي او دجماعت ودريدو اطلاع ورکولـو لپـاره مـرى تـازه کړي نو بيا څه پرواه نه لري ، فقط والله اعلم .

دتیپ ریکارډنه ورکړی شوی آذان صحیح دی یانه؟

۱۳۶ـ سوال : که چېرته تیپ ریکارډرکی آذان ریکارډ کړی شـي اوبیـا دهـر لمانځـه پـه وخت کی چالان کړی شي نو دغه آذان صحیح دی او که نه ؟ او که پدی آذان بانـدی لمونځ وکړی شي نو هغه لمونځ صحیح دی او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.
ځواب: تیپ ریکارډ نه ورکړی شوی آذان معتبر ندی[1] ، دوباره اذان کـول ضـروري دي که په صحیح طریقه دوباره اذان ونه کړي نو هغه لمـونځ بـه بغیر اذان شـمیرلی شـي ، فقط والله اعلم .

په اقامت کی شهادتین او حیعلتین کلمئ یو یو ځل ثابت دي یا دوه دوه ځلی ؟

(۱۳۷ سوال) پدی مسئله کی د دین علماء او مفتیان صاحبان څه فرمائي : چی دلته پـه "دوبئ" کی ډیر هندوستاني او پاکستاني خلک د ملازمت په سلسله کی اوسیږي دلمانځه لپاره یی یوه عبادتخانه جوړه کړیده ، اقامت داسی کـوي لکـه څنګـه چـی ځمونږ پـه هندوستان کی چی شهادتین او حیعلتین دوه دوه ځلی کوي پدی بانـدی ځینـی عـرب حضرات انکار کوي او وائي چی دغـه کلمـی یـو یوځـل ویـل پکـار دي ، تاسـو د دی ځواب سره د دلائلو او حوالو ولیکئ څو مونږ ورته وښایو ، مهرباني ، سید زبیر دوبئ .
ځواب : حامداً ومصلیاً ومسـلماً ! پـدی کـی د علمـاؤ اخـتلاف دی چـی اقامـت کـی د شهادتینو او د حیعلتینو کلمات یو یـو ځـل دي او کـه دوه دوه ځلـی ، امـام ابوحنیفـه ، سفیان ثوري ، ابن مبارک رحمهم الله او د کوفی علماؤ په نزد دوه دوه ځلی ویـل سـنت دي او دا د حدیث نه ثابت دي هسی بی دلیله نـدي ، مونږ بـه دلتـه مختصـر یـو څـو روایات ذکر کړو څوک چی تفصیل کتل غواړي نو د حدیثو په کتابو کی دی وګوري .
د امام ابوحنیفه رحمه الله وغیره محدثینو حضـراتو د اذان او اقامـت پـه سلسـله کـی د تولو نه قوي دلیل د حضرت عبد الله بن زید بـن عبدربـه رضـی الله عنـه هغـه د خـوب واقعه ده چی اذان پری ثابت شوی دی دوی په خوب کی یوه فرشته اذان ویلو حالـت

[1] ــ وجه دا ده چی اذان کونکي لپاره اهلیت شرط دی چی وخت بـه پیژنـي ، دینـدار او پرهیزګـار بـه وي او دا شیان په تیپ ریکارډ کی موجود ندي .

کی ولیده او سحر د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضریدو سره خپل خوب بیان کړ رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده خوب په اوریدو سره حضرت بلال رضی الله عنه ته د دی خوب مطابق د اذان کولو حکم وکړ نو پدی اعتبار سره دا وحي حکمي ده د خوب والا حدیث دا دی :

مصنف ابن ابی شیبه (دا د حدیثو مشهور کتاب دی ، د دی د مصنف نوم ابوبکر عبدالله دی د دوی جلالت شان لپاره دومره کافي دي چی دی د امام بخاري ، مسلم ، ابوداؤد ، ابن ماجه رحمهم الله په استاذانو کی دی ۲۳۵هـ کی وفات شویدی) دی رحمه الله د عبدالرحمن بن ابی لیلی نه په صحیح سند سره روایت کړیدی "قال حدثنا اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم ان عبدالله بن زید الانصاری رضی الله عنه جاء الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال یارسول الله رأیت فی المنام کان رجلا قام وعلیه بردان احضران علی جذمة حائط فأذن مثنی واقام مثنی قعد قعدة قال فسمع ذلك بلال فقام فأذن مثنی واقام مثنی وقعد قعدة......... الخ" یعنی عبد الرحمن بن ابی لیلی فرمایي چی مونږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم حدیث بیان کړیدی چی حضرت عبد الله بن زید انصاري رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شو او عرض یی وکړ یا رسول الله ! ما په خوب کی ولیدل چی یو سړی په دیوال باندی ولاړ دی او دوه شنه څادرونه یی آغوستي دي دغه سړي د اذان کلمات دوه دوه څلی ادا کړل او د اقامت الفاظ یی هم دوه دوه څلی ادا کړل او بیا کیناست دهغه سړي اذان او اقامت حضرت بلال رضی الله عنه واوریدو او بیا پاڅیدو او دوی د اذان او اقامت الفاظ دوه دوه څلی وویل او بیا کیناست (مصنف ابن ابی شیبه ج ۱ ص ۳۰۲) د دی حدیث د سند متعلق علامه محدث شیخ ابن دقیق العید په " امام " کی لیکي : "وهذا رجاله رجال الصحیح وهو متصل علی مذهب الجماعة فی عدالة الصحابة وان جهالة اسماءهم لاتضر" یعنی د دی حدیث رجال (راویان) بالکل صحیح دي او دا حدیث د محدثینو په مذهب د صحابه کرامو رضی الله عنهم د عادل کیدو په وجه متصل السند دی او د مروي عنه صحابي نوم نه معلومیدل مضر ندي (آثار السنن ج ۱ ص ۵۲ باب الاذان للعلامه نیموي) وقال العلامة ابن الترکمانی فی "الجوهر النقی" قال ابن حزم هذا اسناد فی غایة

الصحة ، یعنی ابن ترکماني په " جوهر نقي " کی فرمایلي دي چی ابـن حـزم فرمـایي چی دغه سند بالکل صحیح دی (آثار السنن ج ۱ ص ۵۲ ، ایضاً) .
او همداراز دغه حدیث بیهقي په " خلافیات " کی لـه اب، عمـیس نـه روایـت کړیـدی :
"عن ابی العمیس قال سمعت عبد الله بن محمد بن عبد الله بن زید الانصاری رضی الله عنه یحدث عن ابیه من جده انه اری الاذان مثنی مثنی والاقامة مثنی مثنی وقال الحافظ فی الدرایة اسناه صحیح" یعنی ابوعمیس فرمائي چـی مـا د حضـرت عبـد الله رضی الله عنه نه اوریدلي چی هغه دخپل پلار محمد او هغه د خپل پلار عبدالله بن زیـد انصاري رضی الله عنه نه روایت کړیدی چی دوی ته اذان او اقامت په خـوب کـی دوه دوه ځلی ښودلی شویدي ، او حافظ په درایه کی فرمایلي : د دی حدیث سـند صـحیح دی
(آثار السنن ج ۱ ص ۵۲ باب الاذان) .
"وروی الطحاوی عن عبد الرحمن بن ابی لیلی قال اخبرنی اصحاب محمد صـــلی الله علیه وسلم .... الخ" .
یعنی امام طحاوي له عبد الرحمن بن ابی لیلی نه روایت کړیدی هغه فرمـائي مـا تـه د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه وُ رضی الله عنهم بیان کړیدی چـی عبـد الله بـن زید رضی الله عنه په خوب کی اذان ولیـد بیـا د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم پـه خدمت کی حاضر شو او خپل خـوب یی بیـان کـړ ، رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : تا چی خوب کی د اذان کوم کلمات اوریدلي هغـه حضـرت بـلال رضـی الله عنه ته واُوروه نو بیا حضرت بلال رضی الله عنه اذان زده کـړ او بیـا یی اذان وکـړ ، او د آذان کلمات یی دوه دوه ځلی وویلی او د اقامت کلمات یی هم دوه دوه ځلی وویلی ، امام طحاوي فرمـایي : "واســناده صــحیح" یعنـی د دی حـدیث سـند صـحیح دی (طحاوی شریف ج ۱ ص ۸۰ کتاب الصلواة باب الاذان کیف هو) او بیا فرمایي : "ففی هذا الاثر ان بلالاً رضی الله عنه اذن بتعلیم عبد الله بن زید رضی الله عنه بامر النبی صلی الله علیه وسلم ایاه بذلك فاقام مثنی مـــثنی" یعنـی پـدیٔ اثـر کـی صراحتاً دا خبره ده چی حضرت بلال رضی الله عنه د رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم

په حکم د حضرت عبد الله بن زید انصاري رضی الله عنه نـه اذان او اقاسـت زده کړل او بیا حضرت بلال رضی الله عنه په اذان او اقامت کی د شهادتین او دحیعلتین کلمات دوه دوه خلی وویل (طحاوي شریف ج ۱ ص ۸۰) .

دویم دلیل :

"قال عبد الرازق سمعت الثوری واذن لنا بمنی فقال .... الخ" .

یعنی عبد الرازق فرمائي : ما په منـی کـی د امـام ثـوری رحمـه الله اذان واوریـد دوی اذان داسی وکړ الله اکبر ، الله اکبر ، اشهد ان لا اله الا الله ، دوه خلـی ، اشهد ان محمد رسول الله دوه خلی او بیا تر آخره پوری پـدی طریقـه اذان او اقامـت وکـړ لکـه څنګه چی پورته دعبد الرحمن بن ابی لیلی په حدیث کی ذکر شو (مصنف عبد الـرازق ج ۱ ص ۴۶۲ باب الاذان ایضا) .

دریم دلیل :

"اخبرنا عبد الرازق قال اخبرنا معمر عن حماد عن ابراهیم عن الاسود یزیـــد ان بلالاً کان یثنی الاذان ویثنی الاقامة وانه کان یبداء بالتکبیر ویختم بالتکبیر" .

مونږ ته عبد الرازق بیان کړی چی مونږ ته معمر بیان کړی چی حضرت بـلال رضـی الله عنه به د اذان او اقامت الفاظ دوه دوه خلی ویلی او د دواړو ابتداء او شروع به هـم لـه تکـبیر نـه کولـه او خـتم بـه یی هـم پـه تکـبیر بانـدی کولـو (مصنـف عبـد الـرازق ج ۱ ص ۴۶۲) .

څلورم دلیل :

"اخبرنا عبد الرازق عن الثوری ابی معشر عن ابراهیم عن الاسود عن بلال قـــال کان اذانه واقامته مرتین" .

یعنی اسود له حضرت بلال رضی الله عنه نه روایت کوي چی د ده د اذان او د اقامـت کلمات دوه دوه وو (مصنف عبد الرازق ج ۱ ص ۴۶۳) .

پنځم دلیل :

"روی الترمذی عن عبد الله بن زید رضی الله عنه قال کان اذان رسول الله صلی الله علیه وسلم شفعاً شفعا فی الاذان والاقامة"
ترمذي له حضرت عبد الله بن زيد رضي الله عنه نه روايت كړيدى هغه فرمائي : د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان او اقامت كلمات دوه دوه وو (ترمذي شريف ج ۱ ص ۲۷ باب ما جاء فی ان الاقامة مثنی مثنی) .

شپږم دليل :

"عن الاسود بن یزید عن بلال رضی الله عنه انه کان یثنی الاذان ویثنی الاقامة" .
اسود له بلال رضي الله عنه نه روايت كوي چې حضرت بلال رضي الله عنه به د آذان او د اقامت كلمات دوه دوه څلى ويلى (طحاوى شريف ج ۱ ص ۸۱ كتاب الصلواة باب الاذان كيف هو) .

اوم دليل :

"عن عبد العزیز بن رفیع قال سمعت ابا محذورة رضی الله عنه یؤذن مثنی مثنی ویقیم مثنی مثنی" .
عبد العزيز بن رفيع وائي چې ما د ابو محذوره رضي الله عنه نه اذان اوريدلى چې د اذان الفاظ به ذى دوه دوه څلى ويلى او د اقامت الفاظ به يى هم دوه دوه څلى ويلى (طحاوي شريف ص ۸۱ ايضاً) .

اتم دليل :

"عن مکحول ان ابن محیریز حدثه ابومحذورة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم علمه الاذان خمس عشرة کلمة واقامة سبع عشرة کلمة" .
مكحول وائي چې ابن محيريز رضي الله عنه راته حديث بيان كړيدى چې دوى له ابومحذوره رضي الله عنه نه اوريدلي چې فرمايل يى : ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم اذان پنځلس كلمى او اقامت يى اوه لس كلمى ښودلى دى (او ۱۷ كلمې هغه جوړيږي چې شهادتين او حيعلتين دوه دوه څلى وويل شي (طحاوي شريف ج ۱ ص ۸۱ ايضاً) .

نهم دلیل :

"عن ابراهیم قال کان ثوبان یؤذن مثنی ویقیم مثنی" .

یعنی ابراهیم وایي چې ثوبان به د اذان کلمې هم دوه دوه څلې ویلې او د اقامت کلمې هم دوه دوه څلي ویلې (طحاوي ج ۱ ص ۸۱ ایضاً) .

لنډه چې دا چې د دغو احادیثو او اثارو له وجې د احنافو په نزد په اقامت کې د شهادتینو او حیعلتینو کلمې دوه دوه څلي ویل مسنون دي ، فقط ۱۲ جمادی الثانی ۱۳۹۹ھ .

د سحر په اذان کې چې الصلواة خیر من النوم پاتې شي :

(۱۳۸ سوال) که چیرته له مؤذن نه د سحر په اذان کې "الصلواة خیر من النوم" ویل هیر شي نو اذان صحیح کیږي او که دوباره کول ضروري دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : که چیرته د اذان په منځ کې ورته یاد شي نو کوم کلمه چې ترینه پاتې شوي له هغه نه تر آخره پورې دی ټول کلمات پوره کړي او که اذان ختمیدو نه ورسته وریاد شي نو د غلطی په اصلاح کولو سره دی آخره پورې کلمات دوباره راوګرځوي او که ډیر وخت تیر شي نو بیا دوباره اذان کول ضروري نه دي ، په عالمګیري کې دي :

"ویرتب بین کلمات الاذان والاقامة کما شرع کذا فی محیط السرخسی ، واذا قدم فی اذانه او فی اقامته بعض الکلمات علی بعض نحو ان یقول اشهد ان محمدا رسول الله قبل قوله اشهد ان لا اله الا الله فالافضل فی هذا ان ما سبق علی آوانه لایعتد به حتی یعیده فی اوانه وموضعه وان مضی علی ذلك جازت صلواتهم کذا فی المحیط" (عالمګیری ج ۱ ص ۳٤ الباب الثانی فی الاذان الفصل الثانی فی کلمات الاذان والاقامة وکیفیتهما) فقط والله اعلم .

که امام صاحب اذان کوي نو اقامت به څوک کوي ؟ کوم بل کس چې اقامت کوي نو د هغه اجازت ضروری دی یا نه ؟

(۱۳۹ سوال) دیني علماء پدی مسئله کی څه فرمائي : ځمونږ د محلی په یو جومات کی موذن ندی.تعیین شوی پدی وجه اکثر امام صاحب اذان کوي نو امام صاحب چې چا ته اجازت وکړي هغه به اقامت کوي او یا د ده د اجازت نه بغیر هم کوم بل څوک اقامت کولی شي ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : افضل خو دا ده چې څوک اذان وکړي هماغه بـه اقامت هـم کـوي یعنـی د اقامت حق د موذن دی البته د موذن په غیر حاضري کی او یا د ده په اجازت سره کوم بل څوک اقامت وکړي نو بلاکراهت جائز دی ، "والافضل ان یکون المؤذن هو المقیم کذا فی الکافی وان اذن رجل واقام آخر ان غاب الاول جاز من غیر کراهـــة وان کان حاضرا ویلحقه الوحشة باقامة غیره یکره وان رضی به لایکـــره" (فتـــاوی عالمگیری ج ۱ ص ۳۳ ، الباب الثانی الاذان الفصل الثـانی فی کلمـــات الاذان والاقامة وکیفیتهما) .

اوس ستاسو په جومات کی چې موذن معلوم ندی ، امام صاحب اذان هـم کـوي نـو د جماعت په وخت کی تکبیر ویلو سره دی مصلی ته ځان ورسـوي ، "الاحسن ان یکون المؤذن اماماً فی الصلواة کذا فی المعراج الدرایة" (عالمگیری ج ۱ ص ۳۳ ایضاً) او یا د ده په اجازت سره کوم بل سړی اقامت وکړي ، د ده د اجازت نه بغیر که بـل کـوم کس اقامت وکړي او هغه د ده په اقامت باندی خفه کیږي نو مکروه دی (عالمگیري ج ۱ ص ۳۳ ایضاً) مزید تفصل لپاره فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۰۱ ، ۲۰۲ او پـه نـوي ترتیـب کی په همدی باب کی (ایا بل کوم سړی اقامت ویلی شي ؟) تر عنوان لاندی وګـورئ ص ۹۱ (مرتب) فقط والله اعلم ، ۱۵ محرم الحرام ۱۴۰۱هـ .

د اقامت په وخت کی مقتدي کله راپاځي :

(۱۴۰ سوال) پدی مسئله کی د دین علماء او مفتیان حضرات څـه فرمـائي : کلـه چـې جماعت ودریږي او اقامت شروع شي نو مقتدیان به کلـه ودریـږي چـې صفونه درسـت کړي ؟ خینی خلک خو وائي چې د اقامت له ابتداء نه باید ودریـږي او صـفونه درسـت

کړي او ځینی خلک وایي چی حی علی الفلاح په وخت کی به ودریږي او پدی باندی ډیر ټینګار کوي بلکی ځینی خایونو کی د اول نه ودریدونکو باندی لعن و طعن هم کوي . تاسو وضاحت وکړئ ، مهرباني .

خواب کله چی امام مصلی او یا محراب نژدی وي او مقتدیان له وړاندی نه په صفونو کی منظم ناست وي نو بیا د حی علی الفلاح په وخت امام و مقتدیانو ته ودریدل مستحب دي او آدابو څخه دی واجب او تاکیدي سنت ندي ، په درمختار کی دي : "ولها ادب" یعنی د لمانځه اداب دي او بیا وړاندی د آدابو حکم داسی بیانوي : "ترکه لایوجب اساءة ولاعتاباً کترك سنة الزوائد لکن فعله افضل" یعنی د دی پریښودل نه موجب د کراهت دی او نه د عتاب باعث (یعنی د دی په پریښودو نه ګناه وي او نه ملامتي) لکه د سنت زوائدو پریښودل البته کول یی افضل او بهتر دي (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۴۳٦ اداب الصلواة) لهذا د اقامت له اول نه ودریدل چی امام وړاندی موجود وي مکروه ندي او که چیرته امام مخکی موجود نه وي نو بیا د اول نه ودریدل مکروه دي په ناسته باندی به د امام انتظار کوي که امام د وړاندی طرف نه راتلونکی ووینی نو د هغه په لیدو سره به ودریږي او که امام د وروستو طرف نه راځي چی د کوم صف نه تیریږي هغه صف به ودریږي په حدیث کی دي : "فلاتقوموا حتی تروني قد خرجت الیکم" یعنی څو پوری ما ستاسو طرف ته راتلونکی ونه وینئ تر هغی پوری مه ودریږئ ، او په بل حدیث کی دي : "کان بلال یؤذن اذا دحضت الشمس فلایقیم حتی یخرج النبی صلی الله علیه وسلم فاذا خرج الامام اقام الصلواة حین یراه" یعنی حضرت بلال رضی الله عنه به د ماسپښین اذان هغه وخت کولو چی کله به زوال وشو او بیا به یی تر هغه وخته پوری اقامت نه کولو څو پوری چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له کور نه راوتلی نه وُ چی کله به راووت نو بیا د یی اقامت کولو (مسلم شریف ج ۱ ص ۲۲۰ ، ۲۲۱ متی یقوم الناس فی الصلواة) .

لدی دواړو حدیثو نه ثابت شو چی د اقامت او د مقتدیانو مدار او تعلق په امام باندی دی پدی بناء فقهاء کرامو تصریح کړیده چی : "لان القیام لاجل الصلواة ولایمکن ادائها بدون الامام فلم یکن القیام مفیدا ثم ان دخل الامام من قدام الصفوف

فكما رأوه قاموا لانه كما دخل المسجد قام مقام الامامة وان دخل من وراء الصفوف فالصحيح انه كلما جاوز صفا قام ذلك الصف لانه صار بحال لو اقتدى به جاز فصار فى حقهم كانه اخذ مكانه" يعنى دى لپاره چې ودريدل د لمونځ دادا كولو لپاره دي او دا بغير د امام نه نشي كيدلى ، لهذا بغير د امام نه ودريدل فائده نه كوي بيا كه چيرته امام د صفونو له وړاندى طرف نه جوماته ته راتلو نو د امام په ليدو سره دى خلک ودريږي ځکه چې امام جومات ته په ننوتو سره ګويا د امامت په ځاى باندى ودريد او كه چيرته امام د صفونو د شا لخوا نه جومات ته داخليدو نو د صحيح قول مطابق امام چې د كوم صف ته تيريدو هغه صف دى ودريږي ځکه د كوم صف نه چې امام وړاندى كيږي د دوى په حق كې داسې حالت ته ورسيدو چې كه اقتداء وربسې وكړي نو كولى شي لهذا امام ګويا د دوى په حق كې خپل ځاى ته ورسيدو (بدائع ج ١ ص ٢٠٠ كتاب الصلوٰة فصل واماسنتها) .

په درمختار كې دي : "(والقيام) لامام ومؤتم (حين قيل حي على الفلاح ان كان الامام بقرب المحراب والا فيقوم كل صف ينتهى اليه الامام على الاظهر وان دخل من قدام قاموا حين يقع بصرهم عليه ، الى قوله (وشروع الامام) فى الصلوٰة مذ قيل قد قامت الصلوٰة ولو اخر حتى اتمها لابأس به اجماعاً ، انه الاصح (درمختار)" په شامي كې دي : "(قوله انه الاصح) لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة له ، على الشروع مع الامام" (شامى ج ١ ص ٤٤٧ آداب الصلوٰة) يعنى امام او مقتديانو ودريدل هغه وخت مستحب دي چې على الفلاح وويل شي كه چيرته امام محراب ته نزدى وي ، او كه چيرته د محراب نه لرى وي او د صفونو د شا لخوا نه داخليدو نو د هغه خلک به ودريږي او كه د وړاندى له طرفه جومات ته داخليدو نو د ده په ليدوسره دى ودريږي او كله چې قد قامت الصلوٰة وويل شي نو مستحب دي چې امام لمونځ شروع كړي او كه امام لمونځ شروع كولو كې تاخير وكړي او د اقامت ختميدو نه وروسته شروع كړي نو دا هم څه پروا نلري بلكې تاخير كول زيات صحيح دي ځکه چې پدى صورت كې اقامت كونكى هم امام سره يوځاى لمونځ شروع كولى شي (غاية الاوطار ج ١ ص ٢٢٠ ، ٢٢١ اداب الصلوٰة) .

غور وکړئ د قد قامت الصلواة په وخت کی امام او مقتدیانو لپاره لمونځ شروع کول مستحب اوله آدابو څخه دي لیکن اقامت کونکی امام سره لمونځ نشي شروع کولی پدی وجه دده لحاظ کولو سره د اقامت په ختمیدو سره د لمونځ شروع کولو نه زیات صحیح ویل شویدي ، همداراز د صفونو د سیده او برابرولو تاکید او نه برابرولو باندی چی کوم وعیدونه راغلي د دغو مدنظر سره د اقامت له ابتداء نه ودریدل افضل بلکی ضروري دي د حی علی الفلاح نه وروسته ودریدو سره صفونه نشي برابریدلی بلکی ګډوډ ، وړاندی وروسته به وي ، او منځ کی به خالي ځایونه هم پاتی کیږي چی د سخت وعید مستحق ګرځي .

په حدیثونو کی د صفونو د سیده کولو تاکید سره حکم ورکړی شویدی ، په یو حدیث کی دي : صفونه برابر کړئ او خپل قدمونه برابر کړئ او خپلو کی نزدی او جوښت ودریږئ او منځ کی خالي ځایونه مه پریدئ او که نه شیطان د بیزی د بچي پشان ، ستاسو په منځ کی ځای پیدا کولو سره ننوځي (او بیا زړونو کی وسوسه اچوي) په یو بل حدیث کی فرمائي : صفونه برابر کړئ او که نه الله تعالی به ستاسو څهری ورانی کړي ، او یو بل حدیث کی فرمائي : په صفونو کی برابر ودریږئ او وړاندی وروسته مه کیږئ او که نه ستاسو زړونه به بدل کړی شي (نو خپل منځي اختلافات به پیدا کیږي او بی اتفاقي به زیاتیږي) (مشکواة ص ۹۸ ، ۹۹ باب تسویة الصفوف الفصل الثالث عن ابن عمر رضی الله عنه مسلم شریف) پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم به صفونه برابرول له نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دی : "کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یسوی صفوفنا اذا قمنا الی الصلواة فاذا استوینا کبر یعنی مونږ چی کله به لمانځه ته ودریدو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به خمونږ صفونه برابرول او چی کله به مونږ برابر شو نو بیا به تکبیر تحریمه ویلی (ابوداؤد ، مشکواة شریف ص ۹۸ باب تسویة الصفوف الفصل الثانی) .

د خلفاء راشدینو هم همدا عمل وُ په ترمذي شریف کی دي : "روی عن عمر انه کان یوکل رجلاً باقامة الصفوف ولایکبر حتی یخبر ان الصفوف قد استوت ، وروی عن علی رضی الله عنه وعثمان رضی الله عنه انهما کانا یتعاهدان ذلك ویقولان

استووا" یعنی عمر فاروق رضی الله عنه د صفونو برابرولو لپاره یو کس مقرر کړی و او تر څو چې به ورته د صفونو برابرولو خبر نه و ورکړی شوی نو تکبیر تحریمه به یې نه ویلو، امام ترمذي د دی حدیث له روایت کولو نه وروسته فرمائی: حضرت علی او حضرت عثمان رضی الله عنهما به هم د دی اهتمام کولو او فرمایل به یې چې برابر ودریږئ (ترمذی شریف ج ۱ ص ۳۱ باب ما جاء فی اقامة الصفوف).

حاصل دا چې حي علی الفلاح سره ودریدل فقط له آدابو څخه دي د دی په پریښودو کی هیڅ کراهت نشته، کله چې د صفونو په برابرولو باندی دومره تاکید راغلی او نه برابرولو باندی سخت وعیدونه لهذا د کراهت او لدی سخت وعیدو نه بچ کیدو لپاره د اقامت له ابتداء نه ودریدل افضل او بهتر دي او له ابتداء نه د صحابه کرامو رضی الله عنهم ودریدل هم ثابت دي (بیا دیته مکروه څنګه ویل کیږي) په مصنف عبد الرازق کی دي: "عبد الرازق عن ابن جریج قال اخبرنی ابن شهاب ان الناس کانوا ساعة یقول المؤذن الله اکبر، الله اکبر، یقیم الصلواة، یقوم الناس الی الصلواة فلا یأتی النبی صلی الله علیه وسلم مقامه یعدل الصفوف" له ابن شهاب نه نقل دي چې کله به مؤذن الله اکبر الله اکبر وویل نو خلک به لمانځه ته ودریدل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر راتللو پوری به صفونه برابریدل (مصنف عبد الرازق ج ۱ ص ۵۰۷ باب قیام الناس عند الاقامة) علامه ابن حجر رحمه الله فرمائي: "فقد ثبت عن الصحابة رضی الله عنهم انهم کانوا یقومون اذا شرع المؤذن فی الاقامة" یعنی د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت دي چې دوی به د اقامت شروع کیدو سره ودریدل (فتح الباری ج ۲ ص ۹۹).

پدی خبره هم سوچ کول پکار دي چې دا طریقه (حی علی الفلاح سره ودریدل) زیات نه زیات له آدابو څخه ده او د آدابو حکم دا دی چې د دی پریښودل نه موجب د کراهت دي او نه د عتاب باعث بلکی کول یې ښه کار دی، او که لږ وخت لپاره دا سنت هم وګڼلی شي او د صفونو سیده کول هم د سنت په درجه کی ومنل شي بیا هم د دغی طریقی پریښودل غوره دي، لکه چې په "مجالس الابرار" کی دي: "ولا وجه لاشتغال سنة فیه ترك سنة اخری" یعنی د داسی سنت د ادا کولو هیڅ وجه نشته چې

بل سنت ورباندی پرېښودلی شي (مجالس الابرار ص ۲۱۴ مجلس نمبر ۳۲) او حال دا چی د صفونو برابرول زیات ضروري بلکی واجب دي پدی د هغه ادب نه د دی لحاظ کول ډېر زيات اهم او ضروري دي او همداراز د فقه قاعده هم ده چی د مکروه پرېښودل په سنت باندی عمل کولو نه بهتر دي . "لان ترك المكروه اهم من فعل المسنون" (كبيرى ص ٣٥٦) (ترك المكروه اولى بادراك الفضيلة) يعنی د فضيلت حاصلولو نه د مکروه ترک کول غوره دي ، وګورئ په اودس او غسل کی غرغره سنت دی مګر د سری نه اوبه تیریدو په ویره سره غرغره ممنوع ده او همدارنګه په اودس کی د ګیری خلالول سنت دي مګر د احرام په حالت کی د وېښتو ماتيدو په ويره خلال كول مكروه دي . په خطبه کی خطیب طرف ته مخ کول بهتر دي ليكن د صفونو د سیده ساتلو په خیال قبلی ته مخامخ کیناستل غوره کړی شویدي ، په مجالس الابرار کی دي : "ويستحب للقوم ان يستقبلوا الامام عند الخطبة لكن الرسم الآن انهم يستقبلوا القبلة للحرج فی تسوية الصفوف لكثرة الزحام" يعنی خلکو ته مستحب دي چی د خطبی په وخت کی خطیب ته مخامخ کيني ليكن اوس وخت کی د زیاتی ګڼه ګونی په وجه د صفونو په سیده والی کی خلل راځي نو پدی وجه قبلی ته مخامخ کيني (مجالس الابرار ص ۲۹٦ مجلس نمبر ۴۹ ، صغيری ص ۲۸۱) .

لدی سره سره دا بايد هم په ذهن کی وساتل شي چی البحرالرائق کی د حنفي مذهب تفصیل بیانولو په سلسله کی د حی علی الفلاح سره د ودریدو علت دا بیانوي چی "(قوله والقيام حين قيل حی علی الفلاح) لانه امو به فيستحب المسارعة اليه" يعنی د حی علی الفلاح په وخت کی ودریدل ځکه افضل دي چی د حی علی الفلاح په لفظ کی (راشئ کامیابي طرف ته) د ودريدو امر دی پدی وجه ودریدو کی جلتی کول پکار دي (البحر الرائق ج ١ ص ٣٠٤ باب صفة الصلواة) .

لدينه معلوميږي چی په حی علی الفلاح سره ودریدل مستحب دي د دی مطلب دا دی چی د دی امر نه وروسته ناست پاتی کيدل دادب نه خلاف دي نه دا چی لدينه مخکی ودریدل د ادب خلاف دي ځکه چی په وړاندی اودريدو کی خو نور هم مسارعت او جلتی زيات دی ، لکه چی په طحطاوی علی الدر المختار کی دي : "قوله

لامام ومؤتم حين قيل حى على الفلاح مسارعة لامتثال امره والظاهر انه احتـراز عن التأخير لاالتقديم حتى لو قام اول الاقامة لا بأس به" يعنى د امام او مقتديانو حى على الفلاح په وخت کی ودریدل مستحب دي څکه چی پديکی د امر عمل کولو لپاره جلتي کول دي او ظاهره دا ده چی دا دتاخير نه احتراز دی نـه د تقـديم نـه ، يعنـی مقصد دا دی چی ودريدو کی حی علـی الفـلاح ويلـو پـوری تـاخير کـولی شـي د دی مطلب دا ندی چی لدينـه مخکـی وديـدلی نشـي . پـدی وجـه لدينـه وروسـته علامـه طحطاوی فرمائي : تر دی، پوری که چيرته اول د اقامت نه ودريدل نو هيڅ پـروا نلـري (طحطاوي على الدر المختار ج ۱ ص ۳۳۱ ، آداب الصلواة) فقط والله اعلم .

په کور کی لمونځ کونکو لپاره د اذان او اقامت حکم :

(۱۴۱ سوال) په کور کی لمونځ کونکي عادت لري چی د اذان او اقامت ويلو نـه بغير فرض لمونځ کوي ، نو سنت طريقه څه ده ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : کور کی لمونځ کونکو لپاره اذان او اقامـت مسـنون نـدی ، د جومـات اذان او اقامت ورته کافي دی لهذا پرينبودل يی مکـروه نـدي ، "فلا يســـن بهـــا اذا ادت فی البيـت لانه لايكره تركهما لمصل فى بيته وكذا المصلى فى المسجد بعـــد صـــلواة الجماعـة" (طحطاوی على الدر المختار ج ۱ ص ۲۸۱ باب الاذان) او شـامي کـی دي : "لكن لايكره تركه لمصل فى بيته فى المصر لان اذان الحى يكفيه كما سيأتى" (شامی ج ۱ ص ۲۵۷) فقط .

د اقامت کولو غوره طريقه څه ده ؟

(۱۴۲ سوال) څمونږ پدی علاقه کی د اقامت کولو کومـه طريقـه نشـته ده کلـه د امـام شاته نه کوي او کله ښي طرف ته او کله ګس طرف ته او دا کار قصداً او بغير د عـذر نـه کوي نو د اقامت صحيح او مسنون طريقه څه ده ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : د امام شاته بالکل د ده په برابری کی ودريدو سـره د اقامـت ويلـو تعامـل دی پدی وجه همدا به افضل وي البته د ضرورت مطابق چی د کـوم طـرف نـه وويـل شـي صحيح دی د شرعي ضرورت نه پرته يو طرف او بل طرف ودريـدو سـره د اقامـت کولـو عادت خلاف اول دی مګر د اقامت دوباره کولو ضرورت نشته ، فقط والله اعلم .

اقامت ویلو کی مؤذن وغیره د امام تابع دی :

۱۳۳ سوال : امام صاحب لا د سحر په سنتو بانـدی لګیا وُ چـی مـؤذن اقامـت شـروع کړی د دی څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب مؤذن په اقامت کولو کی د امام د حکم او د اشاری تابع دی لهـذا چـی امام موجود وي څو پوری چی هغه پخپله وړاندی شوی نه وي او یا حکم او اشاره د اقامت کولو نه وي کړي نو په اقامت کولو کی دی تلوار نه کوي ، مقتـدیانو تـه هـم د امـام د وړاندی کیدو نه مخکی ودریدل مکـروه دي ، "وان لم یکن حاضرا یقوم کل صـــف حین ینتهی الیه الامام فی الاظهر (مراقی الفلاح) واذا اخذ المؤذن فی الاقامة ودخل رجل المسجد فانه یقعد ولاینتظر قائماً فانه مکروه" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱٦۱ فصل من ادب (ای الصلواة) حضرت جابر رضی الله عنه فرمائي : مـؤذن چی کله رسول الله صلی الله علیه وسلم راتلونکی ولید نو اقامت یی شروع کړ (مسـتدرک حاکم ج ۱ ص ۲۱۳) .

داذان په دوران کی خبرې کول

۱۳۴_ سوال: دعام خلکو داعادت جوړ شویدی چی داذان ځواب ورکـول خـو پریـږده دنیاوي خبرې لاپکې نورې کوي داذان هیڅ پرواه نه کوي، پدی باره کی کوم شـرعي حکم او وعید خوبیان کړئ مهرباني.
ځواب په حدیث او فقه کی ددی سخت وعید راغلې لدېنه ځان ساتل ضـروري دي ، دا عادت جوړل دضعیف ایمان دلیل دی په رسم المفتی والسائل کی دي : ویکره الکلام والذهاب عند الاذان کذا فی خزانة الروایات ناقلا عن حاشیة الســـراجیة عـــن فتاوی الحجة و فیها عن الفتاوی الصوفیة اجمعوا علی ان یترك الکلام الـــدنیوی ، وروی عن النبی صلی‌الله علیه وسلم ، من تکلم عند الاذان خیـــف علیـــه زوال الایمان انتهی قلت هذا الحدیث لم یثبت بسند یحتج به .

یعنی د فقهاو پدی باندی اجماع ده چی داذان په وخت کی دنیوي خبرې بندې کړئ . اودرسول الله صلی‌الله علیه وسلم نه روایت دی چی څوک داذان په وخت کی خبرې کوي نو دده دایمان دزوال خطره ده ، داحدیث اګرکه دومره قوي ندی چی پدی استدلال وکړی شي (مګر په فضائلو داعمالو کې چلیږي) (رسم المفتي ورسائل ص٦٦). فقط والله اعلم .

اقامت دکوی ځای نه ویل پکار او افضل دی ؟

۱۴۵ـ سوال داقامت لپاره امام شاته ودریدل څنګه دي ؟ ځینی دیته افضل وایي ماته ددی دلیل مطلوب دی که مهرباني وکړئ او ویې لیکئ.

ځواب: امام شاته دده برابری کی داقامت ویلو تعامل دی پدی وجه همدا افضل دی ، لکه دتراویحو شلو رکعتونو نه وروسته اجتماعي دعا منقول ندی لیکن دامت او داکابرو عمل ددلیل په طور وړاندی کولې شي او دعا کولې شي او همدغسې دلوی اختر دلمانځه نه وروسته تکبیر ثابت ندی مګر دتوارث په بناء باندی تکبیر ویل کیږي او همداشان داخترونو دلمونځونو نه وروسته دعاکول هم دی . او ځیني خو واجب هم ویلي دي ، ولابأس به عقب العید لان المسلمین توارثوه فوجب ابتـاعهم وعلیه البلخیون(درمختار مع الشامی ۱/ ۷۸٦ باب العیدین مطلب کلمة لابأس تستعمل فی المندوب)

البته دضرورت په وجه چی دکوم ځای او طرف نه اقامت وکړی شي جائزدی ، اودشرعي عذر نه بغیر هلته اودلته ودریدو سره داقامت کولو عادت خلاف اولی دی مګر دوباره کولو ضرورت نشته ، فقط والله اعلم .

چاچی نسبندي کړی وي دهغه مؤذن جوړول

۱۴٦ـ سوال . زمونږ دجومات مؤذن ډیر وخت کیږي چی نسبندي (خپل ځان یې خصي) کړی دی ، دمؤذن وینا داده چی ماپه ناپوهي کی داکار کړیدی پدی صورت کی دداسې مؤذن اذان ویل څنګه دی؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

حواب خصي کیدل داولادنه محرومي او بیزاري او دنعمت ناشکر دی داکار شرعاً حرام هم دی په حدیث کی دي چی حضرات صحابه کرامو رضی‌الله عنه دګناه نه دبچ کیدو او دنیاوي کارونه دبی فکره کیدو سره دالله تعالی په عبادت کی مشغولیدو په مقصد دخصي کیدو خواهش ښکاره کړ نو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ورته اجازه ونه کړه اودقرانکریم دغه آیت کریمه ي تلاوت کړه .(یا یها الذین امنوالاتحرموا طیبات ما احل الله لکم ولاتعتدوا ان الله لایحب المعتدین) ای مومنانو الله تعالی چی درته کوم شیان حلال کړیدي دغه پاک شیان مه حراموئ اودپولو نه مه اړوی بیشکه الله تعالی دحدنه اوړیدونکی نه حوښوي.(بخاري شریف ۲/ ۷۵۹ باب مایکره من التبتل والخصاء) لدینه معلوم شو چی خصي کیدل یعنې نسل قطع کول په نص دقران سره حرام دی او د الله تعالی له حدودو نه تجاوز کول دي‌لهذا داعمل بالاتفاق حرام دی .(عمدة القاري شرح صحیح البخاري).

او فقهاو هم لیکلي دي : اما خصاء الادمی فحرام ، یعنی دانسان خصي کیدل حرام دي.

(درمختار مع الشامی ۵/ ۳٤۲ کتاب الحظر والاباحة)(فتاوی عالمگیري ٦/ ۲۳۷).

پدی ذکر شوې مسئله دموذن دلاعلمي عذر قابل قبول ندی زمونږ پدی زمانه کی دخصي کیدو قباحت بالکل عام شوی دی هرسړی لدینه واقف دی‌لهذا په رضا او رغبت سره خصي کیدل باعث دلعنت دی اودالله تعالی دفطرت او خلق بدلول هم دی اودعوامو او خواصو په نظر کی داعمل قابل دمذمت دی ،لهذا داسې مخدوش سړي ته دموذني عالي منصب ورکول او پاتې کول دکراهت نه خالي نه دی دجومات دصفایي خدمت ورته ورکړی کیدی شي ، او که کوم وخت موذن نه وي نو آذان کولی شي فقط والله اعلم .

دسینما کتونکی او قوالي اوریدونکی اذان واقامت

۱۴۷_ سوال: یوسړی لمونځ ګذار دی خو سنیما بیني کی مبتلا دی او د قوالي اوریدو هم شوقي دی که دغه سړی کله ناکله اذان واقامت وکړي څه پروا لري؟

ځواب په لمونځ ګذارانو کی ښوک افضل او پرهیز ګار شخص اذان او اقامت کونکی موجود وي نو هغه دی اذان او اقامت وکړي او که لدینه افضل څوک موجود نه وي نو بیا دده اذان او اقامت جائز دی ، فقط.

دمؤذن.داجازت نه بغیر اقامت کول

۱۴۸ـ سوال دمؤذن له اجازت نه پرته څوک اقامت کولې شي؟
ځواب: که مؤذن صاحب په وخت موجود نه وي او دده په انتظار کی لمونځ کونکو ته تکلیف وي نو دهغه له اجازت نه بغیر بل څوک اقامت کولې شي ، اقام غیرِ مــن اذن بغیبته ای المؤذن لایکره مطلقا (شامي۱/ ۲۶۵ داحواله دمختار ده باب الاذان) فقط.

دصبح صادق سره متصل دسحر آذان

۱۴۹ـ سوال: زمونږ په علاقه کی دسحر آذان دصبح صادق نه پنځه منټه وروسته کیږي پداسې حال کی چی ځینې خلک دصبح صادق نه لس منټه وروسته هم اذان کول مکروه ګنيي،لهذا صبح صادق نه وروسته اذان کول څنګه دي؟ وضاحت وکړئ مهرباني.
ځوَب: دجنتري اودساعت (ګهړی) په وخت کی فرق کیدلې شي باید چی احتیاط وشي که لس نه وي نو اوه منټه وروسته اذان کول ښه دی، په شمسي تقویم (کلینډر) کی دغه لاندیني هدایات لیکلي وي:
په یاد ولرئ چی دغه ټائم ټیبل (جنتري) له حساب نه تیارشوی دی پدی داسې اعتماد کول چی یو منټ دی هم فرق نه وي مناسب ندی ددی مدار او تعلق پـواځې پـه حساب باندی کیدو په وجه دغلطي امکان شته ، همدغسې دګهړی (ساعت) پـه وخت کی ډیر خلی دتقدیم او تاخیر په سبب دلمونځ او روژی په اداکولو کـی دغـه لاندیني احتیاط ضروري او لازمي دی .
۱ـ دصبح صادق لیکلې شوی وخت نه لس منټه مخکـی دی دپیشنمي آخري وخـت وګڼل شي .
۲ـ دصبح صادق ذکر شوی وخت نه پنځه (بلکي لس) منټه وروسته دی دسحر آذان وکړی شي.

۳ دلمر خنو بودلې شوی وخت نه پنځه منټه مخکې دی دسحر لمونځ بند کړی شي.
۴ دماردیګر ابتدائي وخت لیکلي دی لدینه پنځه منټه وروسته دی اذان وکړی شي.
۵ دلمر پریوتو ذکر شوی وخت نه دی پنځه منټه وروسته اذان وکړی شي.
۶ دماسخوتن ابتدائي وخت لیکلی دی لدینه پنځه (بلکی لس) منټه وروسته اذان وکړی شي (شمسي تقویم)
صبح صادق کیدو سره اذان کول صحیح دی خو دصبح صادق معلومول مشکل دی او دجنتري په حساب کی هم دغلطی امکان شته اودساعتو په وختو کی هم فرق وي لهذا دصبح صادق لیکلی شوی وخت نه لس منټه مخکې دپیشنمي خوراک بند کړي او لس منټه وروسته دسحر آذن وکړي، فقط والله اعلم.

داقامت دوران کی امام او مقتدیان څه وخت ودریږي؟

۱۵۰ـ سوال . پدی مسئله کی ددین عالمان څه فرمایي : کله چی اقامت شروع شي نو دصفونو برابرولو لپاره به مقتدیان څه وخت ودریږي؟ ځیني حضرات وایي چی اقامت شروع کیدو سره به خلک ودریږي چی صفونه برابر کړي او ځیني نور حضرات بیا وایي چی دی "حی علی الفلاح " سره به ودریږي پدی باره کی شرعي حکم دحوالې سره ولیکئ.
ځواب: په حدیث اوفقه حنفي کی دصفونو سیده کولو بی حد تاکید او اهمیت راغلی دی پدی باندی دلمونځ کمال موقوف دی اوپه حدیث شریف کی دي چی امام په منځ کی ودروي ، عن ابي هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم توسطوا الامام . رواه ابوداود ، مشکواة ص۹۹ باب تسویة الصفوف الفصل الاول.

دواړه (ښي او ګس) طرف دصفونو برابرول ضروري دي ، یو طرف ته زیات اوبل طرف ته کمیدل مکروه دی ، لمونځ ګذاران تول سره نزدی اوږه په اوږه او قدم په قدم لګیدلي ودریږي چی په منځ کی خالي ځای پاتې نشي ځکه چی شیطاني ځای په لیدو سره دبیزی دبچی پشان په منځ کی ننوتو سره دلمونځ ګذارانو په زړونو کی وسوسی اچوي.

چې صفونه برابر نه کړئ نو الله تعالی به صورتونه مسخ کړي او په زړونو کې مو فساد او اختلاف پیداشي ، دصفونو په نه برابرولو سره دغسې نور ډېر زيات خرابياني دحديث او فقه په كتابو كې ذكر شوي دي .

درسول الله صلی‌الله علیه وسلم دصفونو برابریدو نه وروسته دلمونځ شروع کول و ، عن النعمان بن بشير قال كان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم يسوى صفوفنا اذا قمنا الى الصلوٰة فاذا استوينا كبر رواه ابو داود باب تسوية الصفوف الفصل الثانى ، مشكوٰة ص۹۸.

يوځل ديوسړي سينه دصف نه لږ غوندى راوتلى وليد نو پدى يې وفرمايل : اى دالله بندګانو! خپل صفونه برابر کړئ (يعنى مخكى وروسته كيږئ مه) او كه نه الله تعالى به ستاسو ترمنځ اختلاف پيداكړي .

وفى حديث عن النعمان بن بشير خرج يوماً فقام حتى كاد ان يكبر فرأى رجلا بادياً صدره من الصف فقال عبادالله تسون صفوفكم اوليخالفن الله بين وجوهم) مسلم باب تسوية الصفوف واقامتها وفصل الاول الخ۱/ ۱۸۲ .

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمايل تساو ځلک داسې صفونه ولې نه جوړوئ لكه څنګه چې ملائكى دالله تعالى په حضور كى جوړوي ،صحابه كرامو عرض وكړ يارسول الله ! صلى‌الله عليه وسلم ملاكې دخپل پروردګار په حضور كى څنګه صفونه جوړوي ؟ وفى فرمايل وړومبنى صفونه مكمل كړي او په صفونو كى بالكل نزدى (فولادي ديوال پشان) ودريږي ، قال الا تصفون كما تصف الملائكة عندربها فقلنا يارسول الله وكيف تصف الملائكة عند ربها قال يتمون الصفوف الأول ويتراصون فى الصف (مسلم۱/ ۱۸۱ .ايضا) او درسول الله صلى‌الله عليه وسلم فرمان دى : صفونه برابر ساتئ ځكه چې دصفونو برابرولې دلمانځه تكميلول دي ، عن انس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم سووا صفوفكم فان تسوية الصفوف من تمام الصلوٰة (مسلم پورتنى حواله ۱/ ۱۸۲) .

اودای هم فرمایلي دي چی خپل صفونه بنه نزدی او برابر کړئ یعنی په خپلو کی سره بنه جوخت او نزدی ودریږئ او خپلي اوږی سره برابر کړئ په هغه ذات می دی قسم وي چی دچاپه قبضه کی زما نفس دی زه شیطان لره ستاسو دصفونو په خالي خایوکی دچیلې پشان ننوتونکې وینم ، "عن انس قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم رصوا صفوفکم وقاربوا بینها وحاذوا بالا عناق فوالذی انی لاری الشیطان یدخل من خلل الصف کأنها الحذف" (مشکواة باب تسویة الصفوف الفصل الثالث ص۹۸، ابو داود۱/ ۹۷).

دصفونو په سیده کولو باندی چی څومره فضائل اوپدیکې په کوتاهي کولو باندی څومره وعیدونه وارد شوي دومره دحی علی الفلاح په وخت ودریدو باندی ندي وارد شوي . اوبیا دصفونو سیده کول هم نظر انداز کړی شي او دحی علی الفلاح په وخت کی ودریدو باندی دومره اصرار ولې وکړی شي؟ او همدا رنګه امام ددی پابند ندی چی داقامت نه وړاندی په مصلی باندی کیني ، درسول الله صلی‌الله علیه وسلم اودصحابه کرامو خلفاء راشدینو اودائمة کرامو په مبارک وخت کی دامام اقامت نه مخکې په مصلی باندی دکیناستو اهتمام او التزام نه و وکورئ.

۱ـ دحضرت جابر بن سمره رضی‌الله عنه په روایت کی دي : کان بلال یؤذن اذا دحضت الشمس فلا یقیم حتی یخرج النبی صلی‌الله علیه وسلم فاذا خرج اقام الصلوة حین یراه . (مسلم۱ ۲۲۱ باب متی یقوم الناس للصلوة).

یعنې حضرت بلال رضی الله عنه به دماسپښین آذان دزوال نه وروسته کولو او اقامت به یې هغه وخت پورې نه کولو چی څو پوری به رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دحجره مبارک نه باهر نه و راوتلې چی کله به باهر ته راووت نو اقامت به یې وکړ.

۲ـ دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی : ان الصلواة کانت تقام لرسول الله صلی‌الله علیه وسلم فیأخذ الناس مصافهم قبل ان یقوم النبی صلی‌الله علیه وسلم مقامه.(مشکواة شریف ۱/ ۲۲۰).[1]

---

[1]ـ دادمسلم حواله ده دکاتب نه غلطی شوی . وګورئ مسلم باب یقوم الناس الصلواة ۱/ ۲۲۰.

یعنی درسول الله صلی‌الله علیه وسلم په امامت کی دلمانځه اقامت به ویل کیده او خلک به درسول الله صلی‌الله علیه وسلم په مصلی باندی رسیدونه وړاندی په صفونو کی برابر ولاړ وو.

۳ـ دابو هریره رضی‌الله عنه نه بل روایت نقل دی چی : "اقیمت الصلواة فقمنا فعدلنا الصفوف قبل ان یخرج الینا رسول الله صلی‌الله علیه وسلم"(مسلم باب متی یقوم الناس الصلواة ۱/ ۲۲۰).

یعنی یوځلي لمونځ ودرولې شو مونږ(صحابه کرام) ودریدو او درسول الله صلی‌الله علیه وسلم دراتلو نه وړاندی مونږ صفونه برابر کړل.

۴ـ دحضرت ابو قتاده رضی‌الله عنه نه نقل دی : "قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا اقیمت الصلواة فلا تقوموا حتی ترونی"(بخاري ۱/ ۸۸ ، مسلم ۱/ ۲۲۰ باب متی یقوم الناس للصلواة ، مشکواة ص۶۷).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چی کله لمانځه لپاره اقامت وشي نو ترهغی پورې مه ودریږئ چی څو پورې مو زه نه یم لیدلې.

۵ـ دحضرت ابن شهاب زهري نه نقل دی : "ان الناس کانوا ساعة یقول المؤذن الله اکبر، الله اکبر، یقیم الصلواة یقوم الناس الی الصلواة فلایأتی النبی صلی‌الله علیه وسلم مقامه حتی یعدل الصفوف"(مصنف عبدالرزاق۱ ۵۰۷ باب قیام الناس عند الاقامة).

یعنی کله چی په مکبر ، الله اکبر ، الله اکبر وویل پدی وخت کی به خلک لمانځه لپاره ودریدل اودرسول الله صلی‌الله علیه وسلم تر راتلو پورې به یې صفونه برابرول.

۶ـ حضرت عبدالله بن ابی اوفی فرمایي : "کان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا قال بلال قدمامت الصلواة نهض فکبر" (مجمع الزوائد۲/ ۵ باب مایفعل اذا اقیمت الصلواة).

یعنی حضرت بلال رضی‌الله عنه به چې کله قدقامت الصلواة وویلی پدی وخت کی به رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ودریدلو.
دذکر شوو حدیثو (اول نه ترپنځم پورې) نه ثابتیږي چی دصحابه کرامو تعامل داقامت په ابتداء کی ودریدلو او دصفونو برابرولو پدی وجه فقهاو او محدثینو حضراتو دیته مسنون طریقه ویلې دی او توارث هم همدا دی .
غالباً دپنځم نمبر حدیث په وجه فقهاو لیکلي دي : چې د"حی علی الصلواة "یا "حی علی الفلاح" یا "قدقامت الصلواة "په وخت کی ودریدل دلمانځه له ادابو څخه دی "ولها اداب" یعنی د لمانځه څو آداب دي دی سره ددی ادابو شرعي حکم هم لیکلې دی چی : ترکه لا یوجب اسائة ولا عتاباً.(شامی ۱/ ٤٤٦ آداب الصلواة) (مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص۱۵۱ ، اداب الصلواة).
یعنې ددی په پرینښودو سره نه دمکروه تنزیهي مرتکب کرځي او نه دعتاب باعث دی صرف یو مستحب دی ، لدینه معلوم شو چی کله امام موجود نه وي نو بیا په ولاړه ولاړه دامام انتظار کول مکروه دی .
"والظاهر انه احتراز عن التأير لاالتقديم حتى لو قام اول الاقامة لابأس به"(طحطاوي على الدر المختار ۱/ ۳۳۱ ايضاً) واما اذالم يكن الامام فى المسجد فذهب الجمهور الى انهم لايقومون حتى يروه .(فتاوی الباري۲/ ۱۰۰)

دلمانځه دادابو او مستحباتو په باره کی فقهي اصول

(۱) فقهاو تصریح کړیده چی تارك المستحب لايلام ، دمستحب پرینښودونکی دملامتیا قابل ندی .
(۲) "ان المندوب ربما ينقلب مكروهاً اذا خيف ان يرفع عن رتبته"یعنی کله چی مستحب شی دخپلې رتبې نه پورته کړی شي یعنې هغه سنت او لازم وګڼل شي نو هغه مکروه کرځي .(مجمع البحار ۲/ ۲۳۳، فتح الباري شرح بخاري۲/ ۲۸۱).

(۳) "لان ترك المكروه اهم من فعل المسنون"(كبيري ص٣٦٥ فروع)
یعنی دمکروه پرېښودل په سنت باندی دعمل کولو نه اهم دی .
(۴) "ترك المكروه اولى من اولاك الفضيلة"یعنی دفضیلت حاصلولو لپاره چی د مکروه شئ ارتکاب لازمیږي نو دهغه پرېښودل بهتر دی .
دفقه معتبر کتابونه درمختار او شامي وغیره کـی دي : "سجدة الكشر مستحبة به يفتى لكنها نكره بعد الصلواة لان الجهلة يعتقدونها سنة او واجبة وكل مباح يؤدى اليه فمكروه"(شامي ۱/ ۷۳۱ مطلب فى سجدة الكشر) .
یعنی دشکر سجده مستحب ده لیکن دلمانځه نه وروسته دخلکو پـه وړانـدی مکـروه ده ځکه چی ناپوهه خلک پدی دسنت یا دواجب اعتقـاد کـوي.مطلـب دادی چـی کـوم مستحب او مباح شی چی دخپل حد نه اوچت کړی شي (یعنی مستحب لره سنت اویـا واجب وګڼل شي) نو هغه مکروه ګرځي. لدینه معلوم کړی شو چی مستحب سنت ګڼـل او ددی پرېښودونکی ملامتول جایز دي بلکی داکار پخپله قابل دترک دی .
دمابنام اذان نه وروسته او اقامت نه وړاندې دوه رکعته کول مستحب دی . رسـول الله صلی الله علیه وسلم په دریم ځل وفرمایل : "لمن شاء"یعنی څوک یې چـی غـواړي ودی کړي، ددی وجه پخپله راوي بیانوي چـی "كراهية ان يتخذها النـــاس ســـنتة"یعنـی درســول الله صـلی‌الله علیـه وسـلم داخوبنـه نـه وه چـی خلـک دادوه رکعتـه سـنت وګڼـي.(مشكواة ص١٠٤ باب السنن وفضائلها الفصل الاول عن عبـــدالله ابـــن مغفل)
ځیني علماو پخپل دور کی دایام البیض (دهرې میاشتې ۱۳، ۱۴، او ۱۵) تاریخ روژو پـه باره کې دمکروه والې فتوی ورکړیـده ځکـه چـی ددوی پـه زمانـه کـی دایـام البـیض روژونیولو ډیر زیات رواج شوی و تردی چی داویـره پیداشـوه چـی خلـک داواجـب او لازم وګڼي او حال داچی دایـام البـیض روژی مسـتحب دی او ددی فضیلت پـه ډیـرو حدیثو کی راغلی دی.
په مجالس الابرار کـی دي : "وكل مباح ادى الى هذا فهو مكروه"(مجلس نمـــبر ٥٠ ص٢٩٠). یعنی هرهغه مباح چی دسنت درجه ورته ورکـړی شـي مکـروه ګرځـي، پـه

مرقاة المفاتیح شرح دمشکواة المصابیح کی دي : "قال الطیبی ان من اصر علی امر مندوب وجعله عزما ولم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال فکیف من اصر علی بدعة او منکر"(۱/ ۲۵۳ ، غائة الاوطار ۱/ ۲۲۰، ۲۲۱)

یعنی څوک چې په یو مندوب او متسحب باندی اصرار وکړي او ضروري یې وګڼي اوپه رخصت عمل ونه کړي ګویا چې هغه لره شیطان بی لارې کړیدی ، نو څوک چې په یو بدعت او ناجائز شئ باندی اصرار کوي هغه باندی څه خیال کوی؟

دامام څلور حالات اودهریو حکم

(۱) چې امام صاحب بالکل داقامت په دوران کی له کمرې نه راووځي نو مقتدیان باید ودریږي .

(۲) که امام صاحب دصفونو دشاله طرفه راځي نو دکوم صف نه چې تیریږي هغوی به ودریږي . والا فیقوم کل صف ینتهی الیه الامام (شامی اداب الصلواة۱/ ۴۴۷)۔

(۳) که امام دواړندی طرف نه جومات کی داخلیدونکې ووینې نو لیدو سره دی ودریږي. وان دخل من قدام قاموا حین یقع بصرهم علیه (ایضا).

(۴) اوکه اتفاقا امام محراب ته نزدی و نو دحی علی الفلاح په وخت کی ودریدل مستحب دی او لازم ندی او دقدقامت الصلواة په وخت دامام لمونځ شروع کول مستحب دی اوکه داقامت پوره کیدونه وروسته شروع وکړی شي بیاهم څه پروانه کوي . بلکې اجماعاً افضل دی ، وشروع الامام فی الصلواة مذ قیل قدقامت الصلواة ، ولو اخر حتی اتمها لاباس به اجماعاً (قوله لاباس به اجماعاً) ای لان الخلاف فی الافضلیة فنفی البأس ای الشدة ثبت فی کلا القولین وان کان الفعل اولی فی احدهما (شامي ۱/ ۴۴۷ طحطاوي عی الدر المختار ۱/ ۲۸۹ ، اداب الصلواة).

حاصل داچې په تنویر الابصار او درمختار کې چې دآدابو لاندی "والقیام الامام ومؤتم حين قيل حي على الفلاح" ليکلی هلته يې ددی مستحب والې هم ليکلې دی چې نظره الى موضع سجوده حال قيامه والى ظهر قدميه حال ركوعه والى ارنبة انفه حال سجوده والى حجره حال قعوده والى منكبه الأيمن والايسر عن تسليمة الاولى والثانية (شامي ۱/ ٤٤٦، اداب الصلواة).

یعنی مستحب دادی چې : (۱) لمونځ ګذار د قیام په دوران کې دسجدې ځای ته وګوري (۲) اوپه رکوع کې پښوته (۳) اوپه سجده کې دپوزی نرمی ته (۴) اوپه قعده کې خپلې جولی ته (۵) ښي طرف سلام ګرځولو کې ښي او ګی ته اوګس طرف ته سلام ګرځولو کې ګسې اوګې ته ، دادتواضع او عاجزي لپاره آداب دي، کله چې داټول آداب دزير بحث مسئلې (قيام عند حي على الفلاح) پشان له ادابو او مستحباتو څخه دی چې خشوع او تواضع ترینه پیداکیږي نو پدی باندی عمل کولو لپاره ولې دومره زور نشي ورکولې ؟

امام طحطاوي او کرخي رحمهم الله وغیره نورو حضراتو تصریح کړیدی چې : "الظاهر انه عند وجود مشغل فى هذه المحلات لاينظر اليها لانه يضيع الخشوع الذى هو أعلى من المستحب"(طحطاوي على الدر المختار ۱/ ۳۳۱ ایضاً).

یعنی په لمانځه کې چې په کوم ځای ته کتل مستحب دی لدې ځایونو نه چې په کوم ځای کې څه داسې نقش ونګار وي چې دهغه په لیدو سره لمانځه کې مکمل توجه او خشوع او خضوع نه پاتې کیږي نو دهغه استحباب ختميږي ځکه چې دخشوع وخضوع اهمیت لدی مستحب نه ډیر زیات دی .

او دلمانځه دادابو له جملې څخه داهم دی چې کله "قدقامت الصلواة"وويل شي نو پدی وخت کې دی امام لمونځ شروع کړي او که داقامت ترختمیدو نه وروسته شروع کړي پدیکې هم څه پرواه نشته بلکې تاخیر زیات صحیح او غوره دی پدې چې اقامت کونکی هم په تکبیر اولی کی امام سره یوځای شرکت وکړی شي،(قوله انه الاصح) .

لان فيه محافظة على فضيلة متابعة المؤذن واعانة له على الشروع مع الامام (شامي ۱/ ٤٤٧ ايضا ، غاية الاوطار ۱/ ۲۲۰ ، ۲۲۱).

لدینه اندازه ولګېږئ چی یواځې داقامت کونکی درعایت لپاره "قدقامت الصلواة"په وخت کی دلمونځ نه شروع کولو حکم دی او دیو مستحب ترک کولو تـه زیـات صحیح ویل شویدی نو دټول جماعت (چی بی شـمیره کسـان پکـی وي) دصـفونو برابـروالي (چی په حدیث او فقه کی زیات تاکید ورباندی شویدی) په خاطر دامام پـه موجـودګی کی داقامت له ابتداء او شروع نه ودریږي نو پـه کـوم بنیـاد بانـدی دیتـه مکـروه ویـل کیږي؟ بلکې دفقه او دحیدث له نظره داعمل ډیر افضل او اعلی دی اودصـحابه کرامـو. تعامل هم ددی تائید کوي ، په فتح الباري شرح دبخاري کـی دي : فقد ثبـت عـن الصحابة رضى الله عنه انهم كانوا يقومون اذا شرع المؤذن فى الاقامة ۲/ ۹۹ باب الجمعة ، مصنف عبدالرزاق ۱/ ۵۰۷).

يعنی صحابه کرام هغه وخت کی ودریدل چی کله به مؤذن اقامت شروع کړ.

او همدغسې ځینی جاهل امامانو داعادت جوړ کړیدی چی دجمعې دخطبی نه وروسته مصلی باندی کیني او بیا اقامت کولی شي او دحی علی الفلاح په وخـت کـی امـام او مقتدي ټول ودریږي ، دغه کار په حدیث او دفقه حنفي په هیڅ کتـاب کـی ثابـت نـدی اوداطریقه هم خلاف سنت او واجب الترک ده ، بلکـی حکـم دادی چـی دخطبـی نـه وروسته فوراً اقامت شروع شي اودامام مصلی ته تررسیدو پـورې اقامـت پـوره شـي ، پـه درمختارمع الشامي کی دي : (قوله اقيمت) بحيث يتصل اول الاقامة بآخر الخطبـة وتنتهى الاقامة بقيام الخطيب مقام الصلواة . (۱/ ۷۷۰، باب الجمعة).

يعنی دخطیب دخطبی په پوره کیدو سره متصل اقامت وکړی شي پدی طور سـره چـی امام مصلی ته تررسیدو پورې پوره کړی شي.

په مجالس الابرار کـی دي : واذا فرغ من الخطبة وشرع المؤذن فى الاقامة ينـــزل من المنبر ويصلى بالناس ركعتين .(مجلس نمبر٤٩ ص۳۱۵) .

یعنی کله چی خطیب له خطبی نه فارغ شي او موذن اقامت شروع کړي نو امام ته پکار دي چی له منبر نه راکوز شي او خلکوته دجمعې دوه رکعته لمونځ ورکړي
په صغیری (شرح منیة المصلی) کی دي : واذا فرغ من الخطبة اقاموا وصلی بهم الرکعتین علی ماهو المعروف، (ص۲۸۱) .
یعنی کله چی خطیب له خطبی نه فارغ شي اقامت دی وکړی شي او امام به خلکو سره دوه رکعته لمونځ وکړي او همدا معروفه طریقه ده ، اوپه کبیري (شرح منیة المصلی) کی هم دي : واذا فرغ من الخطبة اقاموا الصلواة وصلی بالناس رکعتین علی ماهوالمتوارث المعروف ، (ص۵۲۰ باب الجمعة) .
یعنی کله چی خطیب له خطبی نه فارغ شي نو لمانځه لپاره دی اقامت وکړی شي او امام به خلکو سره دوه رکعته لمونځ وکړي او همدا طریقه متوارث او معروفه ده .
(۱) دقدقامت الصلواة په وخت لمونځ شروع کول مستحب دی لیکن داقامت کونکی درعایت لپاره دغه پرینبودلی کیږي.
(۲) په اودس او غسل کی غړغړه سنت دی مګر ستونی نه داوبو تیریدو له ویرې روژه دار لپاره غړغړه کول منع دی ، ومن فروع ذلك المبالغة فی المضمضة والاستنشاق سنونة وتکره الصائم (الاشباه والنظابرص۱۱۵).
(۳) همداراز دګیرې خلال کول سنت دی مګر داحرام په حالت کی دګیرې دماتیدو له ویرې خلال کول مکروه دی ، وتخلیل اشعر سنة فی الطهارة یکره للمحرم (ایضا).
دذکر شوی ملاحظاتو په رڼا کی په ټولو ځایو کی دڅه عارض په وجه مستحب پرینبودل کیږي اوبالکل همدغه شان دحی علی الفلاح په وخت ودریدو ادب لره دصفونو دسیده کولو لحاظ ساتلو لپاره پرینبودلو ته اولی غو غوره بلل کیږي ، لکه څنګه چی دخطبی په وخت کی خطیب ته مخ کول مستحب ذی لیکن دصفونو دسیده کولو په خیال قبلې ته مخامخ کیناستل غوره کولې شي، په مجالس الابرار کی دي : ویستحب للقوم ان یستقبلوا الامام عند الخطبة لکن الرسم الآن انهم ستقبلون القبلة للحرج فی تسویة الصفوف لکثرة الزحام (مجالس نمبر۴۹ ص۳۱۵).

یعنی قوم (حاضرین) لپاره مستحب دی چې دخطبې په وخت کې خطیب طرف ته مخامخ کیني لیکن اوس طریقه داده چې دقبلې په طرف کیني ځکه چې دزیاتي ګڼه ګوڼې په وجه دصفونو برابرولو کې تکلیف او مشلک پیداکیږي.

لدینه معلومیږي چې دصفونو دبرابرولو تاکیدو حکم رعایت کولو لپاره داقامت په اول وخت کې دامام او مقتدیانو ودریدل مکروه ندی ، البته کله چې امام مخکې موجود نه وي نو مقتدیان دی نه ودریږي بلکې ناست دی ووسي، اوپدی وخت کې ودریول مکروه دی (شامي وغیره).

علاوه لدینه مستحب شی له حد نه اوچتول اوداضروري ګڼل، او داقامت په اول وخت کی ودریدونکی ملامت کول اورته بدعقیده ویل اوپه کیناستو باندی زورکول اوله جومات نه ویستل داټول څنګه جائز کیدی شي. فالی الله المشتکی ، فقط والله اعلم .

په فتاوی رحیمیه کی نقل شوی دیو عبارت تحقیق

۱۵۱ـ سوال : محترم حضرت مفتي سید عبدالرحیم صاحب السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته . الله تعالی دی وکړي چې صحت او مزاج مو ښه وي .

محترم ! ساستو دکتاب "فتاوی رحیمیه" نه ډیر زیاته استفاده کوم په تفصیلي ځواب لیکلو سره ستاسو له کتاب نه کافي مدد حاصلیږي زما دعا ده چې الله تعالی ستاسو دژوند سیوری ترډیر وخته پورې قائم لري اوډټول امت له طرفه دی بهترینه بدله درکړي او خاتمه بالخیر درنصیب کړي آمین .

یوه اهمه خبره عرض کوم هغه داچې دفتاوی رحیمیه ۴/ ۳۲۰ ، او ۸/ ۲۱۰ دجدید ترتیب مطابق (اقامت لپاره مقتدیان کله ودریږي) ترعنوان لاندی وګورئ ص۱۰۴ مرتب. صفحو باندی دفتح الباري ۲/ ۹۹ په حواله یو عبارت لیکلی چې :"فقد ثبت عن الصحابة انهم کانوا یقومون اذا شرع المؤذن فی الإقامة" داعبارت می فتح الباري کی ډیروکتلو خو پیدامی نکړو له تاسو نه هیله کوم چې راهنمایي وکړئ او دباب حوالې سره داعبارت ولیکئ . اوپه کوم صفحه کی چې داعبارت دی هغه صفحې نمبر سره دباب نه ولیکئ. او دعاګانو کی مو یادوئ. فقط والسلام.

ځواب: حامدا ومصلیاً ومسلماً: محترم مفتی صاحب ، السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته.

عرض دادی چی ستاسو خط راورسید . په فتاوی رحیمیه کې دفتح الباري په حوالې سره چی کوم عبارت لیکل شوی متاسفانه چی دتلاش باوجود دغه عبارت په فتح الباري کې پیدانشو چی بی حده پریشانه کړم مګر ددغه عبارت مفهوم بالکل صحیح دی او دغه خبره غلطه نده دځواب لیکلي په وخت مختلف کتابونه مخی ته پراته وي دحوالې په نقل کولو کې کیدی شي دقلق نه څه خلط ملط او سهوه شوی وي ، دعبارت مفهوم الحمد لله بالکل صحیح دی او دامفهوم دمصنف عبدالرزاق له روایت نه صراحتاً ثابتیږي دغه روایت پخپله صاحب دفتح الباري علامه ابن حجر عسقلاني هم نقل کړیدی دمصنف عبدالرزاق ددی صفحی کاپي هم درته لیږم : روایت دادی چی دفتاوی رحیمیه۴/ ۱۰۶ صفحه کی ذکر دی : "۱۹۴۲ عبدالرزاق عن ابن صریح قال : اخبرني ابن شهاب ان الناس كانوا ساعة يقول المؤذن الله اكبر، الله اكبر ، يقيم الصلواة يقوم الناس الى الصلواة فلايأتى النبى صلى الله عليه وسلم مقامه حتى يعدل الصفوف"(مصنف عبدالرزاق باب قيام الناس عند الاقامة ۱/ ۵۰۷ فتح الباري ۲/ ۱۰۰).

ترجمه : دابن شهاب زهري نه نقل دی چی کله به مؤذن الله اکبر وویلو نو خلک (صحابه کرام) به لمانځه لپاره ودریدل او درسول الله صلی‌الله علیه وسلم تر راتګ پورې به صفونه برابرول ، پدی روایت کی غور وکړئ په فتاوی رحیمیه کی دپیش شوی عبارت مفهوم لدی عبارت نه صراحتاً ثابتیږي ، نولدینه معلومیږي چی دعبارت مفهوم بالکل صحیح دی البته دحوالې په نقل کولو کی څه غلط فهمي شویده .

اوداخبره نورو علماو کرامو هم لیکلې ده لکه :

(۱) .... د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب یوه رساله ده چی " د اقامت په وخت کی مقتدیان څه وخت ودریږي ؟ " نومیږي او دا رساله ده جواهر الفقه مطبوعه عارف کمپنی دیوبند د ۳۰۹ صفحی نه تر ۳۲۴ پوری چاپ شویده ، مکمل رساله قابل د مطالعي دی ، پدی کی یوځای مفتي صاحب لیکلي دي : د دغو حدیثي روایاتو له مجموعی د قدر مشترک په طور دا خبره ثابتیږي چی کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم له وړاندی نه په جومات کی موجود نه وُ بلکی د کور نه به یی تشریف راوړلو نو د ده صلی الله علیه وسلم په لیدو سره به حضرت بلال رضی الله عنه اقامت شروع کولو او

تول صحابه كرام رضى الله عنه به د اقامت ابتداء نه ودريدل او صفونه به يې برابـرول . او رسول الله صلى الله عليه وسلم كله هم منع نـده كـړى الخ (جـواهر الفقـه ج ۱ ص ۳۱۵)

(۲) په عمدة الفقه كې دي او همدا راز د صفونو برابرولو لپاره د اول نه ودريدل زيات مناسب دى . او له صحابه كرامو رضى الله عنهم نه هـم همداشـان نقـل دى " (عمـدة الفقه ج ۲ ص ۱۰۲ . د مولانا سيد زوار حسين صاحب مطبوعه كراچي) .

(۳) په احسن الفتاوى كې دي : د ټولو حديثو خلاصه دا شوه چې د امام له ودريـدو نـه مخكې د خلكو ودريدل مكروه تنزيهي دي . او بهتره دا ده چـې دامـام لـه ودريـدو نـه وروسته خلك ودريږي او د امام اودريدل د امامت لـه شـروع كيـدو يعنـى الله اكبـر نـه معلوميږي پدى وجه مقتديان دى د الله اكبر په اوريدو سره پورته شي او د صحابه كرامو رضى الله عنهم تعامل هـم همـدا وُ .... الخ (احسن الفتاوى ص ۲۵۰ باب الاذان والاقامة مع حوادث الفتاوى . طبع قرآن محل كراچى) ډير تفصيلي ځـواب بايـد چـې مكمل وكتلى شي . فقط والله اعلم .

باب الامامة والجماعة

ایا بغیر د عذر نه جمع بین الصلواتین جائز دي ؟

(۱۵۲ سوال) د ۱۹٦۰ء کال د فروری میاشتی په (ګجراتي) میاشتنی مجلی دولسم ۱۲ صفحه کی یو مضمون شائع شوی چی خلاصه یی په لاندی ډول ذکر کیږي . د ماسپښین ، مازیګر ، ماښام او د ماسخوتن لمونځونه یو ځای ادا کیدلی شي . لهذا په تفصیل سره ځواب ورکړی ، د ذکر شوی عبادت دا دی ، ترجمه : یو ځل ابن عباس رضی الله عنه دمازیګر نه وروسته مونږ ته تقریر وکړ تر دی پوری لګیا وْ چی لمر پریوته او ستوري راښکاره شولی خلکو د الصلواة ، الصلواة آوازونه شروع کړل یو تمبمي مسلسل الصلواة ویل شروع کړه چی ابن عباس رضی الله عنه په غصه کیدو سره وفرمایل ته ماته د سنتو تعلیم راکوی ؟ ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی دی چی ماسپښین ، مازیګر ، ماښام او ماسخوتن لمونځونه به یی یوځای کول . د عبد الله بن شقیق په زړه کی دا خبره ځای نشوه نو د ابوهریره رضی الله عنه یی تپوس وکړ نو ابوهریره رضی الله عنه وفرمایل چی هو صحیح دي ، پدی سره عوامو کی عملي او اعتقادي پیدا کیدو خطره ده .

ځواب : ماښام لمونځ په جلتي او تلوار سره یعنې اول وخت کی کول سنت دی او دشرعي عذر نه بغیر تاخیرکول ممنوع او مکروه دی ، حضرت سلمه رضی‌الله عنه فرمایي مونږ به درسول الله صلی‌الله علیه وسلم سره دماښام لمونځ هغه وخت کولو چی کله به لمر پریوته "عن سلمة رضی‌الله عنه قال کنا نصلی مع النبی صلی‌الله علیه وسلم المغرب اذاتوارت بالحجاب"(بخاري شریف ۱/ ۷۹ بـاب وقـت المغرب).

اودرسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمان دی چی دماښام لمونځ هغه وخت کی کوئ چی کله روژه دار لپاره روژه ماتول حلال شي اودستورو لـه شکاره کیدو نه واندی کوئ "وعن ابي ایوب رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه

وسلم صلوا المغرب حين افطر الصائم مبادرة طلوع النجم" (رواه ابن ابي شيبة ، زجاجة المصابيح ۱/ ۱۷٤ باب تأخير الصلواة وتعجيلها)

اوداهم رسول الله صلى‌الله عليه وسلم فرمايلي دي : زما امت به همیشه لپاره په خير او نيكي باندى روستې اويا په فطرت (اسلامي طريقه) باندى به پاتې وي څو پورې چې دماښام په لمونځ کې ستورو راښکاره کيدو پورې تاخير نه کوي ، "عن مرثد بن عبدالله قال لما قدم علينا ابو ايوب غازياً وعقبة ابن عامر يؤمئذ على مصر فاخّر المغرب فقام اليه ابو ايوب رضى‌الله عنه فقال له ماهذه الصلواة يا عقبة قال شغلنا قال اما سمعت رسول الله صلى‌الله عليه وسلم يقول لاتزال امتى بخير او قال على الفطرة مالم يؤخروا المغرب الى ان تشتبك النجوم"(ابوداود شريف ۱/ ٦٦، مشكواة ص٦١ زجاجة المصابيح ۱/ ۱۷۳ ، ايضاً).

اوداهم صحيح نده چې رسول الله صلى‌الله عليه وسلم دماسپښين ، مازديګر ، ماښام اودماسخوتن لمونځونه يې يوځاى اداكول، دحضرت ابن عباس روايت كوم چې سوال کې ذکر شويدى که چېرته ددى څه تاويل او توجيه ونه کړې شي نو دادقران پاك اودصحيح احاديثو په خلاف دى او عجيبه خبره داده چې پخپله دابن عباس رضى‌الله عنه ديو روايت په خلاف هم دى ، په ترمذي شريف كې دي : عن ابن عباس رضى‌الله عنه عن النبى صلى‌الله عليه وسلم قال من جمع بين الصلواتين من غير عذر فقد أتى باياً من ابواب الكبائر.

دابن عباس رضى‌الله عنهُ نه نقل دى چې رسول الله صلى‌الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې بغير دڅه عذر نه دوه لمونځونه يوځاى اداكړي نو هغه دلويوګناهونو څخه يوه لويه ګناه وکړه ،(ترمذي شريف۱/ ٦٦ باب ماجاء فى الجمع بين الصلواتين.)

نوپه سوال کې ذکر شوى قصه که چېرته دسند په لحاظ سره صحيح ومنل شي نو بالاجماع متروك العمل دى ، دقران پاك آيتونه او حديثونه وګورئ.

۱ـ دالله تعالى ارشاد دى :

(ان الصلواة كانت على المؤمنين كتابا موقوتا) سورت النساء ١٦.
دهندوستان مشهور عالم اودقران شريف دمترجمينو امام حضرت شاه عبدالقادر صاحب دهلوي رحمه الله ددى ترجمه داسې کړيده ، دالمونځ په مسلمانانو باندى په معين وخت باندى لازم دى يعني داسې فرض دى چى ځانته محدود اوقات لري اولډې وختونو نه بى ځايه کول صحيح ندى .
۲ـ بل ځاى ارشاد دى : "حافظوا على الصلوات والصلواة الوسطى" يعنى د ټولو لمونځونو پوره حفاظت وکړئ او پخپل خپل وختونو کى ادا کړئ (جلالين شريف) خصوصاً د د منځني لمونځ (مازديګر لمونځ) (سورت بقره ۲۳۸) .
د جليل القدر صحابي حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله عنه ارشاد نهايت صحيح سند سره ثابت دي چى رسول الله صلى الله عليه وسلم كله هم لمونځ کړيدى نو پخپل وخت کى يى کړيدې ، يواځى هغه دوه لمونځونه چى عرفات او مزدلفه کى (د حج په زمانه کى) کولى شي هغه لدينه مستثنى دي چى په عرفات کى ماسپښين او مازديګر او په مزدلفه کى ماښام او ماسخوتن لمونځونه يوځاى ادا کولى شي :
"عن عبد الله رضى الله عنه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى الصلواة لوقتها الا بجمع وعرفات" (نسائى شريف ج ۱ ص ۱۷۱ كتاب الحج باب الجمع بين الظهر والعصر بعرفة) وفى الصحيحين عن ابن مسعود رضى الله عنه والذى لا اله غيره ما صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم صلواةً قط الاّ لوقتها الا صلواتين جمع بين الظهر والعصر بعرفة وبين المغرب والعشاء بجمع" (ج ۱ ص ۳۵۵ كتاب الصلواة قبيل باب الاذان) (شرح نقايه ج ۱ ص ۵۳ ، ۵٤) .

او يوه دغزوه خندق واقعه ده چى د دشمن نه حفاظت لپاره خندق ويستلى کيدو دغشو باران جوړ ؤ چى پدى وجه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماسپښين ، مازيګر ، ماښام او ماسخوتن لمونځونه پخپل وخت باندى ادا نکړى شول چى د دى دومره صدمه شوه چى رسول الله صلى الله عليه وسلم دخپل عادت په خلاف دشمنانو په حق کى بد دعائي وکړه چى الله تعالى دى د دوى کورونه او قبرونه د

اور نه ذکر کړي (بخاری شریف ج ۱ ص ۸۳ باب من صلی جماعة بعد ذهاب الوقت) "عن علی رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال یوم الخندق حبسونا عن الصلوٰة الوسطی صلوٰة العصر ملأ الله بیوتهم وقبورهم نارا" متفق علیه ، مشکوٰة ص ۶۳ باب تعجیل الصلوٰة .

"عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال کنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فحبسنا صلوٰة الظهر والعصر والمغرب والعشاء فاشتد ذلك علی فقلت فی نفسی نحن مع رسول الله صلی الله علیه وسلم وفی سبیل الله فأمر رسول الله صلی الله علیه وسلم بالاقامة فصلی بنا الظهر الخ" (نسائی شریف ج ۱ ص ۵۵ باب الاذان الاکتفاء بالاقامة لکل صلوٰة) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د احد په جنګ کی ځومره تکلیفونه رسیدلي وُ چی بد دعائي یی ونه کړه لیکن د خندق د غزا په موقع باندی لمونځونه پخپل وخت باندی ادا نه کړی شول په "حافظوا علی الصلوات" باندی عمل ونشو او د الله تعالی د فرائضو په ادا کولو کی تاخیر راغی دا یو ناقابل برداشت تکلیف وُ چی د دی په وجه یی خیری او بد دعائي وکړه بیا دا قول : چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماسپښین . مازدیګر ، ماښام او د ماسخوتن لمونځونه یی بغیر د عذر نه یوځای کول دا څنګه قابل د تسلیم او منلو کیدی شي ؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "تلك صلوٰة المنافق یجلس یرقب الشمس حتی اذا اصفر وکانت بین قرنی الشیطان قام فنقر اربعاً لایذکر الله فیها الا قلیلاً" (مشکوٰة ص ۶۰) .

ترجمه : دا د منافق لمونځ دی چی ناست وي او د لمر انتظار کوي چی کله زیړ شي او د شیطان د دوه ښکرونو تر منځ شي (په ډوبیدو شي) نو څلور ټونګی ولګوی او الله تعالی نه یادوي مګر ډیر کم (یعنی یواځی د ریاکاری لپاره لږ غوندی الله تعالی یادوي) .

او همدارنگه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي زمانه وروسته به ناست باندی داسي حاکمان حوړ شي چې لمونځونه به وروسته کوي او تاسو ته به د چیلو لمونځونو ثواب رسیږي خو ګناه به یې د هغوی په غاړه وي "عن قبیصة بن وقاص رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یکون علیکم امراء من بعدی یؤخرون الصلواة فهی لکم وهی علیهم فصلوا معهم ما صلوا القبلة" (رواه ابوداؤد ، مشکواة ص ٦٢ باب تعجیل الصلواة الفصل الثالث) .
تاسو لږ فکر وکړئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسنون وخت نه وروسته شوی لمونځ ته د منافق لمونځ وائي ، او وروسته کونکو حاکمانو او امیرانو ته د وبال او عذاب خبر ورکوي نو د هغو خلکو په څه حکم وي چې د ټول وخت په ختمولو سره قضا کړي؟ لدینه علاوه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت مخکې تیر شویدی چې په هغه کې بغیر د عذر نه دوه لمونځونه یوځای کول د کبیره او لویه ګناه یو باب ګڼلي شویدی ، همدغسې د حضرت سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه یو فرمان امام محمد رحمه الله په موطاء کې نقل کړی چې : "انه کتب فی الآفاق ینهاهم ان یجمعوا بین الصلواتین ویخبرهم ان الجمع بین الصلواتین فی وقت واحد کبیرة من الکبائر" (جمع بین الصلواتین فی السفر والمطر ص ۱۰۳)

ترجمه : حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ټولو اطرافو یعنی صوبو او ولایتونو ته فرمان لیږلو سره د جمع بین الصلواتین نه منع کړی وه پدی فرمان کې دا خبر هم ورکړی شوی وُ چې په یو وخت کې دوه لمونځونه کول کبیره او لویه ګناه ده .
پدی فرمان کې اګر که د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر نشته مګر د خبر ورکول مطلب همدا دی چې عمر فاروق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ژبې مبارکې نه دا اوریدلي دي او د دی خبر یې ورکړیدی .
په هر حال جمع تاخیر یعنی دا صورت چې بغیر د څه عذر نه د ماسپښین لمونځ وروسته کړی شي او د مازدیګر په وخت کې د ماسپښین لمونځ قضاء او د مازدیګر ادا کړی شي او دا بغیر عذره ناجائز دي او همدغسې د حج په موقع د عرفې په ورځ (۹ د ذوالحجه) نه علاوه باقي په ټول کال کې د مازدیګر لمونځ راوړاندی کولو

سره د ماسپښین په وخت کی کول هم ناجائز دي او دیته جمع تقدیم وائـي ۰ البته یو بل صورت دی چی هغه ته جمع صوري یا جمـع فعلـي ویـل کیـږي او پـه کومو حدیثونو او روایتونو کی چی د جمع ذکر راغلی له هغه نه همدا جمع صوري مراد دی یعنی د ماسپښین په آخر وخت کی کول او بیا فوراً د مازدیګر وخـت داخلیـدو سره د مازدیګر لمونځ وکړی شي مثلاً پـه سـفر کـی دا مشـکل وي چـی د ماسـپښین لمونځ په مستحب وخت کی ادا کړی شي نو شریعت دا سهولت او آسانـي ورکـړی چی سفر جاري وساتي او چی د ماسپښین وخت په ختمیدو شي نو چیرته پړاو وکړي او د ماسپښین لمونځ ادا کړي او بیا د مازدیګر او ماسخوتن په اول وخت کی وکـړی شي (لدینه علاوه د نورو لمونځونو مثلاً مازدیګر له ماښام سره او ماسخوتن لـه سـحر سره او سحر له مازدیګر سره یو ځای کولو سره د ادا کولو اجـازت نشـته) غـرض دا چی په حنفي مذهب کی یواځی د حج په موسم کی ځینی شرطونو سره په عرفـات کی ماسپښین او مازدیګر او په مزدلفه کی دماښام او ماسخوتن یوځای کولو سـره د (جمع حقیقي طور) د ادا کولو حکم دی لدینه علاوه د دوه فـرض لمونځونـو پـه یـو وخت کی په طور د جمع حقیقي یا په طور د جمع تقدیم ادا کول جـائز نـدي ، پـه درمختار کی دي : "ولاجمع بین فرضین فی وقت بعذر سفر ومطر" یعنی د سـفر او د باران د عذر په وجه سره هم دوه فرض لمونځونه ، په یـو وخـت کـی یوځـای ادا کول جائز ندي (درمختار مع الشامي ج ۱ ص ۳۵۴ کتاب الصلواة قبیـــل بـــاب الاذان) .

د جمع صوري (کوم چی د احنافو مسلک دی) تائید د ګنو حدیثونو نه کیږي ، مثلاً حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ته د اهلیه محترمه (صفیه) د سخت بیماری خبر ورکړی شو نو هغه روان شو د ماښام وخت شو نو د ده ځوی سالِم رضی الله عنه ووېل : "الصلواة" لمونځ وکړئ حضـرت ابـن عمـر رضـی الله عنـه وفرمایـل : روان ووسته حضرت سالِم فرمایي چی لږ وخت بعد ما بیا ووېل چی لمونځ وکړئ هغـه بیـا همدا خواب راکړ تر دی چی مونږه دوه دری میله سفر وکړ بیا حضـرت ابـن عمـر رضی الله عنه پړاو او دمه وکړه او د ماښام لمونځ یی وکړ او بیا یی وفرمایـل چـی مـا رسول الله صلی الله علیه وسلم همدغه شان لیدلی دی چی کله بـه سـفر کـی تلـوار کیدهٖ نو هغه به په تیاره کیدو سره د ماښام دری رکعتونـه ادا کـول او بیـا بـه یی لږ

وهم کوله او بیا به یی د ماسخوتن لمونځ دوه رکعته کول . (بخاری شریف باب یصلی المغرب ثلثا فی السفر ص ۱۴۸ وبمثله عن نافع ، ابوداؤد شریف ص ۱۷۷ ، ۱۷۸ او نسائي شریف ج ۱ ص ۱۵۲) .

او همداشان له حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چی ده به کله سفر کی دوه لمونځونه یوځای کول غوښتل نو ماسپښین به یی آخر وخت کی ادا کولو او مازدیګر په اول وخت کی ، او ماښام به یی آخر وخت کی کولو او ماسخوتن په اول وخت کی او فرمایل به یی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به په سفر کی پدی طریقه جمع بین الصلواتین کولو : "وعن انس رضی الله عنه انه کان اذا اراد ان یجمع بین الصلواتین فی السفر اخّر الی الظهر الی آخر وقتها وصلاها وصلی العصر فی اول وقتها ویصلی المغرب فی آخر وقتها ویصلی العشاء فی اول وقتها یقول هکذا کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یجمع بین الصلواتین فی السفر" (مجمع الزوائد ج ۱ ص ۲۰۶ باب الجمع بین الصلواتین فی السفر) .

له سیدنا حضرت علي رضی الله عنه نه هم دا روایت دی چی سفر کی به لمر پریوتو نه بعد هم سفر جاري ساتلو تر دی چی تیاره به په خوریدو شوه نو له سورلی ځخه به کوز شو او ماښام لمونځ به یی ادا کړو او بیا به یی ډوډی او خوراک راغوښتله او خوړله به یی (پدی دوران کی به خامخا د ماسخوتن وخت شوی وُ) بیا به یی ماسخوتن لمونځ کولو سره سفر شروع کړو او فرمایل به یی : رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم همداسی کولو : "قال ابن المثنی قال اخبرنی عبد الله بن محمد بن عمر ابن علی رضي الله عنه بن ابی طالب عن ابیه عن جده ان علیاً رضی الله عنه کان اذا سافر صار بعد ما تغرب الشمس حتی تکاد ان تظلم ثم ینزل فیصلی المغرب ثم یدعوا بعشائه فیتعشی ثم یصلی العشاء ثم یرتحل ویقول هکذا کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یصنع" (ابوداؤد ج ۱ ص ۱۸۱ باب یتیم المسافر) .

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائي د تبوک د غزا په سفر کی مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان شولو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ماسپښین او ماژدیګر لمونځونه به یی داسی یوځای کول چی ماسپښین به یی آخری وخت کی کولو او ماژدیګر په اول وخت کی او بیا به یی سفر شروع کړو او بیا ماښام به یی د ماښام په آخري وخت کی کولو چی شفق به لا نه وُ غائب شوی یعنی د لمر پریوتو نه وروسته چی د مغرب په طرف کومه رڼا باقی پاتی وي هغه به نه وه ختمه شوی چی د ماښام لمونځ به یی کولو او چی ځنګه به هغه رڼا ختمه شوه نو د ماسخوتن اول وخت کی به یی د ماسخوتن لمونځ ادا کولو : "عن معاذ بن جبل رضی الله عنه قال خرجنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فی غزوة تبوك فجعل یجمع بین الظهر والعصر یصلی الظهر فی آخر وقتها ویصلی العصر فی اول وقتها ثم یسیر ویصلی المغرب فی آخر وقتها ما لم یغب الشفق ویصلی العشاء فی اول وقتها حین یغیب الشفق الخ" (مجمع الزوائد ج ۱ ص ۲۰۶ باب الجمع بین الصلواتین فی السفر) .

او د ابن عباس رضی الله عنه د روایت مطلب هم دا دی کوم چی نسائي شریف کی دي چی ما رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مدینه طیبه کی اته رکعته یوځای (ماسپښین . ماژدیګر) او اوه رکعته یوځای (ماښام او ماسخوتن) پدی طریقه ادا کړل چی ماسپښین آخر کی او ماژدیګر اول وخت کی او همداراز ماښام آخر وخت کی او ماسخوتن اول وخت کی ادا کړل ، "عن ابن عباس رضی الله عنه قال صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم بالمدینة ثمانیاً جمیعاً وسبعاً جمیعاً اخّر الظهر وعجل العصر وآخر المغرب وعجل العشاء" (نسائی شریف ج ۱ ص ۵۳ باب الوقت الذی یجمع فیه المقیم) .

لدی ټولو روایتو نه په صراحت سره ثابتیږي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم جمع حقیقي یا جمع تقدیم نه بلکی جمع صوري به یی کولو او کوم روایات چی د دی مخالف معلومیږي د هغو همدا تاویل ضروري دی تر څو د قرآن پاک د آیتونو او صحیح احادیثو سره مطابقت راشي او اختلاف

پاتی شي . علامه قاضي شوکانی لیکي "فوجب المصير الى ذلك" یعنی حسن صوري طرف ته رجوع واجب دی چی په دلیل سره همدا ثابت دي
(نیل الاوطار ج ۳ ص ۹۳)

امامت لپاره حقدار څوک دی ؟

(۱۵۳ سوال) د امامت لپاره زیات حقدار څوک دی ؟ یو سید ، جاهل او بی عمل دی او بل غیر سید د دین عالِم او باعمل دی نو پدی دواړو کی د امامت څوک زیات حقدار دی ؟

ځواب امام یو عاقل ، بالغ ، صحیح العقیده د لمانځه متعلق مسئلو نه واقف او په صحیح طریقی سره د لمونځ اداکونکی او دیندار سړی پکار دی . په حدیث کی دي که چیرته دا مو خوښه وي چی لمونځ مو د قبولیت درجی ته ورسي نو په تاسو کی چی کوم یو بهتر او نیک وي هغه دی ستاسو امامت وکړي هغه ستاسو او ستاسو د پروردګار تر منځ قاصد دی ، "ان سركم ان تقبل صلوتكم فليؤمكم علمائكم فانهم بينكم وبين ربكم" رواه الطبرانی وفی رواية الحاكم فيؤمكم خياركم وسكت عنه (شرح نقایه ج ۱ ص ۸۶ کتاب الصلواة فصل اول باب الامامة)

په بل حدیث کی دي : کوم یو چی په تاسو کی تولو کی بهتر وي هغه خپل امام جوړ کړئ ځکه چی هغه ستاسو د پروردګار تر منځ قاصد دی (ذکر شوی حواله)

د فقهی مشهور کتاب نور الایضاح کی دي "فالاعلم احق بالامامة ثم الاقرأ ثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقا ثم الاحسن وجها ثم الاشرف نسبا ثم الاحسن صوتا ثم الانظف ثوبا" (۸۲ ، ۸۳ باب الامامة فصل فی الاحق بالامامة) .

یعنی د امامت لپاره حقدار هغه دی چی دیني پوهه ولري (خاص طور د لمانځه د مسئلو نه زیات واقف وي) او بیا هغه چی قرآن په تجوید سره وائي او بیا هغه چی زیات متقي او پرهیزګار وي او بیا چی کوم په عمر کی مشر وي او بیا چی کوم ښه اخلاق ولري او بیا چی کوم یو ښائسته وي او بیا چی کوم یو په نسب کی زیات

شریف سړی وي او بیا چې کوم یو زیات خوش آوازه وي او بیا چې کوم یو زیات پاکې کېږی اغوندي .

غرض دا ځوک چې پدی ترتیب سره پدی صفاتو کې مخکې وي هغه د نورو په مقابل کې د امامت زیات حقدار دی ، اعلی او مستحق شخص پریښودل او د ادنی شخص امام جوړول غلط کار دی ، په حدیث کې دي : "اذا امّ الرجل القوم وفيهم من هو خير منه لم يزالو فى سفال" (فتاوی ابن تیمیه ج ۱ ص ۱۰۸) یعنی کله چې د قوم امامت هغه ځوک وکړي چې شاته یې د دینه بهتر سړی موجود وي نو هغه قوم به همیشه پستی کې اوسیږي (پدی چې د قابل قدر سړي قدر نه کوي) .

په یو بل حدیث کې دي : کوم سړی چې په یو قوم کې د یو کار ذمه واري داسې کس ته وسپاري چې په هغه قوم کې داسې سړی موجود وي چې د هغه نه زیات د الله تعالی د رضامندی حاصلونکی وي او د الله تعالی د احکام زیات عملي کونکی وي نو هغه (پدی غلط انتخاب سره) د الله تعالی سره خیانت وکړ : "من قلد رجلا على عصابة وهو يجد فى تلك العصابة من هو ارضى لله فقد خان الله وخان رسوله وخان المؤمنين" (فتاوی ابن تیمیه ج ۱ ص ۱۰۸) .

کوم سید چې د لمانځه مسئلو نه واقف نه وي او قرآن شریف هم صحیح لوستلی نشي نو هغه عالِم ، قاري او دیندار دغیر سید په مقابل کې د امامت زیات حقدار دی د سید السادات د دواړو جهانو سردار صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "من بطاء به عمله لم يسرع به نسبه" (ابوداؤد ج ۲ ص ۱۵۷) د چا عمل چې چا لره وروسته کړي د هغه نسب هغه لره نشي مخکې کولی ، البته که چیرته د علم او عمل سره نسبي شرافت هم ملګری وي نو هغه نورعلی نور دی او دسرو زرو زیور او کالی دی ، فقط والله اعلم

که چیرته څو ورځې وروسته د فرض د راګرځولو ضرورت نشي نو جماعت سره وکړي یا بغیر د جماعت نه ؟ او یا د جماعت ثواب به ملاو شي ؟

(۱۵۴ سوال) ځینې کسانو امام پسې د سحر لمونځ ادا کړ د هغې نه وروسته ماسپښین لمانځه کې او یا بله ورځ کوم لمانځه کې امام اعلان وکړي چې ما هم ما پسې د فلانې ورځې د سحر لمونځ کړی وي هغه دی د خپل لمونځ قضائي راوګرځوي ، ځکه چې د شرعي عذر په وجه زه د پاکي حالت کې نه وم نو د هغه سحر قضاء جماعت سره راوګرځولی شي او یا ځان ځانته وکړی شي ؟ او که ځان ځانته وکړی شي نو د هغه جماعت ثواب به ملاوېږي چې اول ځل کړی شوی ؤ خو لمونځ نه و شوی ؟

ځواب : که چیرته هماغه وخت کې امام ته یاد شوي وای نو د عذر لرې کولو نه وروسته په هغه ځای کې بغیر د اذان او اقامت نه جماعت سره به یې ادا کړی ؤ ، په بخاري شریف کې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې یو ځل لمانځه لپاره اقامت وویل شو او صفونه درست کړی شول ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د کمرې نه باهر تشریف راوړ او چې کله مصلی باندې ودریدو نو ورته جنابت رایاد شو نو مونږ ته یې وفرمایل چې پخپل ځان باندې ودرېږئ ، (د ابوداؤد شریف په روایت کې دي چې د شروع کولو نه وروسته رایاد شول) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس لاړ او غسل یې وکړ او لا د سر مبارک نه یې څاڅکي راتوییدلې چې راغی او تکبیر تحریمه یې وویلی او مونږ ورسره لمونځ وکړ : "عن ابي هريرة رضى الله عنه قال اقيمت الصلواة وعدلت الصفوف قياماً فخرج الينا رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما قام على مصلاه ذكر انه جنب فقال لنا مكانكم ثم رجع فاغتسل ثم خرج الينا ورأسه يقطر فكبر فصلينا معه" (بخارى شريف ج ۱ ص ٤١ باب اذا ذكر فى المسجد انه جنب خرج كما هو ولايتيمم) (وفى رواية ابى داؤد قال فكبر ثم اوماء الى القوم ان اجلسوا فذهب فاغتسل) (ابوداؤد ج ۱ ص ۳۵ باب فى الجنب يصلى بالقوم وهوناسٍ) .

لیکن که چیرته د لمانځه د وخت تیریدو نه او دلمونځ ګذارو د خوریدو نه وروسته رایاد شي نو بیا د ټولو خلکو یوځای کولو سره دجماعت اهتمام کول ضروري نه دي ، ځکه چې کله رایاد شي اوخبر شي په هماغه وخت کې (که چیرته مکروه وخت نه وي) کې دې قضاء راوګرځوي ، دغسې یوه واقعه د حضرت علی رضی الله عنه په زمانه کې شوې وه په " مراقی الفلاح " کې دي : "وعلی رضی الله عنه صلی بالناس ثم تبین له انه کان محدثا فاعاد وامرهم ان یعیدوا" (ص ۵۷) یعنې علی رضی الله عنه خلکو ته لمونځ ورکړ او بیا ورته پته ولګیده چې بې اودسه یم نو بیا یې لمونځ دوباره کړو او خلکو ته یې هم حکم وکړ چې لمونځ راوګرځوئ (ص ۵۷ کتاب الطهارة) .

په فتاوی عالمګیري کې دي : یوې ډلې پخپل وخت کې جومات کې جماعت سره لمونځ وکړ او بیا ورته په وخت کې دننه پته ولګیده چې لمونځ فاسد شوی دی هماغه ساعت هغه ځای جماعت سره لمونځ دوباره وکړي اذان او اقامت دی دوباره نه کوي او که چیرته د وخت نه وروسته کوي نو په هغه جومات کې نه په بل کوم جومات کې بغیر اذان او اقامت نه راوګرځوي : "قوم ذکروا فساد صلواة صلوها فی المسجد فی الوقت قضوها بجماعة فیه ولایعیدون الاذان ولا الاقامة وان قضوها بعد الوقت قضوها فی غیر ذلك المسجد بلا اذان واقامة" (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۵۵ الباب الثانی فی الاذان الفصل الاول فی صفته واحوال المؤذن) .

پدې ذکر شوې مسئله کې لمونځ ګذاران د جماعت له ثواب نه محروم نه ګرځي ، په حدیث شریف کې دي کوم سړی چې په ښه طریقه اودس کولو سره جومات ته لاړ مګر جماعت یې کیر نه کړ نو الله تعالی ده ته د جماعت ثواب ورکوي او جماعت سره د لمونځ کونکو ثواب کې څه کمی او نقصان نه کیږي ، "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من توضاء فاحسن وضوءه ثم راح فوجد الناس قد صلوا اعطاه الله مثل اجر من صلاها وحضرها لاینقض

ذلك من اجورهم شيئاً" رواه ابوداؤد والنسائی (مشكواة شريف ص ۱۰۲ باب ما علی المأموم من المتابعة وحكم المسبوق) .

په نور الايضاح کی دي : "اذا انقطع عن الجماعة لعذر من اعذارها المبيحة للتخلف يحصل له ثوابها" (ص ۸۲ باب الامامة) يعنی که د عذر په وجه جماعت کی شريک نشي نو د جماعت ثواب به ورته ملاويږي .

امام لپاره د امامتي نيت کول ضروري دي يا نه ؟

(۱۵۵ سوال) امام لپاره د امامت يعنی خپله د امام کيدو نيت ضروري دی يا نه ؟

ځواب : امام لپاره د امامتی نيت کول ضروري ندي ، البته د مقتدي لپاره ضروري دي چی د امام د اقتداء نيت وکړي : "(قوله وينوی المقتدی) اما الامام فلايحتاج الی نية الامامة" (شامی ج ۱ ص ۳۹۰ صفة الصلواة) .

حنفي امام د شافعي مقتديانو لپاره په څه شان امامت وکړي ؟

(۱۵٦ سوال) زه حنفي مذهب يم او د شافعي مذهب په مکتب کی سبق ښايم او کله کله جهري لمونځونه هم ورکوم که چيرته زه د شافعي مقتدي په لحاظ کولو سره د سورت فاتحه نه وروسته دومره وخت چپ پاتی شم چی هغوی جلتی سره سورت فاتحه ولولي او بيا بل سورت شروع کړم نو پدی کی څه ګناه شته ؟

ځواب : حنفي امام لپاره پدی طريقه (سورت فاتحه نه وروسته سورت لوستونکی) تاخير جائز ندي بلکی منع دي پدی سره لمونځ فاسد او راګرځول يی واجب ګرځي سجده سهوه هم نه کافي کيږي ځکه چی پديکی تاخير قصداً شوی نه سهواً[1] فقط .

امام څنګه نيت وکړي ؟

(۱۵۷ سوال) امام چی کله لمانځه لپاره ودريږي نو څنګه نيت وکړي ؟

ځواب : پدی طريقه دی نيت وکړي .

---

[1] ـ فلا سجود فی العمد قيل الا اربع ترك قعدة الاولی وصلواته فيه علی النبی صلی الله عليه وسلم وتفكره عمدا حتی شغله عن ركن ، (درمختار علی هامش شامی ، سجده سهو ج ۲ ص ۸۰) .

(۱) زه خالص د الله تعالی لپاره لمونځ کوم (۲) فرض لمونځ کوم (که واجب وغیره وي نو د هغه خیال به کوي) (۳) د کوم وخت لمونځ چې وي (ماسپښین یا مازدیګر) د هغه خیال دی کوي ، "وکفی مطلق نیة الصلواة لنفل وسنة وتراویح ولابد من التعیین عند النیة الفرض ولو قضاء وواجب دون عدد رکعاته وینوی المقتدی المتابعة" (تنویر الابصار) .

امام لپاره د امام نیت کول ضروري ندي ، څرنګه چې یواځې لمونځ کونکی پسې څوک نیت وتړي نو د هغه امامت او د هغه اقتداء صحیح دی ، لیکن څوک چې وروسته یې نیت تړل کیږي هغه لره د امامت نیت کول پکار دي تر څو د امامت ثواب ورته ملاؤ شي ، البته مقتدي لپاره د اقتداء نیت کول ضروري دي ، "والامام ینوی صلوانه فقط ولایشترط لصحة الاقتداء نیة امامة المقتدی بل لنیل الثواب عند اقتداء احد به لاقبله" (درمختار مع شامی ج ۱ ص ۳۹٤ باب شروط الصلاة) فقط والله اعلم بالصواب .

حنفي مقتدي د اختر لمونځ شافعي امام پسی څنګه وکړي ؟

(۱۵۸ سوال) پدی مسئله کی دیني عالمان څه فرمائي چې حنفي مقتدي د شافعي امام پسی د اختر لمونځ کوي نو امام د خپل مذهب مطابق په اول رکعت کی اوه او دویم رکعت کی پنځه تکبیرونه کوي او حال دا چې حنفي مذهب کی په دواړو رکعتو کی ټول شپږ تکبیرونه دي نو پدی صورت کی حنفي مقتدي شافعي امام پسی دولس تکبیرونه ووائي او که دری دری تکبیرونه ویلو نه وروسته چپ پاتی شي ؟

ځواب : کله چې حنفي مقتدي شافعي امام پسی د اختر لمونځ کوي نو هغه ته د اختر په تکبیرونو کی د شافعي امام تابعداري پکار دی ، "ولو زاد تابعه الی ستة عشر لانه مأثور" (درمختار مع شامی ج ۱ ص ۷۸۰ مطلب تحت طاعة الامام فیما لیس معصیة) فقط والله اعلم .

د ذاتي مخالفت په بناء د صالح امام نه جدا یی :

(۱۵۹ سوال) امام عالم باعمل او متبع د سنت دي لکه څینی لمونځ ګذاران د ذاتي دشمني او اختلاف په وجه مخالف کوي او د امام د لری کولو کوشش کوي نو متولی لره د دوی په خبرو سره د امام لری کول جائز دي یا نه ؟

ځواب : پدی ذکر شوی مسئله کی کله چی امام خطا کار ندی نو د مخالفینو په شکایت باندی د امام لری کول جائز ندي ، د ذاتي عداوت او اختلاف په وجه د امام لری کونکی پخپله ظالمان او مجرمان دي ، فقط والله اعلم .

امام د ماسپښین سنت ادا کولو نه بغیر فرض کولی شي ؟

(۱٦۰ سوال) امام صاحب ماسپښین لر وروسته راغی د جماعت وخت وُ که څلور رکعته سنت یی کولای نو د خلکو په طبیعت باندی بوج راته ، انتظار نه خوښوي نو امام صاحب ړومبني سنتو ادا کولو نه بغیر لمونځ ورکړ نو دا جائز دي او که لمونځ مکروه کیږي ؟

ځواب : پدی مسئله کی امام بغیر د سنتو ادا کولو نه لمونځ ورکولی شي لمونځ نه مکروه کیږي . د فرضو نه وروسته دی دوه رکعته سنتو نه بعد پاتی شوي څلور رکعته سنت وکړي . په حدیث شریف کی دي حضرت عائشه رضی الله عنها فرماني رسول الله صلی الله علیه وسلم به چی کله د ماسپښین اولنی څلور رکعته نه وُ کړی نو بیا به یی وروسته کول (او ظاهره ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به امام وُ) "عن عائشة رضی الله عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا لم یصل اربعاً قبل الظهر صلاهن بعدها" (ترمذی ج ۱ ص ۵۷ باب ماجاء فی الرکعتین قبل الظهر ورکعتین بعدها) فقط والله اعلم .

سړی د ښځی سره جماعت کولی شي یا نه ؟

(۱٦۱ سوال) که جماعت تیر شوی وي نو په کور کی له ښځی سره جماعت سره لمونځ وکړي نو صحیح دي یا نه ؟

خواب : هو له ښځی سره جماعت کولی شي خو ښځه به سړي سره برابر نه ودریږي شاته به ترینه ودریږي که چیرته ښځه له سړي سره یوځای ودریږي نو د دواړو لمونځ

نه کیږي ، په شامي کی دي : "المرأة اذا صلت مع زوجها فی البيت ان كان قدمها بحذا قدم الزوج لاتجوز الجماعة" (ج۱ص ۵۳۵ باب الامامة) فقط والله اعلم .

که په جماعت سره لمونځ کولو کی عذر پیش کیږي نو څه حکم لري ؟

(۱٦۲ سوال) یو سړی که اودس کولو سره فوراً کور کی لمونځ کوي نو عذر به پیش کیږي او که اودس کولو سره جومات ته ځي او جماعت سره لمونځ کوي نو ورته عذر پیش کیږي یعنی اودس یې ماتیږي نو پدی صورت جماعت سره لمونځ کول ضروري دي یا په کور کی لمونځ وکړي ؟

ځواب : پدی صورت کی په کور کی دی لمونځ وکړي (نفع المفتي والسائل ص ۹۴) فقط والله اعلم .

د فتاوی رحیمیه ګجراتي د یو ځواب متعلق سوال او د هغه ځواب

(۱٦۳ سوال) د لاندی مسئلی ځواب د معتبرو کتابونو په حوالی سره تفصیل سره بیان کړئ :

فتاوی رحیمیه ګجراتي (ج ۱ ص ۸٦ فتوی نمبر ۵٦) لاندی د سوال ځواب دی چی د نورو کتابو له ځواب سره تعارض لري پدی کی صحیح کوم یو او غلط کوم یو دی ؟ دواړو کتابونو سوال و ځواب لاندی لیکو ، د فتاوی رحیمیه سوال و ځواب :

(۱٦۴ سوال) د امام نه سهواً واجب پاتی شو او سجده سهو هم ونه کړه چی پدی وجه لمونځ دوباره وګرځول شو نو کوم لمونځ ګذار چی اولنی لمونځ کی شریک نه وُ او پدی دویم لمونځ کی شریک شي نو لمونځ یی کیږي او که نه ؟

ځواب : لمونځ یی صحیح ندی دوباره کول یی ضروري دي پدی چی د امام دغه لمونځ مستقل لمونځ ندی ، د لمانځه تکمیل لپاره دی لهذا د مستقل فرض کونکي اقتداء داسی امام پسی صحیح ندی .

په بل کی دي :

(۱٦۵ سوال) له امام نه سهوا واجب پاتی شو او بیا سجده سهو هم په هیره پاتی شوه نو د سلام نه وروسته لمونځ دوباره کولو په وخت کی یو نوی سړی په لمونځ کی شامل شو چی مخکی لمونځ کی شامل نه ؤ نو د دی فرض لمونځ ادا شو یا نه ؟
خواب : د فقه کتاب درمختار نه معلومیږي چی د راتلونکي سړي فرض لمونځ ادا کیږي ، دا دواړه مسئلی یو دي خو خواب کی تعارض دی اوس کوم یو باندی عمل وکړی شي ؟ راهنمائي وکړئ .
خواب : الحمد لله د فتاوی رحیمیه خواب صحیح او د مختار قول مطابق دی . حقیقت دا دی چی کوم لمونځ مخکی کړی ؤ هغه بیکاره ندی تلی هغه پدی درجه کی قائم پاتی دی چی فرض یی ساقط شوی ځکه چی د دی لمونځ ټول ارکان ادا شویدي یواځی یو واجب پاتی شوی ؤ په پاتی کیدو چی لمونځ کی کوم کمی پاتی شوی د هغه پوره کولو لپاره دوباره کولو حکم دی دا دوباره شوی لمونځ د سجده سهو په ځای دی لکه څنګه چی سجده سهو سره کمی او نقصان پوره کیږي همدغه شان د لمونځ په دوباره کولو سره هم تکمیل راځي نو دا (دوباره شوی لمونځ) اصل او مستقل فرض لمونځ ندی لهذا کوم سړی چی اول لمونځ کی شامل نه وي او پدی دویم لمونځ کی شامل نه وي او پدی دویم لمونځ کی شریک شي نو فرض یی پاتی کیږي یعنی اصل لمونځ یی نه ادا کیږي ، "والمختار ان المعادة لترك الواجب نفل جابر والفرض سقط بالاولی" (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱٤٤ باب الامامة) .

البته که لمانځه کی کوم فرض پاتی شي نو لمونځ فاسد او باطلیږي او په سجده سهو سره د ده اصلاح نه کیږي د دی دوباره کول لازمي دي او دا دویم هم فرض او اصل او مستقل وي لهذا پدیکی نوی سړی هم شریکیدلی شي کوم چی اولنی لمونځ کی شامل نه وي او اصلي فرض ادا کوي (باب صفة الصلواة درمختار مع شامی ج ۱ ص ٤٢٦ ، فتح القدیر ج ۱ ص ٢٦٢ ، الدرر المنتقی شرح الملتقی ج ۱ ص ۸۸) والله اعلم .

امام د " السلام " لفظ وویلو او چا ورپسی اقتداء وکړه نو دا اقتداء صحیح ده ؟

(۱٦٦ سوال) امام لمونځ ختم کړ اول سلام لپاره یی د " السلام " لفظ وویل " علیکم " یی لا نه ؤ ویلی چی چا ورپسی اقتداء وکړه دا اقتداء صحیح کیږي یا نه ؟

ځواب : دغه اقتداء صحیح نده نو دوباره تکبیر تحریمه ویلو سره دی لمونځ شروع کړي ، "قال فی التجنیس الامام اذا فرغ من صلواته فلما قال السلام جاء رجل واقتدی به قبل ان یقول علیکم لایصیر داخلا فی الصلواة لان هذا سلام" (شامی ج ۱ ص ۲۳٦) فقط .

په اسلام کی د جماعت اهمیت :

(۱٦۷ سوال) د باجماعت لمونځ څه حکم دی ؟ اکثر خلک د لمانځه نه غافل دي او څوک یی چی کوي د جماعت اهتمام نه کوي اکثره په کورو کی کوي د جماعت پابندي او جومات ته د حاضری لپاره څه اهمیت نه ورکوي دی باره کی د قرآن او حدیث او د فقه معتبرو کتابونو په حوالی سره تفصیل وکړئ .

ځواب : په شریعت کی د جماعت سره لمونځ کولو ډیر فضیلت او ډیر تاکید راغلی دی ، الهي ارشاد دی : "وارکعوا مع الراکعین" (سورت بقرة : ٤۳) (ای صلو مع المصلین) (جلالین) (تفسیر کبیر ج ۱ ص ٤۹٤) (ای فی جماعتهم) (بیضاوی ج ۱ ص ۷۱) (وصلوها مع المصلین لا منفردین) (تفسیر کشاف ج ۱ ص ۵۳ ، تفسیر مدارك ج ۱ ص ۱۱۲) (ای صلوا بالجماعة) (تفسیر مهائمی ج ۱ ص ٤۲) یعنی د جماعت سره لمونځ کوئ نه ځانله ، او نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان دی : "صلواة الجماعة تفضل صلواة الفذ بسبع عشرین درجة" ترجمه : په جماعت سره لمونځ له ځانله لمونځ نه اوه ویشت (۲۷) درجې افضل او بهتر دی (صحیح بخاری ج ۱ ص ۸۹ باب فضل صلواة الجماعة ، صحیح مسلم ج ۱ ص ۱۳۱ ، جامع ترمذی ج ۱ ص ۳۰) د رسول الله صلی

الله علیه وسلم ارشاد دی : "ان صلواة الرجل مع الرجل ازکی من صلواته وحده وصلواته مع الرجلین ازکی من صلواته مع الرجل وماکثر فهو احب الی الله عزوجل"

ترجمه : د دوه کسانو لمونځ کول له ځانله لمونځ کولو نه بهتر دي او د دریو کسان لمونځ له دوه کسانو لمونځ نه بهتر دی او څومره چې ډیر کسان وي هغه لمونځ الله تعالی ته زیات خوښ وي (ابوداؤد شریف باب فضل صلواة الجماعة ج ۱ ص ۸۹) .

او نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان دی : من شهد العشاء فی جماعة کان له کقیام نصف لیلة رمن صلی العشاء والفجر فی جماعة کان له کقیام لیلة" .

ترجمه : څوک چې د ماسخوتن لمونځ جماعت ته حاضر شو هغه ته د نیمې شپې د عبادت کولو ثواب ملاو شو او څوک چې د ماسخوتن او د سحر دواړو لمونځونو جماعت ته حاضر شو هغه ته د ټولې شپې د عبادت کولو ثواب ملاو شو (ترمذی شریف باب ما جاء فی فضل العشاء والفجر فی الجماعة ج ۱ ص ۳۰) .

پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم کله هم جماعت ندی پریښی ، د بیماری په حالت کې چې د تللو طاقت یې نه وُ د دوه کسانو په تکیه (پداسې حالت کې چې قدمونه یې په زمکه باندی کش کیدل) جومات ته تشریف راوړ او جماعت سره یې لمونځ ادا کړ .

یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم تر دی پوری وفرمایل : ما اراده کړی چې مؤذن ته د تکبیر ویلو ووایم او بیا یو چاته د لمونځ ورکولو ووایم او زه اور راواخلم او دهغه چا کور وسوځوم چې تر اوسه پوری د لمونځ لپاره د کور نه نه وي راوتلي : "لقد هممت ان آمر المؤذن فیقیم ثم آمر رجلاً یؤم الناس ثم آخذ شعلاً من نار فاحرق علی من لایخرج الی الصلواة بعد" .

(بخاری شریف باب وجوب صلواة الجماعة ج ۱ ص ۳۰ ، مسلم شریف ج ۱ ص ۲۳۲، والللفظ اللبخاری) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی چی که یو کلي او یا ځنګل کی یواځی دری کسان اوسیږي او په جماعت سره لمونځ نه کوي نو هغوی باندی شیطان غالبیږي ، لهذا جماعت سره لمونځ کول پخپل ځان باندی لازم کړئ : "ما من ثلثة فی قریة ولا برد ولاتقام فیهم الصلواة الا قد استحوذ علیهم الشیطان فعلیك بالجماعة" (نسائی شریف ج ۱ ص ۷٤) .

د سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : څوک چی آذان واوري او بغیر د څه ع ذر نه جومات ته حاضر نشي نو دهغه ځانله ادا کړی لمونځ نه قبلیږي (اګر که د ضابطی خانه پری کیږي چی فرض وربانـدی ساقطیږي) صحابه کرامو رضی الله عنهم تپوس وکړ چی عذر څه شی دی ؟ وی فرمایل : (د ځان ، مال او د آبرو) ویره او یا مرض ، "من سمع المنادی فلم یمنعه من اتباعه عذر قالوا وما العذر ؟" قال خوف او مرض لم تقبل منه الصلواة التی صلی" (ابوداؤد ج ۱ ص ۸۸) .

ارشاد دی : چی جماعت پریښودل پریدئ او که نه الله تعالی به په زړونو باندی مهر ولګوي او تاسو به د هغو خلکو نه وګرځئ کوم چی الله تعالی غافل ګرځولي دي (ابن ماجه مصري ص ۲٦۰) .

او دا هم ارشاد دی : د بني آدم غوږونه چی د ګرم شوي تانبی نه ډک کړی شي دا لدینه بهتر دي چی اذان واوري او د هغه بلنه او دعوت قبول نه کړي (کتاب الصلواة لابن القیم) .

په یو حدیث کی په دری قسمه خلکو باندی د الله تعالی لعنت راغلی دی چی پدوی کی یو هغه کس دی چی اذان واوري ا و جومات ته حاضر نشي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : "الجفاء کل الجفاء والکفر والنفاق من سمع منادی الله تعالی ینادی بالصلواة ویدعوا الی الفلاح فلایجیبه" (جامع الصغیر ج ۱ ص ۱۲۱ ، مجمع الزوائد باب اجابة المؤذن ومایقول عند الاذان والاقامة ج ۱ ص ۱۵۸) .

ترجمه یعنی سراسر ظلم او کفر او نفاق دی چی د الله تعالی د منادی بلنه واوري چی د لمانځه او د ابدي کامیابی لپاره دعوت ورکوي بیا هم لبیک ورته ونه وانـي او قبول یی نکړي.

د بخاری ، مسلم او د ترمذي شریف یو حدیث مخکـي تیر شـوی دی او د همـدی مضمون حدیث په ابوداؤد شریف کی دی : "لقد هممت ان آمر فتیتی فیجمعوا لی خزما من حطب ثم اتی قوماً یصلون فی بیوتهم لیست بهم علة فاحرقها علیهم" ، یعنی بیشکه زما زړه غواړي چی ځوانانو ته حکم وکړم لرګی جمع کړي او بیـا هغـه خلکو ته لاړ شم چی بغیر د عذر نه خپلو کورونو کـی لمـونځ کـوي چـی هغـوی لـه کورونو سره وسوځوم (ابوداؤد باب التشدید فی ترك الجماعة ج ۱ ص ۸۸) .

تنبیه : رحمت عالم صلی الله علیه وسلم هغه چالپاره په اور سیځلو سـزامقرروي چـی لمونځ خو کوي مګر په کورو کی کوي جومات ته نه راځي، اوس تاسو فکر وکړئ او سبق واخلئ چی دهغه چاسزابه څه چی هغوی (معاذ الله) دسره لمونځ نه کوي.

بیلمازه ورونو او خویندو لږ فکر او سوچ وکړئ اودلمونځ پابند جوړیدو سـره دخپـل نجات سامان برابر کړئ په قیامت کی به دټولو نه مخکې دلمانځه حساب کیږي.

جلیل القدر اصحابي حضرت عبدالله رضی الله عنه فرمایي : مونږه هیڅ یـو صـحابي دباجماعت لمونځ نه غائب شوی ندی لیـدلې هغـه څـوک بـه غـیر حاضـریدلو چـی ښکاره منافق به و ، بیمار سړی به هم ددوه کسانو پـه تکیـه جماعـت کـی شـریکدو، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم چی موږ ته دهدایت اودنجات کـومې لارې ښـودلې دي پدی کی دآذان په اوریدو سره په جومات کی جماعت سـره لمـونځ کـول هـم شامل دی او فرمایلي دي : کوم مسملان چی صبا (دقیامت په ورځ) الله پـاک سـره ملاویدل غواړي هغه دی پنځه وخته جماعت سره لمونځ وکړي ځکه الله تعالی چـی ستاسو نبی صلی‌الله علیه وسلم ته دهدایت کومې طریقې ښودلې دي پدیکې داهـم دی چی که چیرته تاسو دمنافق پشان خپلو کورو کی لمونځ وکـړئ نـو پـریقین سـره تاسو دخپل نبی صـلی‌الله علیـه وسـلم طریقـه پریښـی ده او کلـه چـی دخپـل نبـي صلی‌الله علیه وسلم طریقه پریښوده نو په یقین سره تاسو ګمراه کیږئ.(مسلم شریف

باب فضل صلواة والجماعة وبيان التشديد الخ ۱/ ۲۳۲، نسائي شـــريف ۱/ ۷۵).

پدی وجه دسکی حاکم عتاب بن أسيد رضی الله عنه درسول الله صلی‌الله علیه وسلم دوفات خبر په اوریدو سره مکه والا راغونډ کړل او خطاب يې وکړ او ويې فرمايل: " که دچاپه باره کی ماته پته ولګیده چی جومات کی جماعت سره لمونځ نه کوي نو په الله قسم چی زه به دهغه سره پريکړم " (كتاب الصلوات لابن القيم).

حضرت ابو درداء رضی‌الله عنه فرمايي : "والله ما عرف من أمر محمدصلی‌الله علیه وسلم شيئاً إلا أنهم يصلون جميعاً"په الله قسم دحضرت محمد صلی‌الله علیه وسلم امت لپاره دجماعت سره لمونځ کولونه زيات اهم شئ بل هيڅ ماتـه نـدی معلـوم ، (بخاري شريف باب فضل صلواة الفجر فی جماعة ۱/ ۹۰).

بيشکه چی دجماعت سره دلمونځ کولو ډير تاکيد راغلي او پديکې زيـاتي فائـدې او ښيګنې دي ، حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي فرمايي : " ددی امت په پيداکولو سره دالله تعالی مقصد دادی چی دالله تعالی وينا اوچـت وي او دځمکـې پـه مخ باندی دين اسلام نه او چت بل کوم دين نه يو ، اوداخبره هلته متصور کيدلې شـي چی ددی دادستور وي چی دغه عبادت لپاره کوم چی ددين دټولو نه لـوی شـعار او په عبارتونو کی دټولو نـه مشـهور عبـادت دی هرخـاص وعـام ، ښـاري او اطرافـي ، وړوکی او لوی ټول يوځای کيدو سره اداکړي پدی سبب سـره شـريعت دجمعې او جماعت په مقرروبلو او ديته رغبت ورکولو او ددی په پريښـودو سـره سـخت ممانعـت کولو طرف ته زياته توجه ورکړي" .

"مراد الله من نصب هذه الأمة ان تكون كلمة الله هى العليا وان لايكـــون فى الأرض دين أعلى من الاسلام ولايتصور ذلك الا بأن يكون سنتهم ان يجتمـــع خاصتهم وعامتهم وحاضرهم وبادهم وصغير هم و كبير هم لماهوا عظم شعائره واشهد طاعاته فلهذه المعانى انصرفت العناية التشـــريعية الى شـــرح الجمعـــة والجماعات الخ " (حجة الله البالغة ۱/ ۸۸).

یو امریکایي داجتماعیاتو او نفسیاتو ماهر مستر هیني سنس پخپل کتاب "ایموشن اف دی بیسنز سبویلزیشن " ۲۷۵ صفحه کې لیکي : تہور مورخین وایي: اسلام ته چې ددنیاپه مسخر کولو کی کوم حیرانوونکی کامیابیانې شویدي ددی وجه داده چې دی په خپلو حدودو او اطرافو کی زبردست اتحاد او اتفاق پیداکړی و مګر پخپله دغه معجزه ځنګه ممکن شوه ددی حل او جواب چاهم ، پدیکی ذره هم شک نشته چې ددی لوی او نهایت مؤثر ذریعه دجماعت سره لمونځ کول دي هره ورځ پنځه وخته لمونځونه چې مسلمانان هرچېرته وي که په ځنګل اوبیابان کی هم و ي ، محمدصلی‌الله علیه وسلم رومبنی شخص دی چې داتفاق پیداکولو او متحد کیدو لپاره دجماعت سره دلمونځ کولو دحیرانوونکی طاقت او احساس ګړی دی اوپدیکې زره شک نشته چې داسلام طاقت پنځه وخته جماعت سره لمونځ کولو دسخت پابندي نتیجه او ثمره ده ."

حاصل داچې شریعت کی جماعت سره لمونځ کول بی حده ضروري او مهتم بالشان مسئله ده اسلام اودمسلمانانو دشان او شوکت زیاتولو او اوچت مقام او دکمال درجې ته رسونکی دی ، جماعت سره لمونځ کول دواجب حکم لري،یواځی دومره هم نه بلکې جماعت سره لمونځ کول عظیم الشان اسلامي شعار اوداسلام لویه علامه اوددی دخصوصیاتو څخه دی چې بل هیڅ دین کی نه و ، پدی وجه صحابه کرامو به چې کله آذان واوریدلو نو دکانونه به یې پریښودل او جومات به تلل ، نو څکه دجماعت پریښودلو عادت جوړونکی سخت ګنهګار فاسق او مردود الشهادت دی ، که چېرته ګاونډي دتنبیه او داصلاح کوشش ونه کړي نو هغه هم ګنهګاریږي، "ان تارکها من غیر عذر یعزر وترد شهادته ویأثم الجیران بالسکون عنه"(کبیری ص۴۷۵ فصل فی الامامة وفیها مباحث) .

که چیرته دکوم ځای دمسلمانانو پخپلو کورو کی لمونځ کولو باندی اکتفا کولو سره جماعت سره لمونځ کول پرېږدي نو هغوی سره ددسلې په ذریعه جهاد کول واجب دی ، "حتی لو ترکها اهل بلدة یجب قتالهم بالسلاح"(مجالس الأبرار، م۵۴ ص۳۱۸ ، مرقاة شرح مشکواة ۲/ ۷۳ ، کتاب الصلواة لابن القیم ص۱۰۵).

دروستې زماني بزرګانو به يو وخت جماعت فوت كيدل دومره عظـيم الشان ديني مصيبت ګڼلو چې اوه ورځو پورې به يې غم او ماتم کولو او چې کله بـه ورنـه تكبير اولى فوت شوه نو بيا به يې درې ورځوپورې ماتم کولو . (احياء العلوم ١/ ١٥٥).
لهذا ټولو مسلمانانو باندی لازم دي چې پنځه وخته لمونځ جماعت سره اداكړي او دتكبير اولى ثواب ترک نکړي او اول صف کی امام تـه نـزدی کیدو کـی کوشش وکړي . اول ص له دويم نه بهتر دی او دويم له دريم نه همداسې تر آخره پورې .
په حديث شريف کـی دي چـی : الله تعـالى كلـه جماعـت بانـدی رحمـت نـازلوي نوشروع دامام نه حکوي اوبيا چې دامام شاته نزدی اول صفت کـی وي اوبيـا چـی دهغه ښي طرف ته وي اوبيا چی ځوک چپ طرف ته وي او همداشـان نـورو صـفونو باندی .
اوپه حديث کـی دي : دهغـه چالپـاره چـی دامـام نـه بالكـل شـاته مقابـل ولاړ وي د(۱۰۰) سلو لمونځونو ثواب ليکل کيږي او هغه لپاره چی ښي طـرف تـه وي دپنځـه اويا (٧٥) لمونځونو او چی ځوک چپ (ګس) طرف ته وي دپنځـوس(٥٠) لمونځونـو ثواب ليکل کيږي . (مجالس الابرار م٥٤ ص٣١٩).
الله تعالى دی هر مسلمان ته دجماعـت سـره دلمـونځ کولوتوفيـق ورکـړي ، آمـين ،
وصلى الله على خاتم النبيين وعلى جميع الانبياء والمرسلين والملائكـــة المقـــربين
وعلى سائر عبادالله الصالحين وعلينا معهم برحمتك ياارحم الراحمين .

ديو عالِم په خاطر جماعت وروسته کول څنګه دی؟

١٦٨ـ سوال : دکوم عالِم په خاطر باندی جماعت دخپل مقرر وخت نه وروسته کول جائز دی ؟
ځواب : عالِم او نيک سړي لپاره په يو وخت کی لږ انتظار کول بغير دكراهت نه جائز دی ، فالحاصل ان التاخير القليل لاعانة اهل الخير غير مكـــروه ، (شـــامی١/ ٤٦٢ مطلب فی اطالة الركوع للجائی).

ددویم جماعت حکم

۱٦۹) سوال تبلیغي جماعت یوکلي ته پداسې وخت کی ورسیدل چی لمونځ شوی ونو دوی لپاره دویم جماعت کول بهتر دی او ځانله اذان او اقامت سره اویا بلا اذان او اقامت نه اداکولو بهتر دی ؟

ځواب: پدی صورت کی دی ځانله ځانله بغیر دآذان او اقامت نه لمونځ وکړې شي ، ولی چی جومات کی دویم جماعت کول مکروه دی : "قال واذا دخل القوم مسجداً قد صلی فیه اهله کرهت لهم ان یصلوا جماعته باذان واقامة ولكنهم يصلون وحداناً بغیر اذان ولا اقامة" لحديث الحسن قال كانت الصحابة رضی‌الله عنه اذا فاتتهم الجماعه فمنهم من اتبع الجماعات ومنهم من صلی فی مسجده بغیر اذان والا اقامة الخ ،(مسبوط للسرخی ۱/ ۱۳۵ باب الأذان) والله اعلم .

په کور کی خپلې ښځې سره جماعت کی لمونځ کولې شي یانه ؟

۱۷۰ـ سوال : که جومات کی جماعت لاندی نکړی نو په کور کی ښځې سره جماعت وکړي یاځانله وکړي؟

ځواب: په جومات کی جماعت شوی وي اویادشرعي عذر په وجه جومات ته لاړنشي نو په کور کیٰ دښځې ، مور او خور وغیره سره جماعت اداکول بهتر دی ، که یوه ښځه وي نو بیا به هم شاته ودریږي اوکه دسړي پشان امام سره برابر ودریږي نو لمونځ نه کیږي مګر داهم په یاد ولرئ چی بغیر دشرعي عذر نه په کور کی دلمونځ کولو عادت جوړول ګناه ده او عادت جوړونکې سخت ګنهګاردی او دحدیث له مخې دمنافق ویلو مستحق دی .

حضرت عبدالله بن مسعود رضیالله عنه فرمایي : "ولید رأتینا مایتخلف عن الصلواة الامنافق قد علم نقاقه او مریض انکان المریض یمشی بین رحلین حتی یأتی الصلواة".

یعنی ما داحالت لیدلې چې یواځې هغه څوک به دجماعت نه پاتې کیدو چې یابه معلوم دار منافق و اویابه داسې بیمار و چې ددوه کسانو په تکیه به هم جومات ته نشو راتلې، (مشکوات شریف باب الجماعه ص۹۴).

اوبیا ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي: "ولوانکم صلیتم فی بیوتکم کما یصلی هذا المختلف فی بیته لترکتم سنة نبیکم ولو ترکتم سنة نبیکم لطلتم".

یعنې لکه څنګه چې دغه وروسته پاتې کیدونکی خپل کور کی لمونځ کوي که چیرته تاسو هم دغسې کورو کی لمونځ کول شروع کړئ نو بیشکه تاسو به دخپل نبی صلیالله علیه وسلم طریقه پریدی او که چیرته مو دخپل نبی صلیالله علیه وسلم طریقه پریښوده نو بیشکه ګمراه به شي ، (مشکواة باب الجماعةص۹۷).

په مسئله کی دیو مفتي صاحب اشکال او دهغه ځواب

۱۷۱_ سوال : فتاوی رحیمیه اول جلد ۲۰۵ صفحه باندی اوپه (حدید ترتیب کی په همدی باب کی ،" امام ذالسلام لفظ وویلو او چاورپسې اقتداء وکړ نو داصحیح دی؟") عنوان لاندی لیکي : دوباره تکبیر تحریمه ویلو سره دی لمونځ شروع کړي لخ . " لدی خبرې نه معلوم شو چې امام سره شرکت صحیح ندی لیکن ددوباره تکبر تحریمي څه حاجت دی ؟ لمانځه لپاره څو تکبیر تحریمه ویل شویدی او لمونځ شروع شویدی صرف دومره خبره ده چې امام سره شرکت ندی شوی ، پدی باندی لږ غور وکړئ که دترمیم ضرورت وي نو اصلاح یې کړئ".

خواب: دسلام مسنون نه وروسته دتوجه ورکولو شکریه ! په مسئله کی داصلاح ضرورت نشته ، په " شامي " کی دي : "وافادانه کما لایصح اقتداؤه لایصیر شارعاً فی صلاة نفسه ایضاً وهوالأصح".

یعنی کله چې اقتداء یې صحیح نه شوه نو دخپل لمونځ شروع کول هم صحیح نشو ، او دانشي ویل کیدی چې هغه خپل لمونځ شروع کړ ، دآداب الصلوات ۱/ ۴۴۸ . فقط والله اعلم .

دجماعت شروع کیدو په حالت کی دسحر دسنتو حکم

۱۷۲ـ سوال : دسحر لمانځه لپاره سړی جومات ته ورسید مګر جماعت شروع شوی ده نو هغه سړی سنت وکړي او یاجماعت کی شامل شي ؟

ځواب: که دیو رکعت لاندی کولو امید وي نو سنت دی وکړي اوبیا دی جماعت کی شامل شي ځینې علماو داهم لیکلي دي چې که قعده هم نیولی شي نو بیا دی هم سنت نه پریږدي لیکن سنت که کور کی نزدی وي نو کور کی وکړي اویادجومات خارج دروازه باندی وکړي که په دروازه کی ځای نه وي نو دجومات په بل طرف کی دی وکړي یعنې که چېرته جماعت په جومات کی دننه ولاړوي نو سنت دی په صحن (دالان) کی وکړي او که په صحن کی ولاړ وي نو دننه کوټه کی اویاتالاب سره دی وکړي او که دجومات یوه حصه وي نو پدغه حصه کی دستن وغیره شاته وکړي او که ستن وغیره نه وي نو سنت دی پریږدي او جماعت کی دی شامل شي ځکه چې په صف کی اویادصف شاته بغیر دکوم حایل او پردی نه سنت کول مکروه دی ، په درمختار کی دي . "بل یصلیها عندباب المسجد ان وجد مکاناً والا ترکها لان ترك المکروه مقدم علی فعل السنة" اوپه " شامي " کی دي : "فان لم یکن علی باب المسجد موضع للصلواة......... حائل الخ" (شامي السنن والنوافل ۱/ ٦٧١ ج۱) فقط والله اعلم بالصواب .

که دمحلی په جومات کی جماعت فوت شي نوبل جومات ته جماعت لپاره تلل ضروري دي یانه ؟

۱۷۳ـ سوال : دمحلی په جومات کی جماعت تیر شو نو دبلې محلې جومات ته جماعت حاصلولو لپاره تلل ضروري دي او که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

خواب جومات ته په رسیدو سره معلوم شو چې جماعت شویدی نو بل جومات ته جماعت حاصلولو لپاره تلل واجب ندی او که تلل غواړی نو تللی شی منع ندی . "واتفقوا علی انها إن فاتت فی مسجد فلایجب طلبهافی مسجدآخر"(رسائل الأرکان ص۵۵ فصل فی المواقیت) فقط واللّٰه اعلم.

دتهجد دلمونځ دجماعت حکم

۱۷۴ـ سوال : درمضان المبارک په میاشت کې ځینې امامان حنفي مذهب کیدو باوجود دتهجد لمونځ لوی جماعت سره اهتمام سره اداکوي اوداډیر لوی فضیلت ګڼي پدی باره کې شرعي حکم څه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب: وبالله التوفیق : دتهجد لمونځ په رمضان او یاغیر رمضان کې جماعت سره دکولو اهتمام رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اودصحابه کرامو نه نقل ندی په رمضان المبارک کې د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم معمول اعتکاف و خو داچې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم صحابه کرامو سره باجماعت دتهجد لمونځ کړی وي داندي ثابت پدی وجه فقهاء کرام لیکي : تهجد وغیره نقل لمونځ جماعت سره کول مکروه دي اوبغیر ددعوت نه یو اودوه مقتدیانو سره مرکوه ندی دومره پوري دحدیث نه ثابت دی لدینه دزیات ثبوت ندی راغلې لهذا فقهاء لیکي : امام سره دریو مقتدیانو په شمول کې اختلاف دی او که څلور یالدینه زیات مقتدیان وي نو بالاجماع مکروه دی ، یکره ذلك علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد (درمختار) (قوله اربعة بواحد) اما اقتداء واحد بواحد او اثنین بواحد فلا یکره وثلاثة بواحد فیه خلاف، (السنن والنوافل مطلب فی کراهیة الاقتداء علی سبیل التداعی الخ درمختار الشامی ۱/ ٦٦٤).

په انوار الباری شرح صحیح بخاري کې دحضرت علامه محدث انور شاه کشمیري رحمه الله شاګرد مولانا سید احمد رضا بجوزی صاحب لیکي : فقهاو لیکلي دي : چې دنفلو جماعت مکروه دی غیر درمضان نه اولدینه مراد سنن تراویح دي ، حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمایلي دي : دفقهاو ددی عبارت نه چې څوک مطلق نوافق درمضان اخلي هغه غلطي کوي ،لهذا دتهجدو جماعت له دریو نه زیات په

رمضان کې مکروه کیږي. (انوار الباری ۱/ ۱۹۱۷ حاشیه) او صاحب دبدائع الصنائع هم دقیام رمضان نه مراد تراویح آخلي او تهجد نه مراد وی (بدائع ۱/ ۲۸۰)

او شمس الائمه سرخسي رحمه اله خو داسې وضاحت کړیدی: "ان الجماعة لو کانت مستحبة فی حق النوافل لفعله المجتهدون القائمون بالیل لان کل صلواة جوزت علی وجه الانفراد وبالجماعة کانت الجماعة فیها افضل ولم ینقل اداؤها بالجماعة فی عصره صلی‌الله علیه وسلم ولا فی زمن الصحابة رضوان الله علیهم اجمعین ولا فی زمن غیر هم من التابعین فالقول بها مخالف للامة اجمع وهذا باطل".

یعنی که چېرته نوافل جماعت سره مستحب وای نو ټولو قائم اللیل او تهجد ګذارو مجتهدینو به وربأندی عمل کړی و څکه کوم لمونځ چې ځانله او جماعت کی په دواړو طریقو سره اداکول جائز وي دهغه جماعت سره اداکول افضل دی، او حال داچی نوافل(تهجد وغیره) جماعت سره اداکول نه خو درسول الله صلی‌الله علیه وسلم په زمانه کی نقل دی او نه دصحابه کرامو په زمانه کی اونه دتابعینو وغیرهم په زمانه کی‌لهذا داقول (چی دتراویحو پشان تهجد وغیره نور نوافقل رمضان المبارک کی بلا کراهت جائز دی) (داقول) دټولو فقهاو نه خلاف اوباطل دی. (مبسوط سرخسی کتاب التراویح فی بحث رکعات التراویح ۲/ ۱۴۴).

نوټ: مزید تفصیل او حوالوپاره دی (فتاوی رحیمیه ۱/ ۱۷۷_۱۷۹) په (جدید ترتیب کی دنوافلو په باب کی دتهجد جماعت سره دکولو حکم) عنوان لاندی وګوری. مرتب) فقط.

دامام ذمه واري څه ده او څومره تنخوا ورله پکار ده؟

۱۷۵_ سوال: پدی مسٔله کی دیني علماء او مفتیان صاحبان څه فرمایي: دجومات په امام باندی جارو کول، وياله پاکول، اذان کول، اولدينه علاوه واړه واړه کارونه

'_ ویکره تأخیر العشاء الی نصف الیل فکذاتأخیرها (ای التراویح) والصحیح انه لایکره لأنها قیام الیل وقیام الیل فی آخره الیل افضل، (فصل فی مقدار التراویح)

کولې شي او تنخوا یواځې دامامت ورکول کیږي ایا ددومره کم تنخوا په عوض کې دومره ډیر کارونه کول جائز دی ؟ شرعاً دامام ذمه واریانې کوم کوم دی ؟ او دجوماتو دامامانو تنخوا شرعاً څومره پکار ده ؟ اودخپل معیار نه کم تنخوا ورکولو باندی متولی او محلی والا ګنهګاریږي اوکه نه ؟ په تفصیل سره جواب راکړئ. سره ددلیل نه الله تعالی دی اجر درکړي . (احمد آباد)

ځواب: اقول وبالله التوفيق : په حدیث شریف کې دي : اعطو الاحير قبل ان يجف عرق. (ابن ماجه ، مشکواة شریف ص۲۵۸ باب الاجارة).

یعنې مزدور ته دده خولې وچیدو نه مخکې مزدوري ورکړئ.، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: په قیامت کې دکومو دریو کسانو په خلاف چې زه به مدعی یم په دوی کې یو "رجل استأجر أجيراً فاستوفى منه ولم يعطه اجره"یعنی هغه څوک چې یو کس مزدور ونیسي اوپوره کار ترینه واخلي مګر مزدوري ورته ورنکړي .(بخاري شریف بحواله مشکوات شریف ص۲۵۸ ایضاً).

دمزدوري پوره نه ورکولو مطلب یواځې داندی چې دهغه مقررشوی مزدوري پوره ورنکړي بلکې پدیکی داهم شامل دی چې څومره اجرت او مزدوري ددی کار لپاره پکار ده هومره ورنکړي اودهغه له مجبورئ نه فایده واخلي او په کم نه کم مزدوري باندی یې په کار ولګوي .

فقهاء کرامو تصریح کړیده : ويعطى بقدر الحاجة والفقه والفضل فان قصر كان الله عليه حسيباً .

یعنی متولی او دمدرسه مهتمم ته لازم دي چې دجوماتو او دمدرسو خادمانو ته دهغو دحاجت مطابق اودهغوی علمي قابلیت ، تقوی او الصلاح ته په کتلو سره وظیفه او تنخوا ورکړي دګنجایش باوجود کم ورکول بده خبره ده او متولی او مهتمم به الله تعالی ته جواب ورکوي. په درمختار کې دي : ويعطى بقدر الحاجة والفقه والفضل فان قصر كان الله عليه حسيباً زيلعي وفي الحاوى المراد بالحافظ في حديث لحافظ القران مائتا درهم هو المفتى اليوم (درمختار مع الشامي) (قوله ويعطى بقدر الحاجة) الذى فى الزيلعي هكذا ويجب على الامام ان يتقى الله تعالى

ویصرف الی کل مستحق قدر حاجته یستوی فی العطاء من بیت المال وکان عمر رضی‌الله عنه یعطیهم علی قدر الحاجة والفقه والفضل والا خذ بهذا فی زماننا احسن فنعتبر الامور الثلثة اه ای فله، ان یعطی الا حوج اکثر من غیر الا حوج وکذا الا فقه والافضل والا فلا فائدة فی ذکر هما ویؤیده ، ان عمر رضی الله عنه کان یعطی من کانه له ، زیادة فضیلة من علم او نسب او نحوذلک اکثر من غیره وفی البحر ایضا عن المحیط والرأی الی الامام من تفضیل وتسویة من غیر ذلك ان یمیل ای هویً وفیه عن القنیة وللامام الخیار فی ا لمنع والاعطاء فی الحکم اه (درمختار والشامی ج۳ ص۳۸۹ کتاب الوقف) (شامی ج۲ص۷۸):

یواځی دامامت په تنخوا ورکولو سره امام باندی دآذان هم ذمه واري اچول او په هغه باندی جارو او ویاله پاکول او دنورو کارونو خدمت آخستل شدیدظلم او توهین دی ، درسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمان دی : "اکرمواحملة القرآن فمن اکرمهم فقداکرمنی". یعنی دقران دحاملینو (حافظانو ، قاریانو او دعلماء کرامو) تعظیم کوئ بیشکه چاچی ددوی تعظیم او عزت وکړ هغه زما عزت وکړ.
(الجامع الصغیر للسیوطي ۱/ ۱۴۵).

په یوبل حدیث کی دي : "حامل القرآن رایة الاسلام ومن اکرمه فقد اکرم الله ومن اهانه فعلیه لعنة الله"یعنی دقرآن حاملین داسلام علمبرداران دي چاچی ددوی تعظیم وکړ هغه دالله تعالی تعظیم وکړ او چاچی ددوی توهین وکړ په هغه باندی دالله تعالی لعنت دی . (الجامع الصغیر للسیوطی ۱/ ۱۴۲ ، فقط والله اعلم ۱۲ جمادی الاولی۱۳۹۷ ه.)

دنوی راغلی عالِم او قاري نه معین امام امامت لپاره بهتر دی

۱۷٦ـ سوال زمونږ په جوومات کی معین امام شته لیکن کله ناکله دده نه بنه عالِم او قاري راځي نو پدی وخت کی دامامت حقدار څوک دی؟ معین امام او که نوی راغلی عالِم او قاري؟ وضاحت وکړ مهرباني.

ځواب: که نوی راغلی عالم دمعین امام نه په علم او قرأت کی زیات هم وي بیا هم معین امام امامت لپاره افضل او اولی دی. لکه چی په درمختار کی دي: "واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولٰی بالا مامة من غیره مطلقاً الخ (قوله مطلقاً) ان وای غیره من الحاضرین من هو أعلم واقرأمنه".

یعنی خبردار! دکور مالک او همداشان دجوومات معین امام امامت لپاره دنورو خلکو نه په هرحال کی بهتردی اګرکه بل کس دده نه بنه عالِم او بهتر قاري وي (درمختار مع الشامی ۱/ ۵۲۲ باب الامامه).

اوپه بذل المجهود شرح وابوداود کی دي: "ولا یؤم الرجل (بصیغة المجهول) فی بیته ولا سلطانه ای محل ولایته اوفی حل یکون فی حکمه ولذلك کان ابن عمر رضی الله عنه یصلی خلف الحجام وتحریره، ان الجماعة شرعت لا جتماع المؤمنین علی الطاعة وتألفهم وتو ادهم فاذا ام لرجل الرجل فی سلطانه افضی الی توهین امر السلطنة خلع ربقته الطاعة وکذا اذامه، فی قومه واهله ادی ذلك الی التباعد والتقاطع فلایتقدم رجل علی ذی السلطنة لاسیما فی الاعیاد والجمعات والا علی امام الحی ورب البیت الا بالا ذان نقله القاري عن الطیبی الخ "(بذل المجهود ج۱ص۳٦٦ باب من احق بالامامة).

لهذا دادستورصحیح ندی چی امام مجبور کړی شي او نوی راغلي کس باندی امامت وکړي او همداشان نوی راغلي او قاري باندی هم لازم دي چی وړاندی نشي ترڅو چی امام پخپله رضامندي سره نه وي وړاندی کړی اوپخپله دامام

جوړیدو په ځای دهغه په اقتداء کې لمونځ کول بهتر وګڼي نو نوی راغلي عالم باندی دامامت کولو ګنجائش شته دی . فقط

که دجومات امام بدعقیده ، بدعتي وي پدی وجه صحیح العقیده خلک کور کی جماعت سره لمونځ وکړي نو جائز دی یانه ؟ اودجماعت ثواب ملاویږي یانه ؟

۱۷۷ـ سوال : پدی لاندیني مسئله کی دیني علماء او مفتیان صاحبان څه فرمایي : زمونږ پدی ځای کی داهل سنت والجماعت خلک تقریباً اتو میاشتو نه بدعتي امام پسې لمونځ نه کوي اوپه کور کی ځانله خپل جماعت سره لمونځ کوي اودجمعې لمونځ هم یوبیل ځای کی اداکوي ، په جومات کی امام پسې ځکه لمونځ نه کوي چی ددغه امام عقاید ترکفره پورې رسیدلې دی او دغه امام پسې دلمونځ نه کولو فتوی هم شته کوم چی مونږ ددیو بند او رانـدیر نـه غـوښتی وه اوس سـوال دادی چی وړانـدی رمضانِ المبـارک راروان دی او صـحیح العقیـده مسـلمان پـه رمضـان المبارک کی تراویح او پنځه وخته لمونځ جومات کی جماعت سره اداکـول غـواړي نوپدی باره کی شرعي حکم څه دی ؟ ددغه جومات په صحن یاتالاب اویاد جومـات په چت باندی دویم جماعت کولې شو یانه ؟ اودجمعې لمونځ په باره کی څه حکـم دی ؟ ایا دویمه خطبه او جماعت جداکولې شـو؟ ځـواب راولیـږئ ، الـه تعـالی دی جزاء درکړي .

ځواب: کله چی ددغه ذکر شوي امـام عقـاد ترکفـره پـورې رسـیدلي دي نـو ددی امامت جائز ندی او ده پسې لمونځ نـه صـحیح کیـږي او داسـې بدعقیـده امـام پـه اقتداء کی چی کوم جماعت وشي ددی شرعاً کوم اعتبار نشته داکالعدم دی ،لهـذا دهغه نه وروسته پدی جومات کـی داهـل حقـو جماعـت بسره لمـونځ کـول ددویم

جماعت په حکم کی ندی اوپه چت باندی هم دمجبورئ په حالت کی جماعت کیدی شي[1]

لیکن چونکه دفتنې او دفساد ویره ده اودجګړی خطره ده پدی وجه اوس چی کوم ځای کی لمونځ کوي هلته رمضان المبارک کی هم لمونځ وکړي نو بهتر دی ، کله چی جدایي دنفسانیت په وجه ندی نو انشاء الله العزیز پوره ثواب به ملاویږي، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دصحابه کرامو سره ترڅه وخته پورې به په کور کی لمونځ کولو اوچی کله حضرت عمر فاروق رضی‌الله عنه په اسلام کی داخل شو نو مسلمانانو ته قوت حاصل شو اوبیا په ښکاره مسجد حرام کی لمونځ کول شروع شو ، همداشان پروردګار عالم ستاسو لپاره به انشاء الله څه صورت پیدا کړي ، نا امیده نشئ دالله تعالی نه دعا غواړئ او په صبر او استقلال سره کار وکړئ حق تعالی به ضرور مدد وکړي. فقط والله اعلم .

داامام اودمؤذن هروخت کی په جومات کی دحاضریدو پابندکول څنګه دي؟

۱۷۸ـ سوال : امام او مؤذن پدی پابند کول چی (۲۴) ساعته به جومات کی اوسیږي داتکمراني ترکوم حده پورې جائز دی ؟

ځواب: داامام یامؤذن چی دمتولی سره معاهده وي نو دهغه مطابق به عمل کوي او که معاهده نه وي نو بیا داسې پابندي ظلم او زیاتی دی او ناجائز دی .فقط والله اعلم .

---

[1]ـاو مبتدع ان صاحب بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعانده... لايكفرها ... وان كفر .زز فلا يصح الاقتداء به اصلا فليحفظ ، درمختار على هامش شامي باب الامامة ۱/ ۵۶۰، ۵۶۱.

يو حنفي امام غير مقلد پسې دمازديګر جماعت کی دنفلو په نيت سره شرکت وکړ اوبيا خپل جومات کی لمونځ وکړ نو څه حکم يې دی ؟

۱۷۹ـ سوال : يو حنفی سړی دغير مقلدينو په جومات کی ديو غير مقلد پسې دمازديګر په لمانځه کی دهغه په قول دنفل په نيت سره اقتداء او لمونځ وکړ اوبيا دمثلينو نه وروسته دحنفيانو په جومات کی دمازديګر لمونځ ورکړ او وروسته څينې مقتديانو ته شک پيداشو او وې ويل : کله چی دوی دغير مقلدينو په جومات کی دمازديګر لمونځ کړيدی اودده پسې زمونږ لمونځ نه صحيح کيږي او امام صاحب وايي چی ماهلته دنفل په نيت اقتداء کړی و نودمازديګر لمونځ لاپاتې دی اودلته مې دفرض په نيت سره لمونځ ورکړيدی نو ځکه دلمونځ په صحيح والي کې هيڅ شک نشته دی ، په هر حال څينې مقتديانو ته شک دی نو ځواب ورکړئ ، مهرباني .

ځواب : پدی ذکر شوي مسئله کی حنفي امام دنفلو په نيت دغير مقلد اقتداء کړی لهذا دهغه فرض لمونځ ندی شوی نو پدی بناء هغه دمازديګر لمونځ ورکولې شي مګر دده لدی کار نه خلک په شک کی پريوځي او بدګماني پيداکيږي پدی وجه پداسې موقع باندی مناسب داو چی بل څوک يې ورانـدی کړی وای او پخپله مقتدي جوړشوی وای چی خلک له بدګماني څه محفوظ پاتې شوی وای حاصل داکه چيرته حنفي امام غير مقلد پسې دنفل لمونځ نيت کړی وي او بيا دده په اقتداء کی چی کومو خلکو دمازديګر لمونځ کړيدی دهغوی لمونځ صحيح دی او که چيرته هغه دفرضو په نيت سره اقتداء کړی وي نو بيا دده په اقتداء کی چی کوم لمونځ اداکړی شو هغه اشتباهي کيږي دهغه دوباره راګرځول ضروري دي ، فقط والله اعلم .

امام په رکوع او سجده کی څو ځلې تسبيح ووايي؟

۱۸۰ ـ سوال : امام ته په رکوع او سجده کی څو ځلی تسبيح ويل پکار دي ؟ وضاحت وکړئ .

خواب: مستحب دادی چی امام پنځه ځلې تسبيح ووايي او که درې ځلې وايي نو دومره ورو بايد ووايي چی مقتديان درې ځلې تسبيح وويلې شي : ونقل فی الحلية

عن عبدالله ابن المبارك واسحاق وابراهيم والثوری انه يستحب لإمام ان يسبح خمس تسبيحات ليدرك من خلفه الثلاث آه (شامي ۱/ ٤٦٢ مطلب فی اطالة الرکوع للجانی) فقط.

که امام بی اودسه شي نو خلیفه به څنګه جوړوي؟

۱۸۱_ سوال: که امام صاحب ته لمانځه کی بی اودسي پیښ شـي یعنې اودس یې مات شي نوبل کس به په اشاره کولو سره څنګه وړانـدی کـړي ؟ وضـاحت وکـړئ مهرباني.

ځواب: که امام بی اودسه شي نو ورله ښکـار دي چـی بـل څـوک خلیفـه جوړکـړي خودمدرک (هغه څوک چی اول نه په لمانځه کی شریک وي) خلیفـه جـوړول بهـتر دي او که مسبوق (هغه څوک چی اول حصه دلمونځ ترینـه تـیر شـوی وي) خلیفـه جوړ کړی نو هم جائز دی اودخلیفه جوړولو طریقه داده چی ځان ټیټ کـړي او بـه پوزه باندی لاس کیږدي او شاته روان شي ترڅو نور داخیال وکـړي چـی پـوزه یې وینه شوی اوپه اول صف کی یو کس ته اشاره وکړي او یایې دکپړی نه راکش کړي او خلیفه جوړ کړي او په خوله به څه نه وایي اوپـه خبـرو سـره څـوک خلیفـه جـوړ کـړي نـودتـولـو لمونځ فاسدیږي.[1]

دخلیفه جوړولو مسائل ډیر بارک دي اوداسې قسم مسائلو نه (کوم چی پوره تفصیل یې دفقه په کتابو کی درج دی) نن صبا اماما‌ن هم ترینه واقف ندي نو متقدیان به ورنه څنګه واقف شي نو لمونځ به هم بربادوي، پدی وجه بهتره داده چـی لمونځ قطع کړي اوپه اودس کولو سره له سره لمونځ وکړي. فقط.

---

[1]_استخلف ای جازله ذلك ولوفی جنازة باشارة او جر لمحراب ولو لمسبوق ويشير باصبع لبقاء ركعـة وباصبعين لركعتين، قال فی الشامية تحت قوله باشارة متعلق بمحذوف قال فی الفتح والسـنة ان يفعلـه محدودب الظهر آخذا بأنفه يوهم انه رعف، (درمختارمع الشامي باب الاستخلاف ۱/ ۶۰۱).

دسهار جماعت چې شروع شي نو سنت وکړي یانه؟

۱۸۲ـ سوال دسحر جماعت له شروع کیدو نه وروسته سنت وکړي یانه ؟ که ونه کړي نو دلمانځه نه فوراً وروسته وکړي اویادلمر ختو نه ورسوته وکړي؟ کوم يوبهتر دی ؟

خواب: دسحر دسنتو ډیر فضیلت او تاکید شویدی او دجماعت هم لوی فضیلت او تاکید دی اوپه پرینسودو باندی وعید هم راغلي لهذا کوشش باید وشي چې دواړه فضیلتونه حاصل کړي نو که چېرته دیو رکعت یادقعدی هم دنیولو امید وي نو بیا به سنت نه پریږدي (دجومات نه باهر ، تالاب سره یاصحن باندی او که چېرته جماعت په صحن کی کیده نودجومات په کوټه کی وکړي عرض داچې حتی الامکان له جماعت نه لرې اوپردی شاته وکړي ، او خلک چې دصف شاته بالکل نزدی یې کوي دامکروه دی) که چېرته دجماعت دفوت کیدو خطره وي نو بیا به سنت پریږدي او په جماعت کی شریک شي اوبیا دلمرختو نه وروسته سنت اداکړي نو بهتر دی او ضروري ندی خودلمرختو نه وړاندی سنت منع دي .(الاشتباه والنظائر مع شرح حموی ص۱۹٤ ، شامي ۱/ ٦٧١ـ ٦٥١ باب ادراك الفریضی) ففط.

دتبلیغي اجتماع په موقع باندی جماعت څنګه وکړی شي؟

۱۸۳ـ سوال :دجومات قبلې طرف ته ازاد میدان کی داجتماع په موقع باندی جماعت سره دلمونځ کولو اراده ده لیکن پدی صورت کی لمونځ ګذاران له امام نه وړاندی کیږي پدی مجبوري حالت کی څه وکړو؟ ایا جومات کی دوباره جماعت کولې شي اویاپه پنډال کې جماعت وکړو؟

که په پنډال کې جماعت وکړو نو دجومات اذان ورته کافي دی او که دویم آذان وکړو؟

خواب: اول په جومات کی او جوماټ نه باهر امام پسې چې څومره خلک ځایږي هغوی دی وکړي او باقي خلک دی پنډال کی جماعت وکړي ، پنډال نزدی دی

پدی وجه دجومات اذان ورته کافی دي خو اقامت کول بهتر دی [1] مقتدي چې دامام نه وړانی وي نو لمونځ نه کیږي ، فقط والله اعلم .

دجومات په چت باندی جماعت کول

۱۸۴_ سوال : پدی مسئله کی دیني عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمایي : دکوم وخت نه چې رمضان المبارک دګرمي په موسم کی راتل شروع شویدي دبهروچ ضلع په متعدد ځایو کی تراویح او ځینې ځایو کی دماسخوتن جماعت هم دجومات په چت باندی کیږي اوس یو وړور دراندیر نه فتوی غوښتې و نو دکراهت حکم یې کړیدی چې لاندې ذکر کیږي اوس مونږ ته څه کول پکار دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

(۱۸۵_ استفتاء) پدی لاندیني مسئله کی دیني عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمایي : چې زمونږ پدی علاقه کی دسخت ګرمي په موسم کې تراویح او کله کله دماسخوتن جماعت هم دجومات په چت باندی کیږي پدی که څه قباحت اوبدی شته ؟ وضاحت وکړئ.

ځواب: دګرمي دډیر والي په وجه دجومات په چت باندی لمونځ کول مکروه دي او که دلمونځ ګذارانو دزیاتوالي په وجه لاندی نه ځایږي او چت باندی هم ودریږي پدی صورت کی به کراهت نه وي ځکه چې مجبوري ده په "نصاب الاحتساب" کی دي : "ویکره الصلواة فوق الکعبة وکذا الصعود علی سطح المسجد الا لحاجة اصلاح ونحو وکذا الصعود علی سطح کل مسجد مکروه ولهذا اذا اشتد الحریکره ان یصلو بجماعة فوق السطح الا اذا ضاق المسجد فحینئذ لایکره الصعود علی سطحه للضرورة واماشدة الحر فلانها لاتوجب الضرورة وانما یحصل به زیادة المشقة وبها یزداد الاجر کله من المحیط وغیره"(الباب الخامس عشر فی مایحتسب فی المجسد ، قلمی ص۳۲).

[1]_بخلاف المصلی ولو بجماعة فی بیته بمصر اوقریة لها مسجد فلا یکره ترکها اذا اذان الحی یکفیه ، (درمختار علی هامش شامی باب الاذان ۱/ ۳۹۵).

او په فتاوی عالمگیري کی دي :
الصعود علی سطح کل مسجد مکروه ولهذا اذا شتد الحریکره ان یصلوا بالجماعة فوقه الا اذاضاق المجسد فحینئذ لایکره الصعود علی سطحه للضرورة کذا فی الغرائب کتاب الکراهیة الباب الخامس فی آداب المجسد والقبلة الخ ٥/ ٣٢٢) .

او همداشان په مجموعه فتاوی سعدیه ص۱۴۸، او نفع المفتی والسائل ص۱۳۱ ، او امداد الفتاوی مطبوعه کراچی ۱/ ۲۷٦) کی هم دی : دجومات په صحن کی جماعت کیدلی شي که چېرته کوم ځای کی صحن دجومات دننه نه وي بلکی جومات نه خارج وي نو دجومات باني ، او که هغه نه وي نو دمسلمان دډلی ټول کسان په اتفاق سره هغه ځای په جومات کی شاملولې شي پدی طریقه به هغه ځای هم جومات کی‌شامل شي اوهلته د لمونځ کولوثواب به په جومات کی دلمونځ کولو په برابر شي .

فقط والله اعلم . لیکونکی السید عبدالرحیم لاجپوري غفرالله له ولوالدینه راندیر۱۵/ رجب المرجب ۷۴ھ.

الجواب صحیح (مولانا مفتی) سید مهدی حسن مفتی دار العلوم دیوبند ۲۷_ ۷۴/ ۸ نزیل سوت گجرات الجواب الصحیح (مولانا متفي) سعید احمد غفرله مفتی مظاهر علوم سهارنپور ۲۰ شعبان ۷۴ھ.

ایا دحضور اقدص صلی‌الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کی ښځې جومات ته تللې ؟

۱۸٦_ سوال : ښځې پنځه وخته لمونځ جمع او اخترونو لپاره تللې شي یانه ؟ امید دی چی په دلیل سره جواب راکړئ ، ځیني خلک وايي چی دحضوراقدس صلی‌الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کی ښځې جومات ته تللې ایاداخبره صحیح ده ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

خواب په مبارکه زمانه کی ښځو ته په جوماتت کی دلمونځ کولو اجازت و هغه دخیر القرون زمان وه دفتنو څخه محفوظه وه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به نفس نفیس تشریف درلود او وحی نازلیدلو، نوی نوی احکام به راتلل ، نوي مسلمانان دلمونځ وغیره مسائلو دزده کولو ضرورت و او دتهولو نه زیات درسول الله صلی الله علیه وسلم په اقتداء کی دلمونځ کولو شرف او فضیلت حاصلول و ددی ټولو خبرو باوجود ښځي جماعت سره دلمونځ کولو مکلف نه وي یواځې اجازت ورته و او افضل همدا و چی ښځې په کور کی په پټه اوتیار کمره (کوم ځای دپردی خلکو بالکل نظرونه لګیږي)لمونځ وکړي ددی واضح دلیل دحضرت ام حمید ساعدی رضی الله عنها حدیث دی ، وګورئ فتاوی رحیمیه ٦/ ۱٥۹ (ددی سلسلی یو تفصیلي فتوی د احضر فتاوی رحیمیه ٦/ ۱٥٦ _ ۱٦٥ کی شائع شویده هغه ضرور وګورئ)

په وروسته زمانه کی په ښځو کی څه آزادي او خرابي ظاهر شو نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ښځې جومات ته دراتلو نه منع کړي ټولو صحابه کرامو ده سره اتفاق وکړي ، ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنه فقیهانه جواب ورکړی چی

"لو ادرك رسول الله صلی الله علیه وسل ما احدثت النساء لمنعهن المسجد كم منعت نساء بني اسرائيل"

یعنې که رسول الله صلی الله علیه وسلم دښځو داحالت لیدلی وای نو هغه به دجومات دراتلو نه ضرور منع کړی وو لکه څنګه چی دبنی اسرائلو ښځې جومات ته دراتلو نه منع شوی وو ، (بخاري شريف ۱/ ۱۲۰ باب خروج النساء الى المساجد باللیل والغلس ، مسلم شریف ۱/ ۱۸۳ ، زجاجة المصابيح ۱ ۳۱۳).

په عنایه شرح دهدایه کی دي : "ولقد نهى عمر رضي الله عنه النساء عن الخروج الى المساجد فشكون الى عائشة رضي الله عنها فقالت لو علم النبي صلى الله عليه وسلم ماعمله عمر رضي الله عنه مااذن لكن في الخروج فاحتج به علماؤنا ومنعوا الشواب عن الخروج مطلقاً".

يعني حضرت عمر فاروق رضی‌الله عنه ښځي جومات ته دراتلو نه منع کړی نوښځو ام المؤمنين حضرت عائشه رضی‌الله عنها ته شکايت وکړ حضرت عائشه رضی‌الله عنها پـه ځواب کی وفرمايل عمر فاروق رضی‌الله عنه ته چی دکومو خبرو علـم شـوی کـه چبرته درسول الله صلی‌الله عليه وسلم په وړاندی داکارونه ظاهرشوي وای نـو تاسـو ته به يې (لمانځه لپاره) دراوتلو اجازت نـه و ای کـړی . زمونـږ علمـاؤ پـدی بانـدی استدلال کړی دی او ځواني ښځي يې مطلقاً دراوتلو نه منع کړيـدی .(عنايـه شـرح هدايه ۱/ ۳٦۵ مع فتح القدير باب الامامه).

اوپه بدائع الصائع کی دي : "ولا يباح للشواب منهن الخـروج الى الجماعـات بدليل ماروى عن عمر رضی‌الله عنه انه نهى الشواب عـن الخـروج والا ن خروجهن الى الجماعة سبب للفتنة والفتنة حرام وما ادى الى الحرام فهو حرام"

ترجمه : ځوانو ښځو لپاره جماعت کی شريک کيدلو په خاطر وتل مباح نـدی دهغـه روايت له وجې چی حضرت عمر فاروق رضی‌الله عنه نه نقل دی چـی دی ځـوانی ښځي راوتلو نه منع کړی وی اوبلدی وجه چی دښځو له کورونه راوتل سـبب دفتـنې دی او فتنه حرامه ده او کوم چی سبب دحرامو وي هغه هم حرام دی .

(بدائع الضائع ۱/ ۱۵۷ فصل فی بيان من يصلح للامامة فی الجملة).

په عيني شرح دبخاري کـی دي : "وکان ابن عمر رضی‌الله عنه يقـوم يحصـب لنساء يوم الجمعة يخرجهن من المسجد ،" يعنی عبدالله بن عمر رضـی‌الله عنـه بـه دجمعی په ورځ ودريد او ښځی به يې په کيڼو باندی ويشتلې اوله جومـات څخـه بـه يې ويستلې. (عيني شرح بخاري۳/ ۲۸۸ باب خروج النساء الى المساجد باليل والفلس).

او همداشان فقيه الامت حضرت عبدالله بن مسعود رضی‌الله عنه به هـم دجمعـی پـه ورځ ښځي له جومات نه ويستلې او فرمايل به يـې : خپلـو کوروتـه لاړی شـئ تاسـې لپاره ستاسې کـور بهتـر دی ، عن ابی عمرو الشيبانی انه رأی عبدالله يخرج النساء

من المسجد يوم الجمعة ويقول اخرجن الى بيوتكن خير لكن ، رواه الطبراني في الكبير بإسناد لابأس به ، (الترغيب والترهيب ۱/ ۱۹۰).

په مصنف ابن ابی شیبه کی دي : (۱) حدثنا ابوبكر قال حدثنا جرير عن منصور عن ابراهيم قال يكره خروج النساء في العيدين .

ابراهیم نخعی رحمه الله فرمايي په اخترونو کی د ښځو وتل مکروه دی.

(باب من كره خروج النساء الى العيد مصنف ابن ابي شيبة ۲/ ۱۸۳).

(۲) حديثنا وكيع عن سفيان عن عبدالله جابر عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنه انه كان لايخرج نساءه في العيدين .

یعنی عبدالله بن عمر رضی الله عنه به دخپلي کور ښځې اختر لمونځونو لپاره نه راویستلې (پورتنې حواله).

(۳) حدثنا ابو اسامة عن هشام بن عروة عن ابيه انه كان لايدعهن امرأة من أهله تخرج الى فطر ولا الى الاضحى.

هشام دخپل پلار دعمروه عمل بیانوي چی هغه به دخپل کور ښځې عیدګاه ته نه پریښودی . (پورتنی حواله).

(٤) حدثنا ابو داود عن قرة قال حدثنا عبدالرحمن بن القاسم قال كان القاسم اشدشئ على العواتق لايدعهن يخرجن في الفطر والاضحى.

عبدالرحمن فرمايي چی دده دپلار (حضرت قاسم) به ښځې دوړوکی دلوی اختر لمونځونو لپاره نه پریښودلې او پدی باره کی یې دده رویه ډیر سخت وه (پورتنی حواله) .

(٥) حدثنا وكيع بن حسن بن صالح عن منصور عن ابراهيم قال كره للشابة ان تخرج الى العيدين .

ابراهيم نخعی فرمايي چی داخترونو لمونځونو لپاره دخوانو ښځو وتل مکروه دی .

(مصنف ابن ابي شيبة ۲/ ۱۸۳، من كره خروج النساء الى العيدين) فقط.

وړاندینی صف کی چی خالي ځای وي نودصفونو په منځ کی اویا لمونځ ګذارو په وړاندی تیریدو سره دخالي ځای ډکول

۱۸۷_سوال که په اول صف کې دیو کس لپاره خالي ځای دی مګر په دویم صفت کی لمونځ ګذاران ولاړ دي نو ددوی له مخې پـه تیریـدو داول صـف خـالي ځـای ډکول او ودریدل څنګه دی ؟

خواب : داول صف په پوره کولوسره په وروستي صف جـوړول پکـار دي اوپـه صـف کی خالي ځای پریښودل پکار ندی ، په شامي کې حدیث نقل کړی دی: "قال علیه الصلواة والسلام توسطوا الامام وسدوا اخللل" . ارشاد فرمایي چی امام درمیان کی وساتی (یعنی دده ښي او ګس طرف ته داسې صف جوړکړی چی امام پـه مـنځ کی راشي) او خالي ځایونه ډکوئ .(شامي ۱/ ۵۳۱ باب الامامه) .

په اول صف کې خالي ځای باوجود وروسته ودریدل دهغو خلکـو کوتـاهي دی نـو پدې وجه نوی راغلې کس لپاره خالي ځای ډکولو پـه غـرض دوروسـتي صـفونو پـه وړاندی تیرېل اویادصفونو منځ کی تیریدل جائز دی .

په مرقات شرح دمشکواة کـی دي:"الا ان يجد الداخل فرجة فی الصف الاول فله ان يمربين یا،ی الصف الثانی تقصير اهل الصف الثانی ذکره الطيبی ،"(مرقـاة شرح مشکواة ۲/ ۲٤۰ ملتانی باب السترة)

اوپه درمختار کی دي : "ولو وجد فرجی فی الاول لاالثانی له خرق الثانی لتقصير هم وفی الحديث من سدد فرجةً غفرله " .

اوپه شـامي کـی دي : (قوله لتقصير هم) يفيد ان الکلام فيما اذا شـرعوا وفی القنية قام فی آخر صف وبينه وبين الصفوف مواضع خالية فللداخل ان يمربين يديه ليصل الصفوف لانه اسقط حرمة نفسه فلايأثم المار بين يديه دل عليه مافی الفردوس عن ابن عباس رضی‌الله عنه ، عنه صلی‌الله عليه وسلم من نظـر الی

فرجة فی صف فلیسدها نفسه فان لم یفعل فمر ما رفلیتخط علی رقبته فانه لاحرمة له ، ای فلیتخط المارعلی رقبة من لم یسد الفرجة اه . (درمختار وشامی ص۵۳۳ ج۱ ، باب الامامة مطلب فی الکلام علی الصف الاول).

په غایه الوطار اردو ترجمه ددرمختار کی دي : ولو وجد فرجة فی الاول لاالثانی له خرق الثانی لتقصیرهم . یعنی که چیرته لمونځ ګذار په اول صف کی خالي ځای ووینې نه په دویم کی نو هغه ته ددیم صف خیرل جائز دی له وجی دقصور کولو ددویم صف والاو. یعنی کله چی کوم سړی په لمانځه کی شاملیدل غواړي او په اول صف کی خالي ځای وګوري نو دوروستي صفونو په خیرلوسره دی اول صف کی ودریږي ځکه چی دادوروستي صفونو والاو قصوردی چی دوی ځای ندی ډک کړی نو پدی وجه ددوی خیرل اویاددوی په منځ کی تیریدل څه پرواه نلري پدی دلیل چی حدیث کی راغلي دي : کله چی څوک خالي ځای ووینې نو هغه دی پخپله بند او ډک کړي او که بند نکړي نو بل کس دی دهغه په څټ باندی پښه کیږدي او پرې تیر شي ځکه چی دهغه څه تعظیم ندی پاتی .

اخرجه فی الفردوس عن ابن عباس وفی الحدیث من سدفرجة غفرله . یعنی څوک چی خالي ځای ډک کړي هغه ته مغفرت کیږي .(غایة الاوطار ۱/ ۲۶۵) فقط والله اعلم.

کوم یو عالم اومشرته په صف کی خپل ځای ورکول

۱۸۸_ سوال : حماعت ودریده او یو کس په اول صف کی دی یو عالِم راغی نو هغه سړی دعالِم په لیدو سره اول صف کی خپل ځای ورته پریښود او هغه یې ودرولو او پخپله دویم صف کی ودرید ایا داسی کول صحیح دی ؟ او حال داچی داول صف ډیر زیات فضیلت دی . وضاحت وکړئ مهرباني.

خواب: دعلماو دتعظیم په خاطر پخپله وروسته کیدل او هغوی ته اول صف کی ځای ورکول بلاکراهت جائز دی پدی کې هیڅ کومه خبره نشته بلکی دده داکارمناسب دی . په شامي کی دي : "(تنبیه) قال فی المعراج الافضل ان یقف فی الصف

الاخر اذا خاف ایذاء احد قال علیه الصلوٰة والسلام من ترك الصف الاول مخافة ان یؤذی مسلماً اضعف له اجر الصف الاول وبه اخذ ابوحنیفة ومحمد رحمهما الله" (شامی ج ١ ص ٥٣٢ باب الامامة) یعنی کله چی د خپل خان نه بل ته د تکلیف رسیدو خطره وي نو هغه لپاره افضل او بهتر دا دی چی آخري صف کی ودریږي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمايي : څوک چی کوم مسلمان ته د تکلیف رسیدو په ویره اول صف پریدي نو هغه ته به د اول صف دوچند اجر ورکول کیږي ، امام أبوحنیفه او امام محمد رحمهما الله هم دا قول غوره کړیدی (شامی ج ١ ص ٥٣٢ باب الامامة) فقط والله اعلم .

ښځی لپاره په حرم شریف کی جماعت سره لمونځ کول څنګه دي ؟

(١٩٠ سوال) ښځی حج او عمری لپاره ځي هلته د دی لپاره حرم شریف کی جماعت سره لمونځ کوي بهتر دی یا خپل استوګنځي کی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني

ځواب : ښځی لمانځه لپاره جومات ته تللی شي یا نه ؟ د دی متعلق تفصیلي ځواب د فتاوی رحیمیه اردو پنځم جلد (٥٩ ـ ٧١) صفحو او (جدید ترتیب کی په کتاب العیدین کی " د ښځو جومات او عیدګاه ته تلل څنګه دی ؟ " ج ٦ ص ١٥٦ تر عنوان لاندی وګورئ ، مرتب) پدی ځواب کي د حضرت امام حمید ساعدي رضی الله عنه حدیث ډیر زیات قابل غور دی د دی حدیث الفاظ دا دي : "عن ام حمید امرأة ابی حمید الساعدی رضی الله عنها انها جاءت النبی صلی الله علیه وسلم فقالت یارسول الله انی قد احب الصلوٰة معك قال قد علمت انك تحبین الصلوٰة معی وصلوتك فی بیتك خیر من صلواتك فی حجرتك وصلوتك فی حجرتك خیر من صلوتك فی دارك وصلواتك فی دارك خیر من صلوتك فی مسجد قومك وصلواتك فی مسجد قومك خیر من صلواتك فی مسجدی قال فامرت فبنی لها

مسجد فی اقصی شیئ من بیتها واظلمه وکانت تصلی فیه حتی لقیت الله عزوجل" رواه احمد وابن خزیمة وابن حبان فی صحیحها.

ترجمه حضرت ام حمید رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دربار کی حاضریدو سره عرض وکړ چی زما تاسره د لمونځ کولو شوق دی . رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ستا شوق ډیر ښه دی (او دیني جذبه ده) خو مګر ستا لمونځ په دننه کمره د باهر کمره کی له لمونځ نه بهتر دی او په کمره کی لمونځ د کور په احاطه کی لمونځ نه بهتر دی او دکور په احاطه لمونځ د محله په جومات کی له لمونځ نه بهتر دی او د محله په جومات کی لمونځ زما په جومات (مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم) کی د لمونځ نه بهتر دی نو پدی وجه حضرت ام حمید رضی الله عنها په فرمانش کولو سره د خپلی کمری په آخري کنج کی کوم ځای چی تیولو ته زیات تیاره وه جومات (د لمونځ کولو ځای) جوړ کړی شو هلته به یی د مرګ تر وخته پوری لمونځ کولو (الترغیب والترهیب ج ۱ ص ۱۷۸ بحواله فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۱۴۳) .

لدینه ثابت شو چی ښځو لپاره پخپل کور کی لمونځ کول بهتر دي که د محلی جومات دی او یا دحرم شریف (ذکر شوی حدیث خو خاص مسجد نبوي علی صاحبها الف الف تحیة وسلام پوری متعلق دی او درسول الله صلی الله علیه وسلم په اقتداء کی د لمونځ کولو په باره کی درخواست وُ) لهذا ښځو لپاره بهتر دا ده چی خاص د لمانځه په ارادی سره جومات ته لاړ نشي اګر که حرم شریف وي ، البته ښځه که چیری د طواف په اراده او یا د روضه اقدس صلی الله علیه وسلم باندی د صلوات او سلام پیش کولو لپاره حرم شریف ته حاضره شوی وي او دلمونځ تیاري شروع شي نو هلته دی ښځو سره لمونځ وکړي او سړو سره دی هرګز نه ودریږي ، فقط والله اعلم .

له امام نه چې مقتديان خفه وي نو امامت دی پريږدي او که قائم پاتی شي ؟

(۱۹۱ سوال) څمونږ پدی جومات کی له اتو کالو نه امام صاحب امامت کوي او خلک ترينه خوشحال وو مګر اوس يوه دوه خبری پيدا شولی چی د هغو په وجه ځينی مقتديان دهغه په اقتداء کی لمونځ کولو کی څه کراهت ګڼي (۱) د جومات دا اصول دي چی د جومات دکان د جومات خادمانو ته په کرايه نه ورکوي امام صاحب يو دکان دوه دريو کالو نه د يو سړي په نوم اخستی او د جومات ذمه داران يی ندي خبر کړي بيا وروسته هغوی ته پته ولګيده نو تحقيق يی وکړ ، امام صاحب صفا انکار وکړ او کله چی هغه سړي نه تپوس وشو نو هغه چی څه حقيقت وُ رابښکاره کړ چی دکان د امام صاحب دی او زما په نوم يی اخستی دی .

(۲) او دوی د يوی مدرسی جوړولو اراده وکړ او جومات کی د مدرسی لپاره چنده جمع کول شروع کړل د يوځای د اخستو هم پروګرام وُ مګر مدرسی لپاره يی ځای ونشو اخستی چی کوم چنده شوی وه هغه يی پخپل اکاونټ (حساب) کی جمع کړل يو موقع باندی د جومات کميټی سکرټري د دوی نه حساب وغوښت نو څلور پنځه مياشتی يی وځنډولو سکرټري چی دوباره مطالبه وکړه نو د يو خط په ذريعه يی خواب ورکړ : " دا مدرسه زما ذاتي او شخصي ده تاسو ته د دی حساب غوښتو هيڅ حق نشته " چی د دی په وجه جومات کی کافي لوی انتشار وشو او ځينی لمونځ ګذاران د ده په اقتداء کی لمونځ کولو ته تيار ندي ، اوس د ده په اقتداء کی د لمونځ کولو څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ .

خواب : په حديث کی دي : "عن ابی امامة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ثلاثة لا تجاوز صلواتهم آذانهم العبد الابق حتی يرجع وامرأة باتت وزوجها عليها ساخط وامام قوم وهم له کارهون" (روا الترمذی) يعنی رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد وفرمايل : د دريو کسانو لمونځونه د هغوی د غوږونو نه وړاندی نه ځي (يعنی نه قبليږي) (۱) تښتيدونکی غلام تر دی چی واپس راشي (۲) ښځه پداسی حال کی شپه تيره کړي چی خاوند ورنه خفه وي

(۳) او هغه امام چې قوم ورنه خفه وي . ترمذي (مشکواة شریف باب الامامة ص ۱۰۰) .

او په بل حدیث کې دي : "عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ثلثة لاتقبل لهم صلواتهم من تقدم قوماً وهو له کارهون الخ" رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : د دریو کسانو لمونځ نه قبلوي (۱) څوک چې د یو قوم امامت کوي او خلک پرې خفه وي .... الخ (مشکواة شریف ص ۱۰۰ ایضاً) .

د فقه مشهور کتاب په درمختار کې دي : "ولو ام قوماً وهم له کارهون لفساد فیه او لانهم احق بالامامة منه کره له ذلك تحریماً لحدیث ابی داؤد لایقبل الله صلواة من تقدم قوماً وهم له کارهون وان هو احق لا والکراهة علیهم" .

یعنی که چیرته څوک امامت کوي او خلک پرې خفه وي نو که چیرته پدی وجه نه خوښوي چې په امام کې څه خرابي وي او یا دا خلک په امامت کې د هغه نه زیات حقدار وي نو دی امام ته امامت کول مکروه تحریمي دي لکه څنګه چې په ابوداؤد شریف کې دي چې الله تعالی د هغه سړي لمونځ نه قبلیږي چې امامت کوي او خلک ورباندی خفه وي ، او که امام په واقعیت کې د ټولو نه زیات د امامت حقدار وي (عالِم ، فاضل او متقي وي) او خلک پرې خفه وي نو د خفګاني ګناه په خلکو باندی وي (درمختار مع شامی بـاب الامامـة ج ۱ ص ۵۲۲ ، فتـاوی رحیمیه ج ۱ ص ۱٦٤ ، ۱٦٥) (په جدید ترتیب کی من یصلح اماما لغیره کـی د " فاسق ، فاجر او د بدعتي دامامت څه حکم دی " تر عنـوان لانـدی وګـورئ ج ۴ ص ۱۷۰ مرتب) .

پدی ذکر شوی مسئله کی ځینې لمونځ ګذاران چې امـام نـه خفـه وي او د ده پـه اقتداء کې لمونځ کول بد ګڼي د سوال نه معلومیږي چې د دوی خفګـان بلاوجـه ندی ، هغه دروغ ویلي دي او غلطه معامله یی کړی او تر ډیری مودی پوری دا غلط کار یی چلولی دی او په جومات کی یی د مدرسـی پـه نـوم چنـده کـړي او بیا یی وروسته د دی حساب ندی ورکړی او دا ویـل چـې دا زمـا ذاتـی معاملـه ده تاتـه د

حساب غوښتو حق نشته . دا خبره قابل قبول نده خکه چی چنده د مدرسی په نوم شویده نو د امامت داري تقاضا دا ده چی ددی حساب بالکل بالکل صفا وساتي . حساب نه ورکول پدی سره خلکو ته یقیناً د چنده ورکونکو سره د خیانت خیال پیدا کیږي او لمونځ ګذارو کی انتشار کیږي لهذا د داسی کس د امامت پشان اهم منصب پاتی کول سبب ندی امامت کول ده لپاره مکروه تحریمي دي لهذا ده ته پخپله محتاط کیدل پکار دي ؟ د دی اندازه لدیٰ حدیث نه ولګوئ په ابوداؤد شریف کی دي : یو سړی څه خلکو ته امامت وکړ ، هغه ته توکانړی ورغلل نو قبلیٰ طرف ته یی وتوکل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته کتلی کله چی دلمانځه نه فارغ شو نو ده پسی لمونځ کونکو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چی دا سړی دی آینده ستاسو امامت نه کوي ، لدینه وروسته هغه کس د لمونځ ورکولو اراده وکړه نو خلکو منع کړو او وی ویل چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده متعلق دا ارشاد فرمایلی دی : دغه کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شو او د دغه واقعی تذکره یی وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل او مافرمایلي دي ، راوي بیان کوي چی زما خیال دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم وفرمایل چی تا الله او د ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسولی ؤ : "ان رجلاً ام قوماً فبصق فی القبلة ورسول الله صلی الله علیه وسلم ینظر قال رسول الله صلی الله علیه وسلم حین فرغ لایصلی بکم فاراد بعد ذلك ان یصلی لهم فمنعوه واخبروه بقول رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر ذلك لرسول الله صلی الله علیه وسلم فقال نعم وحسبت انه قال انك اذیت الله ورسوله صلی الله علیه وسلم" (ابوداؤد شریف باب کراهیة البزاق فی المسجد ج ۱ ص ۷٦) فقط والله اعلم بالصواب . جدید ترتیب کی ج ٤ ۱۷۱ .

په جومات کی د دویم جماعت عادت جوړول :

(۱۹۲ سوال) څمونږ جومات کی دجماعت کیدو نه وروسته شاوخوا دکانداران اکثر دویم جماعت کوي د دوی دا کار څنګه دی ؟ خانله خانله لمونځ کول بهتر دي او که دویم جماعت کول ؟ تفصیل سره ځواب ورکړئ ، مهرباني .

جواب په اسلام کی د جماعت سره لمونځ کولو ډیر فضیلت او زیات تاکید راغلی دی . د الله تعالی ارشاد دی "واركعوا مع الراكعين" (سورت بقرة) یعنی لمونځ کونکو سره لمونځ وکړئ یعنی جماعت سره لمونځ ادا کړئ (ای صلو مع المصلین) (جلالین) او نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان دی : "صلوا الجماعة تفضل بسبع وعشرين درجة" یعنی په جماعت سره لمونځ د خانله لمونځ نه اوه ویشت درجی افضل دی (صحیح بخاری باب فضل صلوٰة الجماعة ج ١ ص ٨٩ ، صحیح مسلم ج ١ ص ٢٣١ ، جامع ترمذی ج ١ ص ٢٠) .

د سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : څوک چی اذان واوري او بغیر د عذر نه جومات ته لاړ نشي نو د هغه خانله لمونځ نه قبلیږي (اګر که خانه پوری کیږي او فرض یی ساقطیږي) صحابه کرامو رضی الله عنهم تپوس وکړ چی عذر څه دی ؟ وی فرمایل : (ځان ، مال او د آبرو) ویره یا مرض : "من سمع المنادی فلم يمنعه من اتباعه عذر قالوا وما العذر ؟" قال خوف او مرض لم تقبل منه الصلوٰة التی صلی" (ابوداؤد ج ١ ص ٨٨ باب التشديد فی ترك الجماعة) .

او دا یی هم ارشاد دی : چی جماعت پرېښودل پریدئ او کنه نه الله تعالی به ستاسی په زړونو باندی مهر ولګوي او تاسو به د هغو خلکو نه وګرځئ کوم چی الله تعالی غافل ګرځولي دي (ابن ماجه مصري ص ٢٦٠) .

او دا یی هم ارشاد دی : د سړي غوږونه به د ګرم قلعی نه ډک کړی شي (یعنی کوڼ به شي) دا بهتر دي لدینه چی اذان واوري او د اذان بلنه قبول نکړي (کتاب الصلوٰة لابن القيم) .

په یو حدیث کی دری قسمه خلکو باندی د الله تعالی لعنت راغلی دی ، پدوی کی یو هغه دی چی اذان واوري او جومات ته حاضر نشي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي : "الجفاء كل الجفاء والكفر والنفاق من سمع منادی الله تعالى ينادى بالصلوٰة ويدعوا الى الفلاح فلايجيبه" (جامع الصغير ج ١ ص ١٢١ ،

مجمع الزوائد باب اجابة المؤذن ومایقول عند الاذان والاقامة ج ۱ ص ۱۵۸)

ترجمه سراسر کفر، ظلم او نفاق دی چی د الله تعالی د منادی آواز واوري کوم چی لمانځه ته بلنه ورکوي او فلاح (ابدی کامیابي) لپاره دعوت ورکوي بیا هم پری لبیک ونه وائي او ځواب ورنکړي

په ابوداؤد شریف کی یو حدیث دی: "لقد هممت ان آمر فتیتی فیجمعوا لی حزما من حطب ثم اتی قوما یصلون فی بیوتهم لیست بهم علة فاحرقها علیهم"، یعنی بیشکه زما زړه غواړي چی خوانانو ته حکم وکړم لرګی راته جمع کړي او بیا زه لاړ شم هغه خلکو خوا ته چی بغیر د عذر نه خپلو کورونو کی لمونځ کوي چی هغوی کورونو سره وسوځوم (ابوداؤد باب التشدید فی ترك الجماعة ج ۱ ص ۸۸).

تنبیه:

رحمت عالم صلی الله علیه وسلم د اور لګولو سزا هغه چا لپاره تجویز کوي چی لمونځ خو کوي مګر جومات کی نه کوي په کور کی کوي، اوس فکر وکړئ او سبق واخلئ چی د هغه خلکو به څه سزا وي کوم چی (معاذ الله) له سره لمونځ نه کوي (مزید تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه اردو اول جلد (۲۰۹ ـ ۲۱۳) صفحي او په (جدید ترتیب کی پدی باب کی " اسلام کی د جماعت اهمیت) تر عنوان لاندی وګورئ ص ۱۳۰ مرتب).

د پورتني قرآن ایاتونو او نبوي صلی الله علیه وسلم مبارکو حدیثونو نه د جماعت اهمي، تاکید او فضیلت ثابتیږي لهذا د شرعي عذر نه بغیر جماعت پرېښودل ندي پکار او د جماعت پرېښودو عادت جوړول خو سنګین ګناه او ډیر خطرناک خیز دی.

که چیرته کوم وخت کی د کوم شرعي عذر په وجه جماعت سره د لمونځ کولو شوق وي نو کور کی دخپلې کورنی سره جماعت وکړئ.

پدی ذکر شوی مسئله کی په جومات کی چې د دویم جماعت کومه طریقه سوال کی ذکر شویده دا بالکل غلطه او ګناه ده دغه طریقه فوراً بندول پکار دي د خلکو د زړونو نه د جماعت اهمیت او عظمت ووځي او دجماعت د کمیدو سبب به وګرځي، او د دی ذمه وار به دویم جماعت کونکي وي، که چیرته د جماعت فوت

کیدو په وجه جومات کی لمونځ کوي نو خانله خانله کول بهتر دي . د دویم جماعت متعلق د فتاوی رحیمیه په همدی څلور جلد کی یو سوال او ځواب دی چی دلته یی نقل کول مناسب معلومیږي :

(۱٦۹ سوال ، تبلیغی جماعت یو کلي ته پداسی وخت کی ورسیدل چی جماعت شوی وي نو دوی لپاره دویم جماعت کول بهتر دي او که خانله خانله د اذان او اقامت سره او یا بغیر د اذان او اقامت نه ادا کول بهتر دي ؟

ځواب : پدی صورت کی دی خانله بغیر داذان او اقامت نه لمونځ ادا کړي شي ځکه چی جومات کی دویم جماعت مکروه دی : "قال واذا دخل القوم مسجداً قد صلى فيه اهله كرهت لهم ان يصلوا جماعة باذان واقامة ولكنهم يصلون وحداناً بغير اذان ولا اقامة" لحديث الحسن قال كانت الصحابة اذا فاتتهم الجماعة فمنهم من اتبع الجماعات ومنهم من صلى فى مسجده بغير اذان ولا اقامة الخ" (مبسوط للسرخسى ج ۱ ص ۱۳۵ باب الاذان ، فتاوى رحيميه ج ٤ ص ۱۳٤) .

او په درمختار کی دي : "(او) مصل (فى مسجد بعد صلواة جماعة فيه) بل يكره فعلهما وتكرار الجماعة" په شامي کی دي : "(قوله تكرار الجماعة) لما روى عبد الرحمن ابن ابى بكر عن ابيه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج من بيته ليصلح بين الانصار فرجع وقد صلى فى المسجد بجامعة ، فدخل رسول الله صلى الله عليه وسلم فى منزل بعض اهله فجمع اهله فصلى بهم جماعة ولو لم يكره تكرار الجماعة فى المسجد لصلى فيه وروى عن انس رضى الله عنه ان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كانوا اذا فاتتهم الجماعة فى المسجد صلوا فى المسجد فرادى ولان التكرار يؤدى الى تقليل الجماعة لان الناس اذا علموا انهم تفوتهم الجماعة يتعجلون فتكثر والاتاخروا اه بدائع وحينئذ فلو دخل جماعة المسجد بعد ما صلى اهله فيه فانهم يصلون وحدانا وهو ظاهر الرواية

ظهیریة........ الخ" (شامی ص ۳٦۷ ج ۱ ، باب الاذان ، نیز ص ۵۱٦ ج ۱ . باب الامامة) .

په بهشتي ګوهر کی دي :

تنبیه که هر څو د خینی خلکو عمل د امام ابویوسف په قول باندی دی لیکن د امام صاحب د قول دلیل هم قوي دی او پدی وخت کی دینی کارونو او خصوصاً د جماعت په کار کی چی څومره سستي او بی پرواهي کیږي د دی تقاضا هم همدا ده چی د تبدیل هیأت باوجود د کراهت فتوی ورکړی شي او که نه خلک به قصداً اول جماعت پریدي چی بیا به دویم جماعت کوو (بهشتي ګوهر ص ٦۳ د جماعت احکام) فقط والله اعلم .

د صفونو برابرول دچا ذمه واري ده ؟ د امام یا د مؤذن ؟

(۱۹۴ سوال) ایا په مؤذن باندی دا ذمه واري اچول صحیح دي چی هغه د تکبیر شروع کولو نه وړاندی دری څلی په اوچت آواز سره دا ووائي : وروڼو صفونه برابر کړئ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : د اقامت مقصد همدا دی چی حاضر خلک متوجه کړي چی خپل انفرادي عمل پریدي په جماعت کی د شریک کیدو تیاري او صف بندي شروع کړي ، لهذا مؤذن په سوال کی ذکر شوی جملی ویلو باندی پابند جوړول ضروري ندي که په صفونو سیده والي کی څه نقصان وي نو د امام ذمه واري ده چی صفونه درست کړي دا د مؤذن ذمه واري نده د وروستی صفونو برابرولو لپاره که دکوم کس ضرورت وي نو امام هرڅوک مقررولی شي او د صفونو برابریدو پوری لمونځ شروع کولو کی تاخیر کولی شي .

په ترمذی شریف کی دي : "روی عن عمر رضی الله عنه انه کان یوکّل رجلاً باقامة الصفوف ولایکبر حتی یخبر ان الصفوف قد استوت وروی عن علی رضی الله عنه و عثمان رضی الله عنه انهما کانا یتعاهدان ذلك ویقولان استووا" .

یعنی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به د صفونو برابرولو لپاره یو کس مقرر کړی و او څو پورې چې به د صفونو برابریدو خبر نه و ورکړی شوی هغه به تکبیر تحریمه نه ویلو دحضرت علی او د حضرت عثمان رضی الله عنهما به هم همدا معمول و او فرمایل به یې چې برابر شی (ترمذی شریف ج ۱ ص ۳۱ باب ما جاء فی اقامة الصفوف) .

په موطاء امام مالک کې روایت دی : "مالك عن ابی النضر مولی عمر بن عبید الله عن مالك بن ابی عامر ان عثمان بن عفان رضی الله عنه كان يقول فی خطبته قل ما يدع ذلك اذا خطب ، اذا قام الامام يخطب يوم الجمعة فاستمعوا وانصتوا فان للمنصت الذی لايسمع من الحظ مثل ما للمنصت السامع فاذا قامت الصلواة فاعدلوا الصفوف وحاذوا بالمناكب فان اعتدال الصفوف من تمام الصلواة ثم لايكبر حتى يأتيه رجال قدو كلهم بتسوية الصفوف فيخبرونه انه قد استوت فيكبر" .

ترجمه : یعنی عثمان رضی الله عنه به اکثر خطبه کې دا ارشاد فرمایلو چې : کله چې امام د جمعې په ورځ خطبه وایي نو په غور سره واورئ او چپ اوسئ او څوک چې خطبه نه آورئ او چپ وي نو هغه ته د خطبې اوریدونکی پشان ثواب سلاویږي او کله چې جماعت ودریږي نو صفونه برابر کړئ او اوږی سره برابروئ (یعنی څوک دی اوچت خای باندی نه ودریږي بلکې هموار ځای باندی به ودریږي تر څو اوږی سره برابر شي) د صفونو برابرول د لمونځ د پوره والي حصه ده ، او چې کوم کسان به یې د صفونو برابرولو لپاره مقرر کړی و چې کله به هغوی د صفونو دبرابریدو خبر ورکړ نو بیا به یې تکبیر تحریمه وویل (موطأ مالك ص ۳۶ ماجاء فی انصات یوم الجمعة والامام یخطب) .

په درمختار کې دي : "(ويصف) اى يصفهم الامام بان يأمرهم بذلك قال الشمنی وينبغی ان يأمرهم بان يتواصلوا ويسدوا الخلل ويسووا مناكبهم" (درمختار مع شامی ج ۱ ص ۵۳۱ باب الامامة) .

په غاية الاوطار کی دي : ويصف ...... او صفونه برابر کړئ يعنی مقتديان دي صفونه برابر کړي يعنی امام دی ورته دصف جوړولو حکم وکړي ، شمني واني امام ته پکار دي چی مقتديانو ته امر وکړي چی يو بل ته نزدی شي او د دوه کسانو تر منځ خالي ځای پرې ندی او خپلی خپلی اوږی سره برابر کړی . (غاية الاوطار ج ۱ ص ۲٦٤) فقط والله اعلم .

په عيدګاه کی د دويم جماعت حکم :

(۱۹۵ سوال) څمونږ پدی علاقه کی د پخوا زمانی نه په يوځای عيدګاه کی د اخترونو لمونځ ادا کيدلو مګر دخو کالو نه يو څو بد عتيان يو بل جماعت جوړولو سره خپل امام پسی داختر لمونځ دلوستلو ضد کوي اويا دعيدګاه کی دويم جمع کولې شوو او که نه ؟ که دويمه جمع کولې شوو نو خطبه به يو ويل کيږي او که جلاجلا .

ځواب : په کوم جومات کی چی يوځل د محلی خلکو پخپل وخت جماعت او لمونځ وکړي پدی جومات کی د دويم جماعت شرعاً اجازت نشته [1]، همداشان د عيدګاه هم دا حکم دی بدعيتان چی دويم جماعت کول غواړي نو باأثر او ذمه وارو حضراتو باندی لازم دي چی هغوی وپوهوي او د دويم جماعت کولو نه منع کړي او که د فتنی خطره وي نو بيا دی په خپل حال باندی پريږدئ د دی وبال او ګناه به د هغوی په سر وي ، اهل حق دی جماعت سره لمونځ وکړي او بيا دی فوراً وروسته خطبه ورکړي ، فقط والله اعلم .

د دوباره راګرځولو جماعت کی چی نوي مقتديان شامل شي نو دهغوی لمونځ کيږي يا نه ؟

(۱۹٦ سوال) څمونږ په جومات کی پرون ماسخوتن په آخري رکعت کی امام صاحب په غلطی سره دری سجدې وکړی او ورته پته نه ده چی دری سجدې می وکړی نو پدی وجه سجده سهو يی هم ونه کړه د لمانځه نه وروسته مقتديانو متوجه

---

[1] ـ ويکره تکرار الجماعة باذان واقامة فی مسجد محلة لا فی مسجد طريق او مسجد لا امام له ولا مؤذن (درمختار علی هامش شامی باب الاقامة ج ۱ ص ۵۵۲) .

کړ امام صاحب ته هم خیال وشو چې دری سجدې شویدي نو فورا یې دویم جماعت وکړ او پدیکی څه نوي مقتدیان هم شامل شول د دوی لمونځ صحیح دی او که یې دوباره کول ضروري دي ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب پدی ذکر شوی مسئله کی دماسخوتن په آخري رکعت کی دریو سجدو په کولو سره دځلورم رکعت په قعده کی تاخیر شوی . که سجده سهو شوی وای نو لمونځ مکمل کیدو مګر سجده سهو وشوه او وروسته دوباره جماعت وکړی شو نو پدی صورت کی فریضه په اول لمونځ سره ادا شویدی البته د سجده سهو په نه کولو سره چې کوم کمی پاتی شوی وُ په دویم جماعت سره د هغه تلافي وشوه ، دویم جماعت مستقل فرض ندی بلکی د اولني لمونځ د تکمیل لپاره دی لهذا هغه مقتدیان چې د هغوی فرض مکمل طور باقی دی هغوی پدی دویم جماعت کی نشي شریک کیدلی که شریک شي نو لمونځ یې نه ادا کیږي[1] . دوباره کول یې لازم دي پدی وجه کوم مقتدیان چې د خپلو لمونځونو په ماتولو سره پدی دویم جماعت کی شریک شوی یا نوی مقتدیان پکی شامل شوی د هغوی لمونځ ندی شوی هغوی باندی دوباره لمونځ کول لازم دي او کوم مقتدیان چې اول جماعت کی د اول رکعت نه تر آخره پوری امام سره شریک وو د هغوی او د امام لمونځ صحیح دی ، فقط .

امام لپاره پخپل وخت حاضري ضروري دی :

(۱۹۷ سوال) ځمونږ امام صاحب عام طور ماسخوتن لمانځه ته ناوخته راځي او کله کله غیر حاضر هم وي دی وائي چې زما روټی بالکل د لمانځه په وخت کی راځي او په حدیث شریف کی راځي چې خوراک مخې ته راشي نو اول روټی وخورئ او خان فارغ کړئ او بیا لمونځ وکړئ او یا دا عذرصحیح دی ؟

ځواب : امام لدی حکم نه خارج دی ځکه چې پدی صورت کی لمونځ ګذارو ته د انتظار زحمت او پریشاني کیږي او لمونځ وروسته کیږي لهذا امام ته د وخت اهتمام کول ضروري دي ، البته پدی جومات کی نائب امام موجود وي نو بیا څه حرج

[1] ـ وکذا کل صلواة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها والمختار انه جابر للاول ، درمختار علی هامش مطلب کل صلواة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها ج ۱ ص ٤٥٧ .

نشته مګر دا قسم د تاخیر عادت جوړول مناسب ندي ، امام وي او یا مقتدي د روټی خوراک نه دی زر خان فارغ کړي او یا د خوراک وخت بدل کړي . فقط والله اعلم

د دویم جماعت حکم :

(۱۹۸ سوال) د محراب نه علاوه د جومات په یو طرف کی دویم جومات کولو کی څه حرج شته ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : په جومات کی د دویم جماعت فوت شي نو په کور کی او یا دجومات په صحن او میدان کی دویم جماعت کیدلی شي مګر دا به عادت نه جوړیږي : "او مصل فی مسجد بعد صلاة جماعة فیه بل یکره فعلهما وتکرار الجماعة (درمختار) قال الشامی روی عن بن ابی بکر عن ابیه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم خرج من بینه لیصلح بین الانصار فرجع وقد صلی فی المسجد بجماعة فدخل رسول الله صلی الله علیه وسلم فی منزل بعض اهله فصلی بهم جماعة .الی قوله. وعن ابی یوسف اذا لم تکن علی الهیئة الاولی لاتکره والا تکره وهو الصحیح وبالعدل عن المحراب تختلف الهیئة کذا فی البزازیة" (شامی ج ۱ ص ۳٦۷ باب الاذان) فقط والله اعلم بالصواب .

د متعین امام په موجودګی کی دریری خیریلي ترستي (متولي) لمونځ ورکول ، ایا د دعوت اسلام د ضرورت په خاطر د ریري خیریلو اجازت شته ؟

(۱۹۹ سوال) (۱) یوه اداره ده چی د اسماعیلي آغاخاني خوجه ګانو بچي پکی د دین او دنیا نعلیم حاصلوي ، پنځه وخت جماعت سره لمونځ پکی کیږي او امامت یو قاري صاحب کوي اوس سوال دا دی چی د څو ورځو نه اداری والاو ویلي دي چی کله د ترسټ والا حضرات دلمانځه وخت کی حاضر وي نو امامت لپاره به هغوی وړاندی کوي او حال دا چی امامت کونکی ګیره کلوي نو ایا د علماؤ او قاري صاحبانو په موجودګی کی بی ګیری سړي پسی لمونځ کیږي یا نه ، که کیږي

نو مکروه تنزیهي دی او یا تحریمي . او که نه کیږي نو یواځې د علماؤ نه کیږي او که د عوامو هم ؟

او دویمه خبره دا چې مذکوره امام په خوجه کې د دین د تبلیغ او د اشاعت اسلام کار کوي که چیرته دا سړی ګیره وساتي نو په خوجه ګانو کې د تبلیغ کار نشي کولی ، ذکر شوی شخص وائي چې ما پسې بغیر دکراهت نه لمونځ صحیح دی ، چونکې زه د تبلیغ کار کوم که چیرته ستاسو په خای فلانی عالمان وای نو مونږ خلکو ته به یې د لمونځ ورکولو اجازت کړی وای . پداسې حالاتو کې عام خلک دغو ترسټ والاو پسې لمونځ وکړي او یا نه ؟

(۲) د فاسق لغوي او اصطلاحي تعریف ، او د فاسق سزا په قرآن او حدیث کې څه ده ؟ او د فاسق اقسام شته یا نه ؟

(۳ ، ۴) زه یو آغا خاني خوجه یم د یو مولانا د تقریر په آوریدو سره مې ایمان راوړی او آغا خان ته خدای ویل مې پرینبی ، اوس ما فکر وکړ چې څمونږ د قوم خلک هم د دوزخ له عذاب نه بچ کړی شي نو پدی بناء ما د دعوت کار شروع کړ د خوجه خلکو له زیاتو عقایدو نه دا عقیده هم ده چې ګیره ساتونکی ډیر پریوتی او بیکاره سړی وي د هغه خبره هیڅ اعتبار نلري که چیرته زه ګیره وساتم نو نوی خوجه ګانو نه دعوت نشم ورکولی ، اوس سوال دا دی چې پداسې حالت کې شریعت ما ته د ګیری خیریلو اجازت راکوي یا نه ، او که زه ګیره ونه ساتم نو الله تعالی په نزد به د عذاب مستحق یم؟ او یا الله تعالی ته ما د دعوت ایمان په برکت سره پریدي ؟ زه د هندوستان په علماء کرامو باندی افسوس کوم او همدارنګه په تبلیغي جماعت ، جماعت اسلامي او غیر مقلدینو باندی څکه چې هیڅ یو جماعت تر نن تاریخ پوری څمونږ د قوم (خواجه اسماعیلي آغا خاني) ته د ایمان دعوت ورنکړ پداسې حال کې چې څمونږ د قوم خلکو نومونه صدر الدین ، بدر الدین او محمد مبارک وغیره دي او څمونږ قوم د روژې ، لمونځ او زکات نه منکر دي ، پدی نازک وخت کې څمونږه څو دوستانو څمونږ په قوم کې د تبلیغ کار شروع کړی ، الحمد لله ښه فایده یې کړی ده ، لیکن علماء کرام مونږ باندی د فاسق فتوی لګوي ، یواځې د ګیري په نه ساتلو سره مونږ باندی د فاسق اطلاق کیږي یا نه ؟ ایا فاسق ویونکي باندی به د الله تعالی لعنت نه وي ؟

(۵) د دین د تبلیغ په غرض مونږه یوه اداره جوړه کړی ده چې پدی کـی آغاخـاني بچو ته د دین اسلام تعلیم ورکوو دغو بچـو تـه د تعلـیم پـه ورکولـو سـره د دیـن د دعوت او تبلیغ کار اخستل دي ، او خمونږ قوم د ګیری والاو خبره نه مني . نو دغـو بچو ته د ګیری په نه ساتلو سره د دین کار اخستی شو ؟ د دغو بچو ګـیره نـه سـاتل څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

(ځواب ۱ ـ ۲) امامت ډیر عظیم منصب دی ، امام لپـاره د ډیـر احتیـاط ضـرورت دی ، امام باید متبع د سنت او پابند د شریعت وي ، پـه شـریعت کـی د ګـیری ډیـر اهمیت دی دا د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام اتفاقي سنت دی او دحضور اقـدس صلی الله علیه وسلم دائمي عمل دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت د ګیری د ساتلو تاکیدي حکم کړیدی لهذا سړو لپاره دګیری ساتل واجـب او ضـروري دي او د دی شرعي مقدار یوه قبضه (موټی) دی او ګیره خیریل حرام او کبیره ګناه ده او موجب د فسق دی ، پدی باندی د امت اجماع ده ، د دلائلو او حوالـو لپـاره فتاوی رحیمیه اردو ج ٦ ص ٢٣٦ ـ ٢٥٠ صفحې او (جدید ترتیب کی کتـاب الحظـر والاباحه د ویښتو احکـام ، " د ګـیری وجـوب او دملازمـت پـه وجـه ددی خیریـل " ترعنـوان لانـدی ص۱۰۵ مرتـب وګـورئ او همـدارز دویم جلـد لـه ۳۹۸ـ٤٠٦) او (جدید ترتیب کی دایمان او عقایدو په بای کی " ګیری بانـدی تنقیـدحکم "ترعنـوان لاندی ج۱ ص۴۹ مرتب وګورئ) .

لهذا دمتبع سنت حضراتو او خاص کر دمقرر امام په موجود ګـی کـې دداسـې کـس چی ګیره خیریلې وي لمونځ ورکول مکروه تحریمې دی اودا کراهت دټولو په حـق کی دی علماء وي او که عوام وي په حـدیث کـی دي : "وقد ورد عن ابن عمـر رفوعاً اجعلو ائمتکم خیارکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربك وفی روایة ان سرکم ان تقبل صلواتکم فلیؤمکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربکم".

یعنی که تاسو غواړی چی لمونځونو مو دقبولیت درجې ته ورسیږي نو څوک چی پـه تاسو کی زیات متقي او پرهیزګار دی هغه خپل امامان جوړکړئ ولې چی امام ستاسو او ستاسو درب تـرمنځ قاصـد دی. (شرح نقایه باب الاماة تحت قوله ثم الأمین الخ ۱/ ۸٦ بحواله فتاوی رحیمیه۱/ ۱۷۵)

په کبيري کي دي "ولو قدموا فاسقا يأثمون" يعنی که چيرته فاسق خپل امام جوړ کړي نو گنهگاريږي (کبيری ص ۳۷۹ بحواله فتاوی رحيميه ج ۱ ص ۱۷۵ باب من يصح اماما لغيره) " د فاسق امامت " عنوان لاندی وگورئ) او مزيد تفصيل لپاره فتاوی رحيميه ج ۳ ص ۱۷۳ او ج ۴ ص ۱۹۱ _ ۱۹۴ وگورئ، او دا هم بايد په ذهن کی وساتئ چی معين امام امامت لپاره افضل او اولی وي او دا دهغه حق دی که چيرته اتفاقاً په حاضرينو کی د امام نه بهتر خوک وي هم بيا هم معين امام امامت لپاره بهتر دی په درمختار کی دي : "واعلم ان صاحب البيت ومثله امام المسجد الراتب اولی بالامامة من غيره مطلقاً" (درمختار) (قوله مطلقاً) ای وان غيره من الحاضرين من هو اعلم واقرأمنه" (شامی باب الامامة ج ۱ ص ۵۲۲ ، بحواله فتاوی رحيديه ج ٤ ص ۳۵۵ (جديد ترتيب کی د " نوي راغلي عالِم او قاري نه متعين امام امامت لپاره اولی دی " عنوان لاندی ص ۱۳۸ کی وگورئ _ مرتب)

پوره فتوی وگورئ ، لهذا پدی ذکر شوي مسئله کی کوم چی متعين امام دی د ده په اقتداء کی لمونځ ادا کول پکار دي د ترستي حضراتو امامت کول بالکل مناسب ندي ، دا شرعي اصول دي پديکی د هيچا توهين مراد ندی بلکې د مسئلی اظهار او د دی مطابق عمل کول مقصود وي ، لهذا ترستي حضرات بايد پدی خفه نشي ، او پوره خوشحالي او فراخدلی سره د معين امام په اقتداء کی لمونځ ادا کړي په سوال کی چی کومه خبره شويده چی فلانی فلانی عالمانو به مونږ ته د لمونځ کولو اجازت راکولو داسی رائی ورکول صحيح ندي او که خوک اجازت هم ورکړي نو هغه حجت او دليل نشي کيدلی .

(خواب ۳ ، ۴ ، ۵) الله رب العزت يواځی پخپل فضل او کرم سره د ايمان او هدايت دولت درنصيب کړيدی الله تعالی دی درته مبارک او پدی ايمان او هدايت باندی استقامت او د حسن خاتمه دولت مونږ ټولو ته نصيب کړي آمين بحرمة النبی الامی صلی الله عليه وسلم ، په حقيقت کی د ايمان او هدايت به لوی بل کوم نعمت او دولت نشته دی پدی چی مونږه د الله تعالی څومره شکريه ادا کړو کمه ده .

ماشاء الله خپل قوم ته د تبلیغ جذبه ډیر اعلی او د تقلید قابل ده الله تعالی دی په هر اعتبار سره مدد وکړي او د هدایت ذریعه جوړ کړي او خلکو ته دایمان بیش بها دولت ورنصیب کړي ، آمین

د اسلام قبلولو نه وروسته مونږ ته پوره پوره اسلام کی داخلیدل پکار دي : "یایها الذین امنوا ادخلوا فی السلم کافة" یعنی ای مؤمنانو ! اسلام کی پوره په پوره داخل شی ، ظاهراً او باطناً په اسلامي تعلیماتو باندی عمل کول ضروري دي او د هر عمل مقصد د الله تعالی رضا ده ، د ایمان دعوت کول څمونږ ذمه واري ده او لدیه وروسته په زړونو کی هدایت او ایمان پیدا کول څمونږ د وس او طاقت نه باهر دي ، دا د الله رب العزت په قدرت کی دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی خطاب فرمایلی دی : "لیس علیك هداهم ولكن الله یهدی من یشاء" ترجمه : یعنی دغو کافرانو ته هدایت ورکول ستا په ذمه (فرض او واجب ندي) لیکن الله تعالی چی چاته وغواړي هدایت کوي (سورت بقره) نو پدی بنا څمونږ کار د شریعت او د سنت تابعداري کول او خلکو ته امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د ایمان دعوت ورکول دي لکه چی (۱ _ ۲) نمبر خوابونو کی ذکر شو ، په اسلام کی د ګیری ډیر اهمیت دی نو پدی وجه دغه مبارک سنت څمونږ په مخ باندی کیدل پکار دي ، په سوال کی چی کومه خبره ذکر شویده د دی په وجه د ګیری خیریلو اجازت نشته ، په سنت باندی د عمل کولو په نیت باندی ګیره وساتئ انشاء الله د دی په برکت سره به ډیر ښه نتائج ظاهر شي د زړونو مائل کول د الله تعالی په قدرت کی دي هغه د ټولو انسانانو د زړونو مالک دی ، الله تعالی ته صلواة الحاجة او په هر موقع باندی دعا کوئ او پخپله مکمل طور سره د شریعت مطابق عمل کولو سره د دعوت په کار کی لګیا اوسئ او ښه په شوق او محنت سره کار کوئ او د الله رب العزت نه دعا او مدد غواړئ ، د نتائجو فکر مه کوئ نتائج د الله تعالی قدرت او ارادی ته پریدئ څمونږ جذبه باید نیک وي باید چی څمونږ زندګي د سنت مطابق واوسي د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک اخلاق باید په مونږ کی موجود وي ، الله تعالی به ښه کامیابی نصیب کړي او خپله رضامندي هم نصیب کړي او پوره امت د ایمان او هدایت نه برخه من وګرځوي ، آمین بحرمة النبی

الامی صلی الله علیه وسلم فقط والله اعلم بالصواب وهو الهادی الی الصراط المستقیم.

نوټ پخپله هم پدی مبارک او نورانی سنت باندی عمل وکړئ او ستاسو په اداره کی چی څومره بچي په تعلیم کی مشغول دي هغوی هم دیته تیار کړئ .انکار مه کوئ الله تعالی دی مونږ ټولو نه راضي شي او دخپلی رضامندی کار له مونږ نه واخلي او د خپل قهر و غضب او عذاب نه محفوظ وساتي ، آمین بحرمة النبی الامی صلی الله علیه وسلم ، فقط والله اعلم .

د ښځو په مدرسه کی د جینکو جماعت سره لمونځ ادا کول پداسی حال کی چی شرعي جماعت موجود وي

(۲۰۰ سوال) د یوی مدرسی په احاطه کی طالبانو لپاره شرعي جومات جوړ شوی وُ مګر فی الحال دغه مدرسه جینکو لپاره خاص کړی شویده یواځی جینکئ پکی اوسیږي پدی جومات کی د مدرسی دوه دری ذمه واران حضرات که جماعت سره لمونځ ادا کړي او ټولی جینکئ د جومات پاسني منزل کی اقتداء کولو سره جماعت سره لمونځ ادا کړي دا طریقه څنګه ده ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د ښځو په حق کی جماعت کول نه مطلوب دي او نه پدی باندی مامور او مکلف دي د دوی د خو ځانله ځانله دلمونځ ادا کولو عادت جوړول پکار دي ، لهذا پدی ذکر شوی مسئله کی دی جینکئ ځانله ځانله لمونځ ادا کړي ، دی لپاره چی جومات آباد پاتی شي پخپل وخت به اذان کوي او جماعت هم او پدی مقصد سره کم از کم دوه دری ذمه وار حضرات د پردی په اهتمام سره جومات کی جماعت سره دی لمونځ ادا کړي او که وخت کی زیات ګنجانش نه وي نو هلته دی یواځی فرض وکړي او سنت دی خپل ځای (کمره) کی ادا کړي ، فقط والله اعلم .

غیر مقلدین د جماعت په لمونځ کی خپلی ګیټی د نزدی لمونځ ګذار له ګیټو سره یوځای کول ضروري ګڼي ایا دا صحیح دي ؟ او د دی مطلب څه دی ؟

(۲۰۱ سوال) د حضرت مفتي صاحب محترم خدمت ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته . امید دی چی طبیعت او مزاج مو ښه وي .
د مسنون سلام نه وروسته عرض دی چی د لاندی سوال تحقیقي او تسلي بخش مدلل ځواب راکړئ ، الله تعالی دی اجر درکړي .
د ریاض الصالحین په باب فضل الصف الاول والامر باتمام الصفوف کی د (۱۹۵) نمبر حدیث کی دا کلمات دي : "وفی روایة للبخاری وکان احدنا یلزق منکبه بمنکب صاحبه وقدمه بقدمه" د دی روایت له کلماتو نه دا ظاهریږي چی په لمونځ کی د قیام په حالت کی د یو لمونځ ګذار قدم د بل لمونځ ګذار له قدم سره یوځای کیدل پکار دي لکه څنګه چی اهل حدیث وائي ، دلته په امریکا او کینیډا کی ټول د احنافو جوماتونه دي اواهل حدیث حضرات په کثرت تعداد کی لمونځ کوي او د صفونو برابرولو په مسئله کی د ذکر شوي بخاري شریف د حدیث نه بحث هم کوي .
ستاسو د جناب عالي په خدمت کی ډیر احترامانه عرض دی چی د دی حدیث پاک احنافو سره څه ځواب دی ؟ د لمانځه په حالت کی په صف کی یو سړی بل نزدی کس سره د پښو ګوتی یوځای کولو سره صف برابر کړي ؟ او یا اوږه د اوږی سره یوځای کړي لکه چی د احنافو مسئله ده په تفصیل سره د دی تحقیق او دلائل ولیکئ ، جزاکم الله (کینیډا) .
ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً وهو الموفق : په مبارکو حدیثونو کی د صفونو برابرولو نهایت زیات تاکید راغلی دی ، په یو حدیث کی دي : "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رصوا صفوفکم وقاربوا بینها وحاذوا بالاعناق فوالذی نفسی بیده انی لاری الشیطان یدخل من خلل الصف کانها الحذف" رواه ابوداؤد (مشکواة شریف ص ۹۸ باب تسویة الصفوف) .

ترجمه د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرماني. خپل صفونه برابر کړئ او نـزدی نـزدی ودریـږئ او اوږدی لـه اوږی سره برابر کړئ په هغه ذات می قسم چی دهغه په قبضه کی زما نفس دی شیطان ګورم چی د وزی د بچي پشان د صفونو په خالي ځایونو کی ننوځي.

(۲) "عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سووا صفوفکم فان تسویة الصفوف من اقامة الصلواة" متفق علیه (مشکواة شریف ص ۹۸ ایضا).

ترجمه حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرماني: ای خلکو په لمانځه کی صفونه برابر کړئ ځکه چی د صفونو برابرول د اقامت الصلوات څخه دي یعنی دلمونځ په ښه طریقه ادا کولو یو جزء دی.

(۳) "عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یسوی صفوفنا............ ثم خرج یوماً حتی کاد ان یکبر فرأی رجلاً بادیاً صدره من الصف فقال عباد الله لتسون صفوفکم او لیخالفن الله بین وجوهکم" روه مسلم (مشکواة ص ۹۸ ایضا).

ترجمه: حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روات دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به څمونږه صفونه سیده کول .... یوه ورځ دوی صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ او قریب وُ چی تکبیر ووائي یو کس یی ولید چی سینه یی صف نه باهر راوتی وه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل د الله بندګانو! خپل صفونه سیدد کړئ او که نه الله تعالی به ستاسو څهری خرابی کړي.

(۴) "عن انس رضی الله عنه اقیمت الصلواة فاقبل علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم بوجهه فقال اقیموا صفوفکم وتواصلوا فانی اراکم من وراء ظهری" رواه البخاری (مشکواة شریف ص ۹۸).

ترجمه: له حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چی یوځل لمونځ ودرید او رسول الله صلی الله علیه وسلم څمونږ طرف ته متوجه شو او ارشاد یی وفرمایل: خپل صفونه برابر کړئ او نزدی نزدی ودریږئ زه تاسو د وروسته نه هم وینم.

(۵) "عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اقیموا الصفوف وحاذوا بین المناکب وسدوا الخلل ولینوا بایدی اخوالکم ولاتذروا فرجات الشیطان ومن وصل صفا وصله الله ومن قطع صفا قطعه الله" رواه ابوداؤد (ایضا مشکواة شریف ص۹۹) .

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : صفونه سیده کړئ او ږه له اوږی سره برابر کړئ اوپه صفونو کی چی خالي ځایونه دي هغه ډک کړئ او خپلو ورونو ته نرم شی او شیطان لپاره په منځ کی خالي ځایونه نه پریږدي .اوچاچی صف یو ځای کړ(یعنی خالي ځای یې ډک کړ او هلته ودرید) الله تعالی به هغه خپل فضل او رحمت سره یوځای کوي او څوک چی صف مات کړي الله تعالی به هغه لره (مقام دقربت نه لرې کوي) (مظاهر حق ۱/ ۳۵۸، ۳۵۹).

(٦) "عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم توسطوا الامام وسدوالخلل"(رواه ابو داود مشکواة شریف ص۹۹ ایضاً) .

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی‌الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : امام په درمیان کی وساتئ اوپه صفونو کی چی خالي ځایونه وي هغه ډک کړي.

پورتني ذکر شوي حدیثونو نه علاوه نور حدیثونه هم شته لدې ټولو نه په ډېر تاکید سره ثابتیږي چی صفونه برابرول پکار دی ، ټول لمونځ ګذاران باید یو بل ته نزدی نزدی اویوځای ودریږي اوپه منځ کی خالي ځایونه پرې نږدي ، او وړاندی وروسته هم ونه دریږي ، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وینا سره هم د صفونو برابرولو تاکید کړی دی او عملاً هم صفونه درست اوبرابر کړیدي درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ددی تاکید او داهتمام اثر او نتیجه وه چی صحابه کرامو هم اهتمام سره صفونه برابرول .

په سوال کی دریاض الصالحین په حواله سره روایت نقل کړی شویدی چی : "وفي روایة للبخاري وکان احدنا یلزق منکبه بمنکب صاحبه وقدمه بقدمه" . ددی روایت متعلق عرض دی چی دارو‌ایت پخپل حقیقي معنی باندی ندی اوداهم باید

په ذهن کی وساتي چی دا الفاظ "وکان احدنا......الخ" درسول الله صلی‌الله علیه وسلم ندی داد راوي الفاظ دي علامه حافظ ابن حجر عسقلاني او حافظ بدر الدین عیني رحمه الله هم ددی تصریح کړیده لکه چی وروسته ذکر شي ، پدی وجه داسې خیال کول (چی دامرفوع حدیث دی اودرسول الله صلی‌الله علیه وسلم حکم دی) غلط دی اودوکه ګڼلې شي ددی روایت مقصد دصفونو برابرول او نزدی نزدی ودریدلو چی کوم اهتمام اومبالغه وي دهغه بیانول دي ، راوي وایي چی مونږ به صفونو کی بالکل نزدی نزدی اوبرابر ودریدلو ګویا چی زمونږ دهریوکس قدم دبل کس دقدم اواوږه داوږی سره یوځای شوی وو ، په مابین کی به مو خالي ځایونه بالکل نه پریښودل ، په ریاض الصالحین کی داروایت دبخاري شریف په حوالې سره نقل شویدی دبخاري شریف مشهور شارح حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله فرمایي : باب الزاق المنبك والقدم فی الصف . عن انس رضی‌الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اقیموا صفوفکم فانی اراکم من وراء ظهری وکان احدنایلزق منکبه بمنکب صاحبة وقدمه بقدمه . المراد بذلك المبالغة فی تعدیل الصف وسد خلله وقدورد الامر بسد خلل الصف والترغیب فیه ..... الی قوله . (قوله عن انس) رواه سعید بن منصور عن هیثم فصرح فیه بتحدیث انس لحمید ومنه الزیادة التی فی آخره وهی قوله ، وکان احدنا الخ. وصرح بانها من قول انس .(فتح الباری شرح صحیح البخاري ۲/ ۲۱۱).

علامه بدر الدین عیني په عمده القاري شرح بخاري کی لیکي:

"باب الصاق المنکب بالمنکب والقدم بالقدم " ای هذا باپ فی بیان الصاق المنکب بالمنکب الی آخره واشار بهذا الی المبالغة فی تعدیل الصفوف وسد الخلل ،(قوله کعبه بکعب صاحبه ای یلزق کعبه بکعب صاحبه الذی بحذائه، ورواه سعید بن منصور عن هشیم فصرح فیه بتحدیث انس لحمید وفیه الزیادة التی فی آخره وهی قوله وکان احدنا الی آخره وصرح بانها من قول انس ، واخرجه الاسماعیلي سن روایة معمر عن حمید بلفظ قال انس فلقد رأیت احدنا الی آخره

(عمدة القاري ٥/ ٢٥٩،ص ٢٦٠) (عمدة القاري شرح بخاري ٥/ ٢٥٩. ٢٦٠).

دصحيح بخاري دشارحينو ددواړو ذکر شوي عبارتونو نه ثابتيږي چې درروايت مطلب هغه دی کوم چې پورته مونږ بيان کړيدی ، ددی روايت مطلب داندی چې لمونځ ګذار خپلې پښې په ډير تکلف سره نبه ارتی کړي او دنزدی لمونځ ګذار سره خپل قدم پيوست کړي پدی طريقه ودريدو سره دانساس هغه صورت محموده هم خراب معلوميږي اوداصورت په لمانځه دخضوع او خشوع اودتذلل هم خلاف دی ، لهذا په تکلف سره قصداً او ارادتاً پښې ارتولو سره ودريدل په هيڅ يو حالت کی ددی روايت مقصد نشي جوړيدلی.

په معارف السنن شرح سنن ترمذي کی دي : "واما فی صحيح البخاري" من (باب الزاق المنكب بالمنكب) ...... وفيه قال النعمان بن بشير: رأيت الرجل منايلزق كعبه بكعب صاحبه . ووصله ابو داود فی "سننه" من حديث ابن القاسم الجدلي عن نعمان بن بشير وصححه ابن خزيمة كما فی "الفتح" واخرجه ابن حبان فی"صحيحه" كمافی العمدة، فزعمه بعض الناس انه على الحقيقة وليس الامروكذالك بل المراد بذلك مبالغة الراوي فی تعديل الصف وسد الخلل كمافی "الفتح" (٢. ١٦٢) والعمدة(٢. ٢٩٤) وهذ يرد على الذين يدعون العمل بالسنة ويزعمون التمسك بالا حاديث فی بلادنا حيث يجتهدون فی الزاق كعابهم بكعاب القائمين فی الصف ويفرجون جداً لتفريج بين قدميهم مايؤدی الی تكلف وتصنع ويبدلون الاوضاع الطبيعية وشوهون الهيئة الملائمة للخشوع وارادوا ان يسدوا الخلل والفرج بين المقتدين فابقوا خللاً وفرجة واسعة بين قدميهم ولم يدروا ان هذا اقبح من ذلك وقد وقعوا فيه لعدم تنبههم للغرض وجمودهم بظاهر الالفاظ وقبائح ذلك لاتخفی ويعلم ذلك من درس مذهب الظاهرية.... الی قوله . واما الفصل بين القدمين فالحق عدم التحديد فی ذلك، وانما الانسب

بحال المصلى فيكون اقرب الى الخشوع واوفق بموضوع التذلل . وفى "سنن النسائي" (۱ ۱٤۲) (باب الصف بين القدمين فى الصلواة) ان عبدالله رأى رجلاً يصلى قدصف بين قدميه فقال : اخطأالسنة ولو رواح بينهما كان اعجب الى والصف هناهو الوصل بين القدمين والمراوحة فى الاصل هو الاعتماد على احد هما تارة وبالاخرى تارة كما فى حديث وفد ثقيف فى "سنن ابى داود" حتى يراوح بين رجليه من طول القيام"ولكن فى التفريج قليلاً ايضا مراوحة ولعله ، هو المراد بالمراوحة هنا وبالجملة ثبت من هذا عدم التفريج الكثير بين القدمين ثم لم ينكر ابن مسعود الوصل فقط بل عدم المراوحة ، ولعل الغرض هو الانكار على المبالغة فى الزاق قدمه بقدمه فالسنة ان لايفرج المصلى بين قدميه جداً ولايصل جداً بل بين التفريج والوصل فاذالم يكن التفريج كثيراً لم يكن الزاق كعب المصلى بكعب اخرفاذً تكون رواية الالزاق محمولة على ماذكره البدرو الشهاب وهذ الذى يعينه الشيخ رحمه الله فى هذا الباب والله اعلم بالصواب..... الخ "(معارف السنن۲/ ۲۹۷، ۲۹۸، ۲۹۹ . تاليف علامة العصر المحدث الكبير الشيخ محمد يوسف الحسينى رحمه الله).

په انوار الباري شرح بخاري (مجموع افادات محدث عصر ، حافظ حديث علامه انور شاه كشميري رحمه الله) كى دي : باب الزاق المنكب بالمنكب والقدم بالقدم .
دادالزاق المنكب عنوان كوم چى بخاري كى دي په ترمذي وغيره كى نشته دى ، حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمايلي چى : دخلور واړه فقهاو او جمهورو په نزد باندى دالزاق نه مراد دادى چى مابين كى خالي خاى نه وي او دايواځي غير مقلدينوپه حقيقت باندى عمل كړيدى او ددى دجماعت په لمانځه كى ددى ډير زيات اهتمام كوي او داسې قسم تكلف كولو سره خپلو دواړو پښو ترمنځ دومره فاصلې سره ودريږي چى دبل نزدى لمونځ ګذار دقدمونو سره يوځاى شي، پدى طريقه دښه تكليف او تصنع كولو سره طبيعي وضعيت او هيئت او مناسب او محمود صورت خرابوي كوم چى دلمانځه ظاهري حسن او دحالت خشوع هم مخالف دى ،

دیته هغوی دتمسك بالسنة نوم ورکوي پداسې حال کې چې دڅلورو واړو مذهبونو خاوندان اودمقتدمینو په نزد داقسم معمول نه و ، اودسلفوتعامل او توارث ډیر لوی حجت او دلیل دی او هغوی دالزاق مطلب یواځې دګیتو او داوږو برابری او نږدی والې ګڼي ترڅو صف سیده وي اودلمونځ ګذارو ترمنځ خالي ځای پاتې نشي.
پاتې شوه داخبره چې خپله لمونځ ګذار دخپلو دواړو قدمونو ترمنځ څومره فاصله وکړي دادلمونځ ګذار حال پورې تعلق لري چې هغه په آساني سره بغیر دتضع او تکلف نه داسې ودریږي چې خشوع او عاجزي ترینه معلومیږي، دنسائي باب الصف بین قدمیه کې دي: چې حضرت عبدالله بن مسعود رضی‌الله عنه یو کس ولید چې هغه لمانځه کې دواړه قدمونه یوځای کړي او ولاړ دی ، وی فرمایل : ده سنت پریښي دي که چېرته ده مراوحه کولای نو زه ورباندی خوشحالیدم چې ددواړو پښو ترمنځ څه فاصلې سره په آرام او اطمئنان سره به ولاړ و،لهذا سنت نه دامعلوم شو چې نه دواړو پښو یوځای کولو سره ودریږي اونه ډیر ارتولو سره ودریږي.
حافظ په فتح الباري ۲/ ۱۴۴ کې لیکي : په حدیث الباب کې دالزاق نه مقصود دصف برابرول اودخالي ځایونو ډکولو کې مبالغه دی څنګه چې په نورو حدیثو کې دي چې صفونه سیده کړئ او اوږی سره برابر کړئ او درمیان کې ځای په پرېږدئ چې شیطان دراندازی وکړي ، په عمده ۲/ ۷۹۴ طبع استنبول کې هم همدامضمون دی ، غرض داچې په نورو ټولو حدیثونو کې چونکې بنوی حکم یواځې دصفونو تعدیل اوسد اخلل دی پدی وجه شارحینو الزاق لره دراوي په مبالغه باندی حمل کړی دی ،پدی چې پخپله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دالزاق حکم ندی کړی پدی بناء حضرت عبدالله بن مسعود په لمانځه کې معتدل طریقې سره ودریدل متعین کړیدی کوم چې منفرد او مقتدي دواړو لپاره یو شان دی الخ .(انوار الباري ۳/ ۱۸۰، ۱۸۱ قسط نمبر ۱۵ مؤلف سید احمد رضا بجنوري فاضل دیوبند).
په معارف مدینه (تقریر ترمذي شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدنی رحمه الله) کې دي :

دریم بحث : دنعمان په روایت کې چې کوم الفاظ تیر شویدي چې سړی به خپلې اوږی دبل داوږو سره او ګوډی دبل دګوډو سره او ګیټې دبل دګیټو سره

یوځای کولې (ابو داود) لدینه اهل حدیث حضرات داثابتوي چې هر یو کس لپاره خپلې ګیتې دبل دګیتو سره ضرور یوځای کول پکار دی اوپدی باندی ډیر سختي او مبالغی سره عمل کوي اګر که پدی وجه دخپلو پښو ترمنځه هرڅومره زیاتـه فاصله پیداشي ، لیکن داخبره دحدیث دمقصد نـه بالکـل خـلاف ده ، حـافظ ابـن حجر عسقلاني ، علامه عیني او نور محققین وایي : په حدیث کی دګیتو سره حقیقتاً دګیتو یوځای کول مراد ندی بلکې دصفونو زیات نه زیات سیده کول اوپه منځ کی خـالي ځایونه نه پرینبودل مقصود دی یعنې دهریو سړي قدم او ګیتی بل ته دومـره نـزدې اوبرابریدل پکار دي ګویا چې یوبـل سره لګیـدلې وي اګرکـه حقیقتـاً لګیـدلې وي اویانه وي ، ددی توجیه څو قرائن دي .

اول: محققینو دحضرت نعمان دروایت نه همدا مطلب اخستی .

دویم : په حقیق معنی باندی عمل کـول ډیـر سـخت او لـه تکلـف نـه خـالي نـدی اودادلمانځه په خشوع کی خلل اچوي.

دریم : دنورو حدیثونو په کتلو سـره درسـول الله صـلی‌الله علیـه وسـلم مـراد پخپلـه واضح کیږي ، پدی حدیثونو کی دا الفاظ دي : (منځ کې خالي ځـای ډک کـړئ‌لـه شیطان لپاره منځ کی خالي ځای مـه پریـږدئ اوصـفونه نـزدی اوسـیده کـړئ) (او کمال قال علیه الصلواة والسلام) لدی الفاظو نه دامقصد ظاهریږي چـی صـفونه باید بنه نزدی نزدی اوبرابروي او فاصله پکی نه وي ، او داچیرتـه هـم نـه ثابتیـږي چې یوه ګیتی دی دبلې ګیتی سره ضرور لګیدلې اوپیوست وي اوددرې برابر فاصلـه دې پکې نه وي .

څلورم: په صف کی چې یوبل سره نزدی اویوځای ولاړ وي کـه ګـیتې اوپنـدی سـره جدا جداهم وي بیا هم دغه صف متصل اوپیوست ګڼل کیږي پدی وجـه دګیتـو پـه پیوست والې باندی دصف اتصال موقوف ندی .

پنځم: که ګیتی سره لګیدلې هم وي بیاهم دپښې نه پورته نری حصه جداجدا پـاتې کیږي ،لهذا دګیتو یو ځای کوونکـو لپـاره ددی دیوځـای کولـو لپـاره هـم څـه لاره جوړول پکار ده اوکه دمشکل کیدو په وجه ددی باریکي خصې یوځای کول مستثنی کړی شي نو همدا علت په ګیتو کی هم موجود دی ،لهذا داهم باید مستثنی ومنـل شي .

شپږم: که چېرته دالزاق حقیقي معنی اخستل ضروري وي نو په حدیث کی لفظ د"تراصو" راغلی دی نو ددی هم حقیقي معنی اخستل پکار دی چی معنی یې (دفولادو ددیوال پشان یوبل سره متصل شي) دی ،لهذا دلمونځ ګذارو په بدنونو کی له ښکته نه تر بره پورې چېرته هم یوه ذره هم خالي ځای پاتې کیدل ندي پکار . پدی وجه له ګیټو نه علاوه دنورو حصو دیوځای کولو هم کوشش کول پکار دی مثلاً دلنګیو ترمنځ هم فاصله جوړیدل ندي پکار او که وویل شي چی دامشکل دی پدی وجه حقیقي معنی مراد ندی نو همدا جواب دګیټو دیوځای کولو هم دی .

اووم: دبل لمونځ ګذار له قدم سره دخپل قدم په یوځای کولوکی دلمونځ ګذار دخپلو ښپو ترمنځ ډیره فاصله جوړیږي ګوم چی دلمانځه دهیئت اوله خشوع او خضوع سره خلاف دی اوپه هیڅ یو حدیث کی دخپلو ښپو ترمنځ ددومره فاصله کولو ثبوت نه کیږي بلکی ددی خلاف داثابتیږي چی دقدمونو ترمنځ زیاته فاصله نده پکار ، لکه څنګه چی دابن عمر رضی‌الله عنه داثابت دی چی هغه به نه یو قدم دبل قدم نه زیات لرې کولو او نه به یې بالکل پیوست کولو بلکی ددی درمیان کی به یې ساتلی ، نه زیات نژدی او نه زیات لری ، (لامع الدراری) علامه شامي اوصاحب دسعایه فرمایي : دمحققینو په نزد دقمونو ترمنځ دڅلورو ګوتو په اندازه فاصله پکار ده څکه چی دااقرب الی الخشوع دی ، دځیني شوافعو هم داقول دی او ددوی دویم قول دادی چی یو لویښت فاصله پکار ده .

اتم : دخلکو دقدوقامت کی دفرق کیدو په وجه اوږه داوږدی سره یوځای کول زیاتره وختوکی ناممکن وي پدی وجه معنی مجازي یعنی ډیر نزدیکت او یوځایوالی مرادولې شي داددی خبرې قرینه ده چی کعبین (ګیټو) کې هم همدا مراد دی .

نهم : انفرادي لمونځ کولو په حالت کی چی څوک ښپی په ارتولو سره لمانځه لپاره ودریږي نو داخلاف ادب ګنلې شي‌لهذا همداحکم دجماعت په حالت کی هم پکار دی .

لسم : دروایاتو دمفهوم متعین کولو کی دامت تعامل (متواتر عمل) ته زیات دخل وي په ډیرو مسائلو کی په تعامل سره مراد تعین کیږي پدی وجه دلته هم تعامل ته کتل پکار دي.، په ائمه اربعو کی ځینو دصحابه کرامو آخري دور او نورو دتابعینو اوډتبع تابعینو دور او زمانه لیدلې اوددی زمانې تعامل یې کتلی دی او ددوی نه

وروسته ددوى شاګردانو او تابعدارانو قرن په قرن دهغوى طرز عمل ليدلې او عمل وربا ندى را روان دى تردى چې زمونږ دور راغى زمونږ تردى دوره پورې دامت داکثريت عمل کيتو سره دکيتو يوځاى کولو اوپيوست کولو په خلاف دى . پدى وجه دتعامل په رڼا کى دنعمان ابن بشيررضى الله عنه دروايت مفهوم همدامتعين کيږي چى لدينه مراد يواځې دصفونو برابرول او نږدى کول مراد دي نو لدينه دظاهري حضراتو مدعي په هيڅ شان سره نه ثابتيږي ، (معارف مدينه حصه چهارم ص۹۸، ۹۹ . دصفونو برابرولو بيان) فقط.

(۱) دى لپاره چى اولنې صفونو والاو لپاره دجماعت ختميدو نه وروسته سهولت وي په ورسوتي ټولو صفونو کى دوه دوه اودرې کسان ودرول .

(۲) دانتظامي له طرفه جومات دکرسو نظم چى په نتيجه کى غير معذور هم کرسئ استعمالوي .

(۲۰۲ سوال) په جومات کى دننه الحمد لله لمونخ ګذاران ډير زيات دي ليکن څوک په جماعت کى وروسته شامليږي او څينې رکعتونه ورنه پاتې کيږي هغه دامام صاحب سلام ګرځولو نه وروسته پوره کوي نو وراندني خلکو ته ددوى دلمونځ تر پوره کولو پورې ودريدل راځي نو ددوى زر راوتلو لپاره چى کله لمونځ ګذار ودريږي نو داولنې څو صفونو نه علاوه وروستي صفونوکى د امام صاحب شاته په هرصف کى له اول نه دوه دوه، درې درې کسان ودرولې شي چى دلمانځه نه وروسته مخکى خلکو لپاره لاره پيداشي دلمانځه ترختميدو پورې وروستې ټول صفونه ډک کيږي نو آيا له اول نه دصف په مځ کى پدى طريقه دخلکو ودريول جائز دى يانه ؟

(۲) په همدى جومات کى بل کار دادى چى په هر لمانځه کى وروستي صف کى څو کرسئ کينبودلې کيږي او دجمعى په ورځ لمانځه لپاره تقريباً پنځوس ،شپيته کرسي کينبودلې شي او دا انتظام دجومات داراکينو له طرفه کيږي اوس پدى کرسيو باندى دخينې معذورينو سره زياتره داسې خلک هم کيني کوم چى په بنه طريقه ولاړه باندى لمونځ کولې شي .داراکينو دا انتظام ګويا خلکو ته په ناست باندى دلمونځ کولو دعوت ورکوي نو ايا له مخکې نه پدې طريقه دکرسيو انتظام کول او هغه دغه بهانو سره کرسيو باندى په ناسته لمونځ کول څنګه دى ؟ اميد دى چى تفصيلي ځواب راکړئ مهرباني.

خواب: حامدا ومصليا ومسلما وهو الموفق : (۱) په سوال کی چی کوم صورت ليکل شويدی دا دسنت خلاف اوسخت مکروه تحريمي دی او دصف بندي داصولو اوطريقي سره بالکل خلاف دی ، دصف بندي مسنون اوصحيح طريقه داده چی اول ړومبئ صف مکمل کړی شي تړول نزدی نزدی ودريږي اوپه مابين کی بالکل خالي پرې نږدي ،اولدينه وروسته دويم صف شروع شي ددويم صف مکمل کيدو نه وروسته دريم څلورم اوپنځم او ترآخره پورې ، په حديث کې راځي.(۱) "عن جابر بن سمرة رضی‌الله عنه فقال رسول الله صلی‌الله عليه وسلم الا تصفون کما تصف الملائكة عند ربها فقلنا يارسول الله وكيف تصف الملائكة عند ربها قال يتمون الصفوف الاولی ويتراصون فی الصف"(رواه مسلم ، مشکواة شريف ص۹۸ ، باب تسوية للصفوف).

ترجمه: حضرت جابر بن سمره رضی‌الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايي : تاسې په لمانځه کی داسې صفونه جوړوئ لکه ښکله چی ملائکې دخپل رب په وړاندی جوړوي؟ مونږه عرض وکړ يارسول الله صلی‌الله عليه وسلم! ملايکې دخپل رب په وړاندې ښکله صفونه جوړوي ؟ رسول الله صلی‌الله عليه وسلم وفرمايل : ړومبنی صفونه پوره کوي او صفونو کی نبه پيوست اونزدی نزدی ودريږي . په مرقات شرح دمشکوات کی دي : "والمعنی لايشرعون فی صف حتی يکمل الذی قبله" يعنی ملايکې دويم صف ترهغی پورې نه جوړوي څو پورې چی لدينه مخکني صف مکمل شوی نه وي .(مرقات۳/ ۷۰).

۲_"عن انس قال قال رسول الله صلی‌الله عله وسلم اتموا الصف المقدم ثم الذی يليه فما كان من نقص فليكن فی الصف المؤخر" (مشکواة شريف ص۹۸، ايضاً) .

يعنی دانس رضی‌الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی‌الله عليه وسلم ارشاد فرمايي : خلکو اول ړومبنی صف مکمل کړی اوبيا هغه ته نزدی اوچی څه کمی پاتې شي هغه دی آخري صف کی وي .

لدی حدیث نه صراحت سره ثابتیږي چی اول صف مکمل کیدونه وروستنی صف شروع کول پکار دي .

(۳) "عبدالرزاق عن الثوری عن عمرو بن قیس وحماد او احدهما عن ابراهیم انه کان یکره ان یقوم الرجل فی الصف الثانی حتی یتم الصف الاول ویکره ان یقوم فی الصف الثالث حتی یتم الصف الثانی والامام ینبغی ان یأمر هم بذالك" (مصنف عبدالرزاق ۲/ ۵۵).

یعنې دابراهیم نخعي نه نقل دی چی ده به ړومبي صف مکمل کیدو نه وړاندې دویم صف کی ودریدل مکروه ګڼل او همدارازدویم صف مکمل کیدو نه مخکې په دریم صف کی ودریدل مکروه فرمایلو، او امام لپاره مناسب دي چی مقتدیانو ته پدی طریقه دصف جوړولو حکم وکړي (چی داول صف پوره کیدو نه وړاندی بل صف شروع نه کړي).

(۴) "عن ابراء بن عاذب قال کان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یقول ان الله وملئکة یصلون علی الذین یلون الصفوف الأولی وما من خطوة احب الی الله خطوة یمشیها یصل بها صفا"(رواه ابو داود، مشکواة شریف ص۹۸ باب تسویة الصفوف).

دحضرت براء بن عازب نه روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم به فرمایل . الله تعالی او دده ملائکې هغو خلکو باندی رحمت لیږي چی اولنی صفونو ته نزدی وي او الله تعالی ته هغه قدم دټولو نه زیات خوښ دی چی دصف یوځای کولو لپاره اوچت شي (یعنی که چیرته مخکې صف کی خالي ځای وي نو دهغه دکولو لپاره هلته لاړشي او ودریږي.)

(۵) "عن ابن عمر قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اقیموا الصفوف وحاذوا بین المناکب و سدوا الخلل ولینو بایدی اخوانکم ولا تذروا فرجات الشیطان ومن وصل صفاً وصله الله ومن قطع قطعه الله" (رواه ابو داود ، مشکواة شریف ۹۸ باب تسویة الصفوف).

رحضرت عبدالله بن عمر رضی‌الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : صفونه سیده کړئ او اوږی د اوږو سره برابر کړئ (یعنی وړاندی ، وروسته مه ودریږئ) او خالي ځایونه ډک کړئ او شیطان لپاره فرجه (خالي ځای) مه پریږدي چاچی صف پیوست کړ (یعنی په خالي ځای کی ودرید) هغه به الله تعالی خپل فضل او رحمت سره یوځای کړي او چاچی صف مات کړ الله تعالی هغه به (دنزدیکت له مقام نه لرې کوي).

دفقه مشهور کتاب په درمختار کی دي : "وقدمنا کراهیة القیام فی صف خلف صف فیه فرجة للنهی" یعنی چی رومبی صف کی ځای وي نو په وروستي صف کی ودریدل مکروه دي ، (درمختار مع رد المختار ۱/ ۶۰۵، مکروهات الصلواة).

پدی ذکر شوی مسئله کی کوم خلک چی داول نه جومات کی حاضر دي اوبیا ددی لره د رومبي صفونوپه ځای په وروستي صفونو کی دوه دوه دريږ ودرول دخومره لوی فضیلت نه محروموول او دمکروه کار مرتکب کول دي او څومره ناکاره صورت، دی لهذا په سوال کی چی کوم صورت ذکر شوی دادی فورابند کړی شي داډیر سخت مکروه تحریمي دی ، که درومبي صفونو خلکو که دوروستي صفونو والاو دلمونځ ترختمیدو پورې لږ غونډی انتظار وکړي پدیکې څه حرج دی ، افسوس دی چی دنیاوي کارونو کی ساعتونه تیریږي او دوخت تیریدو خیال هم له سره نه کیږي اوپه جومات کی لږ غونډی انتظار بیا مشکل ګرځي. او ددی دسهولت لپاره ددومره سخت مکروه کار ارتکاب کولې شي داډیر قابل دافسوس او دترک اوپرینبودو لایق دی ، دلمونځ اودلمونځ ګذارو په احترام که چېرته رمبی صف والا جومات کی خپل ځای باندی انتظار وکړي نو انشاء الله داجر وثواب حقدار به وي او دملائکو ددعاګانو مستحق به جوړشي ، په حدیث کی دي : "عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم صلواة الرجل فی الجماعة تضعف علی صلوته فی بیته وفی سوقه خمسا وعشرین ضعفاً وذلك انه اذاتو ضأفاحسن الوضوء ثم خرج الی المسجد لایخرجه الا الصلوة لم یخط خطوة الا رفعت له بها درجة وحط عنه بها خطیئة فاذا صلی لم تزل الملئکة تصلی علیه

مادام فی مصلاه اللهم صل علیه اللهم ارحمه ولایزال احدکم فی صلوة ماانتظر الصلوة، وفی روایة قال اذا دخل المسجد کانت لصلوة تحبسه وزاد فی دعـاء الـملائکة اللـهم اغفرلـه اللهم تـب علیه مالم یـو ذفیه احـداً مالـم یحدث فیه منفق علیه".

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی‌الله عنه نه روایت دی چـی رسـول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي : دسړي جماعت سره لمونځ پخپل کور او بازار کی دلمونځ کولـو نه (۲۵) درجی زیات ثواب لري ، کوم سړی چـی پـه ښـه طریقـه اودس کولـو سره جومات ته ځي اودتللو مقصد یې یواځې لمونځ کول وي نوداسړی چـی کـوم قـدم اخلي په هر قدم سره یې یوه درجه اوچتیږي اویه ګناه یې معاف کیږي او کلـه چـی لمونځ کوي نو ملائکې ورته دعاګانې کوي څو پورې چی دخپـل لمانځـه پـه ځـای کی ناست وي (دملایکو دعا داده) ای الله پدی رحمـت نـازل کـړی ، ای الله پـه دی رحم وکړی، او که دبل لمانځه په انتظار کـی ناسـت وي نـو پـدی دوران کـی دلمونځ ګذار ثواب ورته ملاویږي، اوپه بل روایت کی دملائکو په دعا کـی دازیـاتې دی ای الله ده ته مغفرت وکړی ای الله دده تبوه قبول کړی ، څوپـورې چـی کـوم مسلمان ته (خپلې ژبی او یا لاس سره) ضرر او تکلیـف نـه وي رسـولې او څوپـورې چی اودس یې نه وي مات شوی .

(بخاري مسلم ، مشکواة شریف ص۶۸ باب المساجد ومواضع الصلواة).

ځواب ۲: کوم خلک چی حقیقت کی معذور وي اوپه ولاړه لمونځ نشي کولې هغه په کرسي باندی، په ناسته لمونځ کولی شي داسې معذورین دی پخپله دکرسـئ انتظـام وکړي اوددوی خپله ذمه واري ده دجومات متـولی اودخادمـانو ذمـه واري نـده ، دمخکی نه کرسیو په ایښودو سره چی غیر معذور هم په ناسته لمـونځ کـوي دهغـوی لمونځ نه کیږي ،لهذا داطریقه مناسب نده بلکـی قابـل دتـرک ده ، فقـط والله اعلـم

۲۲/ ربیع الثانی ۱۴۱۶ھ.

دافضل په موجود ګي کی دمفضول امامت کول خصوصاً چی افضل امامت لپاره تیار نه وي

۲۰۳_ سوال : زمونږ پدی ځای کی دامامت کولو لپاره څوک عالِم نشته او نه کوم حافظ قران ، پدی وجه که یو څوک په خوشحالي سره بغیر دڅه زور نه دامامت کار سنبال کړي پدی خیال سره چی که کوم عالِم پیداشو نو هغه ته به یې حواله کوم اوپدی خیال سره هم چی جومات وران نشي اوپه امامت باندی څه تنخوا هم نه اخلي اوبل څوک د امامت کولو لپاره تیار هم نه وي مګر خلک ددی بیچاره غیبت کوي اودده ځیني صفاتو ته په نظر کولو سره داخبره کوي چی ده پسې لمونځ نه کیږي او هغه صفتونه دايي :

(۱) ګیره نه ساتي.(۲) دده یو دوکان دی چی کتابونه اوتصویرونه پکې خرڅیږي(۳) اوکله چی دسجدې نه پاڅې نو دڅه عذر په وجه خپله ښپه دځمکې نه جدا کوي (۴) ده سره دسینما (فلم) ښودلو یو ماشین دی چی په هغه کې دی هم کله کله خلکو ته سینما (فلم) ښايي ، نو ایا دابهتر ندی چی داسې سړی لمونځ ورکړي، پداسې حال کی چی دده نه علاوه داوچتی درجې خلک موجود دي لیکن لمونځ ورکول بالکل نه غواړي.

خواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً. دافضل په موجود ګي کی مفضول ته دامامت اعلی منصب ورکول ممنوع دی ، په حدیث کی دي : که چبرته تاسو غواړئ چی لمونځونه مو قبول شي نو ستاسو امامت دی ستاسو نیکان خلک وکړي ، په بل حدیث کی دي : که چبرته تاسې خوښ یې چی لمونځونه مو دقبولیت درجه حاصل کړي نو پکار دی چی څوک په تاسو ټولو کی زیات نیک او دینداره وي هغه دی ستاسو امام شي ، ځکه چی امام ستاسې اوستاسې درب ترمنځ سفیر دی (شرح النقایه۱/ ۸۶ باب الامامة تحت قوله ثم الأسن).

اوپه بل حدیث کی راځي : "اذا ام الرجل . وفيهم من هو خير منه لم يزالوا فی سفال" ترجمه : یعني کله چی داسې سړی امامت وکړي چی شاته یې لدینه افضل شخص موجود وي نو هغه قوم به همیشه ذلت او پستی کی اوسیږي .

(فتاوی ابن تیمیه ۱/ ۱۰۸).

اویو حدیث کی دي "لایؤم فاجر مؤمناً الا ان بقهره بسلطان یخاف سیفه وسوطه"

ترجمه یعنی فاسق او فاجر سړی دی دموسن امامت نه کوي اودابیله خبره ده چې هغه پدی عهدی باندی داسې (زور آور) حاکم له طرفه مقرر شوی وي چې دهغه تورې او کوړی (دُری) نه ورته خطره وي ، (سنن ابن ماجه ۱/ ۱۰۸).

لهذا دداسې کس امام جوړول چې ګیره کلوي ، تصویرونه خرڅوي ، دسینما کتلو مشغله لري ، ناجائز دی ده پسې لمونځ مکروه تحریمي دی . "لو قدموا فاسقا یأثمون"یعني که چېرته فاسق سړی امام جوړ کړی نو ګنهګاریږي .(کبیري ص۴۷۹.)

اوکه چېرته لدینه علاوه بل کس لمونځ ورکولو والا نه وي نو خوپوری چې بل څه انتظام نه وي نو مجبوراً ده پسې لمونځ کول اولی دی ، "فان امکن الصلواة خلف غیرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولی من الانفراد" (شامي ۱/ ۵۲۳ ، باب الامامة) دمجبوری په صورت کی کراهت نه راځي لیکن کوم کسان چې دامامتي اهل دي اونه مخکې کیږي دهغوی څخه به تپوس کیږي . فقط والله اعلم .

دعذر په وجه دامام په ناسته لمونځ ورکول

۲۰۴ـ سوال : ایا دحنفي مسلک په رڼاکی دامام په ناسته باندی دامامت فرائض انجام کول جائز دي ؟ اګرکه دتراویح لمونځ وي یاپنځه وخته لمونځ؟

ځواب: حامداً ومصلیاً ومسلماً : که امام دبیماري په وجه په ناست باندی امامت وکړي نو جائزدی .[۱] "ویجوز اقتدا القائم بالقاعد لمرض عند الشیخین (الی قوله) وجه مذهبنا ان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ام فی مرض موته فصلی قاعدا

---

[۱]ـپدی مسیله کی دامام محمد او دامام مالک رحمهم الله اختلاف دی پدی وجه داسې معذور شخص لره مستقل امام جوړول ندی پکار .(سعید احمد پالن پوري)

وصلی الناس خلفه قیاماً الخ وهذا متأخر عن الاول فیکون ناسخاً" (رسائل الارکان ص۱۰۳) فقط والله اعلم بالصواب.

صلوٰة من یصلح اماما لغیره

دسجدد سهو نه کولو په وجه دوباره کړی شوی لمانځه کی دنوی شریک شوی لمونځ ګذارحکم

۲۰۵ سوال : امام په سهو سَره کوم واجب پریښود او سجده سهوه یې هم ونه کړ بناء پدی لمونځ دوباره وکړی شو نو څوک چې پدی دویم جماعت کی نوی شامل شي نو لمونځ یې کیږي یانه ؟

ځواب: لمونځ یې نه صحیح کیږي دوباره کول یې لازم دي ځکه چې دامام دغه دویم لمونځ مستقل فرض ندی بلکی دفرض دتکمیل لپاره دی لهذا دمستقل فرض کوونکی اقتداء داسې امام پسې صحیح ندی ، فقط.

دداسې تعلیم یافته امامت چې حروف دصحیح مخارجونه ادانه کړي

۲۰٦_ سوال : یو ښه لیک لوست والا سړی جومات کی لمونځ ورکوي دقدرتي مرض او عذر په وجه ځینې حروف صحیح نشي اداکولې داصل حرف په ځای بل حرف اوریدل کیږي مثلاً(س) په ځای (چ) وغیره معلومیږي دکوشش اودعا اوددوا باوجود څه فرق ونشي ،لهذا ځینی لمونځ ګذار وایي چې امام غلط وایي نو لمونځ نه کیږي او ځینې وایي چې لمونځ کیږي نو ددی مسئلې لږ تفصیل وکړئ مهرباني.

ځواب: پدیکی اختلاف دی چې داسې یوشخص چې دهغه له ژبې نه دیو حرف په ځای بل حرف اداکیږي ، دامامت لایق دی اوکه نه ؟ احوط او مفتي به قول دادی چې دداسې معذور سړي امامت غیر معذور په حق کی صحیح ندی ، په "نور الایضاح" کی دامامت دصحت لپاره دشپږو شرطونو یو شرط داهم دی چې امام لثغ

نه وي وشروط صحة الامامة للرجال الاصحاء ستة اشياء ، الاسلام والبلوغ والعقل والذكورة والقرأة والسلامة من الاعذار كالرعاف والفأفأة والتمتمة واللثغ" نور الايضاح ص۸۰ باب الامامه.

لهذا ذکر شوی شخص دامامت لائق ندی ، اوپه " فتاوی خیریه " کی داللثغ (پشان معذور) سړی امامت دغیر اللثغ (غیر معذور) لپاره دنه صحیح کیدو صراحت موجود دی. "والراجح المفتی به عدم صحة امامة اللثغ لغیره ممن لیس به لثغة" یعنی راجح او مفتی به قول دادی چی دلثغ امامت غیر لثغ لپاره صحیح ندی .(۱/ ۱۰ کتاب الصلواة ومطالبه، مطلب فیما اذا اقتدی غیر اللثغ باللثغ الخ).

اوپه " فتاوی سعدیه " کی همداسی دي : وقال فی المجتبی والصحیح عدم الصحة کما فی البحر الرائق آه (۱/ ۱۰).

لهذا ضدمه کوئ دلمانځه پشان اهم عبارت کی داحتیاط ضرورت دی ، البته کوم الفاظ چی نشي اداکولي ددی الفاظو نه علاوه نور آیتونه او سورتونه ولولئ نودمقتدیانو به لمانځه کی کوم جرح نشته ، یعني سورت فاتحه او کوم سورت او آیتونه چی لولي به هغوی کی هغه الفاظ (حروف) نه وي کوم چی نشي اداکولي نو دمقتدیانو لمونځ هم صحیح کیږي . "ولاتصح صلواته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه اوترك جهده او وجد قدر الفرض ممالالثغ فیه (درمختار) (قوله او وجد قدر الفرض الخ) ای وصلی غیر مؤتم ولم یقرأه والا صحت وفی الولو الجیة ان کان یمکنه ان یتخذمن القرآن ایات لیس فیها تلك الحروف یتخذ الافاتحة الکتاب فانه لایدع قرأها فی الصلواة آه"(شامي ۱/ ۵٤٥ باب الامامة مطلب فی اللثغ) فقط والله اعلم .

دفاسق وفاجر او دبدعتي امامت څه حکم لري؟

۲۰۷_ سوال : زمونږ دځای امام صاحب فاسق او فاجر دی او دینداري پکښې نشته د خلافِ شریعت داعمالو مرتکب دی نو ده پسې لمونځ صحیح دی یانه ؟ مونږ ورپسې لمونځ وکړو یانه ؟ خینې لمونځ گذاران ده پسې لمونځ کولو ته راضي ندي او وایې چې زمونږ ورسره نفرت دی بیا هم متولی دده دمعزول کولو لپاره تیار ندی ، کوم سړی چې بدعتي وي او شرکي عقائدلري دهغه دامامت څه حکم د ی؟ داسې کس امام جوړولې شویانه ؟

ځواب: امام باید چې صحیح عقیده ولري ، دلمانځه متعلق مسائلو نه واقف وي ، صحیح قرائت کونکی ، دیندار او د ظاهري گناهونو او بدیو څخه پاک سړی پکار دی : "الاولى بالامامة اعلمهم باحکام الصلواة كذا فى المضمرات وهو الظاهر فى البحر الرائق هذا اذا علم من القرأة قدر ما تقوم به سنة القرأة هكذا فى التبيين .... ولم يطعن فى دينه كذا فى الكفاية وهكذا فى النهاية ويجتنب الفواحش الظاهرة" (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۸۳ ، الفصل الثانى فى بيان من هو احق بالامامة) .

د فاسق امامت مکروه تحریمي دی ، فاسق هغه څوک دی چې د کبائرو مرتکب وي او یا د صغائرو عادتي وي ، "فالعدم ما اجتنب الثلاثة والفاسق من فعل كبيرة او اصر على صغيرة" (شامی ج ٤ ج ۵۳۱ باب الامامة) .

لهذا د فاسق ، فاجر امام جوړول گناه ده ، په حدیث کې دي : "لايؤم فاجر مؤمناً" (ابن ماجه ص ۷۷) یعنی فاسق سړی دی د کوم مؤمن امامت نه کوي ، او په " کبیری " کې دي : "لوقدموا فاسقاً يأثمون" (ص ٤۷۹ فصل فى الامامة) یعنی که چیرته فاسق سړی امام جوړ کړي نو گنهکاریږي ، ځکه چې فاسق د خپل دین اهتمام نه کوي (نو د لمانځه پشان د عظیم الشان عبادت په باره کې به د هغه اعتبار ولی وي) او بل ده ته د امامت منصب ورکولو سره د ده تعظیم لازمیږي او حال دا

چې په شریعت کې د ده اهانت واجب دی ، "واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بأنه لا يهتم لامر دينه وبان تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعاً" (شامی ج ۱ ص ۵۲۳ باب الامامة) .

لهذا د شریعت مخالف او واجب الاهانت امام معزول او لرې کول ضروري دي .

په ابوداؤد شریف کې دي : یو سړي د خلکو امامت وکړ او هغه ته توکانی ورغلل نو قبلې طرف ته یې توکړلې او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لره لیدل کله چې لمانځه نه فارغ شو نو هغه پسې لمونځ کونکو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دا سړی به آئنده ستاسو امامت نه کوي لدینه وروسته هغه سړي د لمونځ ورکولو اراده وکړه نو خلکو منع کړو او ورته یې وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا په باره کې دا ارشاد فرمایلی دی هغه سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او د دی واقعې تذکره یې ورته وکړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې او ما دا فرمایلي دي ، راوي وائي چې زما په خیال دا یې هم ورته وفرمایل : چې تا الله او د الله رسول صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسولی ؤ : "ان رجلاً ام قوماً فبصق فی القبلة ورسول الله صلی الله علیه وسلم ینظر فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم حین فرغ لایصلی بکم فاراد بعد ذلك ان یصلی لهم فمنعوه واخبروه بقول رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر ذلك لرسول الله صلی الله علیه وسلم فقال نعم وحسبت انه قال انك اذیت الله ورسوله صلی الله علیه وسلم" (ابوداؤد ج ۱ ص ۷۶ باب فی کراهیة البزاق فی المسجد) .

د فقه مشهور کتاب په " درمختار " کې دي : که چېرته یو سړی امامت کوي او خلک ورباندې خفه وي او بد یې ګڼي نو که چیرته د هغوی د خفګان او بدګڼلو سبب دا وي چې امام کې څه خرابي وي او یا خلک ورنه د امامت زیات حقدار وي ددی د هغوی نه کم درجه وي نو د ده امامت کول مکروه تحریمي دي لکه چې په ابوداؤد شریف کې دي چې الله تعالی د هغه سړي لمونځ نه قبلوي چې امامت کوي او خلک ورباندې خفه وي او که واقعیت دا وي چې دا امام د ټولو نه د

امامت زيات مستحق وي (عالِم ، فاضل او متقي) وی او خلک يې هسی بد ګڼي نو دهغوی د کراهيت وبال د هغوی دی ، "ولو ام قوماً وهم له كارهون ان الكراهة لفساد فيه او لانهم احق بالامامة منه كره له ذلك تحريماً لحديث ابى داؤد : لايقبل الله صلواة من تقدم قوماً وهم له كارهون ، وان هو احق لا والكراهة عليهم" (درمختار مع شامی ج ۱ ص ۵۲۲ باب الامامة) .

د ذکر شوی حديثو او دفقهي رواياتو نه ثابتيږي چې فاسق سړی د امامت لائق ندی د ده په اقتداء کی لمونځ مکروه تحريمي دی ، لهذا د داسی امام بلاتاخير معزول او لری کول لازم دی او که معزول نه کړی شي نو تاسو بل جومات ته لاړ شي او که بل جومات ته وي نو مجبورا د ده پسی لمونځ وکړي څکه چې د ځانله کولو نه دغسی امام پسی لمونځ کول اولی دي ، "فان امكن الصلواة خلف غير هم فهو افضل والافالأقتداء اولى من الانفراد (شامی ج۱ ص۵۲۳ باب الامامة) واذا تعذر منعه (اى الفاسق) ينتقل عنه الى غير مسجده للجمعة وغيرها وان لم يقم الجمعة الا هو يصلى معه (مراقي الفلاح ص۵۸ فصل فى الاحق بالامامة) فاذا امكن الصلواة خلف عدل مستقيم السيرة فينبغي ان يصلي خلفه فلايصلى خلف من ظهر فجوره لغير حاجة (فتاوى ابن تيميه ج۱/ ص۱۰۶).

دمجبوريت په حالت کی کراهت نه لازميږي ټوله ذمه واري په امام اودده تعيين کونکو او دده منونکو باندی ده ، دبدعتي امام هم همدا حکم دی ، حضرت مجاهد فرمايي : زه او ابن عمر رضیالله عنه يو جومات ته لاړو هلته دماسپښين اذان شوی و دلمونځ ګذارانو انتظار و چی مؤذن تثويب وکړ يعني : "الصلوة الصلوة" آوازونه وکړل چی خلک راشي نو عبدالله بن عمر رضی الله عنه فوراً ووېل چی مونږ ددی بدعتي څخه وباسه اوبيا له جومات نه ووتلو او لمونځ يې پکی ونکړ.

(ترمذي شريف ۱/ باب ماجاء فى التثويب فى الفجر، الاعتصام ۱/ ۱٦٤).

اوكه چيرته دبدعتي بدعت اوبد اعتقادي مفضى الى الكفر وي نو بيا دده امامت په هيڅ حالت کی جائز ندی . فقط والله اعلم.

دحنفي مقتدي مالكي او حنبلي امام پسې لمونځ

۲۰۸_سوال دحنفي مقتدي مالكي ، حنبلي امام پسې لمونځ صحيح كيږي يانه ؟
ځواب: مالكي ، شامي وغيره امام چې دطهارت وغيره (دخاصو مسائلو چې دحنفي مقتدي لمونځ دصحت دار مدار ورباندی دی) رعايت كوي نو بلا كراهت هغه پسې اقتداء جائز دی اوكه دعدم رعايت يقين وي نو بيا اقتداء صحيح نـدی او كه شك وي نو بيا مكروه تنزيهي دی .ان الاقتداء بالشافعي على ثلثة اقسام الاول ان يعلم منه . الاحتياط فی مذهب الحنفي فلاكراهة فی الاقتداء به الثانی ان يعلم منه عدمه فلا صحة لكن اختلفوا هل يشترك ان يعلم منه عدمه فی خصوص مايقتدی به اوفی الجملة صحح فی النهاية الاول وغيره اختار الثانی وفی فتاوی الزاهدی اذا رآه ، احتجم ثم غاب فالاصح انه يصح الاقتداء به لأنه يجوز ان يتوضأاحتياطا وحسن الظن به اولی الثالث ان لايعلم شيئا فالكراهة ولا خصوصية لمذهب الشافعي بل اذا صلی حنفی خلف مخالف لمذهبه فالحكم كذلك (بحر الرائق ج۲ص٤٦، ٤٧ باب الوتر والنوافل) ..... ومخالف كشافعي لكن فی وترالبحران تيقن المراعاة لم يكره اوعدمهالم يصح وان شك كره (درمختار مع شامي ج۱ ص٥٢٦ باب الامامة) (طحطاوي ج۱ص٤٤٥)
فقط والله اعلم بالصواب.

دسيدنا حضرت عثمان رضی‌الله عنه ته دباغي امامت

۲۰۹_ سوال : زمونږ دفقه په كتابوكی دی چې دفاسق يابدعتي پسې كړی لمونځ دوباره كول ضروري دی او حال داچې دحضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه كی بغاوت شوی او صحابه كرامو رضی الله عنهم دباغيانو پسې دلمونځ كولو متعلق دعثمان رضی‌الله عنه نه تپوس وكړ نو هغه اجازت وركړ او وركړی لمونځ دوباره كولو حكم يې ورته ونه كړ، دباغيانو نه به لوی فاسق بل څوك وي ؟ اوبيا باغي هم داسې

چي دبرحق خلیفه ، امیر المؤمنین او درسول الله صلی‌الله علیه وسلم زوم او عشره مبشره کی شامل دی دده په وړاندی بغاوت کوونکی وو .
ځواب: راجح او مفتی به قول دادی چی دفاسق اوبدعتي پسې (چې دهغه بدعقیده کفر ته نه دی رسیدلی) اداکړی شوی لمونځ دوباره راګرځول ضروري ندی (شامي ۱/ ۵۲۵) . دمجبوریت په وجه چی وکړی شي نه مکروه کیږي . هذا ان وجد غیر هم والا فلاکراهة (درمختار مع شامی ۱/ ۵۲۵ باب الامامة (سائل الارکان ص۹۸) فقط والله اعلم.

دجلسه استراحت کونکی پسې دحنفي لمونځ

۲۱۰_ سوال : د جلسه استراحت کونکي پسی د حنفي سړي لمونځ کیږي یا نه ؟
ځواب : که دجلسه استراحت کونکي په فاتحه کی بل څه خرابي نه وي او کوم واجب نه پاتی کیږي نو لمونځ کول جائز دي ، "والثانی الجلسة الخفیفة قال شمس الائمة الحلوانی الخلاف فی الافضل حتی لو فعل کما هو مذهبنا لابأس به عند الشافعي ولو فعل کما هو مذهبه لابأس به عندنا" (شامی ج ۱ ۴۷۳ فصل قبیل مطلب مهم فی عقد الاصابع عند التشهد) فقط .

د فاسق امامت :

(۲۱۱ سوال) امام صاحب له یوی ښځې سره په بدکاري کی مبتلا دي خبره دی حد ته ورسیده چی حمل واخستو او دغی بدکاری سره یی واده وکړ او په څلورو میاشتو کی دغه حمل نه بچی پیدا شو ، او ګیره هم یوه انچ پریدي دغسی امام پسی لمونځ صحیح دی یا نه ؟ په عوامو کی اختلاف پیدا شوی د لانجی خطره ده نو ژر ځواب راکړئ ، مهرباني .
ځواب : امام باید متقي ، پرهیزګار او په ظاهر کی ګناهونو څخه پاک صاف کیدل پکار دي : "وقد ورد عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعاً اجعلوا ائمتکم خیارکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربکم ، رواه البیهقی بسند ضعیف وفی روایة ان

سرکم ان تقبل صلواتك فلیؤمکم علماؤکم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربکم ، رواه الطبرانی وفی روایة الحاکم فلیؤمکم خیارکم وسکت عنه" یعنی که چیرته تاسو غواړئ چی لمونځ مو د قبولیت درجی ته ورسيږي نو څوک چی په تاسو کی زیات متقي او پرهیزګار وي هغه دی ستاسو امام جوړ شي ولی چی امام ستاسو او ستاسو د رب تر منځ قاصد دی (شرح نقایه ج ۱ ص ۸٦ باب الامامة تحت قوله ثم الآمین) زانی مرتکب د کبیری فاسق او فاسد دی هغه قابل د امامت ندی ، په حدیث شریف، کی دي : "لایؤم فاجر مؤمناً" یعنی فاسق او فاجر سړی دی د کوم مؤمن امام نه جوړیږي (ابن ماجه) د داسی امام پسی لمونځ مکروه او امام جوړول یی ګناه ده په " کبیری " کی دي : "لوقدموا فاسقاً یأثمون" (ص ٤۷۹ فصل فی الامامة) یعنی که چیرته فاسق سړی امام جوړ کړي نو ګنهکاریږي ، ګیره یو موټی (قبضه) ساتل ضروري دي ، د مشکواة شارح حضرت شاه عبدالحق دهلوي رحمه الله فرمائي : " وګذاشتن آن بقدر قبضه واجب است " یعنی یو موټی ګیره پریښودل او ساتل واجب دي او مسنون ورته پدی وجه وایي چی دیني دستور او دټولو انبیاء کرامو علیهم السلام سنت او طریقه ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو نه ثابت ده (اشعة اللمعات ج ۱ ص ۲۸۸) او دا مطلب ندی چی د دی درجه هم د سنتو ده چی دهغه په پریښودو باندی ګناه نه وي بلکی د دی پریښودل او مسلسل ترک کول (کلول) ګناه کبیره ده ، حضرت مولانا ثناء الله محدث پانی پتي رحمه الله فرمائي : " تراشیدن ریش بیش از قبضه حرام است " (ما لا بد منه ص ۱۳۰) لهذا د ګیری کلول او یا دومره کمول چی له یو موټي نه کم پاتی شي حرام دي ، پدی لحاظ سره هم دغه امام فاسق دی او د فاسق امامت مکروه دی (هدایه ج ۱ ص ۱۰۱ باب الامامت)لهذا د داسی فاسق او بدکار امام لری کول ضروري دي ، که متولي دغسی امام لری نه کړي نو په بل جومات کی لمونځ وکړئ او که بل جومات نه وي نو مجبوري په وجه ده پسی لمونځ وکړئ څکه چی د جماعت لمونځ کولو ته واجب هم ویلي دي ، لهذا جماعت باید پری نږدئ ، البته د دغه امام لری کولو کوشش وکړئ ، فقط والله اعلم .

په دروغه قسم کونکي امامت :

(۲۱۲ سوال) یو سړي په دیوان (کورټ ، عدالت) کی په الله تعالی باندی قسم خوړولو سره د دروغو ګواهي او شهادت وکړ د دی څه کفاره ده ؟ او د ده د امامت څه حکم دی ؟

خواب : په دروغه قسم کونکی مرتکب د کبیره دی ده لپاره کفاره هم نشته هغه به دائما د الله نعالی په دربار کی توبه او استغفار کوي او دخپل ګناه معافي دی تل لپاره غواړي[1] ، دا دی امام نشي جوړولی د ده امامت مکروه دی ، فقط والله اعلم

خنثي پسی لمونځ :

(۲۱۳ سوال) د دین عالمان پدی مسئلو کی څه فرمائي : (۱) خنثي پسی لمونځ صحیح دی یا نه ؟ (۲) نامرد پسی کوم چی قابل دښځې نه وي لمونځ جائز دی یا نه ؟ (۳) موقع په موقع چی هلکانو ته د بدکار کولو وائي د هغه امامت څنګه دی ؟ (۴) د بار بار وینا باوجود چی څوک لمانځه کی غاړه تازه کوي او د قرائت په وخت کی ارګمی کوي هغه لپاره څه حکم دی ؟ (۵) دهری خبری په تپوس باندی سره د علم نه دروغ ووائي او حال دا چی نورو خلکو لیدلی وي او یا دا ووائي چی ماته پته نشته د داسی سړي په امامت کی څه فرق شته یا نه ؟

خواب : که چیرته ذکر شوی خبرې ثبوت ته رسیدلي وي نو د هغه امامت بغیر د شبهی نه مکروه دی او که واقعاً هغه سړي خنثي وي بیا هم هغه پسی اقتداء صحیح نده ، او بغیر د شرعي دلیل نه چا باندی تهمت لګول لویه ګناه ده ، د غاړی تازه کول که د عذر په وجه وي نو بیا څه پروا نلري یعنی د مری صفا کول او د بلغم لری کولو لپاره غاړه تازه کول صحیح دي پدی سره لمونځ نه مکروه کیږي ، "لانه یفعله لاصلاح القرأة فیکون من القرأة معنی کالمشی للبناء فانه وان لم یکن من الصلواة لکنه لاصلاحها فصار منه معنی شرح المنیة عن الکفایة الخ" (شامی ج

---

[1]_ یمین غموس .... قوله فهذه الیمین یأثم بها صاحبها لقوله علیه السلام من حلف الله کاذباً ادخله الله النار .... قال علیه السلام ثلث من الکبائر الیمین الغموس الخ (جوهرة النیرة کتاب الایمان ج ۲ ص ۲۸۷) .

۱ ص ۵۷۸ باب ما یفسد الصلاة ومایکره فیها بعد مطلب المواضع التی یکره فیها رد السلام) او کله چې مجبوري سره ارګمی راشي نو پدیکی هم څه بدي نشته ، کومی خبرې چې د کراهت دي که چیرته د هغو نه توبه وکړي او د پرینسودو وعده وکړي نو د هغه امامت بغیر د کراهت نه جائز دی ، والله اعلم .

(۲۱۴ سوال) د یوی محلی په جومات کی دتراویحو له اتور رکعتو نه وروسته ډیر کم خلک پاتی کیږي پدی صورت کی دغه خلک بل جومات کی تللو سره باقي رکعتونه ادا کړي یا په همدی جومات کی ادا کړي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : په همدی جومات کی پاتی دولس رکعته هم ادا کول پکار دي : "وهل المراد انها سنة کفایة لاهل کل مسجد من البلد او مسجد واحد منها او من المحلة ظاهر کلام الشارح الاول واستظهره الثانی ویظهرلی الثالث لقول المنیة حتی لو ترك اهل محلة کلهم الجماعة فقد ترکوا السنة واساءوا" (شامي ج ۱ ص ٦٦٠ مبحث صلواة التراویح) .

که د امام قرائت صفا نه وي نو اقتداء ورپسی صحیح ده او که نه ؟

(۲۱۵ سوال) یو ورو لمونځ ورکوي په قرائت کی غلطیانې کوي حروف صحیح نه ادا کیږي او قرائت یې صفا نه وي تر دی چې لمونځ ګذار پری نه پوهیږي او همدا راز په ماسخوتن کی لنډ او مازیګر کی اوږد لمونځ کوي نو داسی امام پسی لمونځ کیږي یا نه ؟ او دخلکو د منع کولو باوجود چې امامت کوي د هغه څه حکم دی ؟

ځواب : پدی ذکر شوی مسئله کی چې د امام قرائت صاف او صحیح نه دی او مقتدیان پری نه پوهیږي نو هغه لپاره امامت کول صحیح نه دي ، مقتدیانو ته پکار دي چې د داسی امام انتظام وکړي چې قرآن شریف صاف او صحیح ولولي[1] ، فقط والله اعلم .

---

[1] ــ ولایجوز امامة الثلغ الذی لایقدر علی التکلم ببعض الحروف الا لمثله اذا لم یکن فی القوم من یقدر علی التکلم بتلك الحروف الخ ، فتاوی عالمگیری باب الامامة الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماما لغیره ج ۱ ص ٨٤ .

د ګیر خریلي امامت او د ګیری شرعي حد :

(۲۱٦ سوال) د ګیری کلول او لنډول څنګه دي ؟ داسی کس فاسق دی او که نه ؟
خواب : د ګیری کلول او د شرعي حد نه زیات کمول ناجائز او حرام دي او د دی مرتکب فاسق او مردود الشهادت دی او د هغه امامت مکروه تحریمي دی . په " ما لا بد منه " کی " تراشیدن ریش از قبضه حرام است " (ص ۱۳۰) او په مختار کی دي : "اذا كانت بقدر المسنون وهو القبضة .الى قوله. وهى دون ذلك كما يفعلــه بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبح احدٌ واخذ كلها مغل هنود الهند ومجــوس الاعاجم" .
یعنی د یو موټي نه کمول لکه چی ځینی مغربي مسلمان او مخنث سړی کـوي هیڅـا هم دیته جائز ندي ویلي (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۱۵۵) او د همدی کتـاب پـه بل ځای کی دي : "يحرم على الرجل قطع لحية" یعنی سړي لپاره دګیری کټ کول حرام دي (ج ۵ ص ۳۵۹ باب ما یفسد الصوم ولایفسد) .

ایا امامت لپاره د ذات او د نسل لحاظ شته ؟

(۲۱۷ سـوال) ځمونږ پدی ځای کی جومات نشـته یـواځی مدرسـه ده د جومـات د جوړولو کار شروع دی د دی مدرسی مدرس امامت کوي او هغه ذاتـا فقیر دی (د خلکو نه سوال او خیرات غواړي) ځینی وایـي چـی ده پسـی لمـونځ نـه کیـږي او قطعي طور حرام دی ، هغه د ځو کسانو نه روټی غواړي او مړي هم لمبـوي . پورتـه ذکر شوی صورت کی د امام اقتداء کولو کیڅه حرج شته ؟
خـواب د امامت لپاره د ذات او قوم هیڅ لحاظ نشته ، دا فضیلت لحاظ دی او بـل دا چی جماعت کی کمی رانشي او لمونځ ګذاران منتشر نشي نو پـه لمـونځ ګـذارو کی چی کوم افضل وي هغه د امامت حقدار دی تر ځو لمونځ پـه صـحیح او کامـل طور سره ادا شي او زیات نه زیات مقتدیان په لمانځه کی شریک شـي ، نـو د داسـی یو قوم سړی چی خلک یی ذلیل او رذیل ګڼي که چیرته په علم او تقوی کی د ټولو نه زیات وي او پدی وجه خلک یی ادب کوي نو بلاشبه هغه پسی لمونځ صحیح دی هیڅ قسم کراهت پکی نشته دی ، البته که د هغه افعال داسـی وي چـی دهغـه پـه بناء د خلکو په نظر کی ذلیل او بی عزت وي نو پدی بناء د هغه امام جوړول مکروه

دي یعنی کله چې خلک یې عزت او احترام نه کوي نو ده پسې لمونځ کول هم نه خوښوي او جماعت کې به کمې راځي : په فتاوی عالمګیري کې دي : "لان المقصود کثرة الجماعة ورغبة الناس فیه اکثر" یعنی د افضل په امام جوړولو کې دا مصلحت هم دی چې خلک هغه خوښوي او لمانځه کې ورپسې شریک کیږي نو جماعت به لوی وي (ص ۸۳ ج ۱ الباب الخامس فی الامامة الفصل الاول فی الجماعة) هغه امام افضل او بهتر دی چې د شرعي احکامو څخه د ټولو نه زیات واقف وي . قرآن مجید صحیح او تجوید سره ولولي ، پرهیزګار وي ، صحیح العقیده او اعلی شرافت والا ، حسین و جمیل او پوخ عمر والا وي ، د نسبي شرافت والا ، خوش اخلاق او پاکیزه لباس والا د امامت زیات حقدار دی چې خلک په مینه سره ورپسې اقتداء وکړي او جماعت لوی وي ، په حدیث شریف کې دي : "وفی روایة : ان سرکم ان تقبل صلوتکم فلیؤمکم علمائکم فانهم بینکم وبین ربکم" رواه الطبرانی وفی روایة الحاکم فیؤمکم خیارکم" یعنی که چیرته دا مو خوښه وي چې لمونځونه مو د الله تعالی په نزد مقبول وي نو علماء او یو روایت دا دی چې څوک په تاسو کې د ټولو نه زیات ښه او نیک وي هغه دی ستاسو امام شي ځکه چې هغه ستاسو او ستاسو درب تر منځ قاصد دی ، (شرح نقایه ج ۱ ص ۸٦ باب الامامة تحت قوله ثم الاسن) .

په " تکمیل الایمان " کې دي : " نعم اګر مرد صالح ومتقي برای امامت پیدا شود بهتر والا هر که باشد نماز باید باجماعت ګذار ، و هر چند که فاسق بود بشرطیکه فسق و فجور وی منجر بکفر نه ګردد وعلم باحکام و ارکان نماز وقدر ما یجوز به الصلوات از قرآني یاد داشته باشد " (تکمیل الایمان فارسی ص ۷۸) .

لهذا افضل شخص باید امام جوړ کړی شي او له هغه نه داسې کار وانخستل شي چې خلک پرې حقیر وګڼي ، البته که کوم ځای کې افضل امام نه وي ، که فاسق هم وي نو جماعت مه پریدئ ، د جماعت د فضیلت او اهمیت نه په کتو سره د داسې امام پسې هم لمونځ کول بهتر دي له خانله خانله لمونځ کولو نه ، فقط والله اعلم .

امام چی د سینما کتو شوقي او عادتي وي د هغه د امامت څه حکم دی ؟

(۲۱۸ سوال) یو حافظ صاحب د سینما او د تماشو ګډاګانو کتلو او د ګانو شوقي دی هغه پسی لمونځ کول څنګه دي ؟
ځواب : کوم سړی چی سینما ګوري او دسندرو ګډاګانو محفلو کی شریک وي داسی شخص د امامت د منصب لائق ندی ده پسی لمونځ مکروه دی ، او که توبه ونه کړي او امامت هم پری نږدي نو بل جومات کی لمونځ کول پکار دي او که بل جومات نه وي نو د ځانله لمونځ کولو نه داسی امام پسی لمونځ کول ښه دي ځکه چی د جماعت فضیلت او اهمیت ډیر زیات دی : "وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة ، (قوله نال فضل الجماعة) افاد ان الصلوٰة خلفهما اولی من الانفراد" (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۵۲۵ باب الامامة) فقط والله اعلم .

د جذامي او د ابرص (برګي) امامت او دوی لپاره د جماعت حکم

(۲۱۹ سوال) که جذامي جماعت سره لمونځ کول غواړي او خلک ترینه نفرت کوي نو د داسی مجبوری په حالت کی ده ته خپل کور کی لمونځ کول جائز دي یا نه ؟ او دجماعت پریښودو ګناه به چا باندی وي ؟ او ددی د امامت څه حکم دی ؟ که چیرته ابرص یعنی سپین داغ والا امامت کول غواړي نو ده پسی اقتداء وکړی شي یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب : جذام ډیر یو ګنده او خطرناک بیماري ده (الله تعالی دی حفاظت وکړي) کور والا به هم لری کیږي ، هغه لپاره جومات ته د راتلو اجازت نشته ولی چی خلک به ورنه نفرت کوي او هیڅوک به ورسره نه ودریږي ، د دی امام جوړول مکروه دي ، ابرص (سپین داغ) چی بدن کی وي د دینه خلک نفرت کوي لهذا د ده امامت هم مکروه دی ، "ویمنع منه ای المسجد وکذا کل مؤذی (درمختار) وکذا

القصاب والسماك والمجذوم والابرص اولی بالالحاق" (شامی ج ۱ ص ۶۱۹ تحت مطلب احکام المساجد) فقط واللہ اعلم .

بدعتي او حق پرستو عالمانو ته بد ویلو والا امامت :

(۲۲۰ سوال) پدی لاندی مسئله کی دیني عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمائي : څمونږه په کالونی کی چی مخکی کوم امام ؤ هغه د اهل سنت والجماعت سره تعلق لرلو دهغه په خطبو کی زیاتره دشرک او بدعت رسمونه پریښودل او د نبوي صلی الله علیه وسلم سنت د جاري کولو باندی به ؤ ، دلته څینی بریلوي عقائد والا هم اوسیږي دوی د دی امام د وعظونو او تقریرونو سره دشمني وه ، نو هغوی د خپلو بریلوي علماؤ تقریر کینبود هغوی دخپل عادت مطابق دیوبندي او حقاني علماؤ په خلاف دومره زهر وشیندل چی دلته دوه فرقی او ډلی جوړی شولی او د امام صاحب په خلاف یی هم میتینګونه شروع کړل بالاخر امام مجبوراً استعفی ورکړه لدینه وروسته د بدعتي فکر والا خلکو په کوشش سره یو بدعتي امام مقرر شو او هغوی پخپلو بیانونو کی دیوبندي حقاني علماؤ پسی بدرد او دروغ بیاني شروع کړ چی پدی وجه اهل حقو هغه پسی لمونځ کول پریښود څرنګه چی احقر ته جماعت سره لمونځ کولوو کی خاص لطف راځي تر اوسه پوری بادل نخواسته دغه امام پسی لمونځ کوم ، نور جوماتونه ډیر لری دي ، پدی وجه زه ډیر پریشان یم په کور کی لمونځ کولو باندی د سستی په وجه د قضا کیدو ویره ده ، اوس زه څه وکړم ؟ تاسو ځواب راکړئ مهرباني (د بمبئ نه) .

ځواب : دا سړی فاسق دی د ده امام جوړول ناجائز دي ، که چیرته له اول نه وي او لری کول یی د فتنی خطره وي او بل جومات نه وي او یا ډیر لری وي چی پنځه وخته حاضریدل مشکل وي نو مجبوراً دغه امام پسی لمونځ وکړئ د ځانله لمونځ کولو نه دغه امام پسی کول افضل دي ځکه چی دجماعت زیات اهمیت دی ، د خرابی ذمه واری په امام او د ده په مقرر کونکو باندی ده ، "وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة (قوله ناله فضل الجماعة) افاد ان الصلواة خلفهما اولی من الانفراد" (درمختار والشامی ج ۱ ص ۵۲۵ باب الامامة) والله اعلم .

قرآن شریف په لحن جلي سره د ویونکي امامت :

(۲۲۱ سوال) پدی مسئله کی مفتیان صاحبان څه فرمائي : خمونږ د جومات امام صاحب څو ځلی د ذال په ځای ظا او د "ز" په ځای ذال وائي او همداراز څو حرفونه کموي او زیاتوي مثلاً فلینظر ته فلینظور او یومئذ ته یومنیذ او ثم ته ثما او لیکون په ځای لیکونا وائي د ده ژبه صفا ده سند یافته هم دی که د تجوید مطابق لوستل وغواړي نو لوستلی هم شي مګر له اول نه یې دا عادت شویدی نو د ده په امامت کی ځمونږ لمونځ صحیح کیږي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : په جمال القرآن کی دي : د تجوید په خلاف قرآن لوستل یا غلط لوستل او یا بی قاعده لوستلو ته لحن وائي او دا (لحن) دوه قسمه دی یو دا چی یو حرف په ځای بل حرف ووایي لکه د الحمد په ځای الهمد ووائي یا د ث په ځای س او د ح په ځای خ او یا د ذال په ځای زا یا د ص په ځای س ووائي دغو غلطیو ته لحن جلي وایي او دا حرام دي په ځینی ځایو کی پدی سره معنی خرابیدو سره لمونځ هم خرابیږي (جمال القرآن) .

لهذا پدی طریقه لوستونکی د امامت لائق ندی ده ته پکار دي چی اول صحیح قرآن لوستل زده کړي او بیا دی امامت وکړي ، فقط والله اعلم .

چا چی نسبندي کړی وي هغه پسی لمونځ کول څنګه دي ؟

(۲۲۲ سوال) کوم خلک چی په خوشحالی سره نسبندي کوي او خصي جوړیږي هغوی پسی لمونځ مکروه کیږي یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : دخصي او ایجړا امام جوړول جائز ندي ، لمونځ مکروه کیږي ، "ویکره استخدام الخصیان لان الرغبة فی استخدامهم حث علی هذا الصنیع ومثلة محرمة" یعنی د خصي خلکو نه خدمت اخستل مکروه دي له داسی خلکو نه په خدمت اخستو کی د دغه بدکار دروازه پرانستل دي او حال دا چی دا کار مثله او حرام دی مثله یعنی دبدن اعضاء د اصلي خلقت نه خرابول او بدلول او دا حرام دي ، (هدایه آخرین کتاب الکراهیة فصل فی البیع ج ٤ ص ٤٧٤) فقط والله اعلم .

د امام په ژبه کی د لکنت په وجه د الحمد په شروع کی آآآ کیږي

(۲۲۳ سوال) زه د یو جومات امام یم د څه وخت نه زما په ژبه کی لکنت راغلی او دا هم یواځی یو لفظ د الحمد لله په الف لام باندی مثلاً د تکبیر تحریمی نه وروسته ثناء ویلو سره چی کله سورت فاتحه شروع کوم نو په آآآ کیدو سره همزه تکراریږي او لږ وخت وروسته بیا د الحمد تلفظ ادا کیږي لدینه وروسته باقي سورت او دقرآن هر یو سورت او آیتونه چی لولَم نو په ښه طریقی سره لولَم پدی صورت کی لمانځه کی کراهت کیږي یا نه ؟ که چیرته الحمد لله په شروع کی جهري لمانځه بسم الله الرحمن الرحیم په جهره ولولَم نو هیڅ قسم تکلیف و لکنت او تکرار نه بغیر ښه طریقی سره لولَم نو پدی مجبوری سره بسم الله الرحمن الرحیم جهراً ویل څنګه دي ؟ که ووایم په لمانځه کی څه کراهت خو نه کیږي ؟ او هم په رمضان المبارک کی د تراویحو مسئله دا ده چی حافظ ته اجرت ورکولو سره د قرآن لوستل او آوریدل دواړه منع دي پدی صورت کی که زه په تراویحو کی ختم قرآن وکړم نو د ترایحو په هر رکعت کی د سورت فاتحه نه مخکی بسم الله الرحمن الرحیم په جهره سره ولولَم نو لوستلی شم یا نه ؟ زه هم حنفي مسلک یم او مقتدیان هم ، وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : پدی صورت کی راجح او احوط دا دي چی ستاسو په امامت کی لمونځ نه صحیح کیږي بلکی راګرځول یی ضروري دي ، "وتکره امامة الفأفأ.......... الی قوله......... ولکن الاحوط عدم الصحة" (شامی ج ۱ ص ٥٤٤ باب الامامة مطلب فی اللثغ) او د الفأفأ نه آآآ زیات قبیح او لحن جلی دی ، زیات تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۱۵۳ ، ۱۵۴ (په جدید ترتیب کی په همدی باب کی " د داسی تعلیم یافته امامت چی حروف د صحیح مخارجو نه ادا نه کړي " عنوان لاندی وګورئ مرتب) پدی وجه تاسو د لمونځ کولو جرائت مه کوئ ، د تراویحو لپاره که حافظ پیدا نشي نو په الم تر کیف سره د لمونځ کولو انتظام وکړئ ، د بسم الله په جهر ویل خلاف سنت او بدعت دي ، په ترمذي شریف کی دي : "عن ابن

عبد الله بن مغفل رضی الله عنه قال سمعنی ابی وانا فی الصلواة اقول بسم الله الرحمن الرحیم فقال ای بنی محدث ایاك والحدث .... الخ"
د عبد الله بن مغفل رضی الله عنه صاحبزاده فرمائي چی ما په لمانځه کی اوچت آواز سره بسم الله وویل او پلار می واورید نو فوراً یی راته وفرمایل : خویه دا بدعت دی او د بدعت نه ځان وساته (ترمذی شریف ج ۱ ص ۳۳ باب ماجاء فی ترک الجهر بسم الله الرحمن الرحیم) لهذا پدی شوی مسئله کی د دی هم اجازت نشي کیدی ، فقط والله اعلم بالصواب .

څوک چی د قرآن د مخلوق والي عقیده لري د هغه د امامت حکم

(۲۲۴ سوال) د چا چی دا عقیده وي چی قرآن پاک مخلوق دی د هغه امامت صحیح دی یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب : د داسی بدعتي په اقتداء کی لمونځ کول صحیح ندي ، "وامامة المبتدع ای صاحب الهوی الذی لایکفر به صاحبه فلایجوز امامة الرافضی والجهمی والقدري والمشبهة ومن یقول بخلق القرآن الخ" عینی شرح کنز الدقائق باب الامامة ج ۱ ص ۳۸ ، فقط .

د حجام (نائي) امامت :

(۲۲۵ سوال) زه په دهرم پور کی مؤذن یم او لدی سره سره د حجامت کار هم کوم او کله کله د امام صاحب په عدم موجودګی کی لمونځ هم ورکوم د خینو خلکو دا اعتراض دی چی د حجامت (نائتوب) پیشه او کسب لری پدی وجه لمونځ ورپسی مکروه دی او خاص کر چی د خلکو ګیری کلوم ایا واقعي ما پسی لمونځ مکروه دی ؟ وضاحت وکړ ، مهرباني .
ځواب : حجام (نائي او ویښته جوړونکی) که چیرته د لمانځه وغیره مسائلو علم ولري او لدی سره سره دیندار هم وي نو امام جوړیدلی شي لیکن که چیرته هغه د

خلکو کیږي کلوي نو هغه فاسق دی او لمونځ ورپسی مکروه دی[1] ، او که هغه جاهل وي او دیندار هم نه وي او د حجامت کسب هم کوي او پدی وجه خلک هغه پسی لمونځ کولو نه نفرت کوي نو هغه ته لمونځ ورکول ندي پکار لیکن که چیرته د امام په عدم موجودګی کی لدینه افضل بل څوک نه وي نو مجبور پدی وخت کی هغه پسی لمونځ کول له ځانله لمونځ کولو نه بهتر دي ځکه چی د جماعت اهمیت او تاکید ډیر زیات دی ، فقط والله اعلم .

واده شوی امام چی یو کال پوری کور ته لاړ نشي نو د هغه امامت صحیح دی یا نه ؟

(۲۲٦ سوال) څمونږ د امام صاحب مونږه سره دوه نیم کاله د امامت وشو او د ده د واده دری کاله کیږي ، یو کال کیږي چی کور ته ندی تلی ځینی بی تعلیمه خلک وائي چی کوم واده شوی امام څلور میاشتو پوری کور ته لاړ نشي هغه پسی لمونځ نه کیږي پدی وجه دلته اوس لانجه ده ، د دی وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : واده شوی سړی دی د خپلی ښځی د اجازت او رضامندی نه بغیر څلورو میاشتو نه زیاته موده لری نه پاتی کیږي ، "ویجب ان لایبلغ له مدة الایلاء الاّ برضاها وطیب نفسها به الخ" (شامی ج ۲ ص ۵٤۷ باب الامامة مطلب فی اللثغ) که د امام ښځی اجازت ورکړی وي او د ملازمت په وجه سره لری پاتی کیدو باندی راضي شوی وي ، لهذا هغه پسی لمونځ صحیح کیدو کی شک کول ندي پکار ، فقط والله اعلم .

د کوم سړي ښځه چی بی پرده ګرځي هغه پسی لمونځ کول څنګه دي ؟

(۲۲۷ سوال) څمونږ د کلي په جامع جوماټ کی له ډیری اوږدی زمانی نه یو عالِم ، حافظ او قاري د امامت په منصب باندی مقرر دی او هغه د شریعت مکمل پابند او نیک اخلاق لري ، یو چا بغیر د نوم ښودلو نه یو خط د جوماټ د کمیټی په نوم امام

---

[1] _ قوله فاسق من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزانی واکل الربا ونحو ذلك (شامی باب الامامة ج ۱ ص ٥٦٠) .

صاحب ته ورسول چی ستاسو کوروالا پرده کی نه ده لهذا د فتاوی رشیدیه او د حصرت مفتي سید عبد الرحیم لاجپوري د ځواب مطابق تاسو پسی لمونځ مکروه دی لهذا تاسو د خلکو لمونځ مه بربادوئ یا خو خپله کور والا پرده کی کینوئ او یا امامت پریږدئ.

اوس سوال دا دی چی خط لیکونکی که هر څوک وي او لدینه د هغه ښه یا بد هر نیت چی لري دا خو الله ته پته ده لیکن پدی طریقه غائب پاتی کیدو سره د هغه اقدام په جومات کی ضرور د فتنی باعث جوړیږي ، لیکونکی به پخپله هم پوهیږي چی د امام صاحب کور والا د یو شریفی کورنی جینی ده او پخپله د شریعت پابنده ده ، دکور نه باهر چیرته ګرځي راګرځي نه ، دمور پلار یا د بچو د ضرورت په وجه سره په قدر د ضرورت د کور نه باهر پدی طریقه راوځي چی د سر نه تر ښپو پوری په جامو کی پټه وي ،البته د ماحول نه کیدو په وجه د معروف برقعی (چادری) عادتي نده ، تاسو ځواب راکړئ چی پدی صورت کی د ذکر شوي امام پسی لمونځ مکروه کیږي یا نه ؟ وضاحت وکړئ.

ځواب : د امام صاحب کور والا که د مخ او څهری په ښکاره کولو سره باهر اوځي نو دا د شرعي پردی منافي ده ، امام صاحب ته لازم دي چی شرعي پردهورباندی وکړي او که نه لمونځ به مکروه کیږي ، کله چی ښځه خپل مخ او څهره په ښکاره کولو سره باهر ته ځي نو د نامحرم نظر به ورباندی لګیږي چی دحدیث له مخی یو زهر الود غشی دی چی د هلاکت نه بغیر چاره نه لري او نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان دی چی "لعن الله الناظر والمنظور الیه" یعنی د الله تعالی لعنت دی بیدونکي باندی او هغه چا باندی هم چی لیدل کیږي (مشکوٰة شریف ص ۲۷۰ کتاب النکاح باب النظر الی المخطوبة وبیان العورات) په یو بل حدیث کی دي : ښځه چی له مخی طرف نه راځي نو د شیطان په صورت کی راځي او چی شاه طرف ته ځي نو دشیطان په صورت کی وي (مشکوٰة شریف ص ۲٦۸ ، ایضاً) مطلب دا چی لکه څنګه شیطان وسوسه آچوي همداسی د ښځی لیدل هم باعث د وسوسی او موجب د فساد دي ، او په حدیث کی دي : "المرأة عورة فاذا خرجت استشرفها الشیطان" یعنی ښځه د ستر (پټولو شی دی) کله چی هغه باهر ته وځي

نو شیطان ورته په کمین کی ناست وي (په ګناه کی د مبتلا کولو تدبیرونه کوي) او په حدیث کی دي : ستر ګې زنا کوي د دوی زنا نامحرم ته کتل دي او غوږونه زنا کوي د دوی زنا د نامحرم سړي خبرې اوریدل دي او ژبه زنا کوي د ده زنا د محرم سره خبرې کول دي ، او لاس هم زنا کوي د ده زنا نامحرم ته لاس لګول دي (مسلم شریف ج ۴ ص ۳۳٦ کتاب القدر باب قدر علی ابن آدم حظه من الزنا وغیره) کله چی ښځه بی پرده ګرځي نو دا ټول منکرات مخی ته راځي او قدم په قدم خپله هم ګناره او نور هم په ګناه کی مبتلا کوي ، کله چی ازواج مطهرات او بنات طاهرات لپاره دا حکم دی چی : "وقرن فی بیوتکن" یعنی خپلو کورو کی قرار ونیسئ او چی د طبیعي او شرعي ضرورت په وجه باهر ته وتل وي نو بیا دا حکم دی : "یدنین علیهن من جلابیبهن" یعنی سر نه تر پښو پورې دی ځان باندی څادرې واچوي ، نو عامو ښځو ته به د بی پردی ګرځیدو اجازت له کومی وشي ؟ د حضرت فاطمه رضی الله عنها نه تپوس وشو چی ښځو لپاره د ټولو نه غوره خبره څه ده ؟ حضرت فاطمه رضی الله عنها وفرمایل : چی نه ښځه سړی ویني او نه سړی ښځه ویني ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ځواب ډیر زیات خوښ کړ او دعا یی ورته وکړ (مسند بزار ، دار قطني) .

حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمائي : ځوانی ښځی لپاره د غیر محرم په وړاندی مخ ښکاره کول صحیح ندي ، او نه دی داسی ځای کی ودریږي چی هلته بل څوک یی وویني الخ (بهشتي زیور ج ۳ ص ۷۵) .

په فتاوی دار العلوم کی دي : (سوال) د کوم سړی ښځه چی بی پردی ګرځي او خاوند ورته هدایت ونه کړي او نه ورته طلاق ورکړي نو هغه پسی لمونځ کیږي یا نه ؟

ځواب : داسی سړي پسی لمونځ جائز دی مع الکراهت ، پدی وجه که څوک لدینه ښه او دیندار امامت لپاره ملاو شي نو بهتر دي ، فقط محمد شفیع غفر له (فتاوی دار العلوم دیوبند ص ۱۳۵ حصه اول او دویم) فقط والله اعلم ، ۷ شوال المکرم ۱۳۹۹هـ.

د چا ښځه چې بې پردې وي دهغه امام جوړول او داسې سړي پسې لمونځ کول بهتر دي او که ځانله لمونځ کول بهتر دي ؟

(۲۲۸ سوال) يو امام ، حافظ او مولوي دی ليکن ښځه يې بې پردې باهر ته ځي دغه امام پسې لمونځ كول څنګه دي ؟ که يو څوک دغه امام پسې لمونځ کولو نه ځانله کول غواړي نه کولی یې شي یا نه ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : دغسې امام پسې لمونځ كول مكروه دي ، مګر د ځانله کولو په نسبت جماعت سره کول بهتر دي[1] ، فقط والله اعلم ، ۲۷ شوال المكرم ۱۳۹۹ھ .

د بدکاره سړي امام جوړول :

(۲۲۹ سوال) که چيرته امام صاحب غير حاضر وي او بل يو كس چې سينما ګوري يا سندرې او ګانې آوري او يا زنا کار وي او داسې نور دداسې سړي امام جوړول څنګه دي ؟

ځواب : بدكار سړی دی امام نشي جوړولی لمونځ مکروه کيږي ، (پورتنی حواله) فقط والله اعلم .

وړوند او د چا بينائي چې كمزورې وي د هغه امامت :

(۲۳۰ سوال) د راندير يو حافظ او قاري د سورت په جومات کې تقريباً د شپږو مياشتې راپديخوا د امامت فريضه تر سره کوي او هغه پدې جومات کې څو کاله متواتر په رمضان المبارک کې تراويح هم ورکړيدي ، د امام جوړولو په وخت د محلې ټول اوسيدونكي او د جومات لمونځ ګذاران راضي او خوشحاله وُ مګر د تيرې مياشتې نه ځينې لمونځ ګذارو دا وينا شروع کړيده چې دا قاري صاحب معذور دی يعنې د سترګو نظر يې کم دی او ورسره بهتان لګولو سره دا فيصله کړيده چې د داسې سړي امام د كراهت نه خالي ندی او ورسره د خپلو هم فكرو لمونځ ګذارو نه په دستخط اخستو سره يو کاغذ او خط د جومات متولي ته ورکړی او تحريري

---

[1] ــ ولذاكره امامة الفاسق العالم لعدم اهتمامه بالدين فتجب اهانته شرعاً فلا يعظم بتقديمه للامامة ، مراقی الفلاح علی الطحطاوی باب الامامة ص ۱٦٥ .

مطالبه یې ترینه کړی چې دا امام معذور دی نو د دی په لری کولو سره باید صحیح او غیر معذور امام مقرر کړی شي ، او حال دا چې قاري صاحب مستند قاري او جید حافظ دی ، او پاتی شو د نظر معامله نو هغه دومره معذور ندی چې په نقل و حرکت او تګ راتګ کی بل چا ته محتاج وي دوی د قرآن کریم حفظ په جامع حسینیه راندیر کی کړی او په همدی کی څو کاله د تجوید خدمت هم ترسره کړی ، دومره خیال مو دی چې کوم لمونځ ګذارو د ده د لری کولو کوشش کړی د دوی مشیر او مشر د دیني علومو او شرعي مسائلو نه عالِم ندی ، د هغه عادت جوړ شوی چې امام باندی خپله خبره ومني اګر که د شریعت خلاف وي که امام د هغه خبره ونه مني نو په خلاف یې ودریږي او پاتي جوړوي په تجسس او عیب جوئي کولو سره هغه برطرف کړي ، پدی سلسله کی یو څو تپوسونه دي : (۱) ایا د نظر کمزوری امامت لپاره مانع کیدلی شي ؟ (۲) امام باندی بهتان او فرضي جرم په اړولو سره د امامت نه لری کول جائز دي ، وضاحت وکړئ مهرباني (له سورت نه) .

ځواب : عام طور سره نابینا (وړوند) او د چا چې شپې او ورځې نظر کم وي په نقل و حرکت او نورو ضروریاتو لپاره بل کس ته محتاج وي او د اودس په باره کی هم د هغه حالت اشتباهي وي پدی وجه فقهاء کرامو د داسی نابینا امامت کوم چې غیر محتاط دی او پلیتی نه نشي بچ کیدی مکروه تنزیهي ګرځولی لیکن دا عام حکم ندی بلکی د غیر محتاط پوری خاص دی لهذا کوم نابینا چې محتاط وي او د پلیتی نه د بچ کیدو پوره اهتمام کوي او پاک صاف او ستره اوسیږي د هغه امامت بلاکراهت جائز لیکلی دی ، د حضرت عائشه رضی الله عنها بیان دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوک غزا ته د تللو په موقع باندی حضرت عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه کوم چې نابینا وُ په مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم کی د لمانځه لپاره خپل قائمقام جوړ کړی وُ (طبراني فی الکبیر او ابویعلی او ابوداؤد له انس نه په حواله د الجواب المتین ص ۱۱) او همداراز حضرت عبد الله بن عمیر رضی الله عنه د نابینا کیدو باوجود د بني صطمه امام وُ هغه فرمائي چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کی د نبي صطمه امام وم او حال دا چې زه نابینا وم (ابوداؤد ، طبراني فی الکبیر په حواله د الجواب المتین ص ۱۲) او په " مسائل الارکان " کی دي : "ویکره امامة الاعمی لان فی تطهیره شبهة لما لا یبصر

موضع النجاسات ولا مواقعها فی الثوب ولایغسلها بالمبالغة واما اذا کان اعمی مقتدی القوم فی الدین ویکون عین بصیرته مفتوحة ویکون مجمعاً للعلم والفضائل فلا یکره الاقتداء به لان احتیاطه یزید بکثیر علی احتیاط عوام اهل البصر وقد نقل الشیخ عبد الحق عن بعض شروح الکنز نقلاً عن المبسوط عدم کراهة امامة الاعمی اذا کان مقتدی ذاورع وقدجعل رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه یؤم الناس وهو اعمی" رواه ابوداؤد (رسائل الارکان ص ۹۸ باب من یکره امامة) .

نو پدی ذکر شوی مسئله کی کله چی د راندیر حافظ او قاری صاحب داسی معذور ندی چی په نقل و حرکت او تګ او راتګ کی بل چا ته محتاج وي او د کلونو راهسی تراویح ورکوي او پدی ذکر شوي جومات کی هم څو کاله تراویح ورکړي دي او پدی وجه محله والو په اتفاق سره امام منتخب کړی دی او کوم شرعي قباحت هم پکی نشته نو محض ذاتي عناد او ضد په بناء باندی د امامت نه د لری کولو مطالبه موجب د ظلم او د توهین دی ، فقط والله اعلم ، ۷ شعبان المعظم ۱۴۰۰هـ .

غیر مقلد امام پسی لمونځ کول :

(۲۳۱ سوال) غیر مقلد امام پسی لمونځ کول څنګه دي ؟ څمونږ پدی ځای کی ځینی حنفیان غیر مقلدینو په جومات کی لمونځ کوي د دوی لمونځ صحیح کیږي یا نه ؟

ځواب . مقلدینو او غیر مقلدینو په ډیرو اصولو او فروعو کی اختلاف دی مثلاً دوی صحابه کرام رضی الله عنهم معیار حق نه ګڼي ، ائمه اربعو ته بدرد او کنځل کوي او د دوی تقلید ته چی په وجوب باندی یی د امت اجماع شویده دیته بدعت بلکی ځینی خو ورته شرک هم وائي او دغسی له ډیرو اجماعي مسائلو نه منکر دی ، شلو رکعتو تراویحو ت عمري بدعت وائي دریو طلاقو واقع کیدو ته د قرآن او حدیث نه خلاف ګڼي ، دجمعی اول اذان ته عثماني بدعت وائي او ځینی خو له څلورو نه زیاتو ښځو سره نکاح ته جائز وائي ، د متعه د جواز قایل دي ، پدی وجه څمونږ اکابرین فرمایي چی حتی الوسع دوی پسی باید لمونځ ونه کړی شي او د لمانځه

پشان اهم عبادت څنګه اشتباهي طور سره ادا کول مناسب کیدی شي ؟ او که څه دمجبوری په وجه دوی پسی لمونځ وشي نو احتیاطاً وروسته دی دوباره وکړي حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمائي :

(سوال) غیر مقلد پسی د حنفي لمونځ کیږي یا نه او څنګه کیږي ؟

ځواب : غیر مقلدین ډیر قسم دي ځینې داسی دي چې لمونځ ورپسی د احتیاط خلاف یا مکروه او یا باطل دی ، چونکی پوره حال معلومیدل فی الفور مشکل دي نو پدی وجه احتیاط دا دی چې دوی پسی لمونځ ونکړی شي ، فقط والله اعلم (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۲۳٦ مطبوعه پاکستان) .

د دوی یوه بله فتوی چې په عربي ژبه ده او په حاشیه کی یې ترجمه شویده داسی ده : خلاصه د سوال : د حنفي غیر مقلد امام پسی لمونځ کول جائز دي یا نه ؟

د ځواب ترجمه : مبسملاً وحامداً ومصلیاً ! زما په نزد په مسئله کی تفصیل دی څکه چې غیر مقلدین په ډیرو قسمونو سره دي ، ځینې داسی دي چې دهغوی اختلاف مقلدینو سره یواځې په اجتهادي مسائلو کی دی دوی پسی اقتداء هغه حکم دی کوم چې دحنفي شافعي امام پسی دی یعنی که چیرته هغه په لمانځه کی د خلافیانو رعایت کوي نو بالاتفاق اقتداء جائز دی او که نه ، د اقتداء په جواز کی اختلاف دی او د جمهورو فتوی په عدم جواز باندی ده څکه چې لمانځه په معامله کی احتیاط ضروري دی ، او ځینې غیر مقلدین داسی دي چې د دوی اختلاف مقلدینو سره په هغو مسائلو کی دی چې د اهل سنت والجماعت په نزد اجماعي دی لکه د څلورو نه د زیاتو ښځو سره د نکاح جائز کول ، متعه جائز کول ، او سلف صالحینو ته بدرد او کنځل روا کول وامثال ذلک د داسی کسانو حکم د بدعتي امام د حکم پشان دی یعنی بغیر د څه مجبوری نه دوی پسی لمونځ کول مکروه تحریمي دي او د مجبوری په وخت کی نو مکروه تنزیهي دي او د کومو غیر مقلدینو چې حالت مشتبه وي (که چیرته د فتنی خطره وي) نو اولی دا ده چې لمونځ ورپسی وکړی شي تر څو کومه فتنه پیدا نشي او وروسته بیا دوباره وکړي تر څو په احتیاط باندی عمل وشي لیکن که فتنه هغوی پسی لمونځ کولو کی وي نو بیا لمونځ ورپسی مه کوئ تر څو مسلمانانو سره دوکه ونشي او ددین په باره کی بی باک نشي ، والله اعلم (امداد الفتاوی ج ۱ ص ۳۸۵ ، ۳۸٦ نوی ترتیب او نوی حاشیه مفتي سعید احمد پالنپوری مطبوعه اداره تالیفات اولیاء دیوبند) .

د دار العلوم دیوبند مفتي اعظم د حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمان صاحب فتوی :

(سوال) د چا عقیده چې په لاندی ډول وي د هغه امام جوړول څنګه دي ؟
تقلید ناجائز او بدعت دی ، مرزائي او مرزا مسلمان دی ، د مقلدینو مذهب په قرآن کی نشته ، د داسی کس امام جوړول او د قرآن شریف ترجمه ترینه کول څنګه دي ؟

خواب : د داسی شخص امام جوړول چې عقاند یې په سوال کی درج دي درست ندي او له هغه نه د قرآن شریف ترجمه هم ندي کول پکار ، فقط (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ج ۳ ص ۱۰۶) .

د ده دویمه فتوی :

(سوال) زید غیر مقلد دی د ائمه اربعو تقلید ته کفر او شرک وائي د زید وینا صحیح ده یا غلط او ده پسی لمونځ صحیح دی یا غلط ؟

خواب : د دی مقلد قول او وینا غلط ده او ګمراهي او خطا یې ظاهره ده د داسی غیر مقلد پسی لمونځ صحیح ندی ، فقط او په حاشیه کی دي : داسی شخص فاسق دی او د فاسق امامت مکروه تحریمي دی ، نبوي صلی الله علیه وسلم ارشاد : "سباب المسلم فسوق وقتاله کفر" (مشکواة) اما الفاسق فقد عللوا کراهة تقديمه لانه لايهتم لامر دينه وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعا الخ بل مشى فى شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم" (رد المختار ج ۱ ص ۵۲۳ باب الامامة) (فتاوی دار العلوم مدلل ومکمل ج ۳ ص ۲۵۷) فقط .

د چا چې ګیره نه وي راغلی د هغه امام جوړول :

(۲۳۲ سوال) زما عمر ۲۵ کاله دی د قرآن حافظ يم مګر تر اوسه پوری می ګیره نده راغلی یوځای کی امامت کول غواړم ځینی خلک د ګیری په نیشتوالي باندی اعتراض کوي چې تا پسی مشران خلک لمونځ نشي کولی ایا د دوی دا خبره صحیح ده ؟ زه امامت کولی شم او که نه ؟ وضاحت وکړئ .

خواب چی ته د لمانځه د صحیح او فاسد کیدو له مسائلو نه واقف یی ، قرآن مجید صحیح او تجوید سره لوستلی شی او ستا په دینداری باندی هم خلک شک او شبهه نه لري یواځی دګیری په نیشتوالي باندی چی د امامت لائق نه ګڼي د هغوی خیال مناسب ندی ، البته د ځا چی عمر کم وي او ښایسته وي ده ته د شهوت په نظر د خلکو د کتلو احتمال وي که پدی وجه خلک دهغه امامت نه خوښوي نو دهغه امامت مکروه کیږي ، په شامي کی دي :

"(قوله وكذا تكره خلف امرد) الظاهر انها تنزيهية ايضاً والظاهر ايضاً كما قال الرحمتى ان المراد به الصبيح الوجه لانه محل الفتنة .الى قوله. وفى حاشية المدنى عن الفتاوى العفيفة سئل العلامة الشيخ عبد الرحمن بن عيسى المرشدى عن شخص بلغ من السن عشرين سنة وتجاوز حد الانبات ولم ينبت عذاره فهل يخرج بذلك عن حدا لامردية .الى قوله. فاجاب بالجواز من غير كراهة وناهيك به قدوة والله اعلم وكذالك سئل عنها المفتى محمد تاج الدين القلعى فاجاب كذلك اه (شامى ج ۱ ص ۵۲۵ باب الامامة مطلب فى امامة الامرد) فقط والله اعلم بالصواب .

که د امام ښځه بدکرداره وي مګر د خپلو غلطو حرکتونو نه توبه کړی وي نو داسی سړي پسی لمونځ کول څنګه دي ؟

(۲۳۲ سوال) خمونږ پدی ځای کی د پنځو کالو نه یو عالِم امام دی په ظاهره دیندار دی او تر څو پوری ورنه کوم نازیبا حرکت ندی صادر شوی یو څو ورځی کیږي خلکو ته معلومه شوی چی د ده ښځه بداخلاقه ده او د پردو سړو سره ناجائز تعلقات لري او د شریعت د حدودو نه په تجاوز کولو سره د زنا هم مرتکبه شوی ده ، کله چی امام صاحب ته د دی اطلاع وشوه سخت خفه شو او د ده پدی حرکت باندی د نفرت اظهار وکړو او د طلاق ورکولو پوری یی اراده وکړه وروسته بیا ښځی ته هم د دی حرکت ندامت او پښیماني وشوه او رشتینی توبه یی وکړه او د خپل خاوند نه یی په سر سترګو سر معافي وغوښته او لوظ یی وکړ چی آینده به چیری هم دغسی حرکت ونه کړي لدینه وروسته امام صاحب ورته طلاق ورنکړل او اوس ورسره

اوسيږي اوس تپوس دا دی چی ده پسی لمونځ کول صحيح دي يا نه ؟ ځينی خلک وائي چی دا امام فاسق دی پدی وجه لمونځ وروسی نه کيږي او ځينـی وايـي چـی لمونځ صحيح کيږي ځکه چی دغه نازيبا حرکت ا مام صاحب ندی کړی بلکـی دی وربـاندی خفه هم دی ، د چا خبره صحيح ده ؟

خواب : کله چی امام صاحب د ښځی پدی ګناه کـی شـامل او معـاون نـدی بلکـی لدينه بالکل ناخبر دی او چی کله ورته اطلاع وشوه نو سخت خفه او غصه شو او ځو پوری چی ښځی توبه نه وه کړی تعلقات يی ورسره قطع کړی وُ او د طـلاق ورکولـو پوری يی اراده کړی وه نو ده ته بيا ګنهګار او فاسق ويـل صـحيح نـدي ، پـه قـرآن کريم کی دي : "ولاتزر وازرة وزر اخری" يعنی هيڅوک به دبـل چـا ګنـاه نشـي اوچتولې ، (سـورت فاطر) پدی وجه ده پسدې لمونځ کولو کـې هـيڅ قسـم جـرح نشته ، او خاوند باندی دبدکاري او فاجره ښځې ته فوراً طلاق ورکول ضروري نـدي ، البته کله چی يقين راشي چی ښځه دزنا اوبدکارئ نه نه منع کيږي اوديوبل حقوق پائماليږي نو بيا ورته طلاق ورکولو سره جدا کول پکار دي ، په درمختار کی دي :

"لايجب علي الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفـاجر الا اذاخافـا ان لايقيما حدود الله فلابأس ان يتفرقا" (درمختار مع الشـامی ۲/ ۴۰۲ کتـاب النکاح) فقط والله اعلم .

امام يو غلط حرکت وکړ او بيايې توبه وکړه اوس وروسې لمونځ کول څنګه دي؟

۲۳۳_ سوال : سوال زمونږ په کلي کی يو حافظ صاحب امـام و دبـداتفاق نـه دده يوې جينې سره تعلقات پيداشول جينې به ورته جومـات تـه تلـه او راتلـه ، خلکـو او دجومات متولی ته ددی اطلاع وشوه هغوی دامام نه پدی باره کی معلومات وکړل ، نو امام صاحب اقرار وکړ اوبيا متولې هغه دامامت نه لرې کړ لدينه وروسته امام ددی حرکت نه توبه وکړ او بل ځای کې يې واده وکړ اوس هغـه حـافظ صـاحب پـه بلـه محله کی امامت کول غواړي ايا دهغه امامت صحيح دی ، او لمـونځ کـول وروسـې جائزدي ، وضاحت وکړئ مهرباني.

خواب: امام داډیر نازیبا حرکت کړی چې داجنبي او پردی ښځې سره یې ناجائز تعلقات جوړ کړي وو دغه حرکت دهغه دمنصب په اعتبار سره ډیر خراب دی څو پورې چې ل.ې حرکت نه منع نشي او په صدق دل سره توبه ونکړي هغه پسې لمونځ کول مکروه دی ، البته کی هغه دخپل جرم په اعتراف کولو سره په رښتینې زړه سره توبه وکړي او لمونځ ګذاروته دهغه دتوبې یقین وشي نو بیا هغه امامت کولې شي، کله چې انسان په صدق د زړه سره توبه وکړي نو الله تعالی یې ګناه معاف کوي په حدیث کی دي : "التائب من الذنب کمن لاذنب له"لهذا دتوبه کولو نه وروسته هغه ګنهګار او فاسق ګڼل صحیح ندی ، والله اعلم .

مراهقه اوبالغه جینکو ته بغیر دحجاب نه درس وکول صحیح دي یانه ؟ او څوک چې داسې جینی ته سبق وایي هغه پسې لمونځ کیږي؟

۲۳۴_ سوال : که چېرته یو څوک پنځلس اوشپاړلسو کالو جینکو ته دقرآن تعلیم ورکړی او دغه جینکې پردی وي نو شرعاً ددی څه حکم دی ؟ او دغسې امام پسې لمونځ ښنګه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني(له رنګون نه).

خواب: مراهقه او بالغه جینکو ته بغیر دحجاب نه سبق ورکول صحیح ندی که چیرته دپردی اهتمام وي او خلوت نه وي نو بیا ګنجائش شته مګر داحتیاط خلاف دی لهذا دمحرم اویاښځه باید ورته سبق ووایي: که دمسئلې معلومیدو نه وروسته هم احتیاط ونکړي نو داسې امام پسې لمونځ کول دکراهت نه خالي ندی . فقط والله اعلم . ۲۹/ شعبان المعظم ۱۴۰۱ ه.

دبازو نه چې لاس کټ وي هغه حافظ پسې تراویح

۱۳۵_ سوال . دیو حافظِ قران یو لاس دبازونه بره کټ شوی دی دغسې امام پسې تراویح مکروه کیږي یانه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: دغسې امام پسې تراویح کول جائز دی مکروه ندی [1] والله اعلم.

نابالغ حافظان چې دقرآن پخولو لپاره جماعت سره نوافل اداکړي او داصلاح لپاره څوک بالغ ورپسې اقتداء وکړي نو څه حکم لري؟

۲۳٦ـ سوال: څو نابالغ حافظان دي هغوی دشپې په نفلو کې قرآن اوریدل غواړي نو ایا دغه نابالغ هلکان امام پسې داصلاح په غرض اقتداء کیدې شي یانه؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: دنفل لمونځ او تهجدو کې داضافو په نزد باندی جماعت مکروه دی که امام پسې دوه مقتدیان وي نو مکروه ندی په دریو کې اختلاف دی او که څلورم مقتدیان وي نو بالاتفاق مکروه دی دادجماعت حکم دی، پاتی شو دنابالغ هلکانو حافظ پسې اقتداء داخو دتراویحو او نوافلو کې هم صحیح ندی، وامامة الصبی العاقل فی التراویح والنوافل المطلقة یجوز عند بعضهم ولایجوز عند عامتهم کذا فی محیط السرخسی .(عالمگیري ۱/ ۷٤ باب الامامة الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماماً لغیره، کبیری ص۳۹۰).

البته که چیرته هغه دخپل قران پاک پخولو اودتراویحو ورکولو عادت جوړولو لپاره په نفل لمانځه کې قرآن واوري نو فتح ورکولو لپاره یو حافظ او که یو کافي نه وي دوه حافظان تعلیم لپاره اقتداء کولې شي، خودفضیلت حاصلولو لپاره به اقتداء جائز نه وي. فقط

---

[1] قوله ومفلوج وابرص شاعه برصه وکذلك اعرج یقوم ببعض قدمه فالا قتداء بغیره اولی، تاتارخانیه وکذلك اجزم برجندی ومجبوب وحاقن ومن له ید واحدة فتاوی الصوفیه عن التحفیة والظاهر ان العلة النفرة الخ .(شامي باب الامامة مطلب فی امامة الامرد ۱/ ٥٦۲).

دفیشن پرست حافظ په تراویحو کی امام جوړول څنګه دي؟

۲۳۷_ سوال: زمونږ پدې "دمن" علاقه کې یو نوجوان هلک حافظ دقرآن دی ګیره یې هم شته مګر دهغه لباس فیشني دی اوپه سریې اوږده غیر شرعي ویښته اوسرتور سرګرځي دلمونځ پابند هم ندی ، دده دلته دوه کاله کیږي مګر نه کله په دیني مجلسو کی شرکت کوي اونه په قبرستان کی دجنازې او دتدفین په وخت کی په نظر راځي ، په تراویحو کې دداسې شخص امام جوړول څنګه دی؟ ځینې خلک ورسره موافق دي چی دتراویحو په وخت کی شرعي لباس قمیص او پرتوګ اچوی نوبیا څه اعتراض دی؟ تاسو تفصیل سره ځواب راکړئ.

ځواب: دافیشني لباس دی چی فاسقان او فاجران یې آغوندي ، علامه جوزی رحمه الله لیکي : ولا يخفى على عاقل ان كشف الرأس مستبح وفيه اسقاط مروة وترك ادب وانما يقع فى المناسك تعبدا لله تعالى . یعنی دعاقل نه داخبرنه داخبره پټه نده چی ......سر لوڅول قبیح کار دی او مروة (سړیتوب) ختمول دی اودا دادب اوشریفانه تهذیب نه خلاف دی په شریعت کی یواځې دحج په احرام کی سر لوڅ پریښودو حکم دی چی مقصد یې یواځې تعبد او بندګي دی یعني دالله تعالی په وړاندی خپل نیاز بندي اودبندګي اظهار کول دي .(تلبیس ابلیس ص۳۷۳)

پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله لیکي :" ويكره كشف الرأس بين الناس"یعني دخلکو په وړاندی سرلوڅول مکروه دی (عنية الطالبين ۱/ ۱۳).

درسول الله صلی‌الله علیه وسلم خوښ کړی طریقه پریښودو سره دفاسقانو او فاجرانو طریقه اختیارول بالخصوص حافظ دقران او امام لپاره بی حده افسوسناک دی ، ځینې خوانان دکلاج وغیره ماحول په وجه درسول الله صلی‌الله علیه وسلم دطریقې او سنت په پریښودو باندی ټینګار کوي دادماحول نه دمتاثره کیدو علامه ده ، وګورئ درسول اللهص لی‌الله علیه وسلم صحاي حضرت حذیفه رضی‌الله عنه په سفر کی و دخوراک په دوران کی دلاس نه یوه نوړی پریوته ده بیرته اوچته کړه او ویې خوړه خادم ورو ورته وویل : داسې مه کوئ ددی ځای خلک داکار عیب ګڼي

حضرت حذیفه رضی الله عنه څواب ورکړ: "أ أترك سنة حبيبي صلی‌الله عليه وسلم لهؤ لاء الحمقاء"ایا ددغو احمقانو په وجه دخپل حبیب صلی‌الله علیه وسلم سنت پریږدم؟

دقرآن پاک دآیت (فلا وربك لايؤمنون حتى يحكموك الخ). په تفسیر کی دحضرت امام جعفر صادق نه نقل دی : که چېرته کوم قوم دالله تعالی عبادت کوي او لمونځ ، روژه ، حج او زکات ټول اداکړي مګر درسول الله صلی‌الله علیه وسلم دکوم یو عمل په باره کی داعتراض په طور دا ووایي : چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم داولې کړی؟ اویا دده دکوم حکم متعلق په زړه کی تنګي محسوس کړي نو دروژی او لمونځ وغیره اعمالو کولو باوجود هم هغه دکافر او مشرک په حکم کی دی ، (روح المعاني ۵/ ٦٥).

یو ځلې امام ابو یوسف رحمه الله حدیث بیانولو چی "كان رسول الله صلی‌الله عليه وسلم يحب الدباء" یعني درسول الله صلی‌الله علیه وسلم به کدو خوښولو ، یو شاګرد فوراً وویل ، مګر زه خویې نه خوښوم ، امام ابویوسف رحمه الله دتورې په راویستو وفرمایل : توبه وباسه که نه مړ کوم دی ، (مرقات شرح مشکواة ۳/ ٦٦ مطبوعه ملتان باب الجماعة وفضلها).

خلاصه دا: که چېرته حافظ دخپل دغه قبیح عادتونو دپرېښودو عهد وکړي نو هغه د تراویحو امام جوړولې شي او که انکار وکړي نو داسې سړی دامامت دمنصب لائق ندی او پدی وجه که لمونځ ګذار ورنه خفه وي نو خفګان یې په حقه دی ، په حدیث کی دي : که دشرعي سبب په وجه مقتدیان له امام نه خفه وي نو هغه امام پسې لمونځ نه قبلیږي ، په درمختار کی دي : (ولو ام قوماً وهم له كارهون ان الكراهة لفسادفيه اولأنهم احق بالامامة منه كره له ذلك تحريماً لحديث ابی داود ۱/ ۹۵ ،) "لايقبل الله صلوة من تقدم قوماً وهم له كارهون"(درمختار مع الشامي ۱/ ۵۲۲ باب الامامة) او په ابوداود شریف کی دي : "ان رجلا ام قوماً فبصق فی القبلة ورسول الله صلی‌الله عليه وسلم ينظر فقال رسول الله صلی‌الله

علیه وسلم حین فرغ لایصلی لکم فاراد بعد ذالک ان یصلی لهم فمنعوه واخبروه بقول رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فذکر ذالک لرسول الله صلی‌الله علیه وسلم فقال نعم وحسبت انه ، قال انك آذیت الله ورسوله ، صلی‌الله علیه وسلم"

ترجمه یعنی یوسړی دیو قوم امامت وکړ اوپه لمانځه کی یې قبلې طرف ته توکړ لې اورسول الله صلی‌الله علیه وسلم ورته کتلې او کله چی لمونځ وشو نو وی فرمایل : داسړی دی آینده کی تاسوته لمونځ نه درکوي بیاچی بل وخت کی دلمونځ ورکولو اراده وکړه نو خلکو منع کړو اودرسول الله صلی‌الله فرمان یې ورته واورولو ، هغه داخبره رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ته وکړه (چی خلک می لمانځ ته نه پریږدي او وایي چی تاسو منع کړیدی) رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ورته وفرمایل چی او (ما منع کړیدی) راوي وایي چی زماګمان دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : چی تا (قبلی طرف ته په تو کولو سره) الله اوالله درسول ته تکلیف رسولې دی ، (ابوداود شریف ۱/۷٦ باب کراهیة البزاق فی المسجد).

لدینه ثابتیږي چی امام باید دشرعي احکامو پابند وي اودسنت مطابق دژوند تیرولو عادت ولري، لهذا که حافظ صاحب خپل طرز زندګي بدلولو ته تیار وي نو بیا یې امام جوړولې شئ او که نه دامامت مقدس منصب دی ورته نشي سپارل کیدی .فقط والله اعلم.

خصي او ایجړا پسې لمونځ ولې مکروه دی حال داچی هغه کلمه وایي؟

۱۳۸_ سوال : دفتاوی رحیمیه خلورم جلد(۲۱۳) نمبر سوال (جدید ترتیب کی په همدی باب کی " چاچی نسبندي کړی وي هغه پسې لمونځ کول " څنګه دي) ترعنوان لاندی ص۱۷۸\۴ وګورئ مرتب.

په خواب کی تاسو لیکلي دي : "خصي او ایجړا لره امام جوړول جائز ندی ،لمونځ مکروه کیږي " .څوک چی نسبندي کوي اګرکه پخپله خوبنه یې کوي مګر هغه کلمه

خو وايي . ايمان خو يې صحيح دی بيا هم هغه پسې لمونځ صحيح نه دی . دادسري په ذهن کی نه راځي، په ځواب ورکولو سرد ممنون وګرځوی . مهرباني

ځواب: ستاداشکال ځواب هم هلته موجود دی چې داحرکت حرامه مثله ده . مثله يعنی دبدن اعضا داصلي خلقت نه بدلول اودا حرام دی . داخو ضروري ندی چې دهر کلمه ويونکې امامت صحيح شي ، ښځه هم کلمه وايي مګر ددی امامت صحيح ندی . نابالغ هم کلمه وايي ليکن امام يې صحيح ندی ، بدکار زناکار فاسق او فاجر هم کلمه وايي مګر دداسې شخص امام جوړول شرعاً جائز ندی . او همداراز په خپله خوښه خصي جوړيدونکی ته دامامت اعلی منصب ورکول صحيح ندی ځکه چې خصي کيدل حرام دی ، وګورئ فتاوی رحيميه دويم جلد(۲۳٦) صفحه ، جديد ترتيب کی دخطر او اباحه کی (برتھ تولد) کنټرول لپاره چې مجبور کړی شي نو څه علاج دی) عنوان لاندی ص۱۸۲ مرتب ، فقط والله اعلم .

دناواده شوي امامت

۲۳۹ _ سوال : ځيني خلک وايي چې دچانکاح نه وي شوی دهغه امامت جائز ندی، او امام صاحب وايي : زه ددين علم حاصلوم دفارغيدونهٔ وروسته به نکاح کوم، دچاخبره صحيح ده . ناواده شوی سړی امامت کولې شي يانه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: دامامت صحيح کيدو لپاره واده کول شرط ندی ، کله چې دپاکبازي ژوند تيروي اودعلم دين په حاصلولو کی مشغول وي او دتعليم پوره کيدو نه وروسته دواده خبره کوي ن وېدی کی څه بدي ده ؟ کوم خلک چې خامخا ده پسې شويدي او امامت ناجائز ګرځوي هغوی زياتې کوي، که اوس واده وشي او تعليم يې پاتې شي نو دده په حق کی څومره لوی نقصان دی ، البته که چيرته دتعليم پوره کيدو په دوران کی په ګناه کې دمبتلا کيدو خطره وي ، نو بيا مقتديانو ته پکار دي چې دواده انتظام وکړي ، فقط والله اعلم .

شافعي امام چې وترپه دوه سلامونو سره اداکوي حنفي وریسې اقتداء کولې شي یانه؟

۲۴۰_سوال په رمضان المبارک کې وتر جماعت سره اداکیږي زمونږ پدې علاقه کې زیاتره دشوافعو جوماتونه دي او دوی وتر په دوه سلامونو کسره کوي ایا حنفیان شافعي امام پسې وتر په دوه سلامونو سره اداکولې شي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب: صحیح قول دادی چې که چېرته شافعي امام وتر په دوه سلامونو سره کوي نو حننفي مقتدي دی وریسې اقتداء نه کوي ، په همدې کې احتیاط دی ، په طحطاوي علی مراقي الفلاح کې دي: "وان لا بقیطع وتره بسلام علی الصحیح" (طحطاوي ص۱۲۰ باب الوتر).

اوپه درمختار کې دي : "وصح الاقتداء فیه (ای فی الوتر) بشافعي لم یفصله بسلام ، لا ان فصله (علی الاصح)" (درمختار ۱/ ۶۲۵ باب الوتر والنوافل) فقط والله اعلم.

دبدعتي دامامت حکم

۲۴۱_ سوال: زمونږ دمحلې دجومات امام صاحب بدعتي دی اونور جوماتونه کوم چې صحیح العقیده امامان پکې دي هغه زیات لرې دی اوتلل ورته مشکل دی نو داسې امام پسې لمونځ کول څنګه دی ؟ جماعت پرېښودو ته مو زړه نه کیږي ، زما یو دوست واي : ده پسې لمونځ وکړه او ځانله یې بیا راوګرځوه ، شرعي حکم څه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني.

ځواب : که په یقین سره ددی خبرې علم وي چې دامام عقائد کفري او شرکي دي هغه بدعقیده دی دغسې سړي پسې لمونځ کول جائز ندي، او که په یقین سره ددی خبرې علم نه وي نوبیا که نور جوماتونه ډیر لرې وي اوپنځه وخته حاضریدل ورته مشکل وي نو مجبوراً داسې امام پسې لمونځ وکړئ دځانله لمونځ کولو نه داسې امام پسې لمونځ کول بهتر دی خکه چې دجماعت اهمیت زیات دی دداسې بدعتي سړي امام جوړولو چې کوم کراهیت اوخرابي دی دهغه ذمه واري په امام

اوده په مقررونکو باندی دی او جماعت نه وروسته دلمونځ دراګرځولو ضرورت نشته ، په فتاوی عالمګیري کی دي :

"لایجوز الصلوٰة خلف صاحب الهوی وبدعة ولایجوز خلف الرافضی والجهمي والقدری والمشبهة ومن یقول بخلق القرآن وحاصله ان کان هوی لانکفر به صاحبه یجوز الصلوة خلفه مع الکراهة والا فلاهکذا فی التبیین ، والخلاصة وهو الصحیح هکذا فی البدائع" (فتاوی عالمګیري ص۵۲ باب ۵ فی الامامة فصل نمبر۳).

اوپه فتاوی رحیمیه کې دي " که چېرته دبدعتي بدعت اوبداعتقادي مفضی الی الکفر وي نو بیا دهغه امامت په هیڅ حالت کی هم جائز ندی " (فتاوی رحیمیه ۱/ ۱۶۵ (جدید ترتیب کی په همدی باب کی "دفاسق ، فاجر اوبدعتي دامامت څه حکم دی ؟" ترعوان لاندی ص۱۷۰ وګورئ مرتب .)) .

اوپه درمختار کی دي :

"(ویکره) ......(ومبتدع) ای صاحب هوی ....(لایکفربها) (وان کفربها) کقوله ان الله تعالی جسم کالا جسام وانکاره صحبة الصدیق (فلا یصح الاقتداء به اصلا) فلیحفظ..... وفی النهر عن المحیط صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة (درمختار) " اوپه شامي کی دي: "(قوله، نال فضل الجماعة) فادان الصلوة خلفهمااولی من الانفراد لکن لاینال کما ینال خلف تقی ورع لحدیث من صلی خلف عالم تقی فکانما صلی خلف نبی (درمختاروالشامیص۵۲۳، ص۵۲٤ ص۵۲۷ ج اول باب الامامة)".

او فتاوی رحیمیه اردو۴/ ۳۴۹ ، ۳۵۰ ، (په همدی باب کی بدعتي او حقاني علماو ته بدرد ویونکي امامت ، ترعنوان لاندی ص۱۷۷ مرتب) . اوپه هدایه اولین کی دي : (ویکره تقدیم العبد .... والفاسق لانه لایتهم لامردینه وان تقدموا

جاز لقوله علیه السلام "صلو خلف کل بر وفاجر") (هدایه اولـین ۱/ ۱۰۱
باب الامامة) اوپه فتاوی رشیدیه کی دي
سوال کوم سړی چی رسول الله صلی‌الله علیـه وسـلم عیـب دان ګڼـي هغـه پسـې لمونځ صحیح دی یانه ؟
ځواب: کوم سړی چی رسول الله صلی‌الله علیـه وسـلم علـم غیـب کـوم چـی دالله تعالی خاصه ده ثابتوي هغه لمونځ صحیح ندی (په حاشـیه کـی دي : "لانه کفـر فلایصح الاقتداء به اصلاً، کذافی الدر المختار "(فتاوی رشیدیه ص۴۸ حصـه دریم مطبوعه کتب خانه رحیمیه ستهري مسجد دهلي) فقط والله اعلم.

دګیری بونډی کونکی سړی امام جوړول او وریسې لمونځ کول څنګه دی؟

۲۴۲_سوال . زید امامت کوي اودی خپله ګیره لنډوي او یـو مـوټې نـه کمـه ده ، دداسې سړي امام جوړول او وریسې لمونځ کول څنګـه دی ؟ امـام صـاحب متوجـه کړی شو خو هغه څه پروا ونه کړه، ګیره څومره پریښودل سنت دي داپه تفصیل سره بیان کړئ ترڅو خبره بالکل صفا شي ، مهرباني.
ځواب: سړو لپاره دګیرې پریښودل واجب دی ، داګیره پریښودل اوساتل اسـلامي او قومي شعار دی دټولو انبیاء کرامو متفقه او مستمره سـنت دې پـه حـدیثو کـی ددی ډیر زیات تاکید بیـان شـویدی ، وګـورئ فتـاوی رحیمیـه شـپږم جلـد (۲۳٦) صـفحه (دایمان او عقائدو باب کی دګیرې وجوب اود ملازمت په وجه ددی کلول، ترعنوان لاندی ص۱۰۵ وګورئ مرتب) اودګیرې شرعي مقدار یوه قبضه یعنې یو مـوټی دی ، امام محمد په کتاب الاثار کی لیکي : "والسنة فیها القبضة وهو ان یقبض الرجل لحیته فمازاد منها علی قبضة قطعه". یعنی دګیرې مسنون مقدار یوه قبضـه ده اودا داسې چی ګیره موټی کې ونیسي کوم چی زیاتي وي هغه دی کټ کـړي ، (کتـاب الاثار ، فتاوی رحیمیه ۴/ ۱۷۷) اوپه درمختار کـی دي : "ولابأس بأخـذ اطـراف

اللحية والسنة فيها القبضة"او شامي كې دي "(قوله والسنة فيها القبضة) وهو ان يقبض الرجل لحيته فمازاد منها على قبضة قطعه ، كذا ذكر محمدفى كتاب الآثار عن الامام قال وبه نأخذاه". يعنى په ږيره كې مسنون مقدار يوه موټى دى لهذا كومه چې له موټې نه زيات شي هغه دى كټ كړي اوهمدا دامام ابو حنيفه رحمه الله قول دى : (درمختار وشامي ۵/ ۳۵۰ كتاب الحظر والاباحة).

اوبل ځاى كې ليكي : "واما الأخذ منها وهى دون ذلك كما يفعله المغاربة ومخنثة الرجال فلم يسبحه احد واخذ كلها فعل هنود الهند ومجوس الاعاجم"(درمختار وشامى ۲/ ۱۵۵).

په غايه الاوطار ترجمه اردو درمختار كى دي : اودږيرې كټ كول پداسې حال كې چې يوه موټى نه كمه پاتې شي لكه چې بعض غريبان او محنت كوي نوديته هيڅاهم مباح ندى ويلې اوټول كلول دهندوستان هندوانو اودمجوسيانو كار دى اوطريقه ده (غاية الاوطار ۱/ ۵۲۴ باب مايفسد الصوم وما لايفسده).

په فيض البارى شرح دبخاري كې دي : "واما قطع مادون ذلك فحرام اجماعاً بين الائمة رحمهم الله" يعنى ږيره كټ كول چې دقبضې نه كمه پاتې شي په اتفاق دائمو سره حرام دى.(فيض الباري شرح بخاري ۴/ ۳۸۰ فيما يصلح امام لغيره) اوپه نصاب الاحتساب كې دي : مسئله : هل يجوز حلق اللحية كما يفعله الجوالقيون؟ .(الجواب) لايجوز ذكره فى كراهية التجنيس والمزيد وفى جنايات الهداية وقال عليه السلام: احفوا الشوارب واعفو اللحى اى قصوا الشوارب واتركوا اللحى ولاتحلقوها ولا تقطعوها ولا تنقصوها فى القدر المسنون وهى القبضة"

ترجمه : دږيرې كلول جاىٔ دي يانه :

ځواب: دالتجنيس والمزيد په كتاب الكراهيه اودهدايه په باب الجنايات كې ذكر شويدي : چې دږيرې كلول جائز ندى ، رسول الله صلى‌الله عليه وسلم ارشاد فرمايلې دى : خپل بريتان واړه كړئ او ږيرې اوږدې كړئ داپخپل حال باندى

پريږدي اود مسنون مقدار نه مه كوئ اوهغه يوه قبضه ده (نصاب الاحتساب ص۱۴،۱۵ باب نمبر٦ قلمي) په مالابند كې دي : تراشيدن ريش بيش از قبضه حرام است، يعني دګيرى كلول اويوى موټى نه كمول حرام دى ، (مالا بدمنه ص۱۳۰).

پورتنې ټولې حوالې له فتاوى رحيميه نه اخستل شويدي ، او مزيد حوالې په فتاوى رحيميه (۲۳٦_ ۲۵۰) شپږم جلد كې وګورئ او (جديد ترتيب كې " دامام او عقايد باب كې "دګيرې وجوب او دملازمت په وجه ددى كلول " تر عنوان لاندى ج۱ص۱۰۵ وګورئ) .

ددى رواياتو او اقوالو خلاصه داده : چې دګيرې ساتل واجب دي اويوه قبضه سنت مؤكده ده لدينه كمول مكروه تحريمي دي او دافعل موجب دفسق دى په فتاوى دار العلوم كې دي : يوه قبضه ګيره ساتل سنت دى لدينه كمول د ګيرې كلولو په حكم دى اوداحرام دى (فتاوى دار العلوم ۳/ ۱۲۸ مدلل مكمل).

امامت يو عظيم منصب دى دګيرې پشان عظيم الشان سنت په اداكولو كې كوتاهي كول او دمسنون مقدار رعايت نه كول دامامت له منصب نه بالكل خلاف دى ، ګيره كلول اوياكټ كول ښكاره دفسق علامه ده اوداسې شخص ښكاره فاسق دى پدى وجه امام صاحب باندى لازم دي چې لدې خپل حركت نه توبه وكړي او دمسنون مقدار مطابق ګيره وساتي اوكه دغه خپل حركت نه پرېږي نو بيادده امامت مكروه دى اوداسې شخص دى دامام په عظيم منصب باندى نشي پاتې كولې معزول او لرې دى كړى شي ، په شامي كې دي : (واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لايهتم لأمردينه وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعاً) (شامي۱/ ۵۲۳، ۵٦۱ باب الامامة).

يعنى دفاسق دامام نه جوړولو علت اودليل علماو دابيان كړى چې هغه خپل ديني كارونو اهتمام نه كوي ، اوداسې شخص په امام كولو كې دده تعظيم لازميږي او حال داچې شرعاً هغه داهانت قابل دى (شامي ۱/ ۵۲۳).

په فتاوى رحيمه كې دي : امام متقي ، پرهيزګار اوپه ظاهر كې له ګناه پاك اوصفاكيدل پكار دي ، په حديث شريف كې دي : "وقد وردعن ابن عمر رضى الله عنه مرفوعاً اجعلوا ائمتكم خياركم فانهم وفد كم فيما بينكم وبين ربكم رواه

البيهقي بسند ضعيف وفي رواية ان سركم ان تقبل صلوتكم فليئومكم علمائكم فانهم وفدكم ، فيما بينكم وبين ربكم رواه الطبراني وفي رواية الحاكم فليؤمكم خياركم وسكت عنه".

ترجمه : كه چېرته تاسو غواړئ چی لمونځونه مو دقبولیت درجې ته ورسېږي نو څوک چی په تاسو کی زیات متقي او پرهیز ګار وي هغه دی ستاسو امام شي څکه چی امام ستاسو اوستاسو درب ترمنځ قاصد دی (شراح نقايه ۱/ ۸٦) الی قوله ، په حديث شريف کی دي : "لايؤم فاجر مؤمنا" يعنی فاسق او فاجر دی دکوم مومن امامت نه کوي (ابن ماجه) داسې امام پسې لمونځ مکروه دی اوددی امام جوړول ګناه دی ، په کبيري کی دي : لو قدموا فاسقاً يأثمون . يعنی كه چېرته فاسق سړی امام جوړ کړي نو ګنهګاريږي .(کبيری ص۴۷۹) .

يوه قبضه ګيره ساتل ضروري دي ، شارح دمشکوای حضرت شاه عبدالحق محدث دهلوي فرمايي : وګذاشتن آن بقدر قبضه واجب است ، يعنی يوه موټی ګيره ساتل واجب دي .(اشعة اللمعات ۱/ ۲۸۸)

قاضي ثناء الله محدث پاني پتي فرمايي : "تراشيدن ريش بيش ازقبضه حرام است" (مالا بدمنه ص۱۳۰) .لهذا ګيره کلول اودومره کمول چی يوه موټی نه کمه پاتې شي حرام دی ، پدې لحاظ سره هم دغه امام فاسق دی اودفاسق امامت مکروه دی .(هدايه اولين ۱/ ۱۰۱) .لهذا داسې فاسق (بدکار) امام لرې کول ضروري دي که متولي داسې امام لرې نکړي نو بل جومات کې دی لمونځ وکړي او که بل جومات نه وي نو مجبوراً ده پسې لمونځ وکړئ، (په حديث کې دي ، صلوا خلف كل بردفاجر، (هدايه اولين ۱/ ۱۰۱) . څکه چی دجماعت پرېښودل هم صحيح ندی دجماعت لوی فضيلت اواهميت دی ، علماو په جماعت سره لمونځ کولو ته واجب هم ويلي دي فلهذا جماعت مه پرېږدئ، البته ددغه امام دلرې کولو کوشش وکړئ (فتاوی رحيميه ص۱۷۵ ،۱۷٦) (په همدې باب کی " دفاسق امامت " تر عنوان لاندی ج۴ ص۱۷۳ وګورئ مرتب.)

په فتاوی دار العلوم کی دي :

سوال ۸۳۳ دزید ګیره کټ کړی شو دیوه دوه ګوتو په مقدار پاتې ده اوپوره څلور ګوتې نده ده پسې لمونځ جائز دی یانه ؟
ځواب: په درمختار کی دي چې دڅلورو ګوتو نه کمه ګیره کټ کول حرام دی "واما قطعها وهی دونها فلم يبحه أحد" او داهم په درمختار کی دي : "ولـــذايحرم على الرجل قطع لحيته" نو دذکر شوي سړي پسې لمونځ مکروه دی اګرکه په حکم د "صلوا خلف کل بروفاجر" ورپسې لمونځ کيږي ليکې دداسې کس امام جوړول ندي پکار ."لان فی امامته تعظيمه وتعظيم الفاسق حرام" شامي فقط (فتاوی دار العلوم مدلل ومکمل ۳/ ۱۸۱ باب الامامة ، فقط) .

دجومات امام ته دکرکټ لوبه کول او ورسره شوق لرل څنګه دی؟

۲۴۳ـ سوال : يو امام صاحب دکرکټ دلوبې شوقي دی اودميچ يعنې دلوبی کومينټري (کاروايي اونتائج ډير په اهتمام سره اوري دداسې امام پسې لمونځ کول څنګه دی؟ دکتابونو دحوالې سره جواب ورکړئ مهرباني.
ځواب: په درمختار کې دي : "وکره کل لهو لقوله عليه السلام : کل لهو المسلم حرام الا ثلاثة ملاعبته اهله وتأديبه لفرسه ومناضلة بقوسه(درمختار) " شامي کی دي : "(قوله وکره کل لهو) ای کل لعب وعبث الی قوله ، والتصفيق وخرب الاوتار.... فانها کلها مکروهة لانها زی الکفار" (درمختار وشـــامی ۵/ ۳۴۷، ۳۴۸، کتاب الحظر والاباحة فصل فی البيع) . دشامي بل ځای کې دي : "وفی القهساني عن الملتقط من لعب بالصـــولجان يريـــد الفروســـية يجـــوز وعـــن الجواهرقدجاء الاثر فی رخصة المصارعة لتحصيل القدرة علـــی المقاتلـــة دون التلهی فانه مکروه (شامي ۵/ ۳۵۵ کتاب الحظر والاباحة فصل فی البيـــع) "
اوپه هدايه آخرين کی دي : ويکره اللعب بالشطرنج والنرد والاربعة عشرو کل

لهو لانه ان قامرها فالميسر حرام بالنص وهو اسم لكم قماروان لم يقامر بها فهو عبث ولهو وقال عليه الصلوة والسلام لهو المومن باطل الا الثلاث تاديبه لفرسه ومنا ضلته عن قوسه وملا عبته مع اهله ...... ثم ان قامر به (اى بالشطرنج) تسقط عدالته وان لم يقامر الا تسقط لانه متاول فيه (هدايــه اخيريــنص۴۵۹ كتاب الكراهية فصل فى البيع).

په خلاصة التفاسیر کې دي: که چیرته تول هغه کارونه مراد کړی شي کوم یـواځی د زړه خوشحالولو لپاره کیږي او څه دنیاوي او دیني فائده پکی نه وي نو دا کارونـه د وخت د ضایع کولو په اعتبار سره حرام دي او دا حرام د ترک اولی په ځای دي ، او که چیرته هغه لوبی مراد کړی شي چی قمار (جواري) او یا څه بل قسم شرعي ممانعت پکی وي او یا دومره زیات پکی لګیدلی وي چی سړی بالکل د زنـدګي لـه کاروبار غافل او یا معطل پاتی شي لکه څنګه چی سړی په پتـنګ بـازی او یـا کـونتر بازی کی دومره زیات لګیدلی او محوه شوی وي چی بالکل خپـل ځـان ترینـه هـیر وي نو ددی په حرام او مکروه کیدو کی هیڅ شک نشته (خلاصة التفاسیر ج ۱ ص ۱۵۶ ، ۱۵۷) .

او همدارنګه فرمائي : هر هغه لوبه چی ګټل او بیلـل پکـی وي هغـه پـه قمـار کـی داخل ده او په نص د قرآن سره حرام ده ، (خلاصـــة التفاســـیر ج ۱ ص ۱۵۶ تحت الاية يسئلونك عن الخمر والميسر) .

پدی ذکر شوی حوالو سره دا خبره ثابتیږي چی هغه لوبه چـی د قمـار (جـواری) صورت پکی وي هغه بالکل حرام ده لکه چی د هدایه آخرین او خلاصة التفاســیر له عبارتو څخه واضح کیږي (۲) هغه لوبه چی دیني او دنیوي فائده پکی نه وي هغه هم پدی وجه ناجائز ده چـی پـدیکی قیمتـي وخـت ضـائع کـول دي لکـه چـی د خلاصة التفاسیر له عبارت نه واضح کیږي (۳) او هغه لوبه چی قمار (جواري) پکی نه وي او څه دیني یـا دنیـوي فائـده پکـی وي د هغـه ګنجـائش شـته لکـه چـی د قهستاني له عبارت نه کوم چی شامي نقل کـړی دی معلومیـږي لـیکن دا ګنجـائش پدی شرط دی چی پدیکی څـه ناجـائز٘او د شـریعت خـلاف کـار نـه وي لکـه چـی

حضرت مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله لیکي : (ب) په کومه لوبه کی چی څه دیني او یا دنیوي د اعتبار وړ فائده پکی وي هغه جائز ده په شرط د دی چی د شریعت خلاف کوم کار پکی ونه لیدل شي یعنی گډ نه وي او د خلاف شریعت کارونو په جمله کی کافرانو سره مشابهت هم دی (ج) د کومی لوبی نه چی څه دیني یا دنیوي فایده مقصود وي لیکن پدیکی څه ناجائز او خلاف شریعت کار یوځای شي نو هغه هم ناجائز کیږي لکه غشی ویشتل او یا د آسونو زغلول وغیره کله چی پدیکی د قمار صورت پیدا شي د دواړو خواو نه څه د مال شرط ولګول شي نو هغه هم ناجائز گرځي (فتاوی دار العلوم قدیم جلد ۷ ، ۸ ص ۲۸۵ امداد المفتین) .

پدی موجوده زمانه کی کرکټ داسی یوه لوبه گرځیدلی ده چی عام طور سره خلاف شریعت کارونه پکی لیدل کیږي ، د لمونځونو قضاء کول او پدی باندی د گټي او بیللو قمار (جواري) کول د فاسقانو و فاجرانو او دغافل قسم خلکو دغه لوبه اختیارول ، او د غفلت خو دا حد دی چی د ورځی خو پریده اوس خو د شپی هم پدی لوبو کی لگیا وي ، او د کرکټ د میچ په وخت کی د ځوانو جینکو او ښځو په میدا کی جمع کیدل او معلومه نده چی کوم کوم اخلاقي او شرعي خرابیانې پکی راغلي دي ، او دا تجربه ده چی څومره پکی شوق او مشغولتیا زیاتیږي نو همدومره ورسره غفلت هم زیاتیږي ، شپه او ورځ یواځی په همدی فکر او سوچ کی وي ، تر دی چی جومات ته د راتلو نه وروسته هم د اودس په وخت کی او د اودس څخه د فارغیدو نه وروسته او ډیر شوقیان خو په جماعت خانه یعنی دلمانځه په کوټه کی هم پدی بحث او مباحثه کی لگیا وي ، دی حد ته خبره رسیدلی ده چی که رمضان المبارک کی د تراویحو په وخت د میچ کومنټري او اعلان شروع شي نو د دی ډیر شوقیان تراویح هم پری قربانوي او کوم شوقیان چی جومات ته راغلي وي د دوی توجه او فکر هم یواځی همدی طرف ته وي ، په تراویحو کی د تسبیح ویلو په ځای په دی فکر کی وي چی د میچ حال معلوم کړی شي او په گټلو او بیللو باندی پټاخی الوزولی شي چی پدیکی د غیر قوم سره مشابهت سره سره د مال ضایع کول هم دي او ډیر کرته دغه حرکت د قومي فساد سبب هم جوړیږي او د مسلمانانو ځاني او مالي نقصان هم کیږي ، د دغو ټولو حالاتو په کتلو سره اوس دغه لوبی ته څنګه جائز ویل کیدی شي ؟ لکه څنګه چی حضرت مفتي محمد شفیع صاحب لیکي

نن صبا خنګه چی عام طور سره دغه شرائط (د کومو بیان چی د فتاوی دار العلوم په حواله ذکر شو) موجوده لوبو (ټینس ، فټ بال ، کرکټ) کی موجود ندی پدی وجه ورته ناجائز ویل کیږي الخ (فتاوی دار العلوم قدیم ج ۷ ، ۸ ص ۲۸۵ امداد المفتین) .

لهذا داسی بو شخص چی دامامت پدی عظیم منصب باندی مقرر وي هغه لره دغسی بدنام او بیکاره او لغوه لوبو کی مشغولیدل او ورسره شوق لرل کومنټري اوریدل قطعا د ده د شان سره لائق ندي او د غافلانو سره مشابهت هم لازمیږي او د خلکو په نظر کی د امام وقار او عزت هم کمیږي ، که چیرته ورزش او د بدن تقویت مقصود وي نو نور جائز طریقی دي غوره کړي ، که چیرته یو سړی په کرکټ کی دومره زیات لګیدلی او ننوتی وي چی لمونځ ورنه قضاء شي او جماعت ترینه پاتی شي نو بیا داسی لوبه بالکل ناجائز ده او موجب د فسق ده او د داسی کس امام جوړول مکروه تحریمي دي ، په کبیری کی دي : "وفیه اشارة الی انهم لو قدموا فاسقاً یأثمون بناء علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم" (کبیری ص ۴۷۹ فصل فی الامامة) .

وخت د الله تعالی ډیر لوی نعمت دی د دی چی څومره هم قدر وکړی شي کم دی د داسی لغوه او بیکاره لوبه کی مشغولیدل او یا کومنټري (نتائج او کاروائي) اوریدو کی د آخرت کومه فائده ده ؟ بلکی تاوان او تاوان دی ، د الله تعالی د ذکر نه غافل کونکی شی دی او کوم خیز چی انسان د الله تعالی او د ژوند له مقصد نه غافل کوي هغه منحوس او بیکاره دی ، په حدیث کی دي : "من حسن اسلام المرء ترکه ما لا یعنیه" ترجمه : د انسان د اسلام خوبي دا ده چی هغه خبرد پریدي چی څه فائده پکی مقصود نه وي (ترمذی شریف ج ۲ ص ۵۵ باب من تکلم بالکلمة لیضحك الناس).

د قیامت په ورځ د عمر او خاص طور د ځپلی ځوانی حساب ورکول دي چی دا دی په کومو کارونو کی لګولی او خرج کړیدی ، په حدیث کی دي : "عن ابن مسعود رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لاتزول قدما ابن آدم

یوم القیامة من عند ربه حتی یسأل عن خمس عن عمره فیما افناه وعن شبابه فیما ابلاه وعن ماله من این اکتسب وفیما انفقه وماذا عمل فیما علم"

ترجمه حضرت ابن مسعود رضی الله عنه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : بني آدم د قیامت په ورځ د خپل رب له خوا نه خپل قدمونه نشي پورته کولی څو پورې چې دپنځو خبرو تپوس ورنه نه وي شوی (۱) د عمر په باره کې چې په کومو کارونو کې دی لګولی او ختم کړی ؟ (۲) د ځوانی متعلق چې په څه کې دی مصرف کړی ؟ (۳) د مال په باره کې چې له کوم ځای نه دی حاصل کړی ؟ (۴) په کومو کارونو کې دی خرچ کړی ؟ (۵) او پخپل علم دی څومره عمل کړی ؟ (ترمذی شریف ج ۲ ص ٦٤ باب ماجاء فی شان الحساب والقصاص) .

لهذا کوم وخت چې ملاو شي دغه ډیر قیمتي سرمایه وګڼئ او په ډیر ذمه واری او سوچ سره د مرګ او د آخرت په تیاری کې ولګوئ په بیکاره او لغوه کارونو کې یې مه ضائع کوئ ، شیخ سعدي رحمه الله ډیره ښه خبره کړیده : ع

جز یاد دوست هرچه کنی عمر ضائع است

جز سر عشق هر چه بخوانی بطالت است

یعنی د ذکر الهي نه علاوه په بل څیز کې مشغولیدل دعمر ضائع کول دي او د عشق الهي نه سیوا چې هر څه وکړی شي هغه بیکاره او عبث دي ، فقط والله اعلم .

په پټی باندی د مسح کونکي امامت :

(۲۴۴ سوال) د یو سړي ګوته پریکړی شوی او زخم ډیر زیات او ژور دی پدی وجه یی پټی ورباندی لګولی ، اودس لپاره د دی څپرول نقصان کوي پدی وجه هغه په پټی باندی مسح کوي او هغه امام هم دی نو په پټی باندی دمسح کولو په حالت کی امام کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : پدی ذکر شوی مسئله کی د شرعي عذر په وجه چې پټی لګولی دی او وینه ترینه نه څي او مسح ورباندی کوي نو هغه امامت کولی شي ، په فتاوی عالمګیري کی دي : "ویجوز اقتداء الغاسل بماسح الخف وبالماسح علی الجبیرة وکذا امامة المفتصد لغیره اذا کان یأمن خروج الدم" (فتاوی عالمګیری ج ۱ ص ۸٤ فصل

فيمن يصلح اماماً لغيره) او په مراقي الفلاح کی دي : "وصح اقتداء غاسل بماسح على الخف او جبيرة او خرقة قرحة لايسيل منها شيئ" (مراقي الفلاح مع طحطاوی ص ۱۶۱ باب الامامة) فقط والله اعلم .

ځوی چی د شرعي حلالی نه بغير ښځه ځان سره وساتي د هغه پلار پسی لمونځ کول څنګه دي ؟

(۲۴۵ سوال) يو سړي خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل او اوس هم هغه ښځه ورسره اوسيږي او هغه وائي چی ما حلاله کړی ده ليکن پلار يی پدی باندی بالکل يقين نه کيږي نو پدی باندی سخت خفه دی او د ده ښځی ته د جدا کيدو وينا هم کوي ليکن هغه يی نه مني اوس د داسی هلک پلار پسی لمونځ کولی شو او که نه ؟ او دهغه پلار اذان کولی شي يا نه او دمکتب هلکانو ته درس ورکولی شي يا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : که پلار واقعاً د ځوی پدی حرکت باندی خفه وي نو دځوی په وجه باندی پلار باندی طعن کول او يا د دی ذمه وار ګرځول صحيح ندي ، په قرآن مجيد کی دي: "ولاتزر وازرة وزر اخرى" ترجمه : يعني هيڅوک به د بل بوجه او ګناه نشي پورته کولی (قرآن مجيد سورت فاطر) لهذا پدی مسئله کی پلار پسی بغير د کراهت نه لمونځ کول جائز دي او همداراز اذان کول او د مکتب هلکانو ته درس ورکول هم جائز دي ، البته پدی مسئله کی کله چی پلار ته د حلالی په باره کی د ځوی په خبره يقين نه وي نو لازم دي وربانذی چی ځوی ته د خپلی ښځی نه د جدا کيدو وينا وکړي او د ده پوره کوشش وکړي او د شرعي حلالی نه بغير د ښځی د ساتلو مخالفت وکړي ، که چيرته ځوی د پلار د خبری منلو ته تيار نه وي او بغير د حلالی نه د خپلی ښځی ځان سره ساتلو باندی اصرار کوي نو دغسی ځوی د ځان څخه جدا کړي او خپله ورنه جدا شي ، که چيرته پلار د ځوی جدا کولو ته تيار نه وي نو پدی صورت کی د ده امامت اشتباهي کيږي او مقتديان بيا دده امامت نه لری کولو کی حق په جانب ګرځي ، فقط والله اعلم ، ۴ ذی الحجه ۱۴۱۳هـ .

د فاسق او بدعتي امامت :

(۲۴۶ سوال) څمونږ د جومات امام بـدعتي دی ، پیښـی یی د ګیټـو نـه لانـدی او انګریزي ویښته ساتي ، د امامت له احکامو او قرائـت سـره ناآشـنا دی او ګـیره هـم لنډوي او د دغه امام په لری کولو باندی هم زمونږه قدرت نه رسیږي ځکـه چـی د جومات کمیټي والا څمونږ یوه خبره هم نـه آوري نـو ایـا دغـه امـام پسـی څمونـږه لمونځ صحیح دی ؟ که چیرته مونږه د مدرسی په حجره کی جدا جماعت وکـړو نـو پدیکی څه ګناه شته ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : دفاسق اوبدعتي امام جوړول ناجائز دی ، داسې امام پسې لمـونځ مکـروه تحریمـي دی : "واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعاً ولایخفي انه اذاکـــان اعلم من غیره لاتزول العلة فانه لایؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة فهو کالمبتدع فکره امامة بکل حال بل مشی فی شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمـــه کراهـــة تحریم لما ذکرنا" (شامی باب الامامة ج۱ ص۵۹) .

اودفاسق په مقابل کی دبدعتي پسې لمونځ کول په اعلـی درجـه مکـروه دی ځکـه چی فاسق خو ګناه ته ګناه وایي او ځان ته هم ګنهګار وایي چی پدې وجـه دتـوبی امید ترینه کیدی شي اوحال داچی بدعتي معاصي او ګناهونه (یعنـی هغـه بـدعات چی د سنت طریقې په خلاف بادی ایجاد شوی وي) عبادت او دثواب په ګټلو سـره کوي چی پدی وجه هغه له توبی نه محروم پاتې کیږي ، حضرت ثفیان ثوري رحمـه الله فرمایي : ابلیس ته بدعت له ټولو ګناهونو څخه زیات خوښ دی پدی وجه چـی دګناهونو نه خو توبه کیدی شي چی ځان لوی ګنهګار ګڼي نـو دتـوبی اوداستغفار امیدترینه کیږي اوبدعتي خـو داګڼـي چـی زه عبـادت کـوم او طاعـت کـی لګیـایم نوداسړی نه توبه کوي اونه استغفار . "روی عن سفیان الثوری انه کـــان یقـــول البدعة احب الی ابلیس من کل المعاصی لان المعاصی یتاب عنها والبدعة لایتاب عنها وسبب ذلك ان صاحب المعاصی یعلم بکونه مرتکب المعاصی فیرجی لـــه

التوبة والاستغفار واما صاحب البدعة فيعتقد انه فى طاعة وعبادة ولايتوب ولايستغفر "(مجالس الابرارالمجلس الثامن عشرص١٣٨).
که دداسې امام نه علاوه بل خوک دشریعت پابند سړی نه وي اویا ددی دلرې کولو قدرت نه وي نودمجبوري په وجه لمونځ مکروه ندی . "هذا ان وجد غير هم والا فلا كراهة (قوله هذا) اى ماذكر من امامة المذكورين" (شامى ١/ ٥٢٥ باب الامامة) . اوددی ذمه واري په امام اودده په مقررکوونکو باندی ده‌لهذا دجومات په پرینبودو سره دمدرسې په حجره کی دجدا جماعت کولو اجازت نشته . فقط والله اعلم.

دامام لباس باید څنګه وي؟

٣٤٧_ سوال. دمغربي طرز لباس (شرټ ، پتلون) اغوستونکی امام پسې لمونځ کیږي ؟

ځواب: لمونځ خو کیږي مګر د کراهت نه خالي ندی ، پداسی تنګ او چست لباس کی د رکوع او د سجدی په وخت کی د ستر د ځایونو (اندامونو) غټ والی او هیئت کذائي (څرنګوالی) په صاف طور باندی ښکاره کیږي او همداراز د کافرانو او فاجرانو سره د مشابهت په اختیارولو سره د عوامو خلکو د مرغوب لباس د اغوستو بی فائدی کوشش کول د امام د شان سره لائق او مناسب ندي .
په " ما لا بد منه " کی دي : " ومسلم راتشبه به کفار و فساق حرام است " (ص ١٢٤)
یعنی مسلمان لپاره کافرانو او فاسقانو سره مشاهبت کول حرام دي .
په حدیث شریف کی دي : رسول الله صلی الله علیه وسلم یو امام قبلی طرف ته په توکولو باندی ولید نو لمونځ ګذارو ته یی هدایت وکړه چی آئنده دی دا سړی ستاسو امامت ونکړي : "عن ابى سهلة السائب بن خلاد قال احمد : من اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم : ان رجلاً ام قوماً فبصق فى طرف القبلة ورسول الله صلى الله عليه وسلم ينظر فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم حين فرغ لايصلى لكم"(الحديث) ابوداؤد ج ١ ص ٦٩ باب كراهية البزاق فى المسجد .

لهذا امام ته پکار دي چې مروجه لباس پریدي د علماؤ او صالحانو لباس اختیار کړي ، یو عربي شاعر ډیر ښه ویلي دي :

فتشبهـــوا ان لم تکونوا مثلهم

ان الـــتشبه بالـــکـــرام فلاح

یعنی د نیکانو مشابهت اختیار کړئ اګر که تاسو د دوی پشان نـه یئ ځکـه چـې پـه حقیقت کې د صالحانو سره مشابهت کول (یعنی د دوی پشان اعمال ، وضع و قطـع او لباس اختیارولو کی) دیني او دنیاوئ کامیابي پټه ده ، فقط والله اعلم .

د فلم کتونکي امامت او تراویح :

(۲۴۸ سوال) کوم حافظان صاحبان چې سینما ګوري نـو پـه تراویحـو کـی د دوی امامت جائز دی ؟ یعنی تراویح ورپسی کیږي یا نـه ؟ د حـوالی سـره ځـواب ولیکـئ مهرباني .

ځواب : ذکر شوي حافظانو پسی تراویح کیږي او دوباره کولـو ضـرورت نشـته ، مګـر کوم فضیلت چې د متقي او پرهیز ګار امام پسی لمونځ کولو دی هغه نه حاصـلیږي ، لهذا څو پوری چې د رشتیاو او پاخه توبه نه وي کړی تر هغی پوری داسی شـخص د امامت په مقدس منصب باندی نشي مقررولی[1] .

د ګـیری لنـډونکی او تصـویر ویسـتونکی حـافظ د تراویحـو امامت:

(۲۴۹ سوال) یو حافظ قرآن ټول کال کـی ګـیره لنـډوي (د پنځـو کـالو نـه یی دا معمول دی) برای نام بونډی ګیره ده او علی الاعلان په مینه سره تصویرونه وباسـي ، د پردیو ښځو سره ساعت تیري لپاره ځي ، د لوبو پـه دوران کـی نیکـر (جـانګی) اچوي ، د دغو ذکر شوو کارونو مرتکب حافظ تراویح ورکولی شي ؟

---

[1]ـ وصلی خلف مبتدع او فاسق فهو محرز ثواب الجماعة لکن لاینال مثل ما ینال خلف تقي ، کـذا فی الخلاصة فتاوی عالمګیری، باب الامامة الفصل الثالث فی بیان من یصلح اماما لغیره ج ۱ ص ۸٤ .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د امامت منصب نهایت اعلی منصب دی . امام لپاره ډیر زیات احتیاط پکار دی ، امام باید متقي ، پرهیزګار او دشریعت پابند وي . که په سوال کی ذکر شوي کارونه حقیقت ولري نو داسی حافظ ته پکار دي چی خپل دغه حرکتونو نه په صداقت سره توبه وکړي او د شریعت خلاف کارونه پریدي لدینه وروسته بیا د تراویحو وغیره امام جوړ شي او که دخپل عادت نه توبه ونکړي او کلک پری پاتی شي نو د داسی سړي امامت مکروه تحریمي دی ، تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه ګجراتي اول جلد ص ۱۱۳ ، ۱۱۴ او فتاوی رحیمیه اردو ج ۷ ص ۲۷۱ _ ۳۷۵ (په همدی باب کی ذ ګیری لنډونکي سړي امام جوړول الخ عنوان لاندی ص ۱۹۱ وګورئ ، مرتب) او جلد اول ص ۱۵۹ _ ۱۶۵ (په همدی باب کی د فاسق ، فاجر او د بدعتي د امامت څه حکم دی ؟ عنوا لاندی ص ۱۷۰ وګورئ _ مرتب) فقط والله اعلم .

د لمونځ په دوران کی عقل کی نقصان راتلل او د داسی سړي امامت

(۲۵۰ سوال) پدی مسئله کی دیني عالمان څه فرمائي : چی د یو سړي دماغي مرض دا سی دی چی کله کله یی عقل کی خلل راځي او څو منټه د بی عقلی او غیر ارادی حرکتونه کوي مثلاً چی لمونځ کوي نو هاخوا او دیخوا ګوري ، چی په قعده کی ناست وي نو ودریږي ،او چی دوره پری راشي نو نبپی اوږدی کړي ، دوره لس پنځه لس ورځې او کله لدینه هم زیاته موده وروسته راځي غرض دا چی په میاشت کی یو یا دوه ځلی راځي ، تپوس دا دی چی داسی امام پسی لمونځ کولی شو یا نه ؟ او که د لمونځ په دوران کی ورباندی دومره راشي نو څه حکم لري ایا لمونځ فاسدیږي ؟ او دوباره کول یی ضروري ګرځي او یا د اول صف مقتدي په وړاندی کیدو سره د امامت باقي لمونځ پوره کولی شي ؟ دوره دوه دری منټه پوری وي او بیا هوش او حواس یی په ځای کیږي ، وضاحت وکړئ ، مهرباني .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! داسی امام پسی په هوش کی کړی شوی لمونځ صحیح دی ، لیکن په کوم لمونځ کی چی لیونتوب پری راشي ، نو لمونځ فاسدیږي ، په درمختار کی دي : "بقی من المفسدات .... الی قوله .... وجنـــون" (باب ما یفسد الصلواة ومایکره فیها ، درمختار مع الشـــامی ج ۱ ص ۵۸۹)

مقتدي په وړاندی کیدو سره لمونځ نشي پوره کولی ،دوبار کول یی ضروري دي ، په درمختار ئی دي : "ولا نادر وجود (قوله ولا نادر وجود) خرج نحو القهقة والاغماء" (شامی ج ۱ ص ٥٦١) لهذا داسی سړي ته پکار دي چی تر جوړیدو او صحت پند کیدو پوری د امامت له منصب نه لاس واخلي . فقط والله اعلم . ۹۰ ذوالقعده . ۱۳۸۰ه .

د خلاف سنت ګیره ساتونکي حافظ امامت (د حضرت مولانا مفتيْ ولی حسن رحمه الله فتوی او د حضرت مولانا مفتي سید عبد الرحیم لاجپوري تصدیق)

(۲۵۱ سوال) پدی لاندی مسئله کی دیني عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمائي : (۱) لنډ ګیري حافظ پسی لمونځ اګر که تراویح وي څه حکم لري ؟ ځینی خلک وائي چی ګیره څه خاص اهمیت نلري ، (۲) ځینی جوماتو کی د انتظامی کمیټی له طرفه داسی حافظانو ته د تراویح ورکولو اجازت ورکول کیږي ، ایا انتظامیه والاؤ باندی څه ذمه واري شته ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : (۱) د ګیري ساتل واجب دي او کلول یی یا د یوی قبضی (موټي) نه کمول ناجائز او حرام دي . لنډ ګیری بغیر د شک نه فاسق او فاجر دی ، څو پوری چی لدی کار نه توبه ونه کړي او همداراز په مکروه تحریمي باندي عمل کول عملاً حرام دي ، کوم سړی چی له یوی موټی نه ګیره کموي هغه پسی لمونځ مکروه تحریمي دی ، یوه قبضه ګیره ساتلو باندی د څلورو واړو مذهبونو اتفاق دی ، په شامي ، عالمګیري او د فقه نورو کتابونو کی دا مسئله ذکر شوی ده ، د عالمګیري عبارت داسی دی : "والقصر سنة فیها وهو ان یقبض الرجل لحیته فان زاد منها علی قبضه قطعه ، ذکره محمد ، کتاب الکراهیة الباب التاسع فی الختان والخصاء الخ ج ٥ ص ۳٥۸ .

(۲) د دی قبیح فعل په ارتکاب کی برابر شریک دی ، او په تاریخ کی لیکلي دي چی کله د ایران شاه کسری د رسول الله صلی الله علیه وسلم مکتوب ګرامي څیری کړ او خپل ګورنر باذان ته ولیکل چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دوه کسان

وليږه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته راوليږي د باذان دوه كسان چې كله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسيدل نو دهغوى دواړو ګيرى كـل كـړى وى او غټ غـټ بريتـان يى ؤ : "وكان على زى الفرس من حلق لحاهم واعفاء شوارهم فكره صلى الله عليه وسلم النظر اليهما وقال ويلكما من امر كما بهذا ؟ قـال امرنا ربنا يعنيان كسرى فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ولكن ربي قـد امرني باعفاء لحيتي وقص شاربي" ددى دواړو د مجوسيانو د فيشـن مطـابق ګيرى كلى وى او غټ غټ بريتان يى ؤ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم تـه د دوى دا مكروه شكل ډير بد ولګيد او وى فرمايل : هلاک شئ تاسو ته د دى امر چـا كړيـدى هغوى وويل خمونږ رب (كسرى) راته ويلي دي ، رسول الله صلى الله عليـه وسـلم وفرمايل : ليكن زما رب ماته د ګيرى ساتلو او د بريتانو كټ كولو حكم كړيدى .

اوس لږ فكر وكړئ هغه دواړه ميلمانه وو ، كافران وو او خمونږ دمذهب پابند هم نـه وو مګر چونكى د هغوى دا بد او وران شكل او صورت د فطرت سليمه نه خلاف ؤ او د لعين شيطان دحكم مطابق ؤ پدى وجه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوى دا مكروه او ناوړه شكل ليدل خوښ نه كړل او مخ مبارک يى ترينه واړولو او د بددعائى الفاظ يى ورته وفرمايل چې په تاسو دى هلاكت وي ، او ورسره دايى هم وفرمايـل : زما رب ذو الجلال خو ماته د پوره ګيرى ساتلو او د بريتانو د كټ كولو حكم كړيدى ګويا چې ګيره الله تعالى ته خوښ ى ، او چا چې د دى حكم كړيـدى د دى مقـدار هغه دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپلـه سـاتلو سـره بـودلى دى چـې مباركه سينه به يى ډكولـه ، نـو د رسـول الله صلى الله عليـه وسـلم سـره د محبـت دعويدارانو امتيانو ته سوچ كول پكار دي چې كـوم نيـک خلـک د دغـو مجوسـيانو تابعداري كولو سره روزانه ګيرى كلوي او ددوى دغه اعمال روزانه ملائكـى رسـول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې پيش كوي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به د دى په ليدو سره خومره غم او افسـوس كيـږي او قيامـت پـه ورځ دحشـر پـه ميدان كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم امتي پداسى مكروه او ناوړه صورت كې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندى پيش شي نو پـدى وخـت كـى كـه رسول الله صلى الله عليه وسلم ترينه مخ واړوي نو خومره لوى تاوان دى .

لیکونکی ولی حسن،دار الافتاء جامعه العلوم الاسلامیه علامه بنوري ټاون کراچي ۲۱ جمادی الثانی ۱۴۰۵ھ (ماهنامه دارالعلوم دیوبند ماه ستمبر ۱۹۹۵ء ص ۴۶ ، ۴۷) .

تصدیق

من اجاب فقد اصاب : پدی مبارک او نوراني سنت باندی په مبارکو حدیثونو کی ډیر زیات تاکید راغلی دی ، حافظانو صاحبانو ته په ډیر عظمت سره علم کول پکار دي ، الله تعالی چی د قرآن پاک د حفظ ورکولو دومره لوی عظیم احسان او فضل کړیدی لدینه وروسته دګیری نه ساتل او یا د سنت په خلاف ساتل ډیر لوی شرم او د دی عظیم ډیره لوی بی قدري ده او پدی خپل طرز سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک زړه ته تکلیف رسول دي ، زر تر زره باید لدی عمل نه توبه کړي .

مندرجه ذیل واقعه قابل د عبرت ده لده نه عبرت واخلئ :

په هندوستان کی یو فارسي شاعر مرزا بیدل وُ د فارسي نعتیه کلام یی ډیر اوچت او معیاري به وُ د ده ډیر زیات شهرت او چرچه وه ، د ایران نه یو کس د ده له نعتیه کلام نه متاثره کیدو سره د ده د ملاقات په شوق کی هندوستان ته راغی او مرزا بیدل سره چی ملاقات وشو نو اتفاق سره هغه پدی وخت ګیره کلوله ، ایرانی مسافر ډیر تعجب کی شو او په لیدو سره حیران شو چی دومره اوچت او په عشق رسول صلیٰ الله علیه وسلم کی ډوب شوی کلام او دا عمل ؟ هغه په ډیر افسوس او خفګان سره وویل : " آغا ریش می تراشی ؟ " یعنی جناب عالي ګیره کلوي ؟ مرزا بیدل وویل : دل کسی نمی تراشم ، یعنی د چا زړه نه تراش کوم (دچا زړه آزارول لویه ګناه ده) ایراني مسافر فوراً وویل : اری ! دل رسول صلی الله علیه وسلم رامی تراشی ، یعنی آو ! د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه زخمي کوی ، لدی جملی سره دمرزا بیدل زړه ته زخم ورسید او همیشه لپاره یی لدی بد عملی نه توبه وکړ او قالاً یا حالاً وویل :

جزاک الله کـــه چشم بــاز کـــــردی
مــــــرا باجـــان جـان همراز کردی

یعنی الله تعالی دی تاته جزا خیر درکړي چی تـا زمـا د زړه سترګی پرانستلی او زه دی خپل محبوب یعنی الله تعالی سره یوځای کـړم ، الله تعـالی دی ټـول حافظـان صاحبان او مسلمانانو ته پدی اهم او نوراني سنت باندی د عمل کولو توفیق ورکړي

، فقط والله اعلم ، احقر الامام سید عبد الرحیم لاجپوري غفر له ، ۳۰ جمادی الثانی ۱۴۱۶ه .

د حرام آمدني والا په کور کی خوراک او څښکاک کونکي امام د امامت حکم

(۲۵۲ سوال) څمونږ پدی ځای کی یو سړی د شرابو کاروبار لري او هیڅ د حلالو ګټه ندی او بل څه کاروبار یی هم نشته او د ده په کور کی یو سړی خوري او څښکی او اوسیږي او رشته دار هم دی د داسی کس امامت جائز دی یا ناجائز ؟ لمونځ ورپسی کیږي یا نه ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د کوم سړي چی د شرابو کاروبار دی او بل څه د حلالو ګټه نلري نو د هغه په کور کی دعوت قبلول او خوراک څښکاک جائز ندی[۱] ، او کوم سړی چی پدی خبردار وي او بیا هم ورسره پاتی کیږي ، خوري او څښکي د هغه امام جوړول جائز ندي او لمونځ ورپسی مکروه کیږي لیکن که چیرته لدینه بل ښه امام نه وي او یا د دی په لری کولو کی د فساد خطره وي نو بیا مکروه ندی او دځانله لمونځ کولو نه ده پسی لمونځ کول بهتر دي ځکه چی د جماعت ډیر زیات اهمیت دی او د دی ذمه واري په هغه خلکو ده چی د دی امام حمایت کوي[۲] ، (درمختار ، شامي) فقط والله اعلم .

فیشني ویښته جوړونکی امام د امامت مکروه کیدو دلیل :

(۲۵۳ سوال) تاسو چی د امامانو او د فیشني ویښتو په عنوان سره کومه فتوی شائع کړیده پدیکی تاسو د داسی قسم ویښته ساتونکي امامت مکروه ګرځولی دی دا دکوم کتاب په حوالی سره ثابتیږي ؟

۱_ اهدی الی الرجل شیئاً او اضافه ان کان غالب ماله من الحلال فلا بأس به الا ان یعلم بانه حرام فانکان الغالب هو الحرام ینبغی ان لایقبل الهدیة ولایأکل الطعام الخ فتاوی عالمگیری الباب الثانی عشر فی الهدایا وایضافات ج ۵ ج ۳۴۲ .

۲_ وفاسق واعمی ونحوه الاعشی نهر الا ان یکون غیر الفاسق اعلم القوم فهو اولی ، باب الامامة ج ۱ ص ۵۶۰ .

خواب حامدً ومصليا ومسلماً ! انگريزي وضع او هيئت سره ويښته جوړول د نصاراو او فاسقانو سره د مشابهت په وجه ممنوع او مکروه تحريمي دي : "من تشبه بقوم فهو منهم" الحديث "ليس منا من تشبه بغيرنا ، لاتشبهوا باليهود والنصارى الخ" الحديث "مسلم را به کفار و فساق حرام است " (ما لا بد منه ص ۱۳۱) په حديث کی دي چی حضرت انس رضی الله عنه ديو هلک په سر باندی يهودي طرز ويښته وليدل نو وی فرمايل : "احلقوا هذين او قصوهما فان هذا زی اليهود" (ابوداؤد ج ۲ ص ۲۲۵ کتاب الترجل باب ماجاء فی الرخصة (ای فی الذوائب) .

لهذا پدی باندی دوام او هميشه والی کونکی فاسق دی او د فاسق امامت باليقين مکروه دی ، "ويکره تقديم الفاسق ايضاً لتساهله فی الامور الدينية الخ" (کبيری ص ۳۵۱) او داسی وضع په قزعه ممنوعه کی هم داخل دي کوم چی موجب د کراهت دي ، "ان النبی صلی الله عليه وسلم رأی صبياً قد حلق بعض رأسه وترك بعضه فنهاهم عن ذلك وقال احلقوا كله او اتركوا كله" رواه مسلم (مشکواة ص ۳۸۰ کتاب الترجل الفصل الاول) او په فتاوی عالمگيري کی دي : "وعن ابی حنيفة رحمه الله يكره ان يحلق قفاه الا عن الحجامة ، كذا فی الينابيع" يعنی د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل دي چی د څټ ويښته کلول مکروه تحريمي دي (ج ۵ ص ۳۵۷ کتاب الکراهية الباب التاسع عشر فی الختان والخصاء الخ) .

خمونږ پدی زمانه کی طلباؤ کی د څټ ويښته د کلولو رواج شوی دی لکه چی په سوال کی ذکر شويدی او حال چی دا وضع او هيئت معصيت او مکروه تحريمي دی او پدی باندی دوام او هميشه والی کونکی امامت د افضل په موجودگی کی بالاتفاق مکروه دی .

او دکراهت دريمه درجه د امام دغه هيئت او شکل لره د لمونځ گذارو بد گڼل او په زړه کی تری نفرت پيدا کيدل دي (او په همدی وجه خو لمونځ گذارو امام لپاره

دا سوال پورته کړیدی) "ویکره للامام ان یؤما قوماً وهم له کارهون بخصلة ای بسبب توجب الکراهة لوکان فیهم من هو اولی بالامامة" (کبیری ص ۳۵۰) .
دغه څیزونه باید معمولي ونه ګڼل شـي ، "القلیل یجری الی الکثیر" یعنـی لـږ رو رو زیاتیږي ، او حضرت عائشه رضی الله عنها به فرمایـل : "ایاکم ومحقرات الـــذنوب" یعنی د واړه واړه ګناهونو څخه ډیر ځان بچ کړئ .
دا فکر هم باید وکړی شـي چـی کلـه اهـل علـم او د جومـاتو امامـان صـاحبان پـه مکروهاتو او مشتبهاتو کی مبتلا شي نو د عوامو به څه حال شي ؟ او د دوی پـه نظـر کی به دعلماؤ څه قدر پاتی شي ؟امامت یو ډیر اوچت منصب دی ، امام صالح بـزرګ او په حاضرینو کی له ټولو نه افضل او د مشتبه څیزونو څخه بچ کیدونکی پکار دی ، د امام متعلق د فقه کتابو کی دي : "ثم الاورع ای اکثر اتقاء للشـــبهات" یعنـی امام زیات احتیاط والا او له مشتبهاتو زیات بچ کیدونکی سړی پکـار دی ، "لو قدموا غیر الاولی اساؤا" (درمختار علی هامش شامی ج ۱ ص ۵۵۷) او کـه غـیر اولی سړی امام ونیسي نو بد به کوي ، فقط .

د اقتداء صحت لپاره د صفونو اتصال ضروری دی :

(۲۵۴ سوال) څمونږ د جامع جومات نقشه لـه لانـدی ډول ده : جماعـت خانـه (د لمونځ کوټه) نه وروسته مشرق طرف ته برانډه ده چي یو دوه صفونه پکی راځـي او لدینه وروسته متصل لږ لاندی او تیټ بنه کـافي میـدان دی مګـر دا حصـه د شـرعي جومات نه خارج ده دجومات د فناء (غولي) تعریـف وربانـدی صـادقیږي او د دی صحن سر ته لس په لسو کی حوض (تالاب) دی او د دینه لږ اوچـت ځـای بانـدی یوه څپره او دالان دی کوم چـی د مسـافرو د آرام لپـاره دی دلتـه هـم دوه صـفونه راځي جمعه او اخترونو او تبلیغي اجتماعاتو په وخت کی د دی ضرورت کیږي ، امـا صاحب فرمایلي ؤ چی لس په لسو کی حوض حائل دی او دا مانع داقتـداء دی کـه چیرته د حوض ښي او ګس طرف ته لمونځ ګذارانو صفونه جـوړ شـي نـو بیـا خـو د اتصال په وجه د څپری او دالان والا خلکو اقتداء صحیح کیږي او که نه ، نه صحیح کیږي ؟ کله چی باران وي نو صفونه نشي راتلی ، یو مولوي صاحب وفرمایـل : چـی د حوض ګیر چاپیره صفونه کیدل ضروري ندي ،ځکه چی د جومات د احاطی ټـول

ځای دجومات غولی (صحن) وغیره ځان متحد او یو دی پدی وجه د هر ځای نه اقتداء کیدی شي هر څومره خلاء او فاصله چی وي او یا لوی حوض وي ، د اقتداء مانع نشي جوړیدلی ، د صفونو د اتصال او د انقطاع مسئله د جومات د احاطی نه خارج ځای کیٰ دی ، لهذا د صفونو اتصال وي او که نه وي په هر حال کی د څیری او دالان والا خلکو اقتداء صحیح دی ، پدی وجه له لمونځ گذارو کی اختلاف پیدا شوی دی ستاسو په فیصله باندی اختلاف ختمیدی شي ، په تفصیل سره مونږ ته معلومات راکړئ ، مهرباني (له سورت نه) .

ځواب : د اقتداء د صحت لپاره د امام او د مقتدي د ځای متحد او یو کیدل شرط دی حقیقتاً متحد وي او که حکماً متحد وي د ژمی جومات (د لمونځ کوټه) او د اوړي جومات (د جومات په صحن کی داخل) او د جومات میدان (یعنی د جومات لپاره استعمالیدونکی کولاو ځای) دا ټول ځایونه په باب د اقتداء کی متحد دي ، بناء پدی د امام او مقتدي او د نورو صفونو تر منځ که د دوه صفونو نه زیات خلاء او فاصله وي بیاهم د اقتداء مانع نه گرځي یعنی د زیات فاصلی باوجود ه اقتداء صحیح کیږي لیکن د امام او د مقتدي ځای متحد نه پاتی کیدو او د اقتداء نه صحیح کیدو یو څو وجوهات نور هم شته ، یوه وجه دا ده چی د امام او مقتدي تر منځ داسی دیوال وي چی د دی په وجه د امام نقل و حرکت مقتدي باندی مشتبه وي ، "ولاحائط یشتبه معه انتقال الامام" (نور الایضاح ص ۸۱ باب الامامة) دویم وجه دا ده چی د امام او مقتدي تر منځ شارع عام (لاره) دومره وسیع وي چی ټانگه او ریړه یکی تیریدی شي (اگر که د لمانځه په وخت کی د خلکو تگ او راتگ نه وي) "ولا طریق تمر فیه العجلة" (نور الایضاح ص ۸۱ ایضا) او که چیرته په لاره کی صفونه ودریږي نو اوس لاره د اقتداء مانع نه گرځي ، او په زاد الفقیر کی دي : "ولا من بینه وبین الامام طریق واسع وهو ما تمر فیه العجلة" (ص ۵۳) .

دریمه وجه دا ده چې د امام او نارینه و مقتدیانو تر منځ د ښځو صف وي : "وان لایفصل بین الامام والماموم صف من النساء" (نور الایضاح ص ۸۱ ایضا) الاختیار لتعلیل المختار ج ۱ ص ۵۹) .

څلورمه وجه دا ده چې د امام او مقتدي تر منځ داسی یو نهر وي چې واړه کشتی پکی گرځیدلی شي (په هغه کی اوبه وي او که نه وي) "وان لا یفصل نهر یمر فیه الزورق" (نور الایضاح ص ۸۱ ایضا) ویمنع الاقتداء حیلولة نهر یسع الزورق" (زاد

الفقیر ص ۵۳) .

د عمر فاروق رضی الله عنه نه مرفوعاً او موقوفا روایت دی چې د کوم مقتدي او امام تر منځ نهر یا لاره او یا د ښځو صف حائل وي د هغه لمونځ نه صحیح کیږي ، په مصنف ابن عبد الرازق کی دي : "عبد الرازق .... عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه انه قال فی الرجل یصلی بصلواة الامام قال : اذا کان بینهما نهرٌ او طریق او جدار فلایأتم به" (مصنف ابن عبد الرازق ج ۳ ص ۸۱ ، قلائد الازهار علی کتاب الآثار ج ۲ ص ۱۴۱ ، فتاوی قاضی خان ج ۱ ص ٤٤ ، مراقی الفلاح ص ٥٦ ، حاشیة الاختیار لتعلیل المختار ج ۱ ص ۵۹ وغیره) .

داقتداء مانع کیدو په باره کی دشرعي حوض هم همداحکم دی اودجومات حوض هم پدی حکم کی شامل دی او لدینه مستثنی ندی نو دجومات دصحن او میدان حوض به څنگه مستثنی شي؟ په درمختار کی دي : "(اونهر تجری فیه السفن) ولو زورق قاولو فی المسجد".

یعنی کوم نهر چې کشتي چلیدی شي نو هغه داقتداء مانع دی اگر که هغه واړه کشتي وي او اگرکه (نهر یا حوض) په جومات کی وي ، اوپه شامي کی دي : "وامام البرکة او الحوض ــ الی قوله ــ ان الحوض الکبیر المذکور فی کتاب الطهارة یمنع ای مالم تصل الصفوف حوله کمایأتی".

ترجمه تالاب اويا لوی حوض (شرعي ، ۱۰×۱۰ حوض) په منځ کی وي او صفونه متصل نه وي، نو داقتداء مانع دی (شامي ۱/ ۵۴۷ باب الامامه) په غایه الاوطار اردو ترجمه ددرمختار کی دي : داقتداء مانع هغه نهر دی چی کشتي پکې ګرځيدلې شي اګرکه واړه کشتي وي او اګر که نهر په جومات کی وي (همدا حکم دلس په لسو کی حوض هم دی) (غاية الاوطار ۱/ ۲۷۲ باب الامامة).

اوپه تحطاوي على مراقي الفلاح کی دي "ویمنع نهر ولو کان فی المسجد کالطریق کما فی الدرر"(ص۱۷۰ باب الامامة).

په کبیری او صغیري کی دي : "ولو كان بين الامام والمقتدى فى الجامع او غيره نهر فان كان صغيرا لايمنع وانكان كبيرا يمنع"(كبيرى ص۲۸۸، صغيري ص۲٦۸ باب الامامة).

حضرت مولانان شاه سید زوار حسین صاحب پاکستاني رحمه الله لیکي: جومات یامیدان کی که چیرته دامام او مقتدي ترمنځ یادنورو صفونو ترمنځ داوبو چینه یاحوض یاکوم داسې څیز حایل وي اویاخالي ځای وي نو که چیرته هغه لس په لسو کی یعنې(شرعي حوض) وي نو داقتداء مانع دی پداسې حال کی چی شاوخوا کی متصل صفونه نه وي او که چیرته دهغه حوض وغیره په ګیر چاپیره یعنې ښي او کس طرف ته خلک ولاړ وي او صفونه وي نوبیا ددوی نه شاته خلکو لمونځ صحیح کیږي ، اوکه چیرته هغه حوض وغیره وړوکی وي یعنی (۱۰×۱۰) نه کم وي نو بیا داقتداء مانع ندی اګرکه دهغه ښي او ګس طرف ته خلک ولاړ نه وي ، (عمدة الفقه ص۱۹٦).

حضرت مولانا ابو القاسم دلاوري پاکستاني لیکي :

" دجومات (۱۰×۱۰) کی حوض چی دامام او مقتدیانو ترمنځ وي نو اقتداء یې نه صحیح کیږي غیر دهغه صورت نه چی دحوض ګیر چاپیره متصل صفونه جوړ شي او که حوض لدینه وړه کی وي نو بیا اقتداء صحیح دی ، حاصل داچی دامام صاحب تحقیق صحیح اوقابل دعمل دی اود مولوي صاحب فتوی صحیح نده " فقط عماد الدین. ص ۲۲۴.